

پتہ خزانہ

فی المیزان

قلندر مومند

دَچاپ ځای
پرنټرز۔ پبلشرز۔ بکسیلرز
سمال انډسټریز اسٹیٹ کوهاټ روډ پېښور

۱۹۸۸ء

ټول حقوق د لیکونکی په حق کښې محفوظ دی

اشاعت ـــــــــ اوّل
کال ـــــــــ ۱۹۸۸ء
شمېر ـــــــــ یوزر (۱۰۰۰)
لیک ـــــــــ انوارالحق داودزے
چاپونکی ـــــــــ دچاپ ځانې
اوخورونکی
کوهاټ روډ پېښور

انتساب

د خپل ملګری اورهنما
دوست محمد خان کامل مومند
په نامه

فهرس

وړومبۍ خبرې	۵
ابتدائی معروضات	۱
د یونس د دیوان شهادت	۲۶
بېلګې	۴۲
تاریخی پس منظر	۱۴۴
جدیدیت	۱۵۸
د پټې خزانې مآخذ	۱۷۵
د پټې خزانې راویان	۲۱۵
فنی اړخونه	۲۷۳
اینکرانېزم	۳۱۴
متفرقات	۳۳۰
ضمیمه الف	۳۴۸
ضمیمه ب	۳۵۲
اشاریه ا۔ نومونه	۳۵۸
اشاریه ب۔ کتابونه	۳۶۸

هوالناصر

وړومبۍ خبرې

ماچې د پټې خزانې په باره کښې وړومبۍ مقاله ولیکله او خپل ګران او محترم ملګری او استاد ښاغلی دوست محمد خان کامل مومند ته مې له چاپ کېدو نه مخکښې واوروله نو هغوی هغو نتیجو سره د کلی اتفاق اظهار وکړه چې ما ئې پخپله مقاله کښې ذکر کړے وه۔ له دې نه پس محترم کامل مرحوم پېښور کالج ژوندے وه او د پټې خزانې په باره کښې ئې نه صرف زما رائې سره همېشه اتفاق کړے دے۔ بلکې څو ځل ئې دا اراده ظاهره کړې وه چې د پټې خزانې په باره کښې خپل خیالات نور وضاحت سره پښتون اولس ته پېش کړی۔ خو د "۱۶۳۰ء" لیک او بیا د هغوی رنځورتیا هغوی له فرصت ورنه کړو او د هغوی دا اراده پوره نه شوه۔

که چرې ځنې معاصر لیکونکی د پټې خزانې په باره کښې د "لا ریب فیه" (نعوذ بالله) په غلطه عقیده ټینګ نه وے

نو شاید چې ما هم خپله وړومبۍ او دویمه مقاله کافي ګڼلے وے
(چې دَ دې مجموعې هم وړومبۍ او دویمه مقاله ده) او دې سلسله
کښې مې دَ خپلو مخالفینو په شمېر کښې اضافه نه وے کړے
خو دَ دیو معاصرینو دا رویه داسې وه چې زه ئې په بیو
خویل بحث کولو مجبور کړم او دا مشقت ما په دې وجه په
خپله غاړه واخستو چې دَ راتلونکي نسل دَ پاره ډېرې خبرې
صفا شي. خدائې پاک دې وکړي چې زما دا معروضات دَ
پښتون اولس په ښه راشي. زما دا خبرې به په ځنو
ورونو شاید چې ترخې ولګي خو دَ دیو ټولو خبرو په باره
کښې یوه خبره دَ زړه له اخلاصه کوم چې ما دا هرڅه
په ښه نیت او په دلیل کړی دی. که زما په نیت
څوک حمله کوی یا زما خبره بې دلیله ګڼی نو دا به ما
سره ډېره لویه بې انصافي وی. هر چا ته حق دے چې
زما دلیل ته صحیح یا غلط ووائی خو زما په نیت دَ حملې
کولو حق هېچا ته هم نشته. او که څوک داسې کوی نو دَ
خدائې په مخکښې به ځواب ورکوی. ځکه چې دَ نیت په
باره کښې علم صرف هغه ته حاصل دے.

دَ دیو معروضاتو دَ لیکلو په دوران کښې محترم عبدالحئ
حبیبي مرحوم، محترم عبدالرؤف بېنوا او محترم محمد امین خوګیانی
او ځنې نور محترم لیکونکي له دې جهانه رخصت شول.
(انا لله وانا الیه راجعون) دَ دوی په وفات نه صرف
پښتو ادب ته ډېر لوئې نقصان ورسېدهـ بلکې په دیو

معروضاتو هغسې تنقید هم تقریباً نامکمل پاتې شه لکه چې
زما توقع وه. خدائې پاک دې دَ دیو مرحومو مشرانو برکت
په نورو ژوندیو مشرانو کیږدی چې زه دَ خپل کوشش
په باره کښې دَ دوی له وقیعې رائې خبرشم. امین

دَ دیو معروضاتو دَ لیکلو نه پس ماته دا پته ولګېده
چې زما دَ وړومبۍ مقالې ځواب کښې دَ "کابل بیلا بیلو فرهنګي
موسسو دَ محمد هوتک یاد، دَ امیر کروړ یاد، شیخ بستان برېڅ
دَ پټې خزانې فرهنګ، دَ نور محمد غلجي نافع المسلمین، دَ زرغونې یاد
او دَ محمد هوتک ژوند او مزار" په شکل کړے دے. دیو
کښې صرف دَ محمد هوتک ژوند او مزار" دَ مسودې دَ لیک په دوران
کښې ماته رارسېدلے وه چې ما ئې دې کتاب کښې نوټس
اخستے دے. نورو کتابونو ته ما انتظار مناسب و نه ګڼلو.
که ماته دَ موضوع سره دَ انصاف کولو دَ پاره ضروری
ښکاره شوه نو دَ دغو نورو کتابونو دَ جواب الجواب په
باره کښې به ګرانو لُستونکیو ته خپله عندیه دَ یوې رسالې
په شکل کښې بل وخت وړاندې کړم و بالله التوفیق.

زه دَ محسن حقیقي دَ شکر ادا کولو نه پس دَ خپلو هغو
ګرانو دوستانو او ملګریو مننه کوم چې دَ هغوی په وجه
دَ دې کتاب تکمیل او چاپ په دې شکل کښې ممکن
شه. دیو کښې ګران امتیاز احمد صاحبزاده، فاروق صاحبزاده
او مبشر احمد بنګښ خاص طور سره دَ یادولو دی چې زما
دَ ادبي او تحقیقي کار ئې تل سرپرستي کړې ده.

زه د پروفیسر تقویم الحق کاکاخیل هم دپرمنون یم
چې ما لره ئې دېرې قیمتی مشورې راکړې دی۔ د دې کتاب په
سلسله کښې له ټولو نه ریات کړاؤ زما ګران ملګری سید
محمود ظفر کړے دے چې څو څو ځل ئې مسوده لیک ته تیاره
کړې او پروفونه ئې کتلی دی او له دې نه علاوه ئې د کتاب
اشاریې هم مرتب کړی دی۔

په اخر کښې د کتاب د لیکونکی بناغلی انوارالحق داودزی
او چاپونکی مصطفیٰ کمال شکریه هم په ځان واجبه ګڼم۔
خدائې پاک دې دیو ټولو لره جزا ورکړی۔ امین

واخر دعڼا ان الحمد لله رب العلمین

قلندر مومند
د لوئې اختر د میاشت شپارسمه
کال څوارلس سوه اته

۲۰ خوشحال کالونی پیښور
۳۱ جولائی ۱۹۸۸ء

ابتدائی معروضات

"پټه خزانه" د کابل د پښتو ټولنې له خوا په ۱۳۳۳ھ شمسی کښې چاپ
اوخوره شوه۔ د ۱۳۳۷ھ شمسی د لړم په میاشت کښې د افغانستان د پوهنې
د وزارت د دارالتالیف ریاست داکتاب یوځل بیا چاپ اوخورکړه۔ له دغه
پسه د پټې خزانې عکسی چاپ د اطلاعاتو اوکلتور د وزارت د پښتو د تقویې
او انکشاف امریت په ۱۳۵۶ هش کښې یوځل بیا چاپ کړه اوله دې نه پس
هم څوځو واړې داکتاب چاپ شه خو ترمونږه ئې صرف دغه درې اډیشنونه
رارسېدلی دی۔ د کتاب د خورېدلو نه پس په دې ټوله موده کښې ګڼو پښتنو
لیکونکیو او عالمانو د "محمد هوتک" د دې زیار په حقله قیاسونه خوځرګند
کړی دی لیکن زما د معلوماتو مطابق هیڅ په لیک کښې د کتاب په استناد
شک نه دے کړے۔ ما په افغانستان کښې چې کومو ورونو سره په دې
سلسله کښې د بحث کوشش کړے دے، د هغو اصرار دا وه چې د دې کتاب د
صحت په حقله شکوک بشکاره کول د قومی مصلحتونو سره سمون نه خوری۔
د دوی په ځواب کښې زما موقف تل داوه چې هغه قومی مصلحت چې د

انتقاد نه وچت وګڼلے شي په حقیقت کښې دَ قومي مفاداتو خلاف وي. ځکه نوما هېڅکله دَ دې کتاب په حقله خپله رائې دَ څه نام نهاد مصلحت تابعه نه ده ساتلې. او دَ ښاغلیو عبدالحئ حبیبي او صدیق الله خان رښتین غُندې مشرانو او محترمو لیکونکیو په موجودګۍ کښې مې په اختصار هم هغه څه وئیلی دی چې نن ئې دَ دلائلو سره دَ پښتو لُستونکی اولس په مخکښې وړاندې کوم.

دَ دې مقالې دَ لیکلو یوه وجه دا هم ده چې له څه مودې راسې ما دا محسوس کړی دی چې دَ افغانستان وروڼه لیکونکی او دَ هغوئ په تتبع کښې دَ سوویت یونین، امریکې، برطانیې، هند او نورو ملکونو مستشرقین او پښتو شناسان "پټه خزانه" په پټو سترګو دَ منلو یوه صحیفه ګڼي او ځکه دَ دې خبرې امکانات ورځ په ورځ زیاتیږي چې څه موده پس به دا کتاب هغه استناد حاصل کړي چې دَ انتقاد په عدم موجودګۍ کښې به راتلونکی نسلونه ګمراه کړي او دَ مستقبل دَ تحقیق او ریسرچ لار کښې به یو غټ خنډ راپیدا کړي له ښه بخته اوس هغه ټول مشران لیکونکی او محققین ژوندی دی چې دَ پټې خزانې دَ استناد په حقله دَ شکونو او شبهاتو ازاله کولے شي. (چې دا مقاله چاپ شوه نو زمونږ ټول هغه مشران ژوندی وو چې په دې سلسله کښې ئې زمونږ رهنمائی کولے شوه خو اوس زمونږ له بده مرغه محترم دوست محمد خان کامل مومند، محترم عبدالحئ حبیبي، محترم قیام الدین خادم، محترم عبدالروف بېنوا او محترم محمد امین خوګیانے (خدائې پاک دې ئې وبخښي) له مونږه بېل شوی دی (انا لله وانا الیه راجعون) او که خدائې مه کړه سباله دوئ نه وی نو راتلونکی نسل ته به دَ پټې خزانې دَ وقعت او اهمیت په حقله هغه

معلومات نه وی چې دغه مشران ئې لری ځکه نو زه دَ دې کتاب په حقله خپله رائې څرګندول ضروری ګڼم او هیله لرم چې زما دا رائې به هم دَ هغې جذبې لاندې وځېرلے شي دَ کومې لاندې ئې چې زه په څرګندولو خان مجبور ګڼم او نورې نورې معنې به (لکه چې دَ ځنو خلقو عادت دے) ورته وانه غستولے شي (زما دواړه خبرې رښتیا شوې یو خوا که مونږ دَ خپلو مشرانو له رهنمائۍ محروم شو نو بل خوا ځنې خلقو زما په خلاف دَ کردارکشۍ یو مهم هم شروع کړه. فانی اشکو بثی وحزنی الی الله)

دَ پټې خزانې په باره کښې بحث دَ کتاب دَ نوم نه شروع کیږي.

کتاب وائی "دَ دې کتاب نوم دے پټه خزانه ځکه چې دلته هغه احوالونه راغلی دی چې پټ وُو او نه وو ښکاره" (۱) دا خبره په مکمل ډول صحیح نه ده. اول خو دَ کتاب دویمه خزانه (۲) دَ "محمد هوتک" دَ معاصرو شاعرانو دَ احوال په باره کښې ده چې دَ هغوی احوال دَ "محمد هوتک" په زمانه کښې هرچاته (یا کم از کم هغو خلقو ته دَ چا دَ پاره چې دا کتاب لیکلے شو) معلوم وُو (۳) دَ کتاب په وړومبۍ حصه (لومړۍ خزانه) کښې دَ ۲۲ شاعرانو احوال راغلے دے. دوی کښې اسمٰعیل خرښبون، شیخ بوستان برېڅ، شیخ متی، علی سرور لودهی، حمید لودی، عیسٰی مشوانی، سلطان بهلول لودیؒ، خوشحال بابا او رحمٰن بابا له هېچا نه پټ نه وو. دَ کتاب دریمه حصه (دریمه خزانه) کښې چې دَ کومو مېرمنو ذکر راغلے دے، هغو کښې هم څه دَ مخزن افغانی په وروستۍ حصه کښې ذکر شوی دی. ځکه نو دَ کتاب هغه وجه تسمیه چې ذکر شوه دَ اطمینان قابله نه ده. دې ضمن کښې یوه اهمه خبره دا هم ده چې دَ "محمد هوتک" په زمانه کښې هره قلمی نسخه پټه خزانه وه ځکه چې هغه وخت چاپ خانې نه وې. بیا

چې محمّد هوتک دَ کومو ماخذونو ذکر کړے دے او دَ هغو په بنیاد ئې خپل "احوال" صحیح ثابت کړی دی. دَ هغو په موجودګۍ کښې دې کتاب ته "پټه خزانه" وئیل هېڅکله صحیح نه وُو ځکه چې اصلی پټه خزانه خو هغه کتابونه وو چې "محمّد هوتک" ورته حواله کړې ده او اوس نشته. آخر "محمّد هوتک" ته دا علم څنګه وُشه چې په شلمه صدۍ کښې دَ هغه کتاب چاپ کیږی نو دا کتابونه به نه وی او دَ هغو په غېرموجودګۍ کښې به دا کتاب "پټه خزانه" ګڼلے شی ځکه نو دا شک بې بنیاده نه دے چې دَ کتاب نوم دَ شلمې صدۍ دَ نفسیاتی کیفیت پېدا وار دے او دَ یو داسې کس دَ ذهن اختراع ده چې هغه خپلو لُستونکیو باندې دا اثر قائمول غواړی چې هغوی دې دا کتاب دَ یوې داسې خزانې په حیثیت تسلیم کړی چې تر اوسه پټه وه. دا کیفیت دَ "محمّد هوتک" نه شو کیدے.

دَ بحث دوېمه خبره دَ کتاب ترتیب سره تعلق لری هر څو که دا ناممکنه نه ده ولې ډېره غېر اغلبه ضرور ده چې په کومو ورځو کښې عربۍ، فارسۍ او پښتو کښې دَ موضوعاتو په لحاظ دَ کتاب دَ تقسیم طریقه نه وه رائجه "محمّد هوتک" خپل کتاب په درېو جُدا جُدا برخو کښې څنګه ووېشلو. دَ متقدمینو طریقه دا وه چې هغوی به دَ موضوع دَ ختمېدو نه پس دَ "فصل" لفظ ولیکلو او نوې موضوع به ئې شروع کړه. مورخینو چې به تاریخ لیکلو نو هم به ئې دَ باب بندۍ څه اهتمام نه کولو بلکې دَ عبارت په مېنځ کښې به ئې په سورخط "فصل" یا "ذکر دَ..... ولیکلو یا زیات نه زیات به ئې دَ کتاب په حاشیه په سورخط عنوان ولیکلو. دَ پېراګرافونو اهتمام خو دَ شلمې صدۍ جدت دے او شاید چې دَ انګریزۍ

دَ روایت په تتبع کښې دَ دُنیا ټولو ادبونو ته راننوتے دے. دغه وجه ده چې دَ پېراګراف دَ پاره فارسۍ، عربۍ او پښتو او هندۍ کښې هېڅ نوم نشته. نوې عربۍ او فارسۍ کښې دَ جُز او قطعه الفاظ په دې معنو کښې استعمالیږی خو دا ډېر جدید مفاهیم دی او قاموسونو کښې په دې معنو کښې نه دی استعمال شوی لیکن "پټه خزانه" کښې دَ پېراګرافونو دا استعمال داسې په کثرت او اهتمام شوے دے چې دا ترې ثابتیږی چې کم از کم "محمّد هوتک" په ۴۲-۱۱۴۱ھ کښې دَ دې په اهمیت خبر وه.

که دا ووئیلے شی چې دَ پېراګرافونو تقسیم ښاغلی عبدالحئی حبیبی کړے دے نو دا اعتراض خو به لرې شی ولې ورسره به دا اعتراض پېدا کیږی چې مرتب او مدون دَ بې شماره حاشیو په موجودګۍ کښې یوه حاشیه په دې غرض ولې نه زیاتوله چې په اصل کتاب کښې پېراګراف نشته (دا وېنا صحیح نه ده چې کامل مومند مرحوم هم تاریخ مرصع کښې پېراګرافونه له خپله ځانه داخل کړی دی او حاشیو کښې ئې وضاحت نه دے کړے (پښتو- دسمبر ۱۹۷۹) تاریخ مرصع کښې دَ مثال په طور په ۳۳، ۳۹، ۵۷، ۷۰، ۸۹، ۱۵۸، ۱۸۶، ۲۰۶، ۲۳۳، ۲۳۵ او ۲۳۷ مخونو دَ پېراګرافو په ځائې هم هغه اهتمام شوے دے چې ما ئې ذکر کړے دے او فصلونه او عنوانات ورکړی شوی دی. خو فرض کړئ که داسې نه وے شوے نو هم "پټه خزانه" او تاریخ مرصع ډېر لوئې فرقونه لری. دَ تاریخ مرصع ډېرې نسخې دی او دَ پټې خزانې بله نسخه نشته دَ تاریخ مرصع لیکونکے هر څوک پېژنی او محمّد هوتک هېڅوک هم نه پېژنی دَ پټې خزانې ذکر هېچا نه دے کړے او دَ تاریخ مرصع ذکر ډېرو مورخینو (خپلو اوپردیو) کړے دے او له هغو نورو نسخو چې په مختلفو ځایونو کښې موجودې دی

دا خبره ثابتېدے شی چې تاریخ مرصع کښې پېرا گرافونه نشته اودَ پټې خزانې
دفاع کونکی ته هم دا نه وه معلومه چې دَ دغه کتاب عکسی نسخه چاپ
شوې ده او پکښې پېرا گرافونه شته او دَ دې دا دفاع غلطه وه چې "پته خزانه"
پېرا گرافونه نه لری)۔ بله داچې دَ چاپې کتاب دَ ۱۱۱ مخ ته مخامخ دَ اصل
کتاب کومه "فیک سیمیلی" لګېدلې ده دَ هغې پهه وروسنی مخ هم دَ پېرا گرافونو
اهتمام شوے دے (دا فیک سیمیلی دَ پټې خزانې اولې او دوهمې چاپې نسخې
سره لګېدلې وه اوچې دا مقاله چاپ کېده نو دَ پټې خزانې درېمه چاپې
نسخه (عکسی چاپ) لا منځ ته نه وه راغلې۔ دَ عکسی نسخې دَ چاپ کېدو
نه پس خو اوس دا وېنا بېخی غلطه اوبې بنیاده ده چې "پته خزانه" پخپل
اصلی متن کښې بالکل پېرا گرافونه نه لری۔" وګورئ پښتو۔ دسمبر ۱۹۷۹)
له دې رویه دا وئیل صحیح دی چې دَ کتاب ترتیب دَ دولسمې صدۍ
هجری پهه مقابله کښې څوارلسمې صدۍ ته ډېر نژدې دے۔ کهه دا
ومنلے شی نو دَ کتاب استناد مجروحیږی۔

دَ عربۍ، فارسۍ او پښتو قلمی کتابونو یوعام روایت دا هم دے
چې پهه صفحاتو پهه هندسو کښې شمېر نه شی لیکلے کېدے دَ "پټې خزانې"
فیک سیمیلی کښې پهه یوهخ دَ "۱۱۳" هندسه هم لیکلے شوې ده (دَ عکسی
چاپ دَ راوتلو نه پس اوس وئیلے شوچې پهه ټول کتاب دَ صفحاتو نمبر
پهه هندسو کښې لیکلے شوے دے) دَ قلمی نسخې ورسته تاریخ دَ ۱۳۰۳ھ
دے یعنی دا نسخه پهه ورستی حُل کوټه کښې پهه دغه کال نقل شوې
ده کهه دَ نولسمې صدۍ بله یوه نسخه کښې چرې دَ صفحاتو شمېر پهه
هندسو کښې راوښیلے شی نو زما اعتراض به غلط شی (بناغلی هوادمل
دَ خپې کتابونو نه حواله ورکړې ده خو دا دعویٰ ئې نه ده کړې چې دَ دغه

کتابونو پهه مخونو هندسې هم هغه کاتب لیکلی دی چاچې کتاب لیکلے وه
اوکهه نه دا هندسې وروستو لیکلے شوے دی۔ حُکه چې پهه دغه ټولو
کتابونو کښې "رکابونه" هم شته (دَ محمد هوتک ژوند اومزار) بناغلی
هوادمل پهه خپل یو بل کتاب کښې چې دَ هندوستان دَ پښتو قلمی نسخو
کوم تفصیل ورکړے دے هغو کښې ئې صرف دَ یو کتاب ادم درخانی پهه
سلسله کښې دا لیکلی دی چې دغه کتاب دَ مخونو شمېر پهه هندسو کښې
لری (دَ هند پهه کتابخانو کښې دَ پښتو دَ قلمی نسخو فهرست ص۔۳۲) گویا دَ
هند دَ کتابخانو پهه ټولو پښتو قلمی نسخو کښې صرف یو کتاب "نمبرې" لری۔

دَ بحث درېمه موضوع دَ کتاب املا ده چې اندازه ئې دَ "فیک سیمیلی"
(او اوس لهه عکسی چاپه) څنې کیږی۔

دَ پښتو قلمی نسخو کښې "دَ" "دا" "ده" یوشان "د" لیکلے شی
لیکن دَ پټې خزانې پهه قلمی نسخه کښې دا فرق پهه ډېر اهتمام شوے دے
او یوځای کښې هم پهه دې توریو کښې غلطی نه ده شوې دغسې دَ زړې
املا لهه رویه "ژبه" "ژب"، "نورو" نورُ "حیوانا تو" "حیوانات"
"نسته" نست وغیره لیکل پکار ووحُکه چې متقدمینو به دَ "ه" او "و" پهه
ځای زور او پیښ (ضمه) استعمالولو (خوشحال بابا دَ مادهٔ تاریخ پهه
دیستلو کښې هم دغه هجه برقراره ساتلې ده) او دا روایت دَ شلمې صدۍ
ترسره پورې وو۔ بلکې دَ شلمې صدۍ پهه چاپې کتابونو کښې هم دَ دې
ثبوتونه موندهکیږی۔

دَ "پاته" تورے دَ زړې املا لهه رویه "پات" لیکل وو۔ "چې" یا
"چ" لیکل پکار وو یا "چی" دغسې "رحمتونه" "رحمتون" لیکل پکار
وو وقس علیٰ هذا۔ لیکن دا ټول توری کټ مټ دَ جدید ې املا مطابق

لیکلی شوی دی. او حُکه چې ترڅو د دې وجه څرګنده نه شي ترهغې دا
خبره د منلو نه ده چې د پټې خزانې املا زړه املا ده.

د پټې خزانې د املا د جدیدیت یو روښان ثبوت د "ګ" استعمال
دے. متقدمینو به دې توری ته "کافِ فارسی" وئیل او په لیک کښې به یې
هم "ک" لیکلو. پښتو البته خپل کُنده لرونکے "گ" په موجوده شکل
کښې لیکلو او "کافِ فارسی" ئې نوملو. (پښتو کښې د "گ" په بارہ کښې
مرحوم حبیبی صاحب "د خوشحال خان خټک ملغلرې" په صفحه ۷ لیکی
"دا سې بسکاره کیږی چې په هغه وخت (د خوشحال بابا په وخت) کښې
د غه املا مروجه وه ..... او د کاف او ګاف ترمنځه فرق هم نه کوی)

پښتو کښې هغه ټول اسماء چې وروستے تورے ئې "ی" وی د جمع
په صورت کښې د "یو" لاحقه لری متقدمینو له دې قاعدې نه هیڅرې
انحراف نه دے کړے او "فیک سیمیلی" کښې هم دغه اهتمام شوے دے
لیکن د کتاب په چاپی متن کښې دا رعایت نه دے ساتلے شوے (۴)
ضمیر غائب "ئے" په زړه املا کښې نه وه. "تمیزئے ورکا" به د زړې
املا مطابق "تمیزورکا" لیکلے کیدھ او د "تمیز" د "ز" لاندې به
ئې یوه کسره لیکله او یا به ئې مقرروله د "فیک سیمیلی" په وړومبی
مخ دا تورے څلور حُل راغلے دے (پنځم حُل د "مورِتی" په صورت
کښې هم شته ولې حبیبی صاحب وائی چې دا د قندهار د اوسنی لهجې
مطابق هم د "مونږ ته ئې" شکل دے. حال دا دے چې که متقدمینو
د خپلو املائی اصولو په رنا کښې دا ترکیب لیکلے نو "مورِت" به ئې لیکلو)
د املا په لړکښې یو دلچسپ حقیقت دا دے چې د "فیک سیمیلی"
په دوارو مخونو کښې یو حُل هم "یائے مجهول" نه ده لیکلې شوې

د افغانستان د پښتو حروف تهجی نه د "یائے مجهول" جلا وطنی خو دېره
اوسنی واقعه ده. بنا غلی عبدالحئ حبیبی چې په ۱۳۱۷ شمسی کښې
"د خوشحال خان خټک مرغلرې" په پیلې نو دا حرف موجود وه خو چې
په ۱۳۲۳ شمسی کښې "پټه خزانه" رابسکاره شوه نو ثابته شوه چې
بنا غلی محمد عباس کاسی په ۱۳۰۳ قمری کښې دا تورے د پښتو نه
خارج کړے وه.

له دې ټول بحث نه دا اندازه کیدے شی چې د "پټې خزانې"
رسم الخط د هغه دور د رسم الخط سره سمون نه خوری د کوم په
حقله چې د کتاب کاتبان، مدوّن او نور لیکونکی دعوئ لری بلکې څنې
توری پکښې په دا سې حروفو هم لیکلی شوی دی چې د هغو لا وجود
هم نه وه. (۵)

د کتاب په حقله یوه اشتباه له هغو تصریحاتو نه پیدا کیږی
کوم چې بنا غلی عبدالحئ حبیبی د پټې خزانې د موندلو په ضمن کښې
د کتاب د اشاعت نه پس کړی دی. لکه چې مخکښې ذکر وُشو، "پټه خزانه"
په ۱۳۲۳ ش کښې چاپ شوې ده. د بنا غلی عبدالحئ حبیبی وینا دا
ده چې د دې کتاب قلمی نسخه د مرحوم عبدالعلی اخونزاده په وساطت
د دوی تر لاسه راغلې ده. ولې متاسفانه دوی دا انکشاف د عبدالعلی
اخونزاده د وفات نه پس کول غوره وګڼل او ترڅو چې هغه مرحوم ژوندے
وه دوی داخبره نه وه څرګنده کړے. حالانکې د دوی علمی او اخلاقی
فرض دا وو چې دوی دې مقدمې، حاشیو او تعلیقاتو کښې هغه وخت داخبره
واضحه کړے وے. په دې صورت کښې به په دوئ هغه اعتراض نه
وارِد پدو چې اوس ورته دوی څپلمه دی. دا نه یواځې اخلاقاً ضروری

وو بلکې دَ "پټې خزانې" دَ مستند کېدو په ضمن کښې به یو لوئې شهادت هم وه. دَ عبدالعلی اخونزاده دَ مرګ نه پس په اول ځل دوی دَ "ازاد افغانستان" په یوه ګڼه کښې او بیا دَ "زیری" دَ لیندې دَ ۵ کال ۱۳۵۴ (مطابق ۵ نومبر ۱۹۷۵) په ګڼه نمبر ۲۶ کښې دا تصریح کړې ده چې دَ پټې خزانې قلمی نسخه دوی "دَ علامه عبدالعلی اخونزاده په واسطه" له "اصلی مالکه څخه دَ پېسو په بدل کښې" حاصله کړې وه (له بده مرغه ښاغلی حبیبی ۱۳۵۴ کښې) هم دَ "اصلی مالک" نوم څرګندول ضروری ونه ګڼل دا بعد از وفات شهادت به څوک ومنی؟ (۶)

دا اعتراض هغه وخت نور هم دروند شی چې مونږ دَ پټې خزانې په حاشیه کښې دَ حاجی محمّد اکبر هوتکی ذکر خو وینو دَ چا دَ پاره چې ښاغلی محمّد عباس کاسی په ۱۳۰۳ھ کښې دا نسخه نقل کړې وه. ولې دَ پښتو دَ یو لوئې لیکونکی شاعر او علامه او دَ پټې خزانې دَ اصلی معلومونکی یعنی علامه عبدالعلی نوم نه په حاشیه کښې وینو او نه په مقدمه کښې اخر دَ دې څه جواز کېدے شی؟

دَ پټې خزانې دَ استناد درجه ختمونکی نور حقائق دَ کتاب متن سره تعلق لری. په دې ضمن کښې به زه هغو تاریخی غلطیو ته اشاره نه کوم چې دَ شاعرانو دَ حالاتو په ضمن کښې دَ تذکره نګار نه شوی دی بلکې زه به صرف هغه غلطۍ په ګُته کوم چې دَ هغو نوعیت داسې دے چې هیڅ جواز ئې نه شی موندے.

له ټولو نه اول به دَ ځنو هغو لفظونو او لغتونو جاج واخلو چې محمد هوتک دَ خپلو "متأخرینو په تتبع" کښې غلط استعمال کړی دی. په دې لړ کښې وړومبے لغت "ایواد" یا "هېواد" دے چې دَ افغانستان

موجوده لیکونکی او محمد هوتک ئې یو شان غلط استعمالوی دَ افغانستان دَ موجوده دور دَ لیکونکیو په خیال "هېواد" یا "اېواد" وطن او ملک ته وائی. محمد هوتک هم دغه معنٰی قبلوی او دَ ښکارندوی قصیده کښې وائی.

دَ ښندو اورو دې درست اېواد زرغون کړه
له قصداره تر دیبله ئې یونونو (۷)

دغسې دَ امیر کروړ دَ ویاړنې بند دے.

زما دَ بریو پرخول تاویږی هسک په نمنځ وپه ویاړ
دَ اس له سوو مې مزکه ریږدی غرونه کاندم لتاړ
کړم اېوادونه اوجاړ. له ما اتل نسته (۸)

حبیبی صاحب دَ وروستۍ کرښې ترجمه کوی.

"مملکت ها را ویران سازم ؛ پهلوان ترے از من نیست" (۹)

حالانکې دَ "اېواد" یا "هېواد" معنٰی "لرې. بعیده" ده. دَ رحمٰن بابا دا شعر وځیرئ.

سبا زېرے دَ وصال په مهجور کاندی
دَ هېواد خبر موندھ شی له سیاحه (۱۰)

عبدالقادر خان خټک وائی.

"که نژدې که په هېواد دی" (۱۱)

دَ افغانستان ښاغلیو لیکونکیو ته دَ هېواد په سلسله کښې دا غلطی دَ ځنو متوسطینو له هغو شعرونو نه شوې ده چې هغوی پکښې "هېوادی آشنا" ژړلے دے. او چې یو ځل دا غلطی عامه شوه نو مخ په بره تر امیر کروړ او ښکارندوی ورسیده. ښه نو اوس دا غلطی مونږ خو کولے شو ځکه چې زمونږ دَ پاره دا نوے لُغت وه. خو ولې امیر کروړ، ښکارندوی

او محمد هوتک دغه غلطی څنګه وکړه ؟

دغسې یوبل لُغت "ګروهېدل" دے چې پټه خزانه کښې څوځل راغلے دے۔ "شیخ لوې لوې کرامات بشکاره کړل او خلق په وګروهېدل" (۱۲)

"نصر د شیخ حمید زوې په مُلتان کښې د ملاحده له استازوسره کښینوست او له دوئ څخه ئې د الحاد او اسمٰعیلی فرقې عقاید زده کړل او وګروهېدئ د دوی په اعتقاداً (۱۳)

لرغون ولې ګروهېدلې ؛ چې دې ګوښې اړاوه (۱۴)

بناغلے حبیبی د ګروهېدل معنیٰ کوی "ګرویدن۔ عقیدت داشتن" ایضاً دې ټولوځایونوکښې محمد هوتک او شیخ رضی لودی "ګروهېدل" د "ګرویدن او عقیدت داشتن" په هغو معنو کښې پکاروی چې حبیبی صاحب وضع کړی دی۔ ولې په حقیقت کښې د ګروهېدل معنیٰ "له ما فوق الفطرته وېرې کول" دی۔ د بناغلی حبیبی پېښ کړے د خوشحال بابا شعر وځیرئ۔

نه ئې زړه په ما نرمیږی نه ګروهیږی
خدایه څه مې سروکار شو له کافره (۱۵)

د رحمٰن بابا شعر دے

ګُل لمبه شه د بلبل په آه رحمانه
نه ګروهیږی یار په هائ وهوئ د ستا (۱۶)

بناغلی حبیبی شاید چې د ډاکټر بهلیو په سند د ګروهېدل معنیٰ "ګرویدن او عقیدت داشتن" کړی وی۔ لیکن د حبرانتیا خبره داده چې محمد هوتک او شیخ رضی لودی د بهلیو د غلطې معنې نه په سوونو کالونو مخکښې څنګه خبر شو "ګروهېدل" یوژوندے لُغت دے او تراوسه

ئې عام خلق استعمالوی ولې محمد هوتک او رضی لودی ئې دواړه په هغو معنو کښې استعمالوی چې حبیبی صاحب ئې ورته وراغوندوی۔

هم په دې لړکښې د "خان علیین مکان" ترکیب دے۔ چې محمد هوتک ئې د خوشحال بابا او میروېس خان بابا د پاره استعمالوی دا غلط ترکیب زما د تحقیق مطابق پښتو کښې له ټولو نه اول افضل خان ختک په تاریخ مرصع کښې د خوشحال خان بابا د پاره استعمال کړے دے (او د پټې خزانې د مراجع اوماخذ په ۳۵ نمبر بناغلی حبیبی د تاریخ مرصع د هغه انتخاب حواله ورکړې ده چې راورتی په ګلشن روه کښې راوړے دے د عربی د ګرامر مطابق صحیح ترکیب "خان علییون مکان" پکار وو ځکه چې قرآن کریم کښې "علیین" په مجرور حالت کښې راغلے دے۔ د عربی په یو قاموس کښې هم دا نورے په حالت رفع کښې "علیین" نه دے۔ افضل خان که غلطی وکړه نو تقاضا ئې بشری ده لیکن محمد هوتک دا غلطی څنګه وکړه۔ حال دا چې محمد هوتک پټه خزانه کښې نه د افضل خان ذکر کړے دے او نه ئې د هغه د تاریخ حواله ورکړې ده۔ بیا دا حسن اتفاق څنګه وُشو چې کومه غلطی افضل خان کوی هغه د افضل خان او د هغه له کتاب نه د عدم واقفیت باوجود محمد هوتک هم کوی۔

او که د عربی له قواعدو نه د ناخبرو ځنو لیکونکیو په لیکونکښې د استعمال په بنیاد دا فرض کړو چې د "خان علیین مکان" ترکیب صحیح هم دے بیا هم ترڅو چې دا ثابته نه شی چې خوشحال بابا په ټوله پښتو نخوا کښې د خپل مرګ نه پس په "خان علیین مکان" یادېده۔ د محمد هوتک له خوا هغه په دې نوم یادول څنګه ممکن کېدے شی او خاص طور سره په دا سې حال کښې چې محمد هوتک نه

افضل خان سره ملاقات کړے وه او نه یې د هغه تاریخ مرصع ګټلے وه.
(تاریخ مرصع تر ۱۱۳۶ھ پورې حالات بښلی او پته خزانه د محمد هوتک
د وینا مطابق ۱۱۴۲-۴۲ کښې لیکلې شوې ده) نه عبدالقادرخان په
خپل دیوان کښې خپل پلار په دې نوم یاد کړے دے او نه یې بل
کوم معلوم کتاب کښې دا نوم راوړے دے او نه بل کوم لیکونکی (دایاد
ساتل پکار دی چې پته خزانه کښې د عبدالقادرخان احوال راغلی دی)
بیا نو د محمد هوتک د معلوماتو ذریعه د راورتی د "ګلشن روه" نه بغیر
نوره څه ده.

محمد هوتک د شیخ متی په باب لیکی:

"د ده اولاد ولاړل او په پښتور او بدنی مېشته شول (۱۷) دې
جُمله کښې د "بدنی" لفظ قابل غور دے. محمد هوتک دا نه وائی چې
ده له کومه ځایه دا معلومات حاصل کړی دی. خو هرکله چې د
شیخ عیسی مشوانی او سلطان بهلول لودی رحمهما الله په ذکر (ص
۷۴-۷۸) کښې دے د مخزن افغانی ذکر کوی. او مخزن افغانی کښې یُ
دا لفظ "بدنی" لیکلے دے نو ویلے شو چې محمد هوتک دا له دغه کتابه
نقل کړے دے. که د مخزن افغانی مصنف په فارسی کښې "بدنی"
نه شو لیکلے نو ګرم نه وو ولې د هېرانتیا خبره دا ده چې محمد هوتک چې
پښتون وو" (بدنی) ولې په "بدنی" یاده کړې ده. بیا نعمت الله هروی
که په پښتو او بدنی کښې فرق نه شو کولے نو هم ملامته نه دے
خو پښتون هوتک ته چې "د پښتونخوا په لتو ګرځېدلے وو (پته خزانه
ص-۶) دا ولې معلومه نه وه چې "بدنی" د پښتو په نواح کښې یو
کلے دے او د دې کلی ذکر "او په پښتو او بدنی" نه بلکې "د پښتو

په بدنی" په صورت کښې پکار وو.

ګوابنل، ناتار، او نتل هم دغسې لفظونه دی چې حبیبی صاحب یُ
په معنی کښې غلطی کړې ده او عجیبه خبره دا ده چې محمد هوتک، بستان
برېښ، اسعد سوری او ابو محمد هاشم ابن زبد هم د حبیبی صاحب په
تتبع کښې دا توری هم په دغو غلطو معنو کښې پکار ولی دی.

د بستان برېښ شعر دے.

د خپل عزت په روی بستان ته کړه د مهر خندل
کړې له ګناهه ګوابنل (۱۸)

د حبیبی صاحب په وینا د ګوابنل معنی "امتناع و از فعل بدی کسے
را منع کردن" (۱۹) ده. بستان برېښ یُ هم په دې معنی کښې استعمالوی.
ولې د دې لفظ معنی چې اوس هم عامه ده "جنګ کول. جګړه کول دی
او ځنې قبائل یُ د "خلاصی کول (۲۰)" معنو کښې هم استعمالوی.

د اسعد سوری مصرع ده:

پرنتلیو اوروی د غم ناتار (۲۱)

بنا غلے حبیبی د دے ترجمه کوی:

"طوفان غم را بر غم زدگان نازل می سازی" (۲۲) او په حاشیه کښې د
"نتلیو" معنی کوی "افسرده و غمزده و محزون" (۲۳) د دې حاشیې نه
لاندې د "ناتار" معنی لیکی "تاراج و یلغار و شدت طوفان باد و باران" (۲۴)
د "ناتار" ورومبی معنی خو صحیح ده ولې نورې ټولې معنې غلطې دی
"نتل" (چې ناتار تړې حاصل مصدر دے) لوټ کولو ته وائی. او اوس
هم کټ مټ په دغو معنو کښې مستعمل دے. ولې د اسعد سوری په
شعر کښې یُ هم هغه معنی سمون خوری چې حبیبی صاحب له غلطی کړې ده.

د شیخ بوستان برخ په ذکر کښې محمد هوتک د برخ ډیوې بدلې
عنوان درکړے دے "شعر چې بدله ئې بولی" حبیبی صاحب په بدله
د نوټ لیکلو په ضمن کښې د "بدلې" تعریف داسې کوی:
"نوع مخصوصے است از اشعار پشتو که بالحان مخصوصی خوانده و سروده شود. و
بدله در ابتدا یک معیار عروضی مخصوص داشت که انرا کسر گویند و تمام بدله باید برهمان معیار
برابر باشد و بعد از هر بند تکرار می گردد واوزان بدله بسیار است" (۲۵)

ترجمه: "د پښتو شاعرۍ یو مخصوص نوع دے چې په خاص لحن کښې
ویلے شی. د بدلې په ابتدا کښې یو مخصوص عروضی معیار وه چې ورته
به ئې کسر ویلو او پکار ده چې ټوله بدله په دغه معیار برابروی اوله
هغه پس هر بند تکرار یږی او د بدلې اوزان ډیر دی"

د بی بی حلیمې په ذکر کښې محمد هوتک لیکی:

"د حلیمې په اشعارو کښې مجازی عشق نه بلکې ټول
شعرونه ئې د حقیقت په لاروی او د محبوب حقیقی صفت کا. دغه یوه
بدله ئې زما پلار ما ته ووئیل چې په خزانه کښې ئې داخلوم. رحمة
الله علیها (۲۶)

اګرچې زما د "بدلې" دې تعریف سره هم اتفاق نشته خو د
دې نه پس چې کومه "بدله" د نمونې په طور راغلې ده هغه غزل دے
د غزل د پاره د "بدلې" استعمال هم هغه روایت دے چه بناغلی حبیبی
د "خوشحال خان ختک مرغلرې" کښې شروع کړے دے (۲۷)

د دې دومره وړ د بحث نتیجه دا شوه چې "پته خزانه" کښې داسې
ډیر توری او ترکیبونه استعمال شوی دی چې د هغو د استعمال په
باره کښې موږ خو غلطی کولے شو خو له هغه متقدمینو د چا په وجه

چې دا لفظونه ترمونږ راسیدلی دی د داسې غلطیو امکان قطعًا نه شو
کیدے او دا غلطئ د پټې خزانې د اصلیت دعوی مشکوکوی.

د کتاب په متن کښې د تاریخی غلطیو په حقله لکه چې ما اګاهو
عرض کړے دے زه دلته څه وئیل نه غواړم ولې دومره عرض ضروری
ګڼم چې څنې داسې خبرې چې هغه بالبداهت غلطې بشکاری د مؤلف د
تسامح نتیجه نه شی کیدے. د مثال په طور د رحمان بابا ذکر په هغو
شاعرانو کښې کوی چې له دې مخوا تېر دی. ولې د عبدالقادرخان ذکر
خپلو معاصرینو سره کوی د رحمان بابا تاریخ وفات ۱۱۱۸ لیکی (حالانکې
د هغه تر ۱۱۲۳ پورې ژوند د "کل خان اوجمال خان" د قصیدې نه
جوت دے) او عبدالقادر تر تاریخ تحریر پورې ژوندے ګڼی (حالانکې د
عبدالقادرخان د ژوند د ۱۱۲۵ نه پس ته شهادت نشته) اوخاص طور
سره په داسې حال کښې چې دا هم وائی: "ظل الله پادشاه جهان شاه حسین
کاتبان واستول اوله پښتوره ئې د رحمان بابا علیه الرحمة د دیوان نقلونه
راوړل" (۲۸) که د محمد هوتک داخبره ریښتیا وی نو دغو کاتبانو ته د
رحمان بابا او عبدالقادرخان ختک د وفات په حقله هیڅ هم څه ونه
وئیل او که نه دوئ د دیوان د نقلونو راوړلو نه بغیر د بل څه سوال
نه منع کړے شوی وو.

د رحمان بابا د دیوان د نقل په حقله داخبره هم د یادولو ده چې
په ص۹۶ محمد هوتک دا منی چې حاجی میروېس خان بابا سره د دیوان
یو نقل وه. د دې نقل په موجودګی کښې پښتورته د کاتبانو لیږلو
څه ضرورت وه. که ووئیلے شی چې ګڼدې دغه نقل ورک شوے وی نو
دا ډیره غیر اغلبه خبره ده ځکه چې میرویس خان بابا کوم اهمیت رحمان بابا

ته ورکولو د هغې له رویه د دیوان ورکېدل یوه ډېره غیر معمولی واقعه ګڼل
پکار دی او حُکه د پټې خزانې مُولف لره ټې ذکر کول ضروری وو.

د رحمان بابا له دیوانه د میر وېس خان بابا د فال وکښلو افسانه
د پټې خزانې په بنا د ۲۹ ذیقعدة الحرام ۱۱۱۹ یا له دې نه څه وړځې
اګاهو فرض کولے شو حُکه چې په دغه وړځ میر وېس خان بابا پ قندهار
ورننوتے وه. د رحمان بابا کومې قصیدې ته چې مخکښې اشاره وشوه
هغه د ۱۱۲۳ ه د یوې واقعې (د ګل خان اوجمال خان مرګ) سره
تعلق لری لکه څنګه چې وراندې عرض وشو. رحمان بابا کم ازکم ۱۱۲۳ه
پورې ژوندے وو. ظاهره ده چې نه تر ۱۱۱۹ ه د رحمان بابا دیوان
مکمل شوے وو او نه ترې د فال وکښلو سوال پیدا کېدے شو. شاید
هم په دې غرض پټې خزانې رحمان بابا په ۱۱۱۸ ه کښې "وژلے" دے
چې په ۱۱۱۹ کښې د هغه له دیوان نه مَیر وېس بابا د فال وکښلو جواز
پیدا شی (۲۹)

بنا غلے محمد هوتک د کتاب په ابتدا کښې لیکی:

"په دغه کتاب چې ما په ښکلو ابتداء وکا وړځ وه د جمې
۱۶ د جمادی الثانی سنه وه ۱۱۴۱ هجری" (۳۰)

که دا ثابته شی چې ۱۶ جمادی الثانی ۱۱۴۱ ه د جمې وړځ نه وه
نو د پټې خزانې ټول عمارت به راپرېوځی او یو دلیل به هم قاری په
دې قانع نه کړی چې ګُنډې دې کتاب کښې څه اصلیّت شته.

د عبدالقدوس هاشمی مرتبه "تقویم تاریخی" مطابق یکم
جمادی الثانی ۱۱۴۱ د اتوار وړځ او د جنوری ۱۷۲۹ دوېمه نېټه وه (۳۱)
په دې حساب ۱۶ جمادی الثانی ۱۱۴۱ د پیر وړځ یعنی دوشنبه وه اوس

د هجری میاشتو په سلسله کښې د وړځې نېټې فرق خو ممکن دے لېکن
د جمې او پیر (کل) فرق بالکل ممکن نه دے. یواځې دا دلیل هم
د پټې خزانې د مصنوعیت ثابتولو د پاره کافی دے.

او له دې نه پس هم چې څوک د پټې خزانې په اصلیت اصرار
کوی نو هېر زیاتے به کوی. حُنې بنا غلی د دې تنقید په حُواب کښې
په ټمری میاشتو کښې د ادلون بدلون تکیه اخلی خو لکه څنګه چې
عرض وُشو د یوې نېټې وړځې فرق خو د بو میاشتو کښې راځی ولې
د جمې او پیر د وړځې فرق انتهائی بعید از قیاس دے.

د شاعرانو د کلام د نمونو په حقله هم د بنا غلی محمد هوتک نه
حُنې داسې غلطی شوی دی چې هغوته په هېڅ قیمت "اتفاق" نه
شو ویلے. د مثال په طور د رحمان بابا د کلام د نمونې په طور چې
کوم غزل نقل شوے دے د هغې یوه مصرع ده.

توان توفیق خو د فتنو راڅخه نه وه

د رحمان بابا دا مصرع په چاپې نسخو کښې دغسې ده خو د هغو
شپارسو قلمی نسخو چې ما ټې د مطالعې موقع موندې ده قرأت دادے

توان توفیق د فتنو هېڅ راڅخه نه وه

یا

توان توفیق د فتنو هېڅ راڅخه نشته

اوس نو دا خبره دې لُستونکی پخپله وځیری چې محمد هوتک د
رحمان بابا د چاپې نُسخې نه څنګه استفاده وکړه که دا ووئیل چې
چاپې نسخه خو به هم په یو نه یو قلمی دیوان مبنی وی نو دا به پوره
صحیح خبره نه وی د رحمان بابا د چاپې نسخو د غلطیو یوه وجه داهم

ده چې کاتبان او نسخه نویسان په کوم شعر پوه شوی نه دی هغه ئې پخپله اصلاح کړے او لیکلے دے۔ زما په رائې دا مصرع په هغه قلمی دیوان کښې چې متعلقه چاپی نسخه پرې مبنی وه داسې لیکلے شوې وه۔

توان توفیق د فتنو هس راشخه نه وه

نسخه نویس "هِس" "هیچ" "هسې" ولُستلو او د وزن د برابرولو د پاره ئې "هس" حذف کړو او "خو" ئې درسره زیات کړو کوم غوروکړے شی نو د چاپی نسخې او د محمد هوتک د راوړې مصرعې "خو" بالکل بې خایه او څکه د رحمان بابا نه دے۔ اوس که څوک دا ووائی چې کیدے شی چې هم دغه غلطی محمد هوتک نه هم شوی وی نو څه پرتوګ خو به ئې جوړشی خو د محمد هوتک د "سخن فهمی" قلعه به مسماره شی۔

د شیخ عیسی مشوانی د کلام د نمونې په ضمن کښې محمد هوتک صرف هغه شعرونه رانقل کړی دی چې له دې نه پرته مخزن افغانی هم راوړی دواو چې د تاریخ مرصع په نوټونو کښې بناغلی مشر دوست محمد خان کامل مومند د هغه د هندی او فارسی د شعرونو سره په ص ص ۱۳۰۰، (۱۳۰۱) د پښتو اکیډمی د قلمی او د چاپی نسخې په حواله لیکلی دی (۳۲) گویا د شیخ عیسی مشوانی ترجمه د محمد هوتک ذریعه صرف د نعمت الله کتاب وه۔ داڅه د اعتراض خبره نه ده ولې دې نه د پټې خزانې د هغې "پټ والی" اندازه کیدې شی چې د وجه تسمیه په حقله پرې بره بحث وُشه۔

د بی بی حلیمې په دې شعرونو کښې د واحد متکلم مذکر استعمال هم قابل غور دے۔

د هرچا وته چې گورم وارِه دې دے
د جمال په نندارو ئې شادمان شوم

غیر فکر مې له زړه نه رابهر شو
پر خلیل و پر عدو باندې یکسان شوم

بناغلے حبیبی د محمد هوتک د نثر په باره کښې لیکی:

"سلیمان ماکو در تلقین جملات و تعابیر زیر اثر زبان عرب به نظر می اید و هم خوشحال خان و عبدالقادر خان و افضل خان زیر اثر فارسی رفته اند۔ ولے محمد هوتک ناتوانسته خودرا از ینگونه تاثیرات نامناسب دور داشته است" (۳۳)

ترجمه: سلیمان ماکو د جملو په باهمی ګډون او تعبیراتو کښې د عربی ژبې د اثر د لاندې برېښی او خوشحال خان او عبدالقادر خان او افضل خان هم د فارسی نثر د اثر د لاندې تللی دی۔ ولې محمد هوتک چې ترڅو کولے شوځان له داسې نامناسبو تاثیراتو نه لرے ساتلے دے۔

د خوشحال بابا د نثر په حقله د حبیبی صاحب دې رائې سره زه اتفاق نه کوم خو دا د دې بحث موقع نه ده۔ البته د محمد هوتک د سرچه نثر یو دوه نمونې به د مثال په طور پیش کړم "نو ئې زه وغوښتم خپل دربارته اوماته ئې تشریق وکا" (۳۴)

"اوس نو وقت دې چې تورې له تیکیو وکاږو او ځانونه له دښمنه وژغورو۔ هغه وخت چې په ۲۹- د ذیقعده الحرام سنه ۱۱۱۹ هجری اولس ټول سول" (۳۵)

په دې رومبی جمله کښې د "تشویق" استعمال د حبیبی مرحوم د دعوې د تردید د پاره کافی دے۔

په دوهمه فقره کښې "هغه وو" د فارسی د "هماں بود" مستقیماً ترجمه ده (حبیبی صاحب ئې په ص ۹۹ "هماں بود" ترجمه کړې ده) او په ټوله پښتو کښې ئې مثال نشته۔ البته په اوسنی فارسی کښې هم

استعمالیږی او دا ترې څرګندیږی چې یا خو "هوتک بابا" دَ فارسۍ دَ مستقبل ژبه پکارولې ده او یا دا ټکړه چرته ننني فارسي ران دَ محمد هوتک دَ نثر سره ګنډلې ده.

دَ پټې خزانې دَ نثر دَ څېړلو دا موقع نه ده که وخت وه او خدائې توفیق راکړه نو په دې سلسله کښې به خپل معروضات بیا پېش کړم البته په اخر کښې دا خبره کول غواړم چې دَ پټې خزانې په نظم و نثر کښې دَ متقدمینو دَ نظم و نثر څه روایات نه ښکاري په نظم کښې "ترو" "سکه" "ځبله" "وبله" "خپسر" او په نثر کښې "وکانۍ" "ماورته که" "څخو" او داسې نور لفظونه چې په پخوانی ادب کښې پاڼه په پاڼه موندے شي په "پټه خزانه" کښې یو ځل هم نه دی استعمال شوی. دَ دې نه زیاته دا خبره هر ذهین لُستونکی ته مخې له راځي چې محمد هوتک "دَ پښتنو" په لتو کښې ګرځېدو. او دَ رحمان او دَ خوشحال دَ شاعرۍ دَ مطالعې باوجود هم مرزا انصاری، دولت لوڼ، ارزانی او مخلص له په خپله "خزانه" کښې ځائې نه دے ورکړې. دَ دې وجه دا خو نه وه چې محمد عباس کاسی یا بل چاته دَ پټې خزانې دَ لیکلو په وخت دَ مرزا او نورو روښانیانو شاعرانو مطبوعه دیوانونه میسّر نه وو. دَ دې معروضاتو په رڼا کښې دَ کتاب دَ اصلیت په باره کښې دَ شکونو پېدا کېدل ضروري دي او ځکه زه "پټه خزانه" له اعتباره پرېوتې. بې بنیاده او فرضي مجموعه ګڼلو کښې حق بجانب یم.

حوالې او حواشي

۱ پټه خزانه دوهم چاپ ص ٦

۲ پټه خزانه دوهم باب دویمه خزانه ص ص ۱۰٦-۱۷۵)

۳ "محمد هوتک دَ دې کتاب په درېواړو برخو کښې مطالب دَ ثقه و ماخذونو او روایاتو په بناء ضبط کړي دي چې دَ ده دَ معرفي کړو زیاترو مشاهیرو په باب په نورو اثارو کښې هم خبرې موندلے کیږي" دَ محمد هوتک ژوند او مزار دَ ښاغلي هوادمل. کابل ۱۳٦۲ھ (۱۹۸۳ء) یعنی ښاغلے هوادمل براه راست دَ "محمد هوتک" دَ دې دعوې تردید کوي چې "دلته هغه احوالونه راغلي دي چې پټ وو او نه وو ښکاره (پټه خزانه. ص. ٦)

۴ په دې لړ کښې دَ مفصّل بحث دَ پاره وګورئ پنځم باب (جدیدیت)

۵ ایضاً

٦ نور بحث په څلورم باب "تاریخي پس منظر" کښې ملاحظه کړئ.

۷ "پټه خزانه" دوهم چاپ. ص ۵۴.

۸ ایضاً ص ۳۴
۹ ایضاً ص ۳۵
۱۰ دَرحمان بابا کلیات ص۔ ۱۸۲
۱۱ یوسف زلیخا کرستومپتھی ص ۱۸۵
۱۲ پټه خزانه دوهم چاپ ص۔ ۱۵۲
۱۳ ایضاً ص۔ ۷۰
۱۴ ایضاً۔
۱۵ دَخوشحال ختک مرغلرې ص۔ ۱۹۸ او پټه خزانه دوهم چاپ ص۔
۱۶ دَرحمان بابا کلیات ص۔ ۲۴
۱۷ "پټه خزانه" دوهم چاپ ص۔ ۲۴
۱۸ ایضاً ص۔ ۶۸
۱۹ ایضاً۔
۲۰ دَ بښلیو ډکشنری۔ ص۔ ۱۴۰
۲۱ پټه خزانه دوهم چاپ ص۔ ۴۴
۲۲ ایضاً۔ ص ۳۴
۲۳ ایضاً۔ ص ۴۲
۲۴ ایضاً
۲۵ ایضاً۔ ص۔ ۶۶
۲۶ ایضاً۔ ص ص ۱۸۰۔ ۱۸۲
۲۷ دې ضمن کښې نور بحث دَ پاره درېم باب ولولئ۔
۲۸ پټه خزانه دوهم چاپ ص۔ ۹۴۔
۲۹ دَرحمان بابا دَ احوال او دیوان په سلسله کښې نور بحث شپږم

او اووم باب کښې ولولئ۔
۳۰ پټه خزانه۔ دوهم چاپ ص۔ ۶۰
۳۱ تقویم تاریخی۔ دَ ۱۱۴۱ ھ کښلنهار
۳۲ تاریخ مرصع ص ص ۱۳۰۱۔ ۱۳۰۰۔ دې سلسله کښې دَ نور بحث دَ پاره شپږم باب کښې دَ پټې خزانې دَ څوارلسم شاعر "مقبول ربانی شیخ عیسی مشوانی" په ذکر کښې زما معروضات ملاحظه کړئ۔
۳۳ پټه خزانه دوهم چاپ ص۔ ۲۶۸
۳۴ ایضاً۔ ص۔ ۶۰
۳۵ ایضاً۔ ص۔ ۹۸

دَیونس دَ دیوان شهادت

"پته خزانه" دَ یو شاعر محمد یونس خان ذکر دا سې کوی:-

"هسې روایت کا زما تر بور رحمت هوتک چې په سن ۱۱۳۵ه پېښور ته تلے وم او هلته مې په خېبر کښې محمد یونس خان شاعر شېوابیان ولیدو او دَ دې اشعار مې سماع کړل. محمد یونس په دغه کال یوډبرش کلن ځوان وه او په قوم موسی خېل وه چې پلار یې نور محمد خان له موسی خېلو څخه دَ کسی دَ بابړو سره راغلے او په خېبر کښې وسېدے. محمد یونس په پېښور کښې علمونه او کتابونه ولستل او په هغه وخت چې عبد الرحمان بابا ژوندے وه دَ هغه شاگرد سو. او دَ شعر دیوان یې جوړ کا چې ډېر غزل لری او په خېبر کښې معروف سو.

"دغه غزل رحمت دَ دې له دېوانه ماته راوړل چې په دې کتاب کښې ثبت کاندم. خدائ دې محمد یونس خان ژوندے او معزز ولری"[1]

"پته خزانه" دَ شاعر په حقله چې کوم معلومات ورکوی دَ هغو خلاصه دا ده:

۱ محمد یونس په خېبر کښې وُسېدل.

۲ دې په ۱۱۳۵ه کښې یو ډبرش کلن ځوان وه.

۳ دَ پلار نوم یې نور محمد خان وه، چې په ختڅه بابړ وه.

۴ یونس خان دَ رحمان بابا په ژوند دَ هغه شاگرد وه.

۵ په کال ۱۱۳۵ه کښې یونس خان خپل دیوان مرتب کړے وه. او په خېبر کښې یې شهرت لرلو.

۶ دوه غزلونه دَ دې له دیوانه په دې غرض رانقل شوی وو چې په پته خزانه کښې ثبت شی.

۷ یونس خان په ۱۱۴۲ه کښې ژوندے وه.

دا هم هغه یونس دے چې دیوان یې دَ خېبر ندوي عبد الله خدمتګار دَ مقدمې او څنډو سره په ۱۳۵۶ هش (۱۹۷۷) کښې دَ افغانستان اطلاعاتو او کلتور دَ وزارت له خوا چاپ شوے دے. دا چاپی دیوان هغه دوه غزلې او یوه معما لری چې "پته خزانه" کښې دَ محمد یونس خان سره منسوب دی. په هر صورت تر اوسه لا دا خبره نزاعی نه ده چې کوم دیوان چې دَ یونس دَ دیوان په نوم چاپ شوے دے دا هم دَ هغه یونس کلام دے چې "پته خزانه" یې ذکر کوی. ځکه که هغه معلومات چې پته خزانه یې مونږ ته راکوی دَ یونس دَ دیوان له معلوماتو سره متصادم شی نو دَ دیوان داخلی شهادت به زیات معتبر ګڼلے کیږی (لکه چې پکار ده) او دَ دغه معتبر شهادت په رڼا کښې به دَ "محمد هوتک تالیف" خپل استناد بائیلی.

مخکښې له دې نه چې دَ "تالیف" دَ یونس په حقله معلومات دَ اهمیت په لحاظ وڅېړلے شی دَ رحمت هوتک پېښور ته دَ راتلو په واقعه

بحث پکار دے۔ د محمد هوتک په وینا د هغه تربور رحمت هوتک په
۱۱۳۰ھ کښې پېښور ته تللے وه۔ دا هغه وخت دے چې افضل خان خټک
او محمدی صاحبزاده خوحتماً او حمید بابا او علی خان غالباً ژوندی وو
د دوی نه علاوه د اشرف خان هجری، صدر خان خټک او د سکندر خان
په حقله هم د یونس په واسطه معلومات حاصلېدے شو۔ خو باوجود
د دې چې رحمت هوتک د محمد هوتک په کتاب کښې د ثبت کولو د
پاره د یونس دوه غزلې د هغه له دیوانه راوړی دی۔ دا دلې ضروری
ونه ګڼله چې د دغو لویو شاعرانو په حقله چې د محمد هوتک هم عصر
هم وو معلومات د محمد هوتک د "ثبت کولو" د پاره راغونډ کړی۔ او
بیا خاص طور سره چې دے یوه میاشت د یونس مېلمه وه۔ او دا اول
ذکر شوی شاعران د یونس مشران کشران او معاصرین وُو۔ د دوئ
په حقله یونس، رحمت هوتک ته ویلې وې غوره ونه ګڼل۔ او بیا په
داسې صورت کښې چې یونس خپل یو شعر کښې "دې دو شاعرانو"
سره د مقابلې خبره په دې توریو کړې ده۔

په تقریر د شعر فهم کړه یونسه
په قابو کښې درته ناست دی شاعران دې دو (۲)

یونس خپل مېلمه د دغو دې دو شاعرانو له احواله ولې خبر نه
کړه؟ له دې زاویې نه چې د محمد هوتک روایت ته وکتلے شی نو
په دې کښې هیڅ شک نه شی کېدے چې د رحمت هوتک پېښور ته
د تللو دا واقعه بالکل فرضی ده۔ (۳)

"پته خزانه" چې د یونس په حقله کوم معلومات د رحمت هوتک
په روایت مونږ ته راکوی د هغو تولو تردید د یونس د دیوان نه

کیږی۔ د اهمیت له اعتباره د تولو نه زیات غلط روایت د هغه د ولدیت
په حقله دے۔ د رحمت هوتک په حواله "پته خزانه" د یونس د پلار
نوم نور محمد بنئی خو پخپله یونس د یو غزل په مقطع کښې وائی

چې سل شپږ پنځوس او دوه اویا دوه نام که
هغه پوه ګڼه یونسه په ابجد ستنا (۴)

دې شعر کښې د یونس د اَب (پلار) او جد (نیکه) د نومونو عدد
بیلے شوے دے۔ که د ترتیب په رعایت سل شپږ پنځوس د هغه
د پلار نوم وی نو دوه اویا ئې د نیکه نوم دے او که د شعر د وزن
له کبله ترتیب ساقط شوے وی نو بیا دوه اویا ئې د پلار او سل
شپږ پنځوس ئې د نیکه نوم دے، که د محمد هوتک د "تالیف"
خبره صحیح وی او د یونس د پلار نوم نور محمد خان وی نو دا یو
عدد هم دې نوم سره سمے نه خوری۔ خو هرکله چې د دیوان داخلی
شهادت زیات قابل اعتماد دے نو ځکه د رحمت هوتک او محمد هوتک
دواړو خبره ځائې نه نیسی۔

د یونس د دیوان حاشیه لیکونکی بناغلی څېړندوی عبدالله
خټک د دې مقطع تشریح داسې کوی:-

"دا بیت هم د یونس په نامه معماده او په دې توګه حلیږی۔
که (۱۵۲) د (۷۲) سره یوځائې کړو نو (۲۲۴) تر دې راوځی که
د (ابجد) د کلمې توری (ا - ب - ج - د) د ابجد په حساب وګڼو نو
(۱۰) تر دې جوړیږی او چې دا (۱۰) په پورتنی عدد واچوو (۲۳۸) کیږی
د یونس د کلمې توری (ی - و - ن - س) د ابجد په حساب (۱۲۶)
کیږی چې دوه ځله ئې وګڼو نو هم هغه (۲۳۸) تر دې جوړیږی یعنی

یونس انتهٰی (۵) = ۱۲۶ = ۲ ÷ ۲۳۸ یا ۱۰ + ۷۲ + ۱۵۶

دا حساب په دې لحاظ ښې غلط دے چې د یونس د نوم عددې
دوه ځل وشمارلے نو ۲۵۲ تړې جوړیږی او چې د شعر ۲۳۸ په دوه
وو پښلے شی نو ۱۱۹ کیږی. ځکه نو دا د یونس سره څه علاقه نشه
لری بلکې لکه چې څنګه عرض وکړے شه د هغه د آب (پلار) اوجد
(نیکه) سره تعلق لری د شعر مضمون کښې "دوه نام" هم په دې دلالت
کوی چې ۱۵۶ او ۷۲ دوه نومونه دی.

دا ۱۵۶ او ۷۲ د چا نومونه دی؟ هسې خو د دې عددونو څخې
د هرې نامې جوړېدې شی خو هرکله چې د دیوان په حاشیه د معمو
حل د "محمدی" په دستخط شوے دے نو پکار دے چې د دې عدد
اولنے تعلق "محمدی" سره فرض کړے شی او په دې لحاظ چې مونږ
حساب وکړو نو "محمدی جان" ټیک ۱۵۶ راوځی. د "محمدی" سره
له ټولو نژدې نوم "احمد" فرض کیدے شی او دا هم حسن اتفاق
دے چې د "احمد جیو" اعداد (۷۲) دی دې نومونو سره د "جان" او
"جیو" لاحقې دا څرګندوی چې احمد جیو مشر او محمدی جان کشر
دے. په دې حساب "احمد جیو" د یونس نیکه او محمدی جان د
هغه د پلار نوم کیدے شی.

او که د دوه اویا نه مطلب (۱۴۰) یوسل څلوېښت واخستے شی
نو سل شپږ پنځوس نه "یوسف" او سل څلوېښت نه "یسع" راوتے
شی چې د یونس په شان د هغو نبیانو نومونه دی چې قرآن کریم
کښې ټې ذکر راغلے دے.

د چاپې دیوان حاشیه لیکونکی عبدالله خدمتګار دا رائې ښکاره

کوی چې د "محمدی" له خوا د دې دیوان په حاشیو د معمو حل دا
ثابتوی چې دا دیوان د محمدی صاحبزاده له نظره هم تېرشوے دے
که دا رائې صحیح وی نو هم کم از کم دا خبره خو له دې نه ثابتیږے
نه شی چې "د یونس" تعلق د څمکنو د حضرت میاں عمر صاحب د خاندان
سره دے. ځکه چې د معلومو روایاتو مطابق محمدی صاحبزاده او احمدی
صاحبزاده خپلو کښې ورونه وو او د یونس د دیوان "محمدی جان"
او "احمد جیو" خپلو کښې پلار زوئ دی. نو ترڅوچې د محمدی
صاحبزاده او احمدی صاحبزاده په حقله د معلومو روایاتو تردید
نه وی شوے ترهغې پورې مونږ مجبور یو چې محمدی جان او "احمد جیو"
د دې خاندان افراد و نه ګڼو (هرڅوکه د یونس دیوان کښې څخې
توری د باجوړ د سیمې د محاورې مطابق دی او د څمکنو صاحبزادګان
هم اصل کښې له دغه ځایه وو) له دې بحث نه کم از کم دا ثابته
شوه چې د یونس د پلار نوم نور محمد خو بالکل نه دے او چې دا
ثابته شی نو د یو معاصر شاعر سره د یو میاشت د مصاحبت نه پس
ته هم د هغه د پلار په نوم کښې غلطی کول د "محمد هوتک" د
تالیف په حقله هغه رائې مضبوطوی چې مونږ په وړومبی مضمون
کښې ښکاره کړې ده او هغه دا چې دا کتاب د سند له اعتباره پرېوتے
غیر معتبر او آخری نتیجه کښې جعلی دے.

د یونس په حقله دوهمه اهمه خبره د هغه د سکونت سره
تعلق لری "پټه خزانه" یونس د خپرو سیمو نکے ګڼی او هرڅوکه
خپرې یوه وسیعه علاقه ده او پخپله دا خبره چې رحمت هوتک هغه
سره د یوې میاشتې د قیام نه پس ته هم هغه ځای په ګټه نه

کړے شو کوم ځائې چې یونس وُسېدھ ، دَ روایت دَ تضعیف دَ پاره کافی ده. ولې بیا هم دَ یونس دَ دیوان نه داسې معلومیږی چې هغه دَ غرونو وسېدونکے نه وه. دَ یونس یو شعر دے ؎

پھ اسره ئې سرکشان لھ غره راکوز شی
بې دعوې غالب پھ غر او پھ سم زر دی (۶)

دې شعر کښې دَ "راکوزېدھ" دَ فعل استعمال صرف پھ هغه وخت ممکن وو. چې یونس پھ سمه کښې وُسېدلے. کھ دَ محمد هوتک دَ تالیف روایت صحیح وے او یونس پھ خېبر کښې وسېدے نو دَ دې شعر صورت به دا وه ؎

پھ اسره ئې سرکشان لھ غره ورکوز شی
بې دعوې غالب پھ غره او پھ سم زر دی

دَ دې شعر پھ حقله به دا توجیه هم غلطه وی چې کېدے شی دا شعر یونس هغه وخت وئیلے وی چې دې دَ عِلم حاصلولو پھ لړ کښې پھ پېښور کښې وه. ځکه چې دَ شاعر پھ لاشعور کښې دَ یو مستقل حقیقت دَ ښکاره کولو دَ پاره استعمالیدونکی علامتو ته تل مستقل حیثیت لری او دا نه شی کېدے چې کوم څیز ته هغه افاقی صداقت وائی هغه دې پھ عارضی علامتونو ثابت کړی. بیا دَ دې توجیه دَ غلطولو دَ پاره پھ شعر کښې یوه بله قرینه هم موجوده ده او هغه دَ "سرکشانو" کلمه ده چې دا څرګندوی چې دَ شاعر پھ خیال کښې دَ غره وُسېدونکی سرکشان دی او هر کله چې دَ شعر مضمون دَ زرو دَ پاره دَ تعریف پھ مقام کښې او دَ سرکشانو دَ پاره دَ ذم پھ محل استعمال شوے دے نو ځکه دا مطلب ترې راووځی چې شاعر دَ غره وُسېدونکے نه وو او چې

دا مطلب ترې راووځی نو دَ رحمت هوتک او محمد هوتک تحقیق غلط ثابت شی.

دغسې دَ یو بل غزل مقطع کښې هم یونس دَ غره ذکر دَ بُعدِ مکانی پھ رعایت کوی. وائی ؎

پھ هر شان به درته ورسی یونسه
کھ تر غره لاندې دې وی رزق روزی (۷)

کھ یونس دَ خېبر وُسېدونکے وګڼلے شی نو دا شعر به خپل اصل مفهوم بائیلی ځکه چې دَ غره دَ وُسېدونکی روزی خو به خامخا دَ غره لاندې وی. دا شعر لازمًا دَ یو داسې شاعر دے چې هغه مېدانی علاقه کښې وُسی. ظاهره ده چې خېبر مېدانی علاقه نه ده.

دَ غره سره دَ یونس دَ عدم تعلق پھ ثبوت کښې دا شعر هم ډېر اهم دے وائی ؎

سترګو ئې اهو خجل کړې لاړې دَ دې ملکه
ځکه اوس مقام لھ شرمه عینِ غر لری (۸)

"لھ دې ملکه" تلل او غر کښې "مقام لرل" دَ دې حقیقت دلیل دے چې دَ یونس ملک لھ غره نه لرې وه.

دَ یونس دَ دیوان دَ ځنو شعرونو نه دا استنباط کېدے شی چې دے دَ یوې داسې سیمې وُسېدونکے وه چې هغه دَ حکومتی جبر او دَ معاشرتی استحصال ښکار وه. دا شعرونه ئې خاص طور سره دَ غور بلنه ورکوی ؎

رعیت دَ ظالمانو ظلم ورک کړه
پھ انصاف غور ئې نه اخلی خبر څوک

اربابان او حاکمان سره یو لاس کا
نور دَ خوار و غریب اوری شور و شر څوک (۹)

په دویم شعر کښې دَ "اربابانو" تورے دا ښکاره کوی چې یونس دَ یوې داسې سیمې سره تعلق لرلو چې هغه دَ اربابانو دَ سیاسی تسلّط دَ لاندې وه. داسې سیمه صرف دَ غوریاخېلو کېدے شی ځکه چې صرف دَ غوریاخېلو اولسی مشران او خانان دَ اربابانو په نامه یادیږی (۱۰) او په دولسمه پېړۍ کښې غوریاخېل (خلیل. مومند او داؤدزی) هم په دې علاقه مېشته وو کومه کښې چې دوی اوس هم پراتھ دی. ځکه نو اغلب خیال هم دا کېدے شی چې یونس غوریاخېل او یا دَ غوریاخېلو په سیمه کښې وُسېدھ -

هم دې نظم کښې یو شعر دے :

پیاده ګان کوټوال راهدار لېونی سپی دی
په ډکه دې خدائې څوک نه کا برابر څوک

هر څوکه دا شعر هم دَ دې خبرې ثبوت دے چې یونس دَ ازاد خېبر په ځائې په یوه داسې علاقه کښې وُسېدلو چې هلته پیادګان کوټوالان او راهداران موجود وو خو دَ دیوان حاشیه کښونکی فاضل ورور عبدالله خدمتګار په خپله مقدمه کښې دا شعر دَ هغه په خېبر کښې دَ استوګې دَ پاره دَ دلیل په طور پېش کوی او وائی چې ډکه دَ خېبر نه را دَ بره یو ځائې دے چې پخوا تر دې عصره پورې ګمرک پکښې وو اوس هم زمونږ دَ ژاندارې سرحدی اداره ده (۱۱) دَ شعر په دویمه مصرعه کښې "ډکه" دَ یو ځائې نوم نه دے بلکې دَ دې لفظ معنٰی تنګول، دَ لاسو او پښو نه نیول او ځوړندول او دیکه

ورکول دی -

خوشحال بابا وائی :

شړېور پښتون به سل په ډکه یوسی
کشمیری چې بغرګ شالونه ئې په دوش وی (۱۲)

دَ رحمان بابا دَ یوې قصیدې شعر دے :

هم ئې هند په ډکه واخست
هم کابل هم پېښور (۱۳)

دَ علی خان شعر دے ؎

دئې ښکې له کوهی په ډکه واخستې هلکو
نور ئې لکه اوښ په هره لار کښې برړولے (۱۴)

دَ یونس شعر کښې هم "ډکه" بېدو په دغه معنٰی استعمال شوې ده. دا بېله خبره ده چې دَ قلمی نسخې لیکونکی او ښاغلے عبدالله خدمتګار دَ "څوک" دَ تکرار باوجود په دې نه دی پوه شوی چې دا شعر داسې نه دے لکه چې لیکلے شوے دے بلکې صحیح داسې پکار وه -

پیاده ګان کوټوال راهدار لېونی سپی دی
په ډکه دې ئې خدائې نه کا برابر څوک

په دې ډول دَ محمد هوتک دَ "تالیف" دا خبره هم غلطه ثابته شی چې یونس دَ خېبر وه او چې یو ځل دا ثابته شی نو دَ رحمت هوتک ټول روایت محض افسانه او پخپله "پټه خزانه" هم دَ ساختګۍ نمونه وګرځی.

دَ یونس او رحمان بابا تر منځه دَ اُستاذۍ او شاګردۍ رشته هم دَ رحمت هوتک دَ افسانې یوه حصه ده چې دَ یونس دیوان پرې هېڅ

شهادت نه ورکوی. صرف په دې بنیاد چې د یونس دیوان کښې یو نظم داسې دے چې د رحمان بابا مرګ ته پکښې اشاره شوې ده، دادعوئ کول چې یونس د هغه شاګرد وه صحیح نه ښکاری. پخپله دغه نظم کښې چې یوولس شعرونه لری پینځه شعرونه د رحمان بابا په حقله دی او شپږو شعرونو کښې د "ښو یارانو د جدایۍ" فریاد شوے دے. په دې لحاظ دا نظم د رحمان بابا او یونس ترمنځه د شاګردۍ په خائې د دواړو ترمنځه د دوستۍ په ثبوت کښې پیش کیدے شی او دا هم هله چې مونږ د چا مرثیه لیکل صرف د هغه د معاصر ذمه واری وګڼو. او که داسې وشی نو بیا به محتشم کاشی او میر انیس چې د امام حسین علیه السلام مرثیې لیکلی دی هم د حضرت امام همام معاصر وګڼلے شی.

په دې لړکښې د چا پی دیوان فاضل مقدمه لیکونکے د یونس دا شعر پیش کوی ؎

حقیقت ئې د یونس وته څرګند دے
د هر غرور دې په خپل شعر ختک نه کا (۱۵)

او دا سوال ئې ځوابه پریږدی چې دې شعر کښې ختک نه د شاعر مطلب کوم ختک دے. بناغلی مقدمه لیکونکی دا شعر د رحمان بابا د شعر ؎

که ئې شعر د رحمان مومن تر غوږ شی
غوږ به نه باسی په شعر د خوشحال څوک (۱۶)

نه پس او د هغه په حواله لیکلے دے او ځکه تري دا تأثر اخیستے شی چې شاید یونس هم خپل شعر کښې خوشحال بابا ته اشاره کړې ده.

حالانکې د یونس د شعر نه دا څرګندیږی چې هغه د یوڑوندی ختک شاعر په حقله دا شعر وئیلے دے - ځکه چې هغه ته د غرور نه کولو مشوره ورکوی او دا سې مشوره څوک وفات شوی شاعر ته نه شی ورکولے. خوشحال بابا په ۱۱۰۰ ھ کښې وفات شوے وو. که په ۱۱۳۰ھ کښې یونس "دبرش کلن" یا "یو دبرش کلن" ځوان وو نو په دې حساب هغه یا په ۱۱۰۰ ھ کښې پیدا شوے وو او یا په ۱۰۹۹ کښې او ځکه په دې حساب یونس د خوشحال بابا په حقله دا سې نه شو وئیلے.

د یونس دا شعر اصل کښې د کامګار ختک د یو غزل په ځواب کښې دے چې مقطع ئې دا ده.

هسې ډر کامګار ختک نه دی پیښلی
چې غوری خپلی به غوږ ځنې ډک نه کا (۱۷)

او دې مقطع کښې "سخن ګسترانه" خبرې یونس مجبور کړے دے چې د ختک دعوئ په غرور مبنی وګڼی.

د محمد هوتک داوښا چې رحمت هوتک د ده د پاره د یونس دوه غزله په دې غرض راوړی وو. چې "په دې کتاب کښې ثبت کاندم "دا څرګندوی چې رحمت هوتک ته دا خبره په ۱۱۳۰ ھ کښې معلومه وه چې محمد هوتک به په ۱۱۴۲ھ کښې پته خزانه لیکی. پخپله محمد هوتک سره داوښا منسوبه شوې ده چې "ما غُنبته چې زه د پښتنو شاعرانو تذکره وکاږم او د دوی احوال سره راټول کاندم - مګر زمانې ماته فراغ نه راکا او دا هیله مې په زړه کښې وچه سوه" (۱۸)

د دې هیلې د وُچیدو نه پس محمد هوتک چې بیا د تذکرې لیکلو ارادې کوی نو وائی "هغه وخت چې زما له ارادې خبر شو زمونږ

دَ پښتو نخوادَ ستر کو تورامام المسلمین وابن قاتل الرفضة والکافرین
شاه حسین ادام الله دولته الی یوم الدین..... نوئ زه وُغښتم خپل
دربارته اوماته ئ تشویق وکا.....
نوما وُغښته چې ژرتر ژره دا کتاب وکښلے شی (۱۹)
هرکله چې شاه حسین په ۱۱۳۵ھ کښې بادشاه شوے وه نوځکه داخبره
دېره غټه اغلبه ده چې په ۱۱۳۰ھ کښې به رحمت هوتک دَ کتاب دَ
لیکلو دَ ارادې نه هم پیښه کاله (کم ازکم) مخکښې دَ خپل تربورد
پاره دَ یونس غزلونه راوړی وی او کله چرې دا وکښلے شی چې رحمت
هوتک دَ محمد هوتک دَ "هیلې دَوچېدو" نه اول هم دَدې په ارادې
خبروه نو یوځل بیا دا سوال پیدا کیږی چې رحمت صرف دَ یونس
دوه غزلونه ولې کافی وګڼل. اودَ نورو لویو لویو شاعرانو مثلاً مرزا
اوارزانی (چې یونس به ترې دَ رحمان بابا دَ شعر په حواله خامخا
خبروه) دَ حمید او دَ محمدی صاحبزاده احوال ئ دَ محمد هوتک دَ
پاره ولې جمع نه کړه. او داځکه وجه وه چې دَ پېښور په سفر کښې
ئ دَ یونس او محمد گل مسعود نه بغیر بل کوم شاعر نه خوولیدلو
او نه ئ دَ محمد هوتک دَ "ثبت" کولو دَ پاره رانقل کړه (۲۰)
"پټه خزانه" په ۱۱۴۲ھ کښې پای ته رسیدلې ده اودَ ۱۱۳۰ھ
نه دولس کاله پس چې محمد هوتک دَ یونس دَ ژوند دُعا کوی نودَ
دې نه دا معلومیږی چې هغه ته دا علم وه چې یونس لا ژوندے
دے. نه بلکه مرغه محمد هوتک دَ خپل دې علم ذریعه نه بنئ.
حال دا دے چې ۱۱۳۵ھ نه پس ته چې دَ خپل ژوند کوم حالات بیانوی
هغو کښې نه دَ پېښور دَ سفر ذکر شته او نه دَ خپر دَ سپل څه

سرګزشت. دَ دې په مقابله کښې هغه ځان دَ شاه حسین په دربار یانو
کښې بیکاره کوی او ځان باچا ته دومره نژدې بنئ چې هډو دَ دې
خبرې امکان نه شی کیدے چې دې به دربار نه دَ ډبروخت دَ پاره
بهر پاتے شی. بیا نو دا سوال پیدا کیږی چې هرکله محمد هوتک دَ
خوشحال بابا دَ زوئ عبدالقادر خټک غندې "خان" دَ مرګ ژوندی نه
خبر نه دے (۲۱) نو دَ یونس دَ ژوند په حقله دې په قطعیت څنګه
خبره کولے شی.

دا ټول حقائق دَ محمد هوتک دَ "تالیف" دَ فرضی اوجعلی کیدو
بیکاره او ناقابلِ تردید ثبوتونه پېش کوی اوکه دَ یونس دَ دیوان
غُندې دَ نورو قلمی نسخو چې پټه خزانه ئ ذکر کوی، دَ چاپ کیدو
بندوبست وکړے شو نو دَ یونس دَ دیوان غُندې دغه نورې نسخې
به هم دَ دې حقیقت اضافی ثبوتونه پېش کړی چې پټه خزانه یو
جعلی او غیر مستند کتاب دے.

حوالې اوحواشی

۱ پټه خزانه۔ دوهم چاپ ص ص ۱۱۴ - ۱۱۶

۲ د یونس دیوان۔ ص - ۷۷

۳ د رحمت هوتک د ثقافت په باره کښې بحث په اووم باب "د پټې خزانې راویان" کښې ملاحظه کړئ۔

۴۔ د یونس دیوان۔ ص۔ ۱۲۰

۵۔ هم دغه ص ۔ ۱۲۰ (حاشیه)

۶ هم دغه ص۔ ۲۲۵

۷ هم دغه ص ۔ ۲۵۲

۸ هم دغه ص ۲۵۶

۹ هم دغه ص۔ ۱۴۵ (دوارۀ شعرونه)

۱۰ د کاسیانو مشران هم اربابان یادیږی خو دلته د "کاسیانو" ذکر بې ځایه دے۔

۱۱ د یونس دیوان سریزه۔ دوه ویشتم مخ ۔ حاشیه ۔

۱۲ د خوشحال خان خټک مرغلرې ص ۔ ۴۵۴

۱۳ د رحمان بابا کلیات ص۔ ۸۳

۱۴ د علی خان دیوان دویم اډیشن ۔ ص ۔ ۱۳۶

۱۵ د یونس دیوان ص۔ ۱۳۴

۱۶ د رحمان بابا کلیات ص۔ ۱۲۰۔ د یونس د دیوان سریزه۔ اوولسم مخ۔

۱۷ دیوان د کامګارخان خټک ۔ ص ۔ ۱۰۰

۱۸ "پټه خزانه" دویم چاپ ۔ ص ۔ ۴

۱۹ ایضاً۔ ص ص ۔ ۴ ۔ ۵

۲۰ د رحمت هوتک په باره کښې نور بحث په اووم باب کښې ولولئ۔

۲۱ پټه خزانه۔ دوهم چاپ ۔ ص۔ ۱۲۰

بسم الله الرحمٰن الرحیم

بیلگې

په تېروپانو کښې مو په اختصار هغه اعتراضونه له نظره تېر شوچې د "پته خزانه" پحقله پیدا کېږی. په راتلونکیو پانو کښې به زه کوشش کوم چې د ځنې نورو نکتو د بیانولو سره سره د تېرو اعتراضونو په حقله څه نور تفصیلات هم ګرانولُستونکیو ته پیش کړم. او د دې خبرې د ثابتولو د پاره څه نور دلائل هم وراندې کړم چې "پته خزانه" یوجعلی دستاویز دے.

تېروپانو کښې چې کومو توریو ته په دې غرض ما اشاره کړې ده چې د دیو معنې غلطې دی او د دولسې پېړۍ د لیکونکی نه دا توقع نه شی کېدې چې دې به دغه توری غلط استعمالوی هغو کښې یو تورے "هواد" دے. د دې توری په حقله داخبره یاد ساتل پکار دی چې د ۱۳۲۰ هش کال نه اګاهو د دې توری معنی پښتنو لیکونکیو هغه نه کوله کومه چې اوس په افغانستان کښې رائجه ده او د افغانستان د لیکونکیو په تتبع کښې ټې زمونږ د

لیکونکیو یوه برخه کښې هم رواج مونډلے دے - په ۱۳۲۲ هش کښې د چاپ شوی کتاب "پته خزانه" په ضمیمه کښې "هواد" د نادرو توریو فهرست کښې ځائے کړے شوے دے. خو د کتاب په دری ترجمه کښې ټې معنی "مملکت، وطن" ورکړې شوې ده له دیه اګاهو ۱۳۱۷ هش کښې د بنا غلی عبدالحئی حبیبی په حاشیو او د هغوی له مقدمې سره "د خوشحال ختک مرغلرې" چاپ شوے وه. خو هلته سره د دې چې د نادرو لغاتو فهرست کښې "هواد" شته معنی ټې نه ده ښکیلې شوې. بلکې د کتاب په ۶ مخ ویلی شوی دی "سره د دغه هم ځنې بېتونه او ځنې کلمات حل طلبه پاته شوه - چې کومو بېتونو ته مو (ح) لیکلې ده او په پای کښې د کتاب مو یو د نادرو لغاتو جدول هم زیاتی کی..... او د حل طلبو لغاتو ترجمه مو پښتنو ته پرېښوه - ګنې پشتانه دا ابیات او لغات حل کړی" (۱)

ګویا تر ۱۳۱۷ هش پورې د "هواد" کلمه افغانستان کښې حل طلبه وه او د افغانستان ګرانو مشرانو او کشرانو ته ټې معنی نه وه معلومه هم په ۱۳۱۷ هش کښې بنا غلی عبدالحئی حبیبی مرحوم چې د عبدالقادرخان ختک د دیوان کومه مقدمه لیکلې ده هغه هم یوه ضمیمه لری چې د "هواد" تورے پکښې درج دے.

د ۱۳۱۷ هش (۱۹۳۸) او د پټې خزانې د اشاعت د کال ۱۳۲۳ هش (۱۹۴۴) ترمنځه "پشتانه شعرا" په ۱۳۲۰ هش (۱۹۴۱) کښې چاپ شو او د حبرانې خبره دا ده چې کومه کلمه په ۱۳۱۷ (۱۹۳۸) کښې حل طلبه او نادره وه او په ۱۳۲۳ هش (۱۹۴۴) کښې ټې هم

ذکر د نادرد کلماتو په فهرست کښې شوے دے - هغه په ۱۳۱۹هش
(۱۹۴۰) کښې دومره عام فهمه ګڼلې شوې ده چې د نوټ لیکلو ضرورت
پرې هم نه دے محسوس شوے - (۲)

د عبدالقادرخان خټک دیوان هم لکه چې ذکر وُشه هم په
۱۳۱۷ هش کښې له قندهاره د ښاغلی عبدالحئ حبیبی په اهتمام
چاپ او خور شوے دے (۳) او هر کله چې د عبدالقادرخان په
شاعرۍ کښې هم "هواد" استعمال شوے دے نو ظاهره ده چې په
۱۳۱۷ کښې به د دې لفظ معنٰی د دیوان عبدالقادرخان مرتب ته
نه وه معلومه -

بهرحال په وړومبی ځل د یو معنی دار توری په حیثیت
دا لفظ زمونږ د مطالعې ترحده ښاغلی عبدالحئ خان حبیبی په
۱۳۱۹ هش کښې استعمال کړه او له هغه وخته راسې رائج دے -

پښتانه شعرا د سلیمان ماکو د لیکلی تذکرة الاولیاء ذکر کوی
او د دې کتاب د موندلې شویو مخونو تصویر هم لرې په دیو اوو
صفحو کښې (انټه ټې ټائټل دے) د "هواد" کلمه دوه ځل استعمال
شوې ده - یو ځل په هغه نظم کښې چې شیخ ملکیار عزشین ته
منسوب دے یعنی

هواد د بل دے غازیانو کوړې
څښتن مو مل دے

او بل ځل د موسٰی په ذکر کښې په دې شکل "موسٰی چې
ستر پلار و د قطب تللی و له بختیارانو څخه میشت و پر ایواد چې
سیند بالله شی" (۴) ښاغلی عبدالحئ حبیبی مرحوم او د افغانستان

نورو محترمو لیکونکیو کله چې په دې مینځنی دور کښې دا تورے هم په
هغو معنو کښې چې خپلو تخلیقاتو کښې استعمال کړے وی کومو کښې
ټې چې نن استعمالوی نو د متعلقه اخبارونو او رسالو په غیر موجودګی
کښې مونږ د حوالو ورکولو نه قاصر یُو - خو زمونږ په قیاس وړومبے
وقیع ادبی اثر پښتانه شعرا لومړے ټوک دے چې "هواد" لره پکښې
د وطن معنٰی ورکړے شوې ده -

پښتانه شعرا لومړی ټوک کښې د اکبر زمیندار وی د یوې
مثنوی نمونه ورکړے شوے ده - د دې نمونې یو شعر دے -

که نژدې که په هواد یم
زه د ده په خیال و یاد یم (۵)

هرځوکه د دې شعر وړومبی مصرع چې پکښې "هواد" پکار وړے
شوے دے - د عبدالقادرخان د "یوسف زلیخا" ځنې اخستے شوے
دے چې تېرو پاڼو کښې ټې ذکر راغلے دے - خو د لُستونکیو د یاداشت
د تازه کولو د پاره ټې زه یو ځل بیا لیکم -

که نژدې که په هېواد دی
که په زړه لکه فولاد دی

او په دې به بیا څه وخت بل موزون ځای کښې بحث وکړم
چې اکبر زمیندار وی لکه چې د "پښتانه شعرا" لومړی ټوک د
مولف رائې ده د امیر تیمور کورګانی هم عصر نه بلکې دهر وروستنے
شاعر دے - خوکه د "پښتانه شعرا" لومړی ټوک تجزیه صحیح
وګڼلې شی نو اکبر زمیندار وی وړومبنے پښتو شاعر دے چې د "هواد"
تورے ټې د "فاصلې" په معنٰی کښې استعمال کړے دے - خو حقیقت

داسې نه دے. وړومبنے پښتو شاعر چې "هواد" ئې (زمونږ په خیال) دَ "فاصلې" معنٰی کښې استعمال کړے دے خوشحال خان بابا وه دَ هغه شعر دے.

دوه مین چې په هواد و بله بېل شی
خدائې ئې څشکله دَ تش سلام محتاج کا

شاید چې هم له دې شعره دَ دې اشکال ابتدا شوې ده چې دَ "هواد" معنٰی څه ده؟ ځکه چې که دا شعر دَ خپل اقتباس او تلازماتو نه جُدا کړے شی نو دَ ملک په معنٰی کښې پرې لُستونکے غلطیدے شی.

دا شعر دَ خوشحال بابا په هغه غزل کښې دے چې مطلع ئې دا ده ؎

اورنګ زیب چې ارائش دَ تخت و تاج کا
تخت و تاج به ئې مرګے تاخت و تاراج کا

دا غزل دَ محترم دوست محمد خان کامل مومند دَ تحقیق له رویه دَ ۱۰۷۴ھ دَ واړه اختر یا هم دَ دغه کال دَ لوئې اختر په موقع په ډیلی کښې لیکلے شوے وه (۸) او هر کله چې دا غزل دَ خوشحال بابا دَ فراق نامې په ابتدائی غزلو کښې دے نو ځکه مونږ په یقینی ډول وئیلے شو چې دا شعر له وطنه بهر لیکلے شوے دے. او چې دې پس منظر کښې ئې دَ معنې تلاش کوو نو دَ "هواد" معنٰی "وطن" نه بلکې "فاصله" ثابتیږی.

په دې شعر کښې دَ "هواد" معنٰی چې "وطن" نه شی کېدے نو یوه ډېره باوری قرینه پرې له دې حقیقته پېدا کیږی چې که دې مصرع کښې دَ "هواد" په ځائې "وطن" ولیکلے شی او مصرع

داسې شی

دوه مین چې په وطن و بله بیل شی

نو هر څوکه په وزن کښې ئې فرق نه راځی خو دا ترې ثابته شی چې دلته ئې معنٰی "فاصله" ده ځکه چې "په وطن" یا "په هواد" بېلیدل دَ پښتو محاوره نه ده. او دَ ټول شعر معنٰی دا شی چې "د دوه مینو تر منځه جدائی حائله شی (فاصله پېدا شی) نو بیا یو بل ته دَ تش سلام کولو هم محتاج شی.

دَ خوشحال بابا شاعری کښې دَ "هواد" استعمال په دویم ځل دې شعر کښې شوے دے.

دَ هواد یاران مې هر زمان یادیږی
چې ئې مخ په خوب کښې ووینم و ویاړم

له دې نه اول دا شعر دے.

دَ طلب غړی مې لاندې شول تر غرونو
هغه بیل یاران په کومو غړیو غواړم (۱۰)

دَ دې شعر په دویمه مصرعه کښې دَ "بیل" تورے دَ "هواد" په معنٰی کافی رڼا غُرځوی. خو متأسفانه دا صحیح مفهوم نظرانداز کړے شه ځکه چې دا غزل هم لکه دَ تېر غزل په هندوستان کښې لیکلے شوے وه او ځکه ئې دا معنٰی واخستلے شوه چې ګُندې خوشحال بابا دَ "هواد یاران" دَ "وطن یاران" ګڼی. حال دا دے چې دلته هم دَ "هواد" مطلب "لرې" "په فاصلې" "بیل" ده. او که داسې نه ده نو سوال دا پېدا کیږی چې مرحوم حبیبی صاحب په دې دومره اسان مفهوم ولې ونه رسېده.

"هواد" په درېم ځل په دې مطلع کښې خوشحال بابا استعمال کړے دے ؛

هغه یار چې له ما لرې په "هواد" دے
همیشه راته حاضر د زړه په یاد دے (۱۱)

دلته هم په ورومبی نظر کښې "هواد" د ملک په معنو کښې نکاری خو بیا هغه سوال پیدا کیږی چې په دې دومره اسان مطلب جیبی مرحوم په اول ځل ولې پوه نه شه - چې د "خوشحال خان ختک مرغلرې" په ضمیمه کښې ئې "هواد" د ناحل شویو توریو فهرست کښې شامول ضروری وګڼل -

د "د خوشحال خان ختک مرغلرې" نه "څومیاشتې" پس بنا غلی جیبی مرحوم د عبدالقادر خان دیوان مرتب کړے دے دې دیوان کښې هم د "هواد" تورے څه وارې راغلے دے - په ورومبی ځل په دې شعر کښې

چې په وقت د تلو راتلو کا چغارونه
د هواد یاران رایاد زاني اکثر کا (۱۲)

د خوشحال بابا په سلسله کښې خو د دې لفظ د معنې په حقه غلط فهمی څه بنیاد لری ځکه چې په هند کښې گرفتار او نظربند پاتې شوے وه - خو د عبدالقادر خان په دې شعر کښې د "هواد" معنی "وطن" کول څه تاریخی جواز یا بنیاد لری چې د غلط فهمی عمارت پرې بنا کړے شی ؟

په دویم ځل عبدالقادر خان د "هواد" تورے داسې استعمالوی ؛

په تحقیق چې نیم دیدن ورلره یوسی
له هواده چې یار وکاندی په یار خط (۱۴)

دې شعر کښې د "هواد" معنی وطن کول که نور هیڅ هم نه وی

نو سرزوری خو خامخا ده - ځکه چې دې شعر کښې که د "هواد" په ځای وطن راوړے شی او شعر داسې شی.

په تحقیق چې نیم دیدن ورلره یوسی
له وطنه چې یار وکاندی په یار خط

نو بیخی بې معنې شی - ځکه چې د خط لیکلو ضرورت صرف د فاصلې په وجه پیدا کیږی - او خط صرف هغه وخت نیم دیدن وی چې د پوره دیدن امکان نه وی - او په یو وطن کښې د "نیم دیدن" ضرورت نه وی البته په وطن کښې "دننه" فاصله بُعد او "لرې والې" د خط لیکلو جواز پیدا کوی او ځکه دلته ئې هم دغه معنی ده -

دا هم یاد ساتل پکار دی چې دې شعر کښې عبدالقادر خان "وطن" استعمالولے شوے خو بیا هم هغه "هواد" غوره ګڼلے دے - ځکه چې کومه معنی هغه غُښتله هغه وطن کښې نه وه هواد کښې وه -

د هواد په سلسله کښې د عبدالقادر خان دریم شعر دا دے -

چې ئې شا په شا په کت کښې ناستے نه شه
دا فلک ئې په هواد ځبله جُدا کا

د "شا په شا" او "هواد" ترمنځه تلازمه دا تقاضا کوی چې د هواد معنی دې "وطن" نه بلکې "لرې" - فاصله - "جُدائی" وکړے شی او دا کهٔ څوک د دې توری معنی په دې شعر کښې وطن کوی نو هغه به د خپلې شعر فهمی ثبوت پیش کوی -

د دې شعر په حقله دا خبره هم د یاد ولو ده چې د قندهار چاپ د دیوان د نادرو لغاتو په ضمیمه کښې دې شعر ته سهواً اشاره نه ده شوې د عبدالقادر ختک د دیوان د قندهار چاپ کښې په

حاشیه د دې شعر وروسته د مصرع کښې استعمال شوے تورے "ناستے"
د "نماستے" په شکل او د دویمې مصرعې "خبله" په متن کښې د
"خله" په شکل راغلے دے۔
څلورم شعر چې عبدالقادرخان یکښې "هواد" تورے استعمال
کړے دے۔

یار په "هواد" نه دے که د زړه مینه پیدا کړے
مینه هسې څیزدے چې نژدې لرې کوینه (۱۵)

دا شعر خو دومره واضحه دے چې د دې یو شعر په موجودګۍ
کښې هم دا دعوه بې سنده ثابتیدے شی چې د لرې او فاصلې
نه بغیر د "هواد" بل څه معنیٰ شته۔ د شعر مفهوم دا دے چې
"که څوک د زړه مینه پیدا کړی نو یار لرې نه دے ځکه چې
مینه داسې څیزدے چې لرې څیزونه هم نژدې کوی" د هواد
معنیٰ چې څوک "وطن" کوی۔ هغوی به د دې شعر تشریح کښې
څه وئیلے شی؟ ایا د هغوی له خوا د شعر دا معنیٰ به خندنې
نه وی چې "یار په وطن کښې نشته که د زړه مینه پیدا کړے
(نودا به ښه وی) ځکه چې مینه لرې نژدې کوی"

زما قیاس دا دے چې د "هواد" د پاره د وطن معنیٰ شاید د
دیوان وه شعرونو (درې د خوشحال بابا او څلور د عبدالقادرخان)
په رنا کښې "دریافت" شوې ده۔ ځکه چې هغه وخت د پښتو د
نورو شاعرانو دیوانونه یا خو وونه او یا میسر نه وو او د دې دعوې
یو ثبوت دا هم دے چې پښتانه شعراء لومړې توک کښې اکثرو
بهتر صرف د "ګلشن روه" او کلید افغانی په حواله او په دویم

توک کښې د "هاروبهار" په حواله د پښتنو شاعرانو پیژندګلو
شوې ده۔ ځکه نو د اووو شعرونو نه د خپلې خوښې د استنباط
په نتیجه کښې د "هواد" معنیٰ "وطن" وکړې شوه۔ او حقیقت دا دے
چې هغه وخت چا دا معنیٰ کړې ده نو هغه دومره کرم هم نه وه
ځکه چه هغه ته هم دومره مواد میسر وه چې د هغې په بنیاد هم
دومره محنت ممکن وه۔ خو اوس د دې معنیٰ په صحت اقرار کول
د کرمتیا خبره یقیناً ده۔

له یولسمې صدۍ نه ترڅوارلسمې صدۍ هجری په کلاسیکی
شاعرۍ کښې په تواتر سره د هواد معنیٰ "لرې، فاصله، جُدائی، بُعد"
شوې ده۔ اوله کومو شعرونو چې چا د وطن معنیٰ راوکښلې ده هم د
هغو شعرونو د لیکونکیو له نورو شعرونو نه په وضاحت داخرګندیږی
چې د هواد معنیٰ "وطن" نه دے۔ نو په داسې صورت حال کښې
مونږ په دې رائې قائمولو مجبور یُو چې د هواد معنیٰ وطن کول صحیح
نه دی۔

د خپلې دې دعوې په ثبوت کښې د څلورو سوو کالو له شاعرۍ
څخې د نمونې شعرونه پیش کوم

قاسم:

د قاسم په باره کښې دا وئیلے شی چې دے د یولسمې صدۍ
هجری شاعر وه (۱۶) ورکه خزانه کښې د ده د کلام د نمونې په دول
درج شوو شعرونو کښې دا شعر هم ورکړے شوے دے ؎

نن مې څه رنګ هوادی اشنا یادیږی
چې دهر دهر ئې یادوم زړه مې خوږیږی (۱۷)

دلته دَ "هوادی" لفظ ښکاره معنٰی نه ښندی خوآئنده مخونو کښې نورو شاعرانو چې دَ دې توری کوم مفهوم اخستے دے دَ هغې په رڼا کښې دَ دې معنٰی "لرې. جُدا، په فاصله" کیږی.

دَ یولسمې صدۍ یو شاعر چې دَ دولسمې صدۍ وړومبی شپږ کاله ئې هم لیدلی دی دَ خوشحال بابا مشر ځوئې اشرف خان هجری دے. دَ ده په دیوان کښې اووه ځایه دا تورے استعمال شوے دے چې تفصیل ئے دا دے:

۱. دَ لیلا بېلتون له قېسه هسې نه وه
لکه زه ئې په هېواد کړمه له یاره

۲. دَ هېواد اشنا په سترګو لیده نه شی
که په خوب راته حاضر شی ډېر کرم دے

۳. یار هر ګوره له ما لرې په هواد دے
فوائح ئې راکوی قاصد مې باد دے

۴. چې ئې عشق ایښې زما په زړه بنیاد دے
همېشه ورته حاضر که په هېواد دے

۵. اشتیاق دَ هېوادی اشنا غالب شی
په خاطر مې لا ثقیل دَ هجر باد دے

۶. هجری څشکل ژړا نه کاندی واعظه
چې له یاره نصیب لرې په هېواد که

۷. شب و روز ئې خالی نه یمه له فکره
سوزنده اتش دکن یار په هواد دے (۱۸)

دیو شعرونو کښې په وړومبی، دویم، دریم او څلورم شعر کښې دَ "هواد" استعمال په نورو شعرونو کښې دَ هم دې توری دَ استعمال وضاحت کوی دَ وړومبی شعر مطلب دا دے "دَ لیلیٰ او مجنون خپلو کښې بېلتون داسې نه وه لکه چې زما او زما دَ یار تر منځه جُدائی ده" دَ دویم شعر معنٰی دا ده چې "له ما جُدا شوے اشنا په سترګو خو نه شم لیدے خو که په خوب کښې راحضور شی نو دا به ئې ډېره مهربانی وی" دَ دریم شعر مطلب دا دے چې "اشنا که هرڅو له ما په فاصله لرې او جُدا دے خو باد زما قاصد دے چې خوشبوئی دَ هغه ماته رارسوی" دَ څلورم شعر مفهوم دا دے چې "دَ یار مینې زما زړه کښې بنیاد جوړ کړے دے. نو که هغه هرڅو له ما لرې دے خو راته هر وخت حاضر وی" دَ دیو معنو په رڼا کښې دَ 'هېوادی' معنٰی کول مشکل نه دی چې په پینځم شعر کښې استعمال شوے دے. هم دغسې دَ شپږم او اووم شعر معنې هم دی.

دَ خوشحال بابا دَ یو بل شاعر ځوئې عبدالقادر خان خټک هغه شعرونه خو تاسو وُلستل چې هواد پکښې استعمال شوے دے اوس ځنې نور شعرونه هم ملاحظه کړئ خو دا خبره یاده لرئ چې هرکله دَ عبدالقادر خان خټک ژوند تر ۱۱۲۵ھ پورې یقینی دے نو دې دَ یوولسمې او دولسمې دواړو صدیو شاعر دے. په ګلدسته

کښې د دې عبدالقادرخان ختک یو شعر دے ۔

د مقصود کعبه که لرې په هواد وی
هم وردرومی که مرې وی که ازاد وی (۱۹)

دلته به په کوم منطق او استدلال کعبه د "وطن" معنې سره تړے شی دا دې بناغلی لُستونکی پخپله فیصله وکړی۔

د عبدالقادرخان "یوسف زلیخا" کښې هېواد څلور واړې استعمال شوے دے چې مونږ تړې یوه نمونه

که نژدې که په هواد دی
که په زړه لکه فولاد دی

د کرستومیتی په حواله تېرو پاڼو کښې پېش کړې ده نورې نمونې ټې دا دی :

شپه او ورځ کرم فریادونه
غږ مې ځی په هوادونه

او

چې بنکاره کړی فریادونه
غږ ټې ځی په هوادونه

دلته دا هم یاد ساتل پکار دی چې که د هواد معنی وطن دے۔ نو د "په هوادونه" په ځای "تر هوادونه" د پښتو د محاورې سره سم وه۔ مونږ په دې مفهوم کښې دوه نور شعرونه پېش کوو (چې پخپل ځای به ټې یو ځل بیا هم حواله ورکوو) او دلته هم "په هواد" او په "هوادونه" راغلے دے۔

د نجیب شعر دے ۔

هسې شان کوم فریاد د ستا له درده
چې مې غږ ځی په هواد دستا له درده (۲۰)

او د فیاض شعر دے۔

چې افراد کوزار کاوه په مزکه پرېوت
د فریاد نعرې ټې تلې په هوادونه (۲۱)

د عبدالقادرخان ختک بل شعر دا دے۔

له هواده سلام راوړی
بیا د وصل پیغام راوړی (۲۲)

د عبدالقادرخان د دې شعرونو په رڼا کښې دې لُستونکی د هواد معنی پخپله وګوری چې وطن کېدے شی ؟

د عبدالقادرخان ورور او صاحب دیوان شاعر سکندرخان ختک چې د خپلو نورو وروڼو غُندې د یولسمې او دولسمې صدۍ شاعر دے په خپل دیوان کښې دا لفظ دوه ځل استعمال کړے دے۔ یو ځل د "هوادی" او بل ځای د "هواد" په شکل۔ شعرونه ټې دادی۔

بیا مې یاد د خپل وطن قدر په زړه شی
څوک عزت د مسافر هېوادی کاندی (۲۳)

دې شعر کښې د هېوادی معنی دومره واضحه ده چې د "خپل وطن" او د "مسافر" د تلازمو په موجودګۍ کښې ټې له سره "وطن ملک" معنی نه شی کېدے۔

هم دغسې د دا بل شعر وځیرئ۔

ما به حال د زړه و یار وته بنکاره کړے
د اسرار خبرې چاته په هواد شی (۲۴)

دې شعر کښې که د "هواد" معنٰی وطن وکړو نو بیا به د شعر مفهوم
دا وی چې "د اسرار خبرې په وطن کښې نه شی کیدے" حالانکې
دا مفهوم بالبداهت غلط دے۔ شاعر دا وئیل غواړی چې که
چرې دا ممکنه وے چې د لرې فاصلې کس ته پټې خبرې وکړې
شی نو ما به هم (خپل لرې) یار ته د زړه حال بنکاره کړے وے۔
د رحمان بابا (چې هغه هم د یولسمې او دولسمې صدی شاعر دے)

شعر ۵

سبا زهرے د وصال په مهجور کاندې
د هواد خبر موندلے شی له سیاحه (۲۵)

مو په تېرو پاڼو کښې کتلے دے۔ چې مونږ پرې دا بحث کړے
دے چې په دې شعر کښې د استعمال شوی "هواد" معنٰی هم وطن
نه بلکې "لرې ځایې" فاصله "ده۔ د رحمٰن بابا د دې شعر هم
معنٰی شعر د محمدی صاحبزاده دیوان کښې موندے شی۔

د هغه اشنا خبر پُښتم له یاده
او د لرې ملک حال غُښت شی له سیاحه

د محمدی صاحبزاده له دې شعره صفا ثابتیږی چې په کومو
معنو کښې رحمان بابا "هواد" استعمال کړے دے هم هغو معنو
کښې صاحبزاده محمدی "لرې" استعمال کړې دے۔

د رحمان بابا نه پس د عبدالحمید مومند په دیوان کښې
د "هواد" تورے دوه ځایه په نظر راځی (د حمید بابا ژوند تر
۱۱۴۵ھ پورې یقینی دے ځکه نو دې هم د دوارو صدیو شاعر
دے) او دواړه ځایه ورسره د نژدې رعایت استعمال شوې دے۔

ورومبی شعر ته ې فکر وکړئ۔

بدنصیب له نژدې یاره
څه رنګ لرې په هواد کړم (۲۶)

دویم شعر ې دے۔

که هرڅو یار ته نژدې د زړه په یاد یم
په صورت چې ځنې لرې په هواد یم (۲۷)

د نژدې د ضد په صورت کښې د "هواد" معنٰی صرف او صرف
"لرې" کیدے شی۔

یونس خلیل (چې د افغانستان علماء ې د محمد هوتک په
سند یونس خپرے کړی) هم نژدې نژدې د دغه دور شاعر دے۔
د ده په دیوان کښې شپږ ځل د هواد تورے استعمال شوے دے۔
او شپږ واړه ځله ورسره د اسې توری استعمال شوی دی چې د هغو
په موجودګی کښې د هواد معنٰی وطن کول صریحًا ناممکن دی۔ په
دیو شعرونو غور وکړئ۔

۱۔ په غربت کښې ستا د هجر دلګیری ده
یک تنها دې په هواد کړم الغیاث

د "غربت" د توری د استعمال په موجودګی کښې به د "هواد"
معنٰی وطن کول څومره زیاتې وی۔

۲۔ هغه غم چې له ما لیرې په هواد وه
اوس نژدې ترما چاپیره شه ستا په هجر

دلته که د "نژدې" رعایت نظرانداز کړے شی او د هواد
معنٰی وطن وکړے شی نو د شعر مطلب به دا شی چې "هغه غم چې

له ما لرې په وطن کښې ده اوس ماته رانژدې شه اوستاړ
هجران په وجه له ما چاپېر شه" او دا معنی به دومره مضحکه
خبره وی چې هېڅوک به ې د خپلولو جرأت کولو ته تیار نه شی.

۳- په خاطر ې د وصال وطن ورېږی
هرچې شپه د جُدائیه په هواد کا

دې شعر کښې د "هواد" معنی "وطن" وکړئ او بیا د شعر په
مفهوم غور وکړئ. مونږ کښې څوک دې ته تیار دے چې د دې
شعر دا معنی وکړی چې "هرڅوک چې په وطن کښې د جدائی
شپه کوی نو په زړه ې د وصال وطن ورېږی."

۴- که تنها د جدائیه په هواد یم
چې دې غم راسره مل دے زه پرې بناد یم

۵- د وصال رفیق ې چرته له ما ورک که
یک تنها د جُدایئ په هواد یم

دې دواړو شعرونو کښې هم د هواد معنی وطن کول ناممکن
دی.

۶- شپږم شعر د یونس په شاعرۍ کښې د "هواد" د توری مفهوم
ډېر په وضاحت پېش کوی او هلته دا شک نه پرېږدی چې د
دې توری بل څه بل څه مطلب هم ممکن دے. شعر دا دے.

د هواد د سپل توان ورڅخه لاړ شی
په ناکام به ې په خپل کور کښې نشت شی (۲۸)

د دغه دور یو بل شاعر حُسین په خپل دیوان کښې څلور ځل

په خپلو غزلونو کښې "هواد" استعمال کړے دے. او یو ځای هم د
"وطن" معنی نه ورکوی.

۱- لرې به سبا له خپله ربه په هواد شی
نیم قدم حسین که نن پرې کېږدی په خطا

دې شعر کښې د هواد معنی که وطن وکړې شی نو یوخو به د
خدائ ې پاک د پاره "وطن" پیدا شی او بل به دا نتیجه هم ترې
راوځی چې داسې وطنونه شته چې هغه له خدایه لرې وی.

۲- زړونه د صورت په جدائ نه جُدا کېږی
څه شوکه ترمیانه ې فرسنګ وی یا هواد

دلته د "هواد" معنی صرف او صرف فاصله کیدے شی او بله
کومه معنی کول به ې د خپلې سخن فهمی ثبوت ورکول وی.

۳- اشنایان په یوه حال وی نژدې لرې
زړه چرکه نه بنوری په هېوادونه

په دې شعر کښې هم د هېواد معنی که وطن وشی نو بیا
به ورسره دا هم منل پکار وی چې ځوانه چرکه وطنونه هم لری
او سیاحت ې هم کوی.

۴- که صورت ې په هواد وی عشق ې مراد وی
چې ې نقش د یار شکل په ضمیر وی (۲۹)

دا شعر د مضمون په لحاظ د عبدالقادر خان ختک د شعر
یار په هېواد نه دے که د زړه مینه پیدا کړې
مینه هسې څیز دے چې نژدې لرې کوینه

سره ډېر نژدې دے او تفصیل دې هلته ملاحظه کړے شی. دا

مضمون هم دَ دغه دور یو شاعر سعید خټک داسې ادا کړے دے.

دَ مینو مسافت په تن نه زړه دے
په ایواده سره زړه نه وی منوط (۳۰)

دې شعر کښې "ایواد" هم دَ "هواد" دَ یو بل قرأت په شکل کښې استعمال شوے دے. او دَ شعر مفهوم دا دے چې دَ محبت کونکیو فاصلې دَ بدن نه دَ زړه وی ځکه چې زړه فاصلې سره تړلے نه وی.

دَ دولسې صدئ هجری دَ نورو شاعرانو په کلام کښې دَ "هواد" دَ استعمال مثالونه دا دی:

بیاض:

بیاض دَ علی خان "صاحب" او دَ دغه دور ډېر لوئې شاعر تېر شوے دے. دَ ده په دیوان کښې دوه ځل دَ "هواد" او درې ځل دَ "هوادی" الفاظ راغلی دی او هر ځائې دَ فاصلې، جُدائی او بُعد او بعید معنٰی ښندی.

لکه نوک اوری به نه جدا کېدلو
بارې اوس دې خپل نصیب بند په هواد کړم

دَ دې شعر مضمون په ترتیب دَ عبد القادر خان خټک او معزالله مومند لاندې لیکلیو شعرونو سره یو شان دے او یوه عجیبه خبره دا ده چې هم دَ دې یو مضمون دَ ادا کولو دَ پاره عبد القادر خان خټک او معزالله خان مومند کوم الفاظ غوره کړی دی هغو دواړو کښې دَ "هواد" تورے شامل دے.

عبد القادر خان وائی.

چې ئې شا په شا په کټ کښې ناستے نه شه
دا فلک ئې په هواد ځبله جُدا کا (۳۱)

دَ معزالله مومند شعر دے.

چې زما به ئې په څنګ کښې آرام نه شه
اوس فلک له هغه لرې په هواد کړم (۳۲)

دَ بیاض دویم شعر وګورئ.

چې ارام په کلی کور کښې زما نه شی
په نصیب کښې راښکاره لرې هواد شه

دَ "راښکاره" تورے دا ثابتوی چې دَ "لرې هواد" مطلب "لرې فاصلې" دی ځکه ئې دَ نکرې په حیث استعمال کړے دے که دَ "هواد" معنٰی وطن وے نو "دَ راښکاره" سره به دَ هغه وطن نوم خامخا وے.

دَ "هوادی" دَ استعمال درې مثالونه دا دی:

چې دَ زړه له درده تل ژړا فریاد کړم
هغه تللے هوادی اشنا رایاد کړم

لرغُنی دی هوادی طوطیان راغلی
ستا دَ مخ په باغ کښې ناست دی سرې مښوکې

هوادی اشنا زما چې تر څنګ کښې ناست
دا په ما باندې خدائې کړے لوے کرم دے (۳۳)

علی خان (تر ۱۲۲۰ھ ژوندے)

نه هواده کله رد د سلام مومم
که مې سل واره دلدار لره سلام لار (٣٤)

دلته که د "هواد" معنی وطن شی نو شعر مهمل شی حکه چې په دې صورت کښې به ې نثری شکل داسې شی "له وطنه د سلام خواب نه مومم هرځوکه سل واره مې یارته سلام لار" حالانکې د شعر مفهوم دا دے چې "که سل واره مې محبوب له سلام لاړ خو خواب ې را ونه رسېد حکه چې محبوب لرې وه" دې ضمن کښې د پروفیسر تقویم الحق تصریحات د لسټلودی - تقویم صاحب د هواد معنی "لرې وطن" کوی او د شعر داسې تشریح کوی "که دلدار لره مې سل حله سلام واستولو لیکن لرې وطن دے د سلام خواب نه راځی" گویا د تقویم صاحب په رائې کښې هم د شعر مفهوم کښې د "بُعد- لرې والی" مفهوم ضروری دے -

د علی خان یوبل شعر دے -

یا وفا په هېوادی لالی کښې نه وه
یا د غره په اور لاسونه نه تودېږی (٣٥)

د دې شعر د متن قرأت کښې د "هوادی" په ځای "هوائی" دے خو هر کله چې په دویمه مصرع کښې د هوائی هیڅ تلازمه نشته نو حکه بهتر قرأت ې هم هغه دے چې عرض شه د "غره اور" او "هوادی لالی" کښې د بُعد مکانی تلازمه موجوده ده او هم دغه تلازمه دا ثابتوی چې د هوادی معنی "لرې، په فاصله بیل او جُدا" ده -

معزالله مومند (متر ١١٦٧ھ ژوندے)

د معزالله خان دیوان کښې "هواد" دوه ځایه راغلے دے - د روميے دا شعر ولولئ -

چې زما به ې په څنگ کښې ارام نه شه
اوس فلک له هغه لرې په هواد کړم

دا شعر چې د عبدالقادر خان ختک د شعر

چې ې شا په شا په کټ کښې ناست نه شې
دا فلک ې په هواد حُبله جُدا کا (٣٦)

په رښا کښې وځیرلے شی نو نه صرف د دوارو شعرونو مفهوم واضحیږی بلکې له دې ځیرنې دا هم ثابتیږی چې دوارو شاعرانو د "هواد" صرف یوه معنی یعنی "لرې - جُدا - فاصله" پېژندله -

دویم ځل معزالله خان مومند "هواد" داسې استعمالوی -

چې فلک له مانه یار په هواد بیل کړه
معزالله همیشه ناست یم په ماتم کښې (٣٧)

دلته د شعر له سیاقه او سباقه صفا معلومیږی چې "هواد" وطن ته نه بلکې فاصلې، دورۍ ته وائی کنی نو "په هواد بیلول" به یوه داسې محاوره گڼو چې صرف معزالله خان ایجاد کړې ده -

نجیب (د ١١٧٦ خواوشا ژوندے)

د نجیب دیوان کښې د "هواد" لفظ یو ځل راغلے دے خو داسې راغلے دے چې د "لرې" نه بغیر بله معنی ورته منسوبېدے نه شی نجیب وائی -

هسې شان کوم فریاد ستا له درده
چې مې غږ ځی په هواد د ستا له درده (٣٨)

دې شعر کښې دَ فریاد پهه هواد تلل دا څرګندوی چې شاعر دا وئیل غواړی چې زما فریاد دومره زیات دے چې تر لرې لرې اورېدے شی. هم دیو معنو کښې دَ فیاض یو شعر هم شته.

چې افراد ګوزار کاوه پهه مزکه پرېوت
دَ فریاد نارې ئې تلې پهه هوادونه (۳۹)

خو دَ فیاض پهه دې شعر به پهه خپله موقع خبرې کوو. سردست دومره یاد ساتل پکار دی چې دَ نجیب شعر کښې دَ استعمال شوی توری "هواد" معنٰی هېڅکله وطن نهه شی کېدے.

احمد شاهٔ بابا (۱۱۸٦ - ۱۱۳۵ هـ)

دَ دولسمې صدۍ دَ وروستۍ نیمائی شاعر او زمونږ ستر ملی قهرمان احمد شاه بابا پهه خپله شاعرۍ کښې دَ "هواد" تورے داسې استعمال کړے دے چې لهه "لرې - بعید - فاصلې" نه بغیر ئې بله معنٰی نهه کیږی وائی.

وَ طوطیانو ورکوی عالم شکرې
دوی راغلی لهه هواده هندیان ستا

دَ وروستۍ مصرعې صرف دا معنٰی کیږی "دوی لهه لرې راغلی هندیان دی" "لهه وطنه راغلی هندیان" به څهه ډېر خندنے ترکیب وی.

لهه دې نه هم زیات واضح صورت کښې "هواد" داسې پکاروی

تهه ولاړې هواد دې وطن کړهه
هجران دې راپرېښوهه چې رحم ئې نهه کیږی

دَ هواد او وطن غبرګ استعمال پخپله دَ دې ثبوت دَ پاره کافی

دلیل دے چې وطن او هواد بیل بیل مفهومونه لری.

یو بل شعر ئې دے.

پهه هواد کهه پسې لاړم بیا مې نهه موند
څهه عجب دے کهه مې زړهه لهه غمه مرینه (۴۰)

څرګنده خبره ده چې وړومبۍ مصرع کښې "هواد" نه مطلب "وطن" نه بلکې "لرې ځائے" دے ځکه چې دلته دَ هواد معنٰی کهه وطن وشی نو شعر به بې معنی شی.

اخون ګدا:

دَ دولسمې صدۍ هجری شاعر اخون ګدا صاحب دیوان شاعر دے او هر څو کهه دیوان ئې تر اوسه نهه دے چاپ شوے خو پهه دینی مسائلو مبنی یو کتاب "نافع المسلمین" ئې پهه چاپی صورت کښې موجود دے. دې کتاب کښې ځائې پهه ځائې دَ اخون ګدا غزلونه هم راځائې شوی دی پهه ټول کتاب کښې یو ځل دَ "هواد" تورے راغلے دے. دَ استعمال موقع ئې وځېرئ.

دو دسته تندے وهم پهه دواړه لاسه
غماز لرې لهه مینه پهه هواد کړم (۴۱)

دلته هم "هواد" دَ وطن پهه مفهوم کښې نه بلکې دَ فاصلې پهه معنو کښې راغلے دے.

مهین:

مهین هم دَ دولسمې صدۍ شاعر دے چې دَ دیوان قلمی نسخه ئې اوس اوس پهه هند کښې موندلے شوې ده (۴۲)

دلته ئې دَ تذکرة الابرار قلمی نسخې عامې موندلے شی چې پکښې

دوه ځل "هواد" استعمال شوے دے. یو ځل د حضرت علیؓ د دُلدل
په تعریف کښې وائی.

کهه مرغونه وو کهه باد وه
له ده پاتو په هواد وه

دویم ځل د یوې قصې په ضمن کښې وائی.

سوداگر نیت د سفر کړه
هوادی ئې خپل ټبر کړه (۴۳)

دیو دواړو ځایونو کښې د "هواد" معنی صرف د "لرې" په فاصله کښې

حافظ الپوری

د حافظ الپوری په چاپی دیوان کښې د "هواد" تورے درې ځل
راغلے دے. دوه ځایه داسې په صراحت د فاصلې بُعد او لرې والی
معنی ښندی چې د هغې په رڼا کښې په دریم شعر کښې د استعمال
شوی "هوادونه" معنی پخپله صفا شی. دیو کښې وړومبے شعر دا دے.

د توحید چراغ دې بل د زړه په بام کا
چې له نوره ئې غل لرې په هواد شی

دویم شعر دے.

لاندې شو تر خاورو مهری ځکه لیدے نه شی
تللی چرته له دی چې به راشی له هواده

د وړومبی شعر معنی ده چې "د زړه په بام د توحید ډیوه
بله کړه چې له رڼا ئې غل په فاصلو لرې شی" او کهه د هواد معنی
"وطن" وکړو نو بیا به د شعر مفهوم داسې کول پکار وی "د توحید
ډیوه د زړه په بام بله کړه چې له رڼا ئې غل په وطن لرې شی"

اوس دې گران لُستونکی په خپله فیصله وکړی چې کومه معنی صحیح
ده او کومه غلطه.

د دویم شعر معنی دا ده چې "محبت کونکی (دوستان) د خاورو لاندې
شو ځکه په سترگو لیدے نه شی. چرته تللی نه دی چې له لرې
فاصلې ئې د راتللو انتظار وکړې شی" دلته کهه د "هواد" معنی وطن
وشی نو بیا به دا مثل په کار وی چې حافظ الپوری په پردیس
کښې د خپل وطن د یارانو د راتللو انتظار کوی. ځکه "له هواده
راتلل" خو هم دغه معنی ورکوی.

د دیو دوو شعرونو په رڼا کښې اوس دې دریم شعر ته هم
خیال وکړئ.

یا د فقیری خرقه په غاړه قلندر شوے
وغښتے په سیل مې پاک نهاد په هوادونه (۴۴)

دې شعر کښې "هېوادونه" به د وړومبیو دوو شعرونو د مفهوم
مطابق مثل پکار وی او ځکه ئې معنی "لرې، فاصلې" دی.

مصری خان گگیاڼے

مصری خان گگیاڼے د دې دور یو ډېر لوئې شاعر تېر شوے دے.
د ده په دیوان کښې د "هواد" تورے استعمال شوے نه دے خو
دلته ئې ذکر په یو خاص مقصد کول ضروری دی. ځکه چې د
مصری خان د دیوان مرتب ښاغلی خیال بخاری له خپله ځانه د ده
په یو شعر کښې "هواد" داخل کړے دے. او نوټ ئې پرې لیکلے
دے چې په اصل کښې دا ټکے "موم" دے.
دا شعر داسې دے.

دَ وفا بوئ موندہ نہ شی پہ دا ملک کښې
لہ جفا ئې ورک کړئ ځان پہ بل هواد [1]

اصل نسخه کښې دَ لیکلی لفظ پہ ځائې ښاغلی خیال بخاری دَ "هواد" تورے قیاساً ورداخل کړے دے. حالانکې دلته "بلاد" هم راتلے شی بهرحال ترڅو چې دَ مصری خان دَ دیوان بله قلمی نسخه نه وی پیدا شوې تر هغه لہ دې شعر استنباط کول صحیح نه دی

معاذ الدین خټک

ورکه خزانه دا شاعر دَ معاذ الدین او فرهنګ زبان وادبیات پښتو ئې دَ معزالدین پہ نوم یادوی (۴۵) دَ دهه پہ دوو شعرونو کښې دَ "هوادی" او "هواد" ذکر راغلے دے. دَ "هوادی" شعر دا دے.

هوادی اشنا کا (؟) خپل معاذ الدینه
پہ بدخوا به خندا کبر او دماغ کړم

دلته دَ "هوادی" معنی به دَ نورو شاعرانو دَ شعرونو پہ رڼا کښې کول وی خو دَ "هواد" شعر.

ربه اشنا مې پہ هواد لاړ شه
تہ ئې وژغورې لہ سختۍ واړې (۴۶)

ډېر واضحه دے او دَ "پہ هواد لاړ شه" صرف یوه معنی "لرې لاړ شه" کېدے شی.

محمدی صاحبزاده

دَ محمدی صاحبزاده (متوفی ۱۲۲۰) پہ دیوان کښې "هواد" شپږ

---

[1] دَ مصری خان ګګیانی دیوان ص ۱۶۰

ځله او "هوادی" دولس ځل استعمال شوې دے. دې اتلسو مقاماتو کښې یو ځل هم "هواد" دَ وطن او "هوادی" دَ وطنی پہ معنو کښې وضاحتاً نه دے استعمال شوے. البته دَ "لرې" پہ معنو کښې څو ځایه پہ ډېر وضاحت راغلے دے او چې دغه مقامات پہ نظر کښې لرونو هر ځائې به ئې هم دَ "لرې" معنو کښې اخلو. دَ مثال پہ طور دا شعرونه وځیرئ او پخپله فیصله وکړئ چې آیا دلته دَ وطن معنی کېدے شی؟

څه زما دَ کور محلت کوې پښتنه
هره شپه دَ مسافرو پہ هواد ده

دَ سلام دَ رد کار کله لہ هواد کا
که مې سل واره دلدار لره سلام لاړ

دا شعر دَ علی خان دَ شعر

لہ هواده کله رد دَ سلام مومم
که مې سل واره دلدار لره سلام لاړ

او پہ هغه زمونږ دَ تبصرې پہ رڼا کښې کتل پکار دی.
دَ محمدی صاحبزاده بل شعر دے.

هغه یار مې لباسی وه راغ لاړ شه
اوس لہ کوره پسې ځمه پہ هواد زه (۴۷)

دَ "هواد" دَ "لرې" پہ معنو کښې دَ استعمال دَ دې واضحو او ښکاره مثالونو نه پس اوس دَ محمدی صاحبزاده هغه شعرونه پېش کوم چې دَ "هواد" او "هوادی" الفاظ پکښې استعمال شوی

دی ادبیادانصله لُستونکیو ته پربښودم چې دَ محمّدی صاحبزاده
دَ پښتو شوی مفهوم لاندې دَ دغو شعرونو دَ "هواد" او "هوادی"
معنی کوی اوکه له بهره ئې معنی دریافت کوی

وارِه ستا دَ بېلتانه جور دے چې کیږی
محمدی درک په هواد کرم الغیاث

هغه یار شه رانه پاتې په هواد اوس
ځکه نه اوری زما دَ ځُلې فریاد اوس

چې مې پرانت زما زړه ئې له غمه خلاص کړه
له هواده چې په یار راغے دَ یار خط

څوک مئین په هوادی ښائسته مه شه
مسافرو پسې تل ده ژړا پوچه

تلی دَ هوادی وربانديې کیږی
جمع زړه کا محمدی پریشان کاغذ

ګُندې دې اشنا هوادی راشی وَخپل خدائ ته
کوک په کوک ناړې کړه په سرخاورې ایرې لونه

هائ ارمان دے هوادی اشنا را نغے
په غم مرم هوس نصیب زما رانغے

هوادی اشنا مې اے زانې چرته دے
ماته نژدے دے که داساعت بهرته دے

هوادی یاره ته لاړې چرته
محمدی ولاړ دے اوس ستا و درته

هوادی یار مې که نن سبا راشی
مرور بخت به هله پُخلا راشی

هوادی یاره ته چرته لاړې
غم مې کړې وُچې په خُله کښې لاړې

محمدی حال تړې زه دَ هوادی یارغوارم
دوئ وائ چې شه ګُفتار دَ زانبو ئی

دَ هوادی یار خبر لا نه راځی
په سترګو روند شوم نظر لا نه راځی

قاصد مې تللے هوادی یار له دے
ښادی نور خلق کا غم ما خوار له دے

له هوادی یار خبر رانغے
محمدی زړه به دَ چا په ځائې (۴۸)

کاظم خان شېدا (۱۱۹۴ - ۱۱۴۰ھ)

دَ کاظم خان شېدا په دیوان کښې دَ هواد تورے یوځل استعمال شوے دے. دَ دیوان دَ اُردو ترجمې او شرح (دَ ډاکټر سید انوار الحق) په ص۳۸۴ دا شعر داسې دے.

تا دَ زړه په صاف دوربین کښې همېش وینی
که هر څو ئې له شېدا په هواد دوره

وړومبۍ مصرع کښې دَ "دوربین" او دوئمه مصرع کښې دَ "دوره" په رعایت دې شعر کښې هم دَ "هواد" معنٰی "فاصله" جُدائی وغیره کېدے شی. خو که داسې نه وی نو هم دَ تېرو تصریحاتو په رڼا کښې دَ "هواد" معنٰی بالکل روښانه ده.

قلندر

قلندر به دَ حمید بابا سره دَ هغه دَ شاګردۍ دَ تعلق په وجه دَ دولسمې صدۍ شاعر ګڼو. دَ ده په دیوان کښې څلور ځله دَ "هواد" تورے استعمال شوے دے. درې ځله خو بالکل دَ لرې او فاصلې په معنٰی کښې راځی.

زه له هواده راغلم یارانو
میرا مې ولید په دوه چشمانو

بېلتونه ته چې دا رنګ تاختونه کړې
اشنا به لرې په هوادونه کړې

زه قلندر به هاله ښادی کړم
که میرا راشی له هېوادونه (۴۹)

خو یوځل په داسې شکل کښې راغلے دے چې په بادی النظر کښې دا شک ترې کېدې شی چې دلته دَ "وطن" په معنٰی کښې راغلے دے.

که له ما لرې په بل هواد دے
په هر ساعت کښې زما په یاد دے (۵۰)

خو پخپله دَ ده دَ ذکر شویو دریو شعرونو او دَ نورو هغو شعرونو چې حواله ئې ورکړے شوه په رڼا کښې به دَ دې شعر دَ "هواد" معنٰی هم هم هغه وی لکه چې ثابته کړے شوه. او هر کله چې دَ قلندر دیوان صرف دَ یو مکمل قلمی دیوان په بنیاد مرتب شوے دے نو ځکه دا به یا دَ کاتب غلطی ګڼو او یا دَ مرتب اشتباه او ښائی چې دا شعر اصل کښې داسې وی.

که له ما لرې بېل په هواد دے
په هر ساعت کښې زما په یاد دے

او که داسې نه وی نو بیا به دَ شعر توجیه دا وی چې دلته دَ

"بل هواد" معنی "بله فاصله" بل "لرې ځای" دے اوښائی چې دا شعر قلندر له خپل اصل مسکن نه لرې بل ځای کښې لیکلے وی او ځان ئې په یو "هواد" لرې ځای او محبوب ئې په بل هواد (لرې ځای) کښلے وی۔

ابوالقاسم

د ابوالقاسم د زمانې په باره کښې زمونږ ادبی تذکرې څه معلومات نه ورکوی لیکن د هغه د دیوان په قلمی نسخه کښې داسې شعرونه شته چې دا استنباط ترې بغیر له شکه کیږی چې دې د دولسمې صدیٔ شاعر دے۔ د ده په دیوان کښې د "هواد" تورے یوځل راغلے دے۔

تمامی زما د غم په اوښیو لوند شه
نن چې خط رالږه راغے د هواد لره

فیاض

د فیاض په باره کښې په قطعیت سره دا نه معلومیږی چې دې د کوم دور شاعر وه ځکه مونږ د دولسمې صدیٔ د شاعرانو په اخر کښې او د دیارلسمې صدیٔ د شاعرانو نه مخکښې د ده په ذکر کولو مجبور یو۔ د فیاض قصه "شهزاده بهرام او ګل اندامه" د پادری هیوز په کلیدِ افغانی کښې راغلې ده۔ او بیله هم چاپ شوې ده۔ دې قصه کښې څلور ځل د هواد مختلف شکلونه استعمال شوی دی یعنی یوځل "هواد" دوه ځله "هوادونه" او یوځل د "هواد" یو بالکل نوے شکل "هوادین"

شعرونه دا دی:

چې افراد ګوذار کاږه په مزکه پرېوت
د فریاد ناري ئې تللې په هوادونه (۵۲)

چې نژدې شه د افراد دېو و دېرې ته
واسمان ته تللې لوګی په هوادونه (۵۳)

له کاروانه بهرام وکړله پښتنه
له دې ځایه چین نژدې که هوادین ته (۵۳)

او

د چین بشهر ورته بنکاره شه له هواده
چې ئې وې مانې وچتې له اسمانه (۵۴)

دې څلورو واړو شعرونو کښې "هواد" او "هوادین" د لرې معنی کښې استعمال شوی دی او بله هره معنی خاص طور سره د 'وطن' معنی پکښې په هیڅ رنګ نه شی ځائیدے۔

سیداحسین

هم دغسې د سیداحسین د زمانې هم یقینی علم نشته خو په هرصورت د دیارلسمې صدیٔ نه وروستو خو هیڅکله نه وه د ده په جنګ نامه کښې یوځل "هواد" راغلے دے۔

ورته کښیول جزائل
په هر برج کښې زر او سل
له هواده ئې ویشتل
تری چاپیر وه قبائل (۵۴)

دَ سید حسین په دې شعر کښې هم دَ "هواد" صرف یوه معنٰی ممکنه ده. او دَ وطن دَ معنې پکښې هیڅ امکان نشته.

میاں نعیم

میاں نعیم دَ دیارلسمې صدۍ شاعر دے. دَ ده په دیوان کښې دَ 'هواد' تورے یو ځل په دې شعر کښې استعمال شوے دے.

ځان جهان مې تمامی له یاده ووت
په هواد تللے اشنا چې را په یاد شه (۵۵)

دې شعر کښې هم دَ "هواد" معنٰی له "لرې" نه بغیر نور څه نه شی کیدے. ځکه چې لکه مخکښې عرض شوے دے. "په هواد" دَ "هواد ته" په معنو کښې استعمالول دَ پښتو دَ محاورې سره سمون نه خوری او ځکه نو دَ شعر مطلب دا دے "په فاصله" (لرې) تللے اشنا چې راته را یاد شولو نو ځان او جهان مې هېر شه" دې شعر کښې که دَ "هواد" معنٰی "وطن" وکړے شی نو بیا به دَ شعر مفهوم دا وی.

"په وطن تللے (محاوره وطن ته تللے ده) اشنا چې را په یاد شه نو ځان او جهان مې هېر شوه" په دې صورت کښې شعر تر مضحکه خېزه حده بې معنې شی.

پیر محمد

پیر محمد دَ پښتو تذکره لیکونکیو دَ احمد شاه بابا معاصر او ځکه دَ دولسمې هجری پېړۍ شاعر ګڼلے دے خو دَ ده په کلام مشتمل یو قلمی دیوان کښې دا شعر هم شته.

هم دیوان دَ صاحبزاده چې مشک افشان دے
دَ قاسم دے باریک بین نکته دان شعر

دا شعر دَ هغه دَ هغه غزل په حاشیه لیکلے شوے دے چې دَ چاپي دیوان په ص ۴۲ راغلے دے او پکښې دَ پښتو ځنې شاعران یاد شوی دی. هر کله چې دَ محمدی صاحبزاده په باره کښې دا خبره یقینی ده چې دَ دوی وفات په ۱۲۲۰ھ کښې شوے وه نو لازماً پیر محمد دَ ۱۲۲۰ھ نه پس ته او ځکه دَ دیارلسمې صدۍ شاعر وه. دَ پیر محمد په باره کښې دَ تذکره نویسانو نور معلومات هم محل نظر دی خو دلته پرې دَ بحث موقع نه ده.

دَ پیر محمد په دیوان کښې دَ 'هواد' تورے شپږ وارې راغلے دے. څلور ځل ورسره دَ "بل صفت" استعمال شوے دے او دوه ځل بغېر دَ "بل" له صفته دا سې راغلے دے چې دَ څلورو ځایو دَ معنو وضاحت هم وکړی. وړومبے ئې دَ "بل" له صفته سره وځیرئ.

دَ بې نیازو په دیار کښې ځیګر خون شه
پیر محمد ځکه هوا دَ بل هواد کا

یو اشنا ورسره مل دَ لارې نه شه
یک تنها و بل هواد ته نادان ولېښ

بېلتانه غمونو تنګ کړم په وطن کښې
لکه څوک په بل هېواد کښې وی اوساغ

مونږ راغلی طوطیان د بل هواد یُو
د تمت په نومه بندیُو بیا به خُونه (۵۶)

د "بل هواد" له توریو د "بل وطن" د معنو د راوکښلو په سلسله کښې دې بناغلی لُستونکی هغه معروضات د نظر د لاندې وساتی چې د قلندر د هم داسې یو شعر په ضمن کښې شوی دی. خاص طور سره د پیر محمد د دیوان د اصل نسخو د مغشوش حالت، د دیوان د مرتب بناغلی عبدالرؤف بینوا د تبصرې، چې د دیوان په بنیادی نسخه ټې په دیوالفاظو کړې ده،

"دا نسخه د یوه سړی خط نه دے. داسې معلومیږی چې د تلوارې کار دے. دوو درې توتو نقل کړې ده چې لویه برخه ټې پخپله د حبیبی صاحب په قلم رانقل شوې ده" (۵۷) او د دې حقیقت پیش نظر چې بناغلی مرتب د اصل نسخې د موجودګۍ باوجود په معنی چپ پاتې شوے دے. د پیر محمد د دیوان له شعرونو نه استنباط به نور ډیر اضافی قوی دلائلو ته محتاج وی.

د پیر محمد (او د شمس الدین هم) له دیوانه استنباط په دې بنیاد هم څومره کمزورے دے چې دا دواړه دیوانونه د ۱۳۰۰هـ ش (د پټې خزانې د چاپ کال) نه پس چاپ شوی دی ځکه له دغه ځنې استدلال د منطق له رویه صحیح نه دے.

د پیر محمد دیوشعرونو کښې یوه د لچسپه خبره دا ده چې د قلندر د شعر علی الرغم دیو درې واړو شعرونو کښې "هواد"، په قافیه کښې نه دے راغلے او ځکه که معنی ټې وطن وے نو د شاعر د پاره د "بل هواد" په ځای د "بل وطن"، ټکی استعمالول ګران نه

وو. سره د دے هم چې شاعر د "بل وطن" په ځای "بل هواد" وائی نو دا حقیقت پخپله څرګندیږی چې دلته د شاعر مطلب بل لرې ځای وه.

اوس هغه باقی دوو شعرونو ته خیال وکړئ چې د "بل" صفت ورسره نه دے استعمال شوے.

تنها راغلم له هواده تنها دروم
په دا ملک کښې تنګ غمونو د غربت کړم

مونږ له هواده تنها راغلی یُو
د بن طوطیان یو په دام نتلی یُو (۵۸)

دلته هم دا اعتراض وارد یږی چې که د هواد معنی وطن وے نو شاعر ته څه ضرورت وه چې هواد ټې استعمالولو. خاص طور سره چې د "بل هواد" د شعرونو په سلسله کښې په دریم شعر کښې هغه "وطن" هم استعمال کړے دے. او دې شعرونو کښې ورته د قافیې تکلیف هم نه وه.

دویم شعر کښې د "طوطیانو" په تشبیه د "هواد" مفهوم نور روښانه کیږی ځکه چې که د "هواد" مطلب وطن وی نو د طوطیانو وطن به هم فرض کول غواړی. د دې په مقابله کښې که د "هواد" معنی "لرې ځای"، په فاصله" وکړے شی نو د طوطیانو تشبیه نه مجروحیږی او دا ثابتوی چې د پیر محمد په اصل شعرونو کښې هم "هواد" د "لرې، لرې ځای، فاصلې" د پاره استعمال شوے دے.

شمس الدین کاکړ

شمس الدین کاکړ د دیارلسمې صدۍ شاعر یادیږی. د ده په نامه چاپ شوی دیوان کښې دوه ځایه د "هواد" تورے استعمال شوے دے. یوځائې کښې د پښتو ادب د اجتماعی روایت سره سم دا تورے د "لرې" په معنی داسې راغلے دے.

بد نصیب ناسازې چارې په ما وکړې
له نژدې ئې لرې لرې په هواد کړم

دې شعر کښې د هر کوشش باوجود "هواد" د وطن معنی نه ورکوی ځکه چې د شعر مفهوم دا دے "بد نصیب ما سره ډیر بد وکړه (ځکه چې) زه ئې له خپلو نژدیو خپلوانو او دوستانو نه په "هواد" لرې کړم" دلته "هواد" صرف او صرف د فاصلې او لرې والی معنی ورکوی.

دویم شعر ئې دا دے.

په هوا مې د کشمیر د تورو سترګو
له زړه ویاسته نیازمن د خپل هواد (۵۹)

دلته 'هواد' بالکل د 'وطن' معنی کښې راغلے دے او شاعر د خپلې معنې اوپه تول ادب کښې د دې توری د معنې برخلاف استعمال کړے دے او که مونږ شاعر سره ډیره فیاضی کووا وبل کوم الزام پرې نه لګوو نو دا خو خامخا وئیلے شو چې دلته شاعر غلطی فرمائیلې ده. ارهسې هم هر کله چې د شمس الدین دیوان دپښتو خزانې د چاپ کیدونه پس منظر عام ته راغلے دے ځکه نو قابل تمسک نه دے.

خوږدل

"ورکه خزانه" مطبوعه ۱۹۶۰ء کښې د دیارلسمې صدۍ د یو شاعر "خوږدل" ذکر راغلے دے (د ده د زمانې په سلسله کښې په اختلاف به څه نه وایم) او د هغه د شعرونو په نمونه کښې دا شعر هم شامل کړے شوے دے.

له هوادہ ئې د زلفو په پښو کښې
شعلې وینم د عذار نه یم غلط (۶۰)

دلته که د 'هواد' معنی "له فاصلې، له درایه، له لرې" ونه شی نو بیا به ئې دا معنی کوو چې "له وطنه ئې د زلفو په تارونو کښې د بارخو شعلې وینم" او که داسې وکړو نو شاعرۍ او شعر فهمۍ سره به څومره انصاف وکړو؟

"ورکه خزانه" کښې د "غریب" د زمانې له تعینه بغیر د هغه یو شعر راغلے دے.

د شبنم په څیر ئې اوښکې څې له سترګو
چې وچاته هوادی مین خپل یاد شی (۶۱)

له سترګو اوښکې تلل د وصال قرینه نه بلکې د هجران لازمه ده ځکه نو د "هوادی" معنی به دلته هم لکه د نورو ځایونو په شان "لرې" کووکنی نو د شعر معنی به دا کیږی چې صرف د وطن د مینې په یادیدو عاشق له ژړا ورځی.

صدیق

د دیارلسمې صدۍ د یو بل شاعر صدیق په دیوان کښې څلورو شعرونو کښې د 'هواد' تورے راغلے دے. دا شعرونه ملاحظه کړئ.

د هواد سفر تر سترګو ځمبل ژر کا
چې خبر په هغه دا دی درویشان شته

لرې ملک ته په ورو تلې کله په کار دی
له هېواده دومې کورته کاروان ژر ژر (۶۲)

دیوشعرونو کښې د "هواد" د 'سفر' ذکر دے۔ ښکاره خبره ده چې سفر په "وطن" کښې نه بلکې له وطنه "لرې" کیږی ځکه نو دیو شعرونو کښې د استعمال شوی توری "هواد" معنیٰ 'وطن' نه بلکې "لرې" دے۔

د صدیق دوه نور شعرونه دادی۔

ښه یاران چې یو تر بل سره ځاریږی
زمانه به ئې څه زر په بل هواد کا

لرې ملک راته نژدې نژدې کا بیا رته
د وصال ژمنه ئې دا کهه بل هېواد ده (۶۳)

د دویم شعر "بل هواد" هرځائې کښې د استعمال شوی "بل هواد" وضاحت کوی او دا څرګندوی چې د "بل هواد" معنیٰ 'بل وطن' نه بلکې "بل لرې ځائې" دے۔

امیر

دا شاعر چې د ورکې خزانې مؤلف ئې په غلطی "امیرخان هجری"

کښې د دیارلسمې صدی شاعر دے۔ شاید چې د پښتو په شاعرانو کښې دا لهه تولو زیات د 'هواد' او 'هوادی توری استعمال کړے دے۔ د دا غیر مطبوعه دیوان کښې ۲۶ (شپږ ویشت) ځله دا توری په مختلفو شکلونو (هواد۔ هوادونه۔ هوادی) کښې استعمال شوے دے۔ ځینو ځایونو کښې توری په واضح ډول د "لرې، په فاصله" معنیٰ نه ورکوی خو ځینو نورو ځایونو کښې دا مفهوم دومره په وضاحت سره ښکاری چې د هغو ځایونو کے هم پوره کړی چرته چې ئې په وضاحت دغه معنیٰ نه ده ښکاره۔ ځکه زه اوّل هغه شعرونه راخلم چرته چې په وضاحت سره د "لرې" او 'په فاصله' معنیٰ جوتیږی او بیا هغه مثالونه بیانوم چې د هغو معنیٰ د دې واضح مفهوم په رښا کښې یواځې ممکنه نه بلکې ضروری ده۔

څه خبر سهلاب یم د عصیان اخته
خبر مې واخله له هواد صاحبه

اشنا مې لاړ شه په هوادونه
اوس مسافر شه په مدتونه

چې په هواد درومئ مرغانو
چې بیا راځی د اشنا راوړئ سلامونه

.پې له تازه د زړه کله لرم مراد څوک
که نژدې دی یا که لرې په هواد څوک

بیل چې له یاره زه په هواد یم
قرار مې نه شی تل په فریاد یم

بیل چې په هواد له ما زما دَمینې یار شه
سپین رخسار زما پسې په وینو لاله زار شه

له تګه یاره مدام چې ې تګی شی دستور
په هوادونو لرې خپل کلے کور ښه دے

په دې بې رالم کړمه ژړا زه دَ فلک په جور
دې بدنصیب چې بیل له تازه په هواد کړم یاره

دَ مجنون هسې وحشی په صحرا سر شه
له دلبره ځنې بیل چې په هواد شه

زه چې جُدا شوے په هواد له خپل دلدارم
ګرځمه کړېږم بې طبیبه زه بیمار یم

چې جُدا له تانه یاره په هواد شوم
دَ حباب په دود بې بڼه بې بنیاد شوم (۶۴)

دیر تولو شعرونو کښې دَ 'هواد' مفهوم دومره جوت دے

چې څه تشریح ته احتیاج نه لری ولې بیا هم که څوک څه شک لری
نو هغه دې دیو تولو شعرونو کښې دَ 'هواد' په ځای 'وطن' ولګوی
او بیا دې دَ یو شعر هم قابل فهم معنی راوباسی -
اوس دَ امیر لاندې لیکلیو نورو شعرونو کښې دَ 'هواد' او 'هوادی'
معنې دَ هغه او دَ نورو شاعرانو دَ معنو په رنا کښې وکړئ -

په دسمال به کړم دَ صبر اوښې وچې
زه موندل به دَ اشنا تللی هواد کړم

ربه یار هوادی ما وته قریب کړې
اجابت دَ دې دُعا زما نصیب کړې

چې جُدا په هوادونو یار له یار شی
وُچې شوندې ګونه زیره زړه افګار شی

سرومال به کړمه ځار زه له قاصده
که خبر دې ماله راوړی له هواده

هوادی یار چې زه را په یاد کړم
له دې بره غمه ژړا فریاد کړم

که هوادی اشنا په ما که څښتن پښې یرځله
ورته به زه دَ بهلتانه په ژړا وایمه حال

زه یمه راغلے ستا دیدن لره کنه
نن له یو هواده دې وطن لره کنه

زړګیه چوې که پاتې کیږې
اشنا مقام دنیو په لرې هوادونه

چې مې همدم په دم قدم وی
نصیب دیره کړلې په لرې هوادونه

د زړه سر مې له هجرانه شه دوه نیمه
هوادی اشنا مې راولې قدیمه

دا خراب زړه مې په کوکل کښې بیازوریږی خلقه
چې هوادی اشنا وما وته یادیږی خلقه

د هجران په توره شپه کښې تنها ناست یم
رابنکاره کړه هوادی اشنا له ورایه

د بهلتانه به خاص غلام شم
که هوادی اشنا مې پریږدی چې راځینه

دا هوادی اشنا زه غواړم
که پسې ژاړم سوال ځواب نې نه مومه

عالمه لاس په دُعا نسئ
که هوادی اشنا مې راشی په پُښتنه (٦٥)

شمس الدین ختک

شمس الدین ختک د حضرت کاکا صاحب کړوسے وه چې د خوشحال بابا د ورور جمیل بیګ مناقب نې په ۱۲۸۷ھ کښې لیکلی دی. دیو مناقبو کښې دوه ځل د "هوادی" لفظ استعمال شوے دے۔

وارِه ده ته فریادی وو
د وطن که هوادی وو

دا له ماره فریادی ده
چې راغلې هوادی ده (٦٦)

میاں حسیب ګُل کاکاخیل

میاں حسیب ګُل بنیادی طور سره د دیارلسمې صدی هجری شاعر دے۔ خو هرکله چې د دوی د وفات کال ۱۳۰۶ھ دے ځکه نو ذکر نې د څوارلسمې هجری صدی د شاعرانو په ابتدا کښې کولے شی د دوی کومه شاعری چې ماته معلومه ده (دیوان نې زما له نظره نه دے تیر شوے) نو هغه مجموعه کښې ده چې

ورته ئې نوم "چمن بے عدایل" ایښے دے۔ دې مجموعه کښې میاں صاحب مرحوم درې ځله دَ "هواد" لفظ استعمال کړے دے او درې واړه ځله ئې دَ "هواد" معنٰی هم هغه کړې ده چې دَ پښتو ادبیاتو روایتی معنٰی ده۔ یعنی "لرې، په فاصله، له وطنه لرې"

که باغونه کړې تیار یا لوئې لوئې مانۍ
ته ترې روان ئې بالیقین دَ اخرت په هواد

سروکار مې له فریاد دے
یا دَ غمه څه ګریان کړم
یار مې پاتې په هواد دے
سر وهم پسې ارمان کړم

اوېخته ستا په لمن یم
په هواد که په وطن یم
جګی جګی ډېر غمژن یم
راکړه لاس ولی دستګیره (۶۷)

(دا وروستے مثال له هغه منقبته اخستے شوے دے چې حسیب ګل میاں صاحب دَ حضرت کاکا صاحبؒ په شان کښې لیکلے دے)

میاں جناب کاکاخیل

دَ څوارلسمې صدۍ یو بل شاعر میاں جناب کاکاخیل دے چې دَ 'هواد' تورے ئې په خپل دیوان کښې درې ځلې استعمال کړے دے۔

واړه خېلخانه رانه جُدا زه ترې جُدا یم
دور په هوادونو رانه نن تمام ټبر دے

زړه مې ګرځی په مېرو په هوادونو
که ظاهره مې سر ټیټ په دغه لور دے

دَ رب په فضل به رسیږی تر منزله ګنی
دا هوادونه قطع نه شی په منزل دَ سړی (۶۸)

په وروستی شعر کښې دَ 'هواد' سره دَ قطع کولو فعل راغلے دے چې صفا ترې دَ "فاصلې طے کولو" معنٰی څرګندیږی۔

ملا نعمت الله

دَ نوښار ملا نعمت الله شاید چې دَ څوارلسمې صدۍ وروستے معلوم شاعر دے چې دَ 'هواد' تورے ئې په خپلو اصلی معنو کښې دَ پښتو ادبیاتو دَ تاریخی روایاتو مطابق استعمال کړے دے۔ دَ دهه شعر دے۔

دا کلام علی بابا کړه په زړه یاد
غله روان شو په طرف بیا دَ هواد (۶۹)

یوا ځې دَ پښتونه بلکې دَ دنیا په هره ژبه کښې چې دَ الف لیلیٰ ترجمه شوې ده نو دَ علی بابا په قصه کښې دَ څلو پښتو غلو دَ وطن په باره کښې هېڅ صراحت نه دے شوے۔ ځکه دَ ملا نعمت الله په شعر کښې هم دَ 'هواد' نه مطلب 'وطن' نه بلکې دَ "لرې ځائې" دے۔

ټپې

ټپې زمونږ د اولسی ادب هغه صنف دے چې په دې کښې د یو لفظ مفهوم متعین شی نو پخپله د اولسی مقبولیت درجه حاصله کړی له ده مرغه د پښتو د ټپو څه تاریخ وارې مجموعې نه دی راټولې شوی خو چې کومې زړې ټپې شاعرانو خپلو دیوانونو کښې محفوظې کړی دی او پکښې د 'هواد' کلمه استعمال شوې ده هغوئ هم دا جوته ږی چې د هواد معنی وطن نه بلکې "لرې" او "فاصله" ده۔ مثالونه ئې وګورئ۔

راغے هجران عمر مې ګران شه
له ما روان شه یار په لرې هوادونه

زه به کجل په سترګو کښیږدم
که هوادی اشنا مې راشی په ژبنتنه

زما په تا پسې ژړا ده
که له هواده دې خدائې راولی میئنه (۷۰)

د اخری ټپې دروستۍ مصرع کښې 'هواد' نه مطلب "لرې ځائې" دے۔ ګنی که 'وطن' ئې معنی وکړے شی نو ټپه به مهمله شی۔
هم دغسې د امیر یو څو ټپې وګورئ۔

زړګیه چوې که پاتې کیږې
اشنا مقام ونیو په لرې هوادونه

چې په هواد درومئ مرغانو
چې بیا راځئ د اشنا راوړئ سلامونه

چې مې همدم په دم قدم دے
نصیب دیره کرمه په لرې هوادونه

د بهلتانه به خاص غلام شم
که هوادی اشنا مې پرېږدی چې راځینه

دا هوادی اشنا زه غواړم
که پسې ژاړم سوال ځواب ئې نه مومه

عالمه لاس په دُعا نسئ
که هوادی اشنا مې راشی په ژبنتنه (۷۱)

نثری ادب او هواد

د 'هواد' کلمه زمونږ په نثری ادب کښې هم استعمال شوې ده او هیڅرته هم د 'وطن' معنی نه ورکوی۔ د شعر په مقابله کښې د نثر مفهوم زیات معتبر وی ځکه چې شاعر ځنې الفاظ په اصلی لغوی معنو کښې نه بلکې د استعاری په معنو کښې هم استعمالوی۔ د شاعری په مقابله کښې په نثر کښې چې یوه کلمه استعمالیږی نو د معنی په ضمن کښې زیات قوی سند لری۔

"پټه خزانه" په ۱۱۴۲ھ کښې لیکلې شوې بیا نیږی۔ مونږ دلسې یولسې، دولسې، دیارلسې، څوارلسې هجری صدیو د شاعرۍ نه داثابته کړه چې په دې قوله موده کښې دا لفظ د "وطن" د پاره نه دے استعمال شوے۔ اوس د دولسې صدۍ د معلوم نثر نه هم په دې ضمن کښې شهادت پیش کوو۔

افضل خان خټک "علم خانهٔ دانش" چې د عیار دانش (کلیله ودمنه) ترجمه ده په ۱۱۲۹ھ کښې لیکلے دے۔ ځکه نو دا کتاب او "پټه خزانه" په زمانی لحاظ سره د پر نژدې دی۔

د علم خانهٔ دانش یوه حواله وځیږئ۔

"اوزه باوجود چې جانور وحشی یم چې درې ورځې طعمه په لاس راکا، حق نه فراموشوم۔ هرګاه چې شکار راځمه وغواړی شکار ورته وکړم۔ شکار پرې وخورم اوکه هرځولرې هواد ترمیان وی چې تش اواز وکا په یوه پرواز راشم" (۷۲)

د دې پښتو ترجمې اصل فارسی عبارت دا دے:

"دمن باآنکه جانور وحشی ام اگرچه دو سه روزے با ایشان الفت بگیرم واز دست ایشان طعمه خورم حق آنرا نگاه داشته صید کنم بدیشان دهم و هرچند دور تر رفته باشم بمجرد آوازے که کشنوم پرواز کنان باز آیم" (۷۳)

د کلیله ودمنه اُردو ترجمه کښې د دې عبارت اُردو ترجمه داسې شوې ده۔

اور میں باوجودیکہ جانور وحشی ہُوں اگر چند روز آدمیوں کے ہاتھ سے طعمہ کھاتا ہُوں تو اُن سے اُنس کرتا ہُوں اور اُن کے حق کا خیال کرکے شکار اُن کو پکڑ دیتا ہُوں اور کتنا ہی دور پہنچتا ہوں جبکہ وہ آواز دیتے ہیں پھر اُن کے پاس آجاتا ہُوں (۷۴)

د افضل خان "هواد" د "دورتر" ترجمه ده او هم دغسې اُردو کښې ئې "کتنا ہی دور" ترجمه شوې ده چې د فارسی او اُردو د متعلقه الفاظو لاندې کرښه روهلې شوه اوس که مونږ دا رائې ولروچې د هواد له دې نه بغیر هم څه معنی کیدے شوه (او فرض کړوچې شعر کښې د هواد نه بغیر بل کوم لفظ د وزن یا قافیې مشکل پیدا کولو نو دلته په نثر کښې د "وطن"، ملک وغیره الفاظ راوړل ولې افضل خان او د اُردو مترجم ته مشکل وو۔ ظاهره خبره ده چې د دې نه هم یوه نتیجه راووځی اوهغه دا چې په دولسمه صدۍ کښې د دې کلمې صرف او صرف یوه معنی یعنی "لرې، فاصله" وه او بس۔

هم دغه دولسمه صدۍ کښې په پښتو نثر کښې یو بل کتاب هم لیکلے شوے دے چې د تذکره نگارانو په رائې کښې ئې لیکونکے اخون قاسم پا پین خیل شنوارے دے۔ د کتاب نوم "فوائد الشریعه" دے د دې کتاب بې شمیره چاپی نسخې موندے شی۔ مونږ د کرستومیتی له انتخابه او د یوې تازه چاپی نسخې نه څنې نمونې پیش کوو۔

"دهر سړی دی چې د خلق نزدیکت کا د مولی ته ولې دوی له خدایه لرې په هواد دی" (۷۵)

دلته که د 'هواد' معنی 'وطن' وشی نو د خدائې پاک د ذکر سره به ئې مطلب دا وی چې داسې (وطن) هم شته چې هغه له خدایه لرې دے (معاذالله او دلته دا سوال یوځل بیا راپیدا کیږی چې اخر د هواد استعمال دلته ولې ضروری وه (خاص طور سره چې د ځنو خلقو په خیال د 'هواد' معنی وطن او لرې ځائې دواړه دے (۷۶) د خدائې پاک د ذکر سره بائنده ووچې صرف هغه لفظ استعمال شوے

وے چې د خدائې پاک د شان کے پرې نه کېدے۔ حُکه نو زه اصرار کوم چې د 'هواد' معنی صرف اوصرف "فاصله او لرې والے" دے۔

د فوائد الشریعه یو بل اقتباس وګورئ۔

"خدائې تعالیٰ به په ملائکو فخر کاندی چې زما بنده ګانو ته وګورئ چې له هواده ګرد وهلی پریشان حال په خواری زما کور له راغلی"(۷۷)

دا د ځ په ذکر کښې لیکلے شوے عبارت دے۔ نو کله د 'هواد' معنی وطن وکړو نو بیا به دا هم منو چې ځ له راتلونکی خلق صرف د یو وطن سره تعلق لری او کله داسې نه وی نو بیا به ئې معنی دا وی چې داخلق "له لرې..... زما کور لره راغلی دی"۔

د فوائد الشریعه یوه بله حواله پیش کوم۔

"ابن سماک هسې وئیلی دی۔ د پرسرې دی چې دوئ په پند خدائې وخلقو یادوی۔ ولې دوی به ترې غافل وی۔ او د پرسرې د خُدایه به ویرول کاندی د خلقو ولې دوی به (له) خدایه لرې په هوادوی" (۷۸)

دلته هم "هواد" هم په هغو معنو کښې استعمال شوے دے لکه د کرستومیتی د وړومبی حوالې په سلسله کښې ئې ذکر شوے دے۔ له خدایه څوک په 'وطن' لرې کېدے نه شی البته د خدائې اوبنده ترمنځه د قربت او بُعد په نتیجه کښې فاصله کمیدے اوزیاتیدے شی او دلته ئې هم هم دغه معنی ده۔

سبر السالکین د تاس جان لی مهر او قاضی عبد الرحمٰن کتاب دے چې په ۱۸۷۷ کښې چاپ شوے دے۔ دا کتاب د انګریزی د لیکونکی جان بن ین د ناول "پلګرمز پراګریس" "Pilgrims Progress"

ترجمه ده۔ د دې کتاب یوه حواله وګورئ۔

"یا په اخلاقی یا په روحانی۔ یا په پاکو یا په ناپاکو، یا په تېرو شوو یا په راتلونکو، یا په ملکی یا په هوادی۔ یا په ذاتی یا په اتفاقی څیزونو کښې له تاسره خبرې وکړم"۔ (۷۹)

دې څیزونو کښې د لسو څیزونو ذکر شوے دے چې د یو بل مخالف دی۔ د ملکی په مقابله کښې د 'هوادی' استعمال داخبره صریحًا ثابتوی چې د قاضی عبد الرحمٰن (مهر به حُکه نه یادوو چې هغه د پښتو هغه هومره عالم نه وه لکه چې قاضی عبد الرحمٰن وه) په خیال کښې د "هوادی" معنی 'وطنی' نه وه۔

هم دغه نتیجه د دې کتاب له یوه بله اقتباسه هم راووځی

"ملا زر دوست ملا خود غرضی ته ووئیل چې هغه څوک دی چې زمونږ په مخکښې په لارې ځی۔ خود غرضی ووئیل چې هغه دوه 'هوادی' سړی دی او په خپل طور په سفر روان دی (۸۰)

دلته هم د 'هوادی' معنی "وطنی" نه بلکې د لرې ځائې سره متعلق کېدې شی۔

د راورتی استاذ حضرت مولوی محمد اسمٰعیل صاحب په کال ۱۸۸۶ء کښې د "خزینهٔ افغانی" په نامه یو کتاب لیکلے دے چې پکښې ئې د پښتو الفاظو او فقرو ترجمه په انګریزی کښې کړې ده۔ دې کتاب کښې یوه فقره ده۔

"وطن مې په هواد دے"

او انګریزی ترجمه ئې دا ده۔

My country is in a very distant region. (۸۱)

دَ پښتو فقره کښې دَ 'وطن' او 'هواد' تقابلی ذکر قاطع ثبوت دے چې دَ هواد معنی 'وطن' نه ده. هم دغسې دَ انګریزی په ترجمه کښې دَ 'هواد' معنی "DISTANT REGION" شوې ده چې هم هغه معنی ده چې مونږ ې کوو یعنی "لرې ځای"۔

دَ لغت کتابونه

دَ پښتو وړومبے چاپ شوے دَ لغت کتاب دَ "کرستومبتی" فرهنګ دے۔ دا کتاب په ۱۸۴۷ کښې دَ سینټ پیټرز برګ دَ امپیریل اکیډیمی اوسائنسز ممبر ډاکټر برنهارډ دورن مرتب کړے اوچاپ کړے وه۔ دَ دې کتاب په فرهنګ کښې 'هواد' په دوه شکله داسې راغلے دے۔

هېواد Bewailing lamentation see - ونه — Pl — هواد
(هواد - جمع هوادونه - ماتم - وګورئ هېواد)

(۸۲) — lamenting, groaning - ونه - Pl - هېواد
(هېواد - جمع هېوادونه - ماتم - زبېرګے)

ظاهره ده چه دا دواړه معنې غلطې اوهسې په قیاس مبنی دی حکه چې په کرستومبتی کښې شپږ ځل دا تورے استعمال شوے دے او یوځای هم دا معنی ې نه ده۔ دَ حوالې دَ پاره مونږ داشپږ نمونې دوباره پېش کوو۔

۱۔ که هرځو لرې هواد ترمیان وی چې تش اواز وکا په یو پرواز راشم" (دَ کتاب ص ۱۵)

۲۔ "دپرسړی دی چې دَ خلق نزدیکت کا و مولی ته ولې دوئ له خدایه لرې په هواد وی (دَ کتاب ص ۱۳۸)

۳ که نژدې که په هواد دی۔
که په زړه لکه فولاد دی (دَ کتاب ص ۱۸۵)

۴ شپه او ورځ کرم فریادونه
غږ مې څی په هوادونه (دَ کتاب ص ۲۱۰)

۵ له هواده سلام راوړی
بیا دَ وصل پیغام راوړی (دَ کتاب ص ۲۱۹)

۶ چې بنکاره کړې فریادونه
غږ ې څی په هوادونه (دَ کتاب ص ۲۵۰)

راورتی

دَ پښتو دوهمه ډکشنری ایچ۔جی راورتی په ۱۸۶۰ کښې ترتیب کړې او چاپ کړې ده۔ دې کتاب کښې دَ 'هواد' تورے په درې شکله داسې راغلے دے۔

۱ (هواد - (هواد) واحد - مذکر - (دویم) - یوملک، یوه علاقه، دَ ملک یوه حصه، یو لرې ځای۔ جمع - هوادونه - وګورئ هېواد)
(hiwad--s.m. (2nd) A country-a region) هواد ۱۰
a tract of country, a region, a distance land, Pl - هوادونه hiwadunah - See هېواد (۸۳)

۲ (هیواد - (هېواد) واحد - مذکر (دویم) یو ملک - یوه علاقه دَ ملک یوه حصه - یولرې ځای - جمع هېوادونه۔۲۔ماتم۔الم خفګان وګورئ هواد)

هیواد ۔۲ - hewad s.m. (2nd) A country, a region, هېوادونه
a tract of country, a distant land - Pl
hiwadunah.

(۸۴) هواد Laminting, bewailing, grieving see 2.

۳- یواد - یواد - واحد - مذکر (دویم) (مغربی) یو لرې ملک.
جمع یوادونه

۲- صفت - لرې - بعید - وګورئ هیواد -

3. یواد yawad - s.m. (2nd) (W) A far country.

(۸۵) هیواد 2. Adj- far, a far off See یوادونه Pl-

له بره ذکر شو یو حوالونه په اسانه دا ثابتیږی چې راورټی هم په قیاس معنې راوکښې دی - خو دَ ده قیاس ترڅه حده صحیح دے البته دَ ص ۱۰۷۷ دویمه معنیٰ ئې دَ کرسټومیتی نه نقل کړې ده او دَ "یواد" تورے ئې دَ هواد او هیواد هم معنیٰ ګڼلے دے.

له راورټی نه پس بله ډکشنری دَ هنری واټر بېلیو ده چې ده په ۱۸۶۷ کښې ترتیب کړې ده - دې ډکشنرۍ کښې دَ 'هواد' تورے نه دے اخستے شوے البته "هیواد" او "یواد" اخستے شوے دے - او دَ دواړو معنیٰ "ملک، علاقه ښځلے شوے ده او "یواد" سره دَ "وګورئ هېواد" الفاظ زیات شوی دی - (۸۶)

پلاوډن

ټی سی پلاوډن په ۱۸۸۵ کښې دَ کلید افغانی ترجمه په انګریزی کښې کړې ده - دې ترجمه کښې دَ 'هواد' معنیٰ داسې شوې ده -

" هوات / حوات عربۍ کښې اسمان ته وائی چې پښتو کښې وران شوے او دَ 'هواد' شکل ئې اختیار کړے دے - (۸۷)

دَ کلید افغانی دَ ص ۲۶۰ او دَ پښتو اکیډیمی دَ شهزاده بهرام او ګل اندامه دَ ص ۳۰ شعر -

چې افراد ګوذار کاوه په مزکه پرېوت
دَ فریاد نارې ئې تلې په هوادونه

کښې دَ 'هوادونه' په لفظ په حاشیه کښې پلاوډون بیا دَ "اسمان" معنیٰ کړې ده (۸۸)

دَ کلید افغانی دَ بهرام شهزاده او دَ ګل اندامې په قصه کښې دَ دې شعر

له کاروانه بهرام وکړله پُښتنه
له دې ځایه چین نژدې که هوادین ته (۸۹)

ترجمه پلاوډن داسې کړې ده :-

بیا داسې له کاروانه بهرام شهزاده پُښتنه وکړه
" له دې ځایه چین نژدې دے او که لرې ؟ "

Then thus prince Bahram of the Carvan quary made,

"Is China adjacent to or distant from this spot?"

دَ انګریزۍ په ترجمه کښې په استعمال شوی توری (لرې) حاشیه کښې پلاوډن داسې نوټ لیکلے دے.

" هواد - غېر (خارجی) ملک " دلته دَ پښتو یو اسم دَ صفت په طور استعمال شوے دے - او دَ " دین ته " ټکی پکښې زائد دی او دَ ضرورت شعری له لحاظه استعمال شوی دی (۹۰)

دَ هم دې قصې دَ یو بل شعر

دَ چین ښهر ورته څرګند شه له هواده
وې مانۍ ئې بنائسته لوړې بې شانه (۹۱)

ترجمه پلاوډن داسې کړې ده.

The town of China to him appear'd in view from far Its mansions beatious seemed (eye) and wonderous tall,

(دَ چین ښهر ورته له لرې ښکاره شه. دَ دې (ښهر) مانۍ بنائسته او لوړې ښکارېدې) (۹۲)

دلته دَ "هواد" معنی "لرې" شوې ده. نه ورسره دَ "ملک" تورے زیات کړے شوے دے او نه ئې معنی کښې دَ "ماتم" یا دَ "اسمان" مفهوم ځائې کړے شوے دے. ګویا دَ راورټی او دَ بېلیو دَ ډکشنریو په موجودګۍ کښې هم پلاوډن دَ دغو ډکشنریو معنے صحیح نه دی ګڼلی او دَ خپلو قیاسونو مطابق ئې دَ "هواد" دَ لفظ مفهوم نیکلے دے.

پادری خېرالله

دَ پادری خېرالله "خېراللغات" په ۱۹۰۶ کښې چاپ شوے دے. دې کتاب کښې دَ راورټی په تتبع کښې دَ "هیواد" معنی شوې ده. خو دَ بېلیو په تتبع کښې "هواد" نظرانداز کړے شوے دے. دَ "هیواد" دَ معنی په ضمن کښې خېراللغات کښې داسې صراحت شوے دے:

هیواد. مذکر. ملک، وطن، اطراف (۹۳)
هم دغسې دَ "یواد" معنی داسې شوې ده.

یواد. مذکر. لرې ملک (۹۴)

خېراللغات کښې البته دَ یو نوی توری "یوادین" داسې تشریح شوے ده.

یوادین. دیکهو یواد. (وګورئ یواد) (۹۵)

دا هم هغه تورے دے چې دَ بهرام شهزاده او ګل اندامې په قصه کښې دَ "هوادین" په شکل راغلے دے.

دَ خېراللغات معنی په دې لحاظ دَ راورټی او بېلیو په تقلید او دَ یوادین په سلسله کښې په قیاس مبنی دی. او لکه څنګه مو چې عرض کړے وه دَ "یواد" تورے هم زمونږ په ادبیاتو کښې چرې نه دے استعمال شوے. نو ځکه دَ لغت دا کتاب هم دَ دې لفظ دَ معنې په ضمن کښې زمونږ پوره رهنمائی نه کوی.

راحت زاخیلی مرحوم

دَ راحت زاخیلی مرحوم "لغات افغانی" دَ پادری خېرالله دَ کتاب کټ مټ نقل دے. دواړو کښې صرف دا فرق دے چې دَ راحت صاحب په "لغات افغانی" کښې دَ "زاخېل" ټکے زیات دے او دَ خېرالله په خېراللغات کښې مسیحی اصطلاحات زیات دی ځکه نو دَ راحت صاحب په "لغات افغانی" کښې هم دَ "هیواد" "یواد" او "یوادین" هم هغه معنې شوی دی چې پادری خېرالله کړی دی. او دَ پادری خېرالله په شان راحت زاخیلی مرحوم هم دَ "هواد" تورے نظرانداز کړے دے (۹۶) ماسره چې دَ "لغات افغانی" کومه نسخه ده ناقص الاول ده ځکه دا پته ترې نه لګی چې راحت صاحب دا کتاب کله چاپ کړے وه. خو هر کله چې خېراللغات په ۱۹۰۶ کښې چاپ شوے

وه او دَ کاپي رائټ دَ قانون لحاظ کهه ساتلے شوے وی نو کهه پنځوس کاله نه وی نو دېرش کاله خو به راحت صاحب خامخا په دې غرض هم تاخیر کړے وی چې له خلقو ځنې دَ خېرُالله کتاب هېرشی او بیا دې هم هغه کتاب په خپل نوم چاپ کړی.

دَ نورو کتابونو په باره کښې خو حتمی طور سره زه څه نه شم وئیلے خو دَ مرحوم راحت زاخیلی دَ کتاب "لغات افغانی" په سلسله کښې په کلکه سره وئیلے شم چې دَ پټې خزانې دَ چاپ کیدونه مخکښې دَ حبیبي مرحوم له نظره دا کتاب تېر شوے وه. ځکه چې دَ "خوشحال خان خټک مرغلرې" په ص ۹۹۷ ئې دَ راحت زاخیلی حواله ورکړې ده.

دَ گل محمد خان مومندؒ په "پښتو سیند" کښې دا لفظ له سره شته نه ځکه نو دَ دې کتاب دَ حوالې ضرورت نه پېښېږی.

له دې نه پس دَ پښتو قاموس (دوه ټوکه)، ظفراللغات دَ پښتو اکیډیمی "پښتوژبه" دوه ټوکه او دَ افغانستان دَ "تشریحی قاموس" درې ټوکه چاپ شوی دی. "پښتوژبه" او "تشریحی قاموس" لامکمل شوی نه دی ځکه نو دَ "هواد" په باره کښې دَ دوی دَ معنو په باره کښې څه وئیل لا قبل اَز وقت دی. البته دَ دې لفظ دَ یو شکل "ایواد" چې پخوانیو ډکشنریو کښې نه دے راغلے دَ دیو کتابونو دَ الف پټۍ کښې دا معنے شوی دی.

۱. ظفراللغات. ایواد. هواد. لرې. وطن. هواد. وطن. ملک
۲. پښتوژبه. هواد، هېواد، وطن، مملکت، لرې وطن.
۳. تشریحی قاموس: وګورئ هواد (او دا سلسله لا تر "ه"

نه ده رسېدلې).

دې دوران کښې دَ "زړه پانګه" په نوم یوه ډېره وقیعه ډکشنری دَ ښاغلی دوست شنواری له خوا چاپ شوې ده. چې پکښې ئې دَ "هواد" دا معنے کړی دی. ۱. وطن. مملکت. ملک. ۲. لرې وطن لرې ملک. بېدیا (۹۷)

له دې نه علاوه په ۱۹۷۶ کښې زما دَ مقالې دَ چاپ کېدونه پس چې افغانستان کښې متنونه چاپ شوی دی دَ هغو فرهنګونو کښې دَ "زړه پانګه" په شان 'وطن' او لرې ځائې دواړه معنې شوی دی (۹۸)

لغوی تحقیق

له دې پورته ذکر شوی معروضاتونه به ښاغلیو لُستونکیو ته معلومه شوې وی چې:

۱. ټولو کلاسیکی لیکونکیو دَ 'هواد' اکی یوه معنی "لرې، فاصله" کړې ده.
۲. زمونږ دَ لغت کتابونو دَ دې ټکی معنی محض قیاساً کړې ده.
۳. په کتابی صورت کښې پُښتانه شعرأ وړومبے کتاب دے چې دَ هواد صرف او صرف یوه معنی "وطن" کوی او دې معنې له ئې رواج ورکړے دے.
۴. زما دَ مقالې (۱۹۷۶) دَ چاپ کېدونه پس اوس دَ افغانستان محترم لیکونکی دَ 'هواد' دَ دې بلې معنې "لرې، فاصله" هم قایل شوی دی خو دلته دا سوال اهم دے چې دا دویمه معنی دوی اول ولې نه کوله. آیا دَ دې دا مطلب خو نه دے چې دَ 'هواد'

د دواړو معنو د تسلیمولو په صورت کښې هغوی زما د دې تنقید محل نیول غواړی چې د 'هواد' د لفظ په "پته خزانه" کښې غلط استعمال د پټې خزانې د ریښتونې خلاف ثبوت دے۔ او چې دوی دا ومنی چې د 'هواد' دوه معنې دی نو د دوی د پاره به دا اسانه شی چې د "محمد هوتک" له خواد "هواد" د غلطې معنې دفاع وکړی۔ حُکه نو زه اوس په دې اصرار کوم چې د "هواد" معنیٰ "وطن" کول بالکل غلط دی۔

د 'هواد' د لغوی تحقیق نه دا معلومیږی چې دا لفظ د پښتونه دے۔ بلکې دا پښتو کښې د خیل لفظ دے۔ چې مونږ د عربی د لفظ "جواذ" نه اخستے دے۔ د "جواذ" نه دا لفظ "هواد" شوے دے یعنی 'ج' په "ه" او "ذ" په "د" بدل شوے دے۔ لکه چې عامه قاعده ده چې "ج" په "ه" او "ذ" په "د" بدلیږی۔ مثالونه یې دا دی۔

جبا - هبا۔ (بخښل)

جناح - گناه او

۱- استاذ - استاد ۲- بذرقه - بدرقه ۳- همزان - همران

۴- زره (زغره) ورع ۵- حازق - حارق ۶- گنبذ - گنبد

۷- نبیذ - نبید ۸- اذر - ادر

اوس په عربی کښې د "جواذ" معنې چې گورو نو مختلف لغتونو یې دا معنې کړې دی۔

د شتاین گاس لغت۔ فرهنگ استینگاس : فاصله

لغات کشوری : بُعد - لرې والے

المنجد (عربی - اُردو) دوری - جُدائی

منتخب اللغات دوری (۹۹)

د دې ټول بحث نتیجه دا راوخته چې د "هواد" لفظ زمونږ په ادب کښې له عربی راغلے دے او هرڅوکه شکل یې بدل کړے دے خو معنیٰ یې بالکل نه ده بدله کړې او پښتو کښې چې هرچرته دا تورے استعمال شوے دے۔ نو معنیٰ یې هم "فاصله، بُعد، لرې والے اوجُدائی" ده حُکه نو "پته خزانه" کښې د دې ټکی په موجوده معنو کښې استعمال د دې خبرې نسبه کافی ثبوت دے چې پته خزانه د دولسمې صدی لیکونکی نه بلکې د دې دور د لیکونکی "کارنامه" ده۔ که داسې نه وے نو چرته یوځائې کښې خو به د 'هواد' معنیٰ فاصله هم راغلے وے۔

او هم له دې دلائلو دا هم ثابتیږی چې د افغانستان د محترمو لیکونکیو په موقف کښې دا تبدیلی چې د 'هواد' معنیٰ "وطن" او "لرې ځائې" دواړه دے یو After thought. دے۔ چې محض او محض زما د تنقید د "بې اثره" کولو د پاره وضع شوې دے حالانکې دا بناغلی دا هیڅ ثابتولے نه شی چې زما د مقالې (۱۰۰) نه مخکښې دوی چرته یوځل هم د دې لفظ معنیٰ له "وطنه" بغیر بل څه کړی وی۔ او چې داسې یې نه ده کړې نو بیا به په دې ادب دا ووایم چې د هواد په معنیٰ کښې دا تبدیلی "مشت بعدازجنگ" دے۔ حُکه چې ترڅو د "هواد" په معنیٰ اعتراض نه وه شوے او د دې اعتراض له کبله د پټې خزانې اصلیت په شک کښې نه وه پرېوتے تر هغه وخته د افغانستان یو محترم لیکونکی ته هم دغه

دویمه معنی یاده نه وه. او که هر څو ځنې فرهنګ لیکونکیو ئې دغه معنی قیاسا کړے وه بیا هم دَ افغانستان محترمو فرهنګ لیکونکیو دَ "هوا" دغه دویمه معنی نه تسلیموله او اوس ئې ځکه تسلیموی چې که چرې داسې و نه کړې نو دَ پټې خزانې حقیقت به څرګند شی.

گروهېدل

دَ پټې خزانې په هغو ټکو کښې چې غلطو معنو کښې استعمال شوی دی چې دَ "محمد هوتک" په زمانه کښې ئې چا تصوّر نه شو کولے یو تورے "گروهېدل" دے. دا تورے په "پټه خزانه" کښې دوه ځل راغلے دے. یو ځل دَ شیخ رضی لودی علیه الرحمه" په ذکر کښې داسې راغلے دے.

"..... له دوی څخه ئې دَ الحاد او اسماعیلی فرقې عقائد زده کړل او وګروهېدې" (۱۰۱)

دَ دې فقرې ترجمه ښاغلی عبدالحئی حبیبی مرحوم په دې شکل کړې ده.

"..... از ایشان الحاد و عقائد فرقهٔ اسماعیلی را اموخت وَ به عقائد انها گردید و ملحد گردید (۱۰۲)

دَ "گروهېدل" په توری دَ ښاغلی حبیبی مرحوم نوټ دا دے گروهېدل. مصدریست که ریشه آن بلاشبه همین گروه است که بمعنی دین و کیش درین اشعار آمده و اکنون از بین رفته (۱۰۳) فقط مصدر گروهېدل بمعنی "گرویدن" عقیدت داشتن در متوسطین هم زنده بود خوشحال خان فرماید.

نه ئې زړه په ما نرمیږی نه گروهیږی
خدایه څه مې سروکار شو له کافره

از موارد یکه کلمه گروه و گروهېدلے مکرراً درین اشعار آمده پدید می آید که قدماء کیش و دین را گرو میگفتند. چنانچه در نسخهٔ اصل هم ناسخ بالائے کلمه گروه بیت اول (ای دین) نوشته. و گروه و گروهېدل بمعانی دین و قبول کیش از غنائم ذخائر ادبی ماست که درین گنجینه نهفته و میتوانیم این مواد از دست رفته و از تداول افتاده زبان را اکنون واپس زندگانی دهیم (۱۰۴)

ترجمه: گروهېدل یو مصدر دے چې ریشه ئې بې شکه هم دغه گروه دے. او اوس له مینځه تللے دے. فقط مصدر گروهېدل "گرویدن او عقیدت داشتن" په معنی کښې په متوسطینو کښې هم ژوندے وه خوشحال خان فرمائی:

نه ئې زړه په ما نرمیږی نه گروهیږی
خدایه څه مې سروکار شه له کافره

هغو ځایونو کښې چې دَ گروه او گروهېدل کلمه بار بار په دیو شعرونو کښې راغلې ده. ښکاری چې مشرانو به مذهب او دین ته گروه وئیل. لکه چې په اصل نسخه کښې هم په وړومبی بیت، نسخه نویس دَ دې لفظ دَ پاسه "ای دین" لیکلی دی. او دَ دین او مذهب دَ قبلولو په معنو کښې گروه او گروهېدل زمونږ دَ ادبی ذخیرو له غنیمتونو ځنې دی چې په دې خزانه کښې پټ وو او مونږ کولے شو چې دا له لاس تللے او له رواجه پرېوتلے دَ ژبې ټکے اوس بیا واپس راژوندے کړو"

دَ دې "مړ" ټکی معنې په ډکشنریو کښې وګورئ.

۱- دَ کرستومېتی فرهنګ.

"خفه کېدل. ماتم کول. ویر کول. دړدېدل. شاید دَ هندی

کړهنا ځنې"

۲- راورټی -

متابعت کول، خوښول. ستائیل - منل - اعتماد لرل. زړه راښکون

دَ توجه مرکوزېدل.

۳- بېلیو:

خوښول - متابعت کول - زړه راښکون - پنډېدل - ویرېول.

ادب کول. احترام کول (له فارسی گرویدن)

۴- خېراللغات:

دې کتاب او لغات افغانی گروهېدل او گروېدل دواړه راوړی دی او بیا ئې داسې معنې کړی دی.

پیروی کول. اعتقاد لرل.

۵- لغات افغانی - دَ 'هواد' او نورو توریو غُندې دَ گروهېدل او گروېدل معنې راحت مرحوم هم هغه کړې دی کومې چې دَ خېراللغات لیکونکی کړی دی.

۶- پښتو سیند:

دَ وزیر گل محمد خانؒ دَ "پښتو سیند" دَ گروهېدل معنې داسې کوی. اندیشه کردن از عقوبت (له عقوبته اند ېښنه کول)

"میر دې اکرب باندې چې دا ظلم کوې نه گروهیږې (بریں بے چاره که این ظلم را می کنی از روز باز پرس اندیشه نمی نمائی) دا چاره خو به وکړم مگر گروهېدم. (این کار را که خواهم کرد مگر اندیشه می نمایم) دا مصیبت راپېښ شه لا هم نه گروهیږی. (این مصیبت برائش مطلع داده هنوز هم نمی نماید).

وزیر صاحب مرحوم زمونږ معنې ته ډېر نژدې بلکې تقریباً هم هغه معنی ئې کړې ده.

پښتو قاموس:

پښتو قاموس دَ دې توری هم هغه معنی کړې ده لکه چې "پټه خزانه" کښې ښاغلی حبیبی کړې ده. خو دومره یاد ساتل پکار دی چې پښتو قاموس دَ پټې خزانې دَ چاپ کیدو نه پس په ۱۳۳۰ هش (لومړے ټوک) او ۱۳۳۳ هش (دویم ټوک) کښې چاپ شوے وه.

پښتو ژبه

پښتو ژبه او تشریحی قاموس لا تر "گ" نه دی رسېدلی ځکه نو دَ لُغت په دې کتابونو کښې لا دَ "گروهېدل" معنی نه ده راغلې.

دَ ډکشنریو دَ دې معنو نه دا څرگندیږی چې لکه دَ "هواد" دَ 'گروهېدل' په سلسله کښې هم دَ لغت دَ دیو کتابونو دَ مرتبینو (بغیر دَ پښتو سیند نه) صرف دَ اټکل نه کار اخستے دے - او لکه دَ "هواد" دَ مفهوم غندې چې دَ راورټی اټکل حقیقت ته لږ نژدې شوے دے دغسې دَ گروهېدل په سلسله کښې دَ بېلیو قیاس په جزوی طور صحیح شوے دے.

اوس به وگورو چې دَ پښتو لیکونکیو دا تورے په کومو معنو کښې استعمال کړے دے. دَ "گروهېدل" په سلسله کښې ښاغلی حبیبی مرحوم دَ پټې خزانې په نوټ کښې دَ خوشحال بابا یو شعر دَ خپلې دعوې په ثبوت کښې ورکړے دے. چې دَ نوټ په اقتباس او ترجمه کښې ئې ذکر وشه او اگر چې دغه شعر کښې ئې هم معنی هغه نه ده چې حبیبی مرحوم وئیلی ده خو بیا هم دغه شعر به په ځائې پرېږدو

او لهه نورو شعرونو ځنې به دَ "ګروهېدل" په معنٰی دَ پوهېدلو کوشش وکړو.

خوشحال خان خټک لهه دغه بره ذکر شوې شعر نه علاوه په لاندینیو شعرونو کښې ګروهېدل استعمال کړے دے.

مونږه به ومرو هسې پوهېږو
باران مو لاړل لا نه ګروهېږو

که ورته وائی کله پوهېږی
قرآن که لولی کله ګروهېږی (۱۰۵)

چې بادشاه پرې نه ګروهېږی
نه ئې زړه باندې شرمېږی (۱۰۶)

مومنان دې وګروهېږی
په صراط به ګزر کېږی

دا هم کفر دے چې کېږی
په قیامت چې نه ګروهېږی (۱۰۷)

دیو شعرونو کښې دَ 'ګروهېدل' معنٰی "ویرېدل" خاص طور سره دَ "ما فوق الفطرت نه ویریدل" ده. خو هر کله چې دَ ما فوق الفطرت نه دَ ویرېدو په نتیجه کښې په مافوق الفطرت دَ ایمان پېدا کېدل ضروری دی نو ځکه حبیبی صاحب او نورو

مستشرقینو ته دَ دې لفظ صحیح مفهوم ته په رسېدو کښې اشکال پېدا شوے دے. او هغوی هغه معنٰی یعنی 'عقیده لرل' کړې ده چې دَ ګروهېدلو په نتیجه کښې پېدا کېږی.

دَ عبدالقادر خان خټک په "یوسف زلیخا" کښې هم دا تورے دوه وارې راغلے دے،

که باور کړې به ګروهېږې
ته مې روح ئې که پوهېږې

دا ناست بد دی که پوهېږې
ما رُخصت کړه که ګروهېږې (۱۰۸)

دَ دیو دواړو شعرونو سیاق و سباق نه دا څرګنده ده چې دلته دَ ګروهېدل معنٰی "گرویدن، عقیدت داشتن" نه بلکې ویرېدل دی. ځکه چې دَ وړومبی شعر نه پس زلیخا خپلې دائی ته وائی.

که زما له خونه ډار کړې
ته به سعی په دا کار کړې (۱۰۹)

او دلته دَ "ډار" دَ استعمال نه واضحه شی چې دَ "ګروهېدل" معنٰی هم "ډارکول" دی.

دویم شعر کښې دَ حضرت یوسفؑ دَ هغه وېنا ذکر دے چې هغوی زلیخا ته کولو.

عنایت وکړه راباندې
چې زه ووځم دَ باندې

ادبیا

دا ناست بد دی کـه پوهیږي
مـا رخصت کـړه کـه ګروهیږي (۱۱۰)

"یعنی ستا او زما دا یواځي ناسته بده خبره ده اوکه (الله خدایه) ویرېږی نو ما رخصت کړه" اوس که د شعر سیاق وسباق اوجوړښت د نظر لاندې وساتلے شی نو د "ګروهیدل" اکی یوه معنی "ویرېدل" له دې دواړو شعرونو ځنې راووځی۔

سکندرخان ختک

د سکندرخان ختک دیوان کښې دوه ځله دا تورے راغلے دے۔

اعتقاد د خلقو ست شو نه ګروهیږی
چې په ځبله خوری وارې دی اسان اوس

چې پوهیږی نه ګروهیږی
اختیار تا وته رُخصت دے (۱۱۱)

په وړومبی شعر کښې د اعتقاد د سستېدو په نتیجه کښې د "نه ګروهیدلو" مطلب "له خدایه نه ویرېدل" دی اوهم د دې معنی په رښا کښې د بل شعر معنی پخپله صفا شی۔

خواجه محمد بنګش

د خواجه محمد بنګش چاپ شوی دیوان کښې درې واړې په فعل حال کښې دا لفظ استعمال شوے دے:

ولې نه ګروهیږي اے زما خاطره سنګه
وار په وار مین یاران کمیږی درنګ تر درنګه

د خواجه محمد په اه ې ترس نه شی
د بنائسته و زړونه سنګ دی نه ګروهیږی

[چې] (په هرلور؟) د مرګ د مامه اوږې نه ګروهیږي
ولې کوې شوې ته د غوږو په شپېلۍ (۱۱۲)

وړومبی او وروستی شعر کښې ګروهیدل د خوشحال بابا د کلیات د شعرا و دویم شعر د "ترس" د قرینې په رښا کښې بې له "ویرې" نور هیڅ مفهوم نه بښندی۔

د رحمان بابا شعر

ګُل لمبه شه د بلبل په اه رحمانه
نه ګروهیږی یار په هائ و هو د ستا (۱۱۳)

نه دې نه مخکښې سره د نورو شعرونو ګرانو لُستونکیو ته پیش شوے دے۔

د پښتو خزانې مطابق د رحمان بابا "شاګرد" یونس په خپل دیوان کښې درې ځل دا لفظ راوړے دے۔

نرم دل به په ژړا د خوار ګروهیږی
په اُبه کله نرمیږی سنګلاخ

مرم د ستا له دسته
نه ګروهیږي دل سنګینې

دَ عاشق پهه اوښیو نرم زړه ګروهېږی
نرمېده پهه ابو ترارو لره نهه دی (۱۱۴)

دیو درېو واړو شعرونو کښې دَ ګروهېدل معنیٰ "ګرویدن او عقیدت داشتن" نهه شی کېدے بلکې درې واړه ځایه ئې معنیٰ "ترس او ویره" ده. او کهه "ګرویدن او عقیدت داشتن" ئې معنیٰ وکړے شی نو دَ شعر مفهوم به غائب شی.

حمید مومند

دَ حمید بابا پهه کلام کښې دا تورے دوه ځل راغلے دے یو ځل "قصه شاه ګدا" کښې تورے داسې راغلے دے.

شاه وے دا زما ابروئ دے وپوهېږه
تفاوت پهه دا کښې نشته وګروهېږه (۱۱۵)

او دویم ځل دَ غزل پهه دې شعر کښې:

پهه دا خدائ چې دَ هرچا دے نهه ګروهېږی
واړوم لهه رقیبانو پهه کوم خدائ دوست

دَ دې شعر معنیٰ راورتی داسې کړې ده.

Since she fearth not that God who is the God of all. By the assistance of what Diety shall I divert my friend from the keefers.

یعنی هغه لهه هغه خُدایه نهه ویرېږی چې دَ ټولو خدائ دے (اوس) دَ کوم خدائ پهه مدد زه خپل یار لهه رقیبانو واړوم (۱۱۶)

نجیب

دَ نجیب دیوان کښې دوه ځل لهه دې مصدره "فعل حال" استعمال شوے دے.

رقیب کا پهه ما ناسازې صنم هم
نهه ګروهېږی پهه مسجد پهه حرم هم

او

چې پهه روی دَ خدائ رسول هم نهه ګروهېږی
اے نجیبه رقیب هسې شان بے دین دے (۱۱۷)

دې دواړو شعرونو کښې دَ مقدسو ځایونو او هستیو دَ ذکر پهه قرینه دَ "ګروهېدل" مفهوم نور هم روښانه شی او هر لُستونکے پهه دې قانع کېږی چې دَ "ګروهېدل" معنیٰ "ګرویدن، عقیدت داشتن" دَ څهه غلط فهمی پهه بنا شوې ده.

حسین

دَ حسین پهه دیوان کښې څلور ځل دَ "ګروهېږی" تورے استعمال شوے دے.

کهه ګروهېږی هغه یار زما پهه وینو
در مجره به کرم دَ زړه دُرر عجب

عبث وایم بې کسی خپله رقیب ته
نهه ګروهېږی پهه مسلم ترسا زندیق

څه زما دَ یار ترمیان غمازه ګورے
نه ګروهیږی یک دلان په چوغلۍ

چې جوپی ئې دَ یار غم لکه ګنے
په زاری مې دَ یار سترګې نه ګروهیږی (۱۱۸)

دې څلورو واړو مقاماتو کښې دَ مضمون، قرینې او تلازمو له کبله دَ ګروهېدل معنی صرف "ویرېدل" کیږی.

رحمت داوے

اوکه دا ټول مثالونه دَ ګرانو لُستونکیو په قانع کولو کښې ناکام شو نو دَ "محمد هوتک" او دَ ښاغلی عبدالحئی حبیبی دَ کلی وال رحمت داوی دا شعر دې وځیرئ.

خوار حیران پر زړه زبون درته ولاړ دی
دَ مظلومو له ازاره وګروهیږه (۱۱۹)

دلته دَ "ګروهېدل" معنی "ګرویدن" یا "عقیدت داشتن" هډو کېدے نه شی او صرف یوه معنی "ویرېدل" ئې ممکنه ده.

دَ مزې خبره داده چې رحمت داوے دَ "محمد هوتک" زمانې ته ډېر نژدے دے او دا عذر هم څوک نه شی پېش کولے چې په یو وخت او یو جغرافیائی ماحول کښې دَ یو لفظ دوه بیلې بیلې معنې وی.

دَ افغانستان محترمو لیکونکیو ته دَ "ګروهېدل" دَ معنو په سلسله کښې چې کومه غلط فهمی شوې ده شاید چې دَ هغې یو بنیاد دا هم وی چې افضل خان په تاریخ مرصع کښې دا لفظ په یوه داسې طریقه استعمال کړے دے چې معنی ترې "ټولېدل"

هم راځی. افضل خان وائی.

"هغه پښتانه وغېره چې دَ پیر روښان مریدان وو واړه زیات له پیر روښانه په دهه وګروهېدل. (ص - ۲۵۰)

دلته دَ ګروهېدل هغه معنی نه ده کومه چې دَ افغانستان محترم لیکونکی له دې لفظه وکښل غواړی بلکې دَ دې لفظ معنی دَ سیاق و سباق په رڼا کښې "پنډېدل" او "جمع کېدل" دی. او دا دَ فارسی دَ "گروه" نه دَ افضل خان خپل جوړ کړے مصدر دے. داسې مصدرونه خوشحال بابا هم جوړ کړی دی دَ مثال په طور:

یا فریاد فریاد فریاد کړه
ژاړه تار په تاروه ئې

یا هغه غزل چې مطلع ئې دا ده.

بې یاریه دې دا خوار مری یاره وې ئې
رقیبان په دا خواریږی خواره وې ئې

او پکښې "ښکارول او شمارول مصدرونه هم راغلی دی.

له ښه مرغه دَ "ګروهېدل" په ضمن کښې تر اوسه دَ افغانستان محترمو لیکونکیو هغه دعوی نه ده کړې چې دَ 'هواد' په سلسله کښې ئې زما دَ مقالې له چاپ کېدو نه پس کړې ده یعنی چې دَ "پښتو" په ادبیاتو کښې دَ 'هواد' معنی "وطن" او "لرې ځائې او فاصله" دواړه راغلی او ځکه دواړه صحیح دی. په دې وجه به اوس خامخا دا منل وی چې دَ "ګروهېدل" معنی "ګرویدن، عقیدت داشتن" دَ 'محمد هوتک' په کتاب او دَ کتاب په حاشیه کښې دَ یوه لیکونکی له ذهنه راوتې ده. دَ "محمد هوتک" په "پټه خزانه" کښې راغلی دی.

"نقل هسې کا: نصر دَ شیخ حمید زوئ په ملتان کښې دَ ملاحده
له استاځو سره کښېنوست، او له دوی څخه ئې دَ الحاد او اسماعیلی فرقې
عقاید زده کړل او وګروهېدئ دَ دوی په اعتقاد او ملحد شو (۱۲۲)

دَ دې عبارت ترجمه فاضل استاد حبیبی مرحوم داسې کړې ده
"چنین نقل کنند که نصر پسر شیخ حمید در ملتان با رسولان ملاحده نشست و از ایشان
الحاد و عقاید فرقهٔ اسماعیلی را آموخت و به عقاید آنها گروید و ملحد گردید" (۱۲۳)

دَ پښتو او فارسۍ دواړو ژبو عبارتونو کښې دَ "ګروهېدل" دَ کلمې
هغه معنی نه راځائیږی چې زمونږ دَ خپلو شاعرانو له دیوانونو او
کتابونو څخې ثابته کړې شوې ده.

دا کلمه دَ "شیخ رضی علیه الرحمه" کلام کښې داسې استعمال
شوې ده

لرغون ولې ګروهېدلې
چې دې ګوښې اړاوه

حبیبی مرحوم ئې فارسی ترجمه داسې کړې ده.

اول چرا میگرویدی که تنها تبدیل کردنی بودی (۱۲۴)

دلته هم دَ "ګرویدن" هغه معنی استعمال شوې ده چې دَ "ګروهېدل"
کلمه ئې هډو ګنجائش نه لری.

هم دغه دَ "ګرویدن" معنی په دې عبارت کښې هم ده "چې
شیخ لوئې لوئې کرامات ښکاره کړل او خلق په وګروهېدل"
ترجمه:

"که شیخ کرامات بزرگی را ظاهر کرد و مردم به وے گرویدند" (۱۲۵)

نو زما په خیال یواځې دَ "ګروهېدل" دا بېلګه چې "پټه خزانه"

کښې راووځی نو دا څرګندوی چې دَ متن لیکونکی دَ حاشیه لیکونکی نه
"املا" اخستې ده.

کلن

دا تورے "محمد هوتک" په خپل کتاب "پټه خزانه" کښې دَ کال
دَ صفتی شکل په معنی استعمال کړے دے مثالونه ئې دا دی:

۱. پادشاه ظل الله څوارلس کلن وه.
۲. محمد یونس په دغه کال یو دیرش کلن ځوان وه.
۳. په عمر درېشت کلن دے.
۴. په عمر ډېر پوخ سړے وه. اتیا کلن (۱۲۶)

دَ پښتو دَ ګرامر یوه عامه قاعده دا ده چې دَ وخت او زمانې
سره دَ صفت نسبت لرونکیو تورو اخرته "ئے" راځی. دَ مثال په طور
ننني، سبانے، پرونے، بېګانے، سږنے، پخوانے، پروسږنے، وړم کلنے
وغېره.

دَ پښتو په فرهنګونو کښې هم دا حقیقت تسلیم شوے دے لاندې
زه دَ پښتو دَ ځنو فرهنګونو حوالې ورکوم.

۱. کرستومیتی. کلنے. زوړ. لکه شپږ کلنے. چې دَ شپږو کالو وی.
۲. راورځی. کلنے. (ترکیبی) دَ شمېر سره استعمالېدونکې لاحقه چې دَ
هغه هومره کلونو دَ زړتابه څرګندونه کوی لکه شپږ کلنے. دَ شپږو
کالو.
۳. بېلیو. کلنے. کلمو سره ترکیب کښې زمانه ښئ لکه پینځه کلنے
دَ پنځو کالو.
۴. خیرالله پادری. کلنے. دا لفظ له "کاله" څخه مشتق دے او

همېشه دَ عدد په اخر کښې راځي. لکه لس کلنے. دَ لسو کالو. یعنی دَ لسو کالو دَ عمر.

۵. راحت زاخېلی مرحوم: هم هغه څه چې خېرالله پادری لیکلی دی

۶. پښتو سیند کښې کلن او کلنے دواړه نشته.

یوه اهمه خبره دا ده چې دې وړومبیو پینځو واړو کتابونو کښې دَ "کلن" لفظ نه دے اخستے شوے. صرف دا یو حقیقت چې دَ لغت په ټولو کتابونو کښې "کلنے" شته او "کلن" نشته دَ دې خبرې ثبوت دے چې "کلن" یو ډېر نوے ټکے دے او په ۱۱۴۲ھ کښې هډو استعمال نه وه. خو بیا هم دَ اتمام حجت دَ پاره زه لاندې له پښتو ادبیاتو نه په نظم او نثر کښې ځنې مثالونه راوړم.

دَ علی خان استاذ، مرشد او "صاحب" بیاض وائی.

دَ اختیار واکې مې وختې له لاسه
په ښائسته چې مې زړه بند څو کلنے شه

دا کلمه دَ "محمد هوتک" زمانې ته نژدې دَ هغه "وطندار" یو ځل او دَ فوائد الشریعه لیکونکی په خپل کتاب کښې درې ځله په نثر کښې راوړې ده.

که نظم کښې "کلنے" راشی نو دا اعتراض پرې کېدے شی چې دَ ضرورت شعری په تقاضا داسې شوی دی خو نثر کښې دَ "کلنے" په استعمال دا اعتراض هم نه پېدا کیږی.

وړومبے نثر کښې دَ "کلن" په ځائې دَ "کلنی" دَ استعمال نمونه دَ "محمد هوتک" دَ "هم عصر" او "هم وطن" حافظ محمد امین سر پرېکړی له تحریره ورکوم چې دَ ده دَ ځوی حافظ نور محمد په

کتاب "دَ برېښنا کیسه" کښې ورکړے شوې ده. وهو هذا:

"زه په دې غزا کښې ۳۶ کلنے وم دَ جنګ په فنو او فتورونو ګړندے وم" (۱۳۸)

دَ فوائد الشریعه مثالونه وځیرئ:

۱. "بعض وائی چې اول حضرت آدمؑ وه بنا کړې. دویمه بنا دَ حضرت ابراهیم خلیل الله وه چې ثابته پر ایت ده. دریمه بنا دَ قریشو چې حضرت له دوی سره وه. دے پینځه ویشت کلنے وه"

۲. په مکه کښې په هغه وخت کښې بی بی عائشهؓ شپږ کلنۍ او یا اووه کلنۍ وه. رسول کریمؐ چې هجرت وکړو مدینې ته پاک سرورؐ له دُنیا تېر شه دا اتلس کلنۍ وه"

۳. حضرت حسینؑ پینځه کلنے وه. (۱۲۹)

دَ برټش او فارن بائبل سوسائټی له خوا چاپ شوی دَ زړې عهد نامې کتابونو کښې یو دیرش ځله دا کلمه "کلنے" استعمال شوې ده. چې حوالې ئې دا دی:

پېدا وښت: ۲۰، ۲۸، ۲۹، ۷۱

خروج: ۱۳۳، ۱۷۸، ۲۳۱

احبار: ۲۶۰، ۲۶۰

شمار: ۲۹۴، ۲۹۴، ۲۹۵، ۲۹۵، ۲۹۵، ۲۹۶، ۲۹۶، ۲۹۶، ۲۹۶، ۲۹۷، ۲۹۷، ۲۹۷، ۲۹۸، ۲۹۸، ۲۹۸، ۲۹۸، ۲۹۸، ۳۵۰

یشوع: ۲۹۶

قاضیان: ۵۴۱

عذرا۔ نحمیاه۔ ایستر۔ ٦

روز نامه ۔ ٦٠ ۔ ۱۲۵

د زړې عهد نامې د کتابونو ترجمه کونکی قاضی عبد الرحمٰن او غلام جیلانی دی۔ د قاضی عبد الرحمٰن په باره کښې د "فرهنگ زبان و ادبیات پشتو" کران مؤلف زلمے هپوادمل وائی :۔

..... در حدود ۱۳۰۰ھ ق ..... زندگی می کرد۔ قاضی شاعر و عالمے از قوم بابوزئی سوات بود..... و در ترجمه سیر السالکین حصه داشت (۱۳۰) یعنی "قاضی عبدالرحمٰن د دیارلس سوه په حدودو کښې ژوند تېرولو د بابوزیو عالم وه او د سیر السالکین په ترجمه کښې یې حصه لرله" او غلام جیلانی هغه خوش نویس دے چې د پادری تی پی هیوز د پاره یې هغه ټول کتابونه لیکلی دو چې څه پکښې چاپ شوی (لکه دیوان د رحمٰن بابا۔ کلیدِ افغانی) او څه لا تر اوسه ناچاپه پراته دی۔

د دې متعلق هم فرهنگ زبان و ادبیات پښتو معلومات ورکړی دی۔ دا کتاب وائی "د حدود قرن سیزدهم در پشاور میزیست خطاط گزیده و نثر نگار پښتو بود۔ نسخ زیادی را به انگلیسها خطاطی نمود و انجیل مقدس را به نثر پښتو ترجمه داشت (۱۳۱)

ترجمه : د دیارلسمې صدۍ په حدودو کښې په پیښور کښې ژوند ے وه د پښتو غوره خطاط او نثر نگار وه د پیر ګیانو د پاره یې د پرې نسخې لیکلے دے او انجیل مقدس یې په پښتو نثر ترجمه کړے وو"

بهرکیف دا دواړه ترجمه کونکی د دې قابل دی چې د دوئ په راې اعتماد وکړے شی۔ او دا خبره زړه کښې ونیولے شی چې که د دې کلې کوم بل شکل دیو لیکونکیو ته معلومه وے نو دوی به کم از کم یو څل

خو دا بل شکل هم پیدا کړ۔

په زړه عهد نامه کښې د "کلنے" د استعمال تفصیل د پاره دې مقالې سره منسلکه ضمیمه الف وکتلے شی۔

استوګه

ما د پښتو خزانې د قدامت او جدیدیت د امتحان په غرض یو بل لفظ "استوګه" خوښ کړے دے چې "پته خزانه" کښې د "استوګنه" په جدید شکل کښې راغلے دے۔

د دې ټکی د جدیدیت د ثابتولو د پاره درمره وښا کافی ده چې که یو خوا د دورن کرستومیتی، د راورټی او د بیلیو په فرهنګونو کښې دا کلمه د استوګې او استوګنې (استوڼې هم) په شکل کښې راغلې ده نو بل خوا خبر اللغات او لغات افغانی صرف په یو شکل یعنی "استوګنه" کښې راوړې ده او د دغه دواړو فرهنګونو چې د شلمې میلادی صدۍ فرهنګونه دی د دې کلمې زور شکل "استوګه" هم دغسې رد کړے دے لکه چې پښتو خزانې کړے دے۔ حالانکې د ټولو قلمی نسخو متفق علیه قرأت استوګه دے۔ مثالونه یې دادی۔

مخلص

د روښانیانو لوړې شاعر دا تورے په خپل دیوان کښې شپږ ځل د 'استوګه' په شکل کښې راوړے دے۔

د دنیا په نابود ملک استوګه کومه
څکه نوم یې په کتاب کښې دے اوجار

---

۲. دَ دنیا په اوجاړ سرائې کښې مقام مه کړه
هېڅ عاقل استوګه نه کړه په اوجاړ

---

۳. دَ نفسک په پلید ملک مه کړه استوګه
په کوشش دې پاک جنان وته وخېژه

---

۴. بې جهت به په جهت کښې کا استوګه
دے بې مثل په بې مثل کښې استان کا

---

۵. په ښی لوری دَ دل روح دَ زړه عالم دے
دَ نوسک شېطان استوګه پر لور چپ ده

---

۶. دانا کس سړے په خدائې لُخړه کیږی
په امېد ویره استوګه دَ غبار وی (۱۳۲)

دَ رحمان بابا دا شعر

همېشه به در په در ګرځې رټلے
دَ استوګې ځائې به نه مومې هېچرته (۱۳۳)

دَ رحمان بابا په ټولو قلمی نسخو کښې هم دغسې دے۔ او که څه اختلاف شته نو هغه دَ وړومبۍ مصرعې په وروستی ټکی "رټلے" کښې دے۔

اشرف خلیل

دَ اشرف خلیل په هغه غزل کښې چې دَ میاں حسیب ګل صاحب په مجموعه کښې راغلے دے یو شعر دا دے۔

دَ استوګې ځائې دَ هېچا دلته نشته
څوک دَ وړاندې څوک دَ وروستو قطار لاړل (۱۳۴)

یونس

دَ یونس دیوان کښې دا تورے دوه ځل راغلے دے۔

دا دُنیا څه دَ استوګې مقام نه دے
ته به څه دَ پلهه په سر باندې ولاړیې

نه شی په یوه خاطر دَ دوه مینو استوګه
یا به غم دَ ځان وی یا به مینه دَ جانان وی (۱۳۵)

دَ ورکې خزانې په اوّل جلد کښې دَ قادر دا شعر راغلے دے۔

چې اخر په دا دُنیا استوګه نه کړی
بېهوده دَ چا هوس په خارستان شی (۱۳۶)

"تاریخ مرصع" دَ زمانې په لحاظ پټې خزانې سره ډېر زیات نزدیکت لری۔ په دې کښې څلور دېرش ځایه دا کلمه دَ "استوګه" په شکل کښې راغلې ده۔ هم دغسې دَ زړې عهدنامې په کتابونو کښې یو یشت ځله او دَ پیر معظم شاه تواریخ حافظ رحمت خانی کښې څلور ځل دا کلمه دَ "استوګه" په شکل کښې راغلے دے۔ دَ تفصیل دَ پاره دې مقالې سره شامله ضمیمه "ب" وګورئ۔

دَ پلګرمز پراګریس په ترجمه "سیرالسالکین" کښې هم دا تکے دَ "استوګه" په شکل کښې داسې راغلے دے۔

"دَ هلاکت په ښار کښې استوګه کوی" (۱۳۷)

دیو ټولو قدیمو قلمی او چاپی نسخو کښې چې دا کلمه "استوګه" او "پټه خزانه" کښې استوګنه نو لُستونکے به بې لهـ دې نوره څه رائې قائموی چې "پټه خزانه" دَ خپل جدید لیکونکی قرأت استعمالوی. حالانکې اوس خو دا خبره دَ افغانستان محترمو نقادانو هم عملاً منلې ده چې دا تورے "استوګه" دے (۱۳۸)

دَ "هواد" "ګروهېدل" "کلن" او "استوګنه" دَ دیو څلورو بېلګو په موجودګۍ کښې دَ پټې خزانې اصلیت پخپله ښکاره شی. ځکه چې دَ دې څلورو کلمو معنې داسې شوی دی لکه چې نن ئې څوک کوی او ما دَ څلورو سوو کالو دَ نظم او نثر او دَ پښتو په ادبیاتو کښې دَ دیو څلورو کلمو دَ استعمال په ذریعه دا ثابته کړه چې د دیو توریو معنې او استعمال هغه رنګ نهـ دی لکه څنګه چې دَ "پټې خزانې" مؤلف "محمد هوتک" او دَ کتاب مشرح او مفسّر کړی دی او هر کله چې دَ دیو ټولو توریو معنې "جعلی" او "خودساخته" دی نو ځکه هم دغه حکم په "پټه خزانه" هم پکار دے۔

ولې دَ دیو څلورو کلمونه علاوه هم ډېرې کلمې دی چې دَ هغو په باره کښې دَ پټې خزانې دَ مؤلف "محمد هوتک او دَ پټې خزانې دَ مفسر او مشرح ترمېنځه" "تصادفاً" دَ رائې اتفاق دے او دا اتفاق داسې دے چې دَ پښتو او نورو ژبو فرهنګونو سره ئې ښکاره اختلاف دے او داسې ترې ښکاری چې دَ پټې خزانې دَ مؤلف او مشرح

دواړو لهـ نظره یا خو دَ فرهنګونو دا معنې تېرې شوې نهـ دی او یا بیا دیو دواړو په یو اتفاق دا معنې رد کړې او نوې معنې ئې ورلره ایجاد کړی دی. دې ضمن کښې دَ مزې خبره دا ده چې دَ دولسمې او څوارلسمې صدۍ ترمنځه هېچا هم په هغو معنو اتفاق نهـ دے کړے په کومو چې دَ پټې خزانې دَ مؤلف او مرتّب پخپلو کښې اتفاق شوے دے۔

دَ مثال په طور په "پټه خزانه" کښې دَ "ښکارندوی" دَ قصیدې دا شعر چې وګورو۔

دَ شهاب جګړن به نهـ کښېنی لهـ زغلو
نهـ به پرېږدی دا زلمی خپل بهیرونه (۱۳۹)

دَ دې ترجمه په فارسۍ کښې داسې شوې ده۔

لشکر شهاب از تاخت نخواهند نشست و این
جوانان سلسلهٔ رفتار خود را نخواهند گسیخت (۱۴۰)

دَ دې شعر په حاشیه ښاغلے حبیبی مرحوم لیکی:-

بهیر یا بییر۔ بمعنی قطار و جماعت مسلسل و سلسله مردمی است که متعاقب یکدیگر روند (۱۴۱)

یعنی قطار، مسلسل جماعت او دَ سړیو سلسله چې یو بل پسې وی۔

"شعر" کښې ئې هم دغه معنٰی کیږی خو دا معنٰی بالبداهت غلطه ده. ځکه چې بهیر دَ هندۍ کلمه ده چې فارسۍ کښې هم استعمالیږی او مختلفو فرهنګونو کښې دا کلمه په دې لاندې لیکلیو معنو کښې درج ده۔

رادرتی - بهیر-۱- د نوځ سامان ۲- هجوم (هندی)
شتائن کاس- بهیر- سامان- فوځ پسې تلونکی-
لغات کشوری- د بنکر بازاری خلق- دا د هندی کلمه ده-
مجمع اللغات- د چاروی خلق

او لکه څنګه چې عرض وشو که د دې شعر په معنی کښې د بهیر هغه مفهوم داخل کړے شی چې فرهنګونه یې ذکر کوی نو شعر بې معنی شی- د شعر معنی هله پیدا شی چې د بهیر هغه غلطه معنی وکړے شی چې د پټې خزانې فاضل مفتر یې کوی-

هم دغسې یو بل تورے ګوابن دے- د دې توری په باره کښې په نهرو پانو کښې هم عرض شوے دے- دا کلمه د شیخ بوستان برنځ قدس الله سره العزیز په "بدله" کښې داسې استعمال شوے دے-

"د خوږو زړو له حاله ته یې اے باداره اګاه
یې د بې وزلو همراه
د خپل عزت په روی "بستان" ته کړه د مهربندل
کړې له ګناهه ګوابنل (۱۴۲)

د دې "شعر" ترجمه بناغلی محشی، مشرح او مفسر داسې کړې ده-

اے خداوندا! تو از حال دلهائے افگار اګاهی
و همراه بیچارګانی
بر عزت خویش "بستان" را به مهر خود بنواز
واز گناه وے را دور بدار (۱۴۳)

د "ګوابنل" په توری په حاشیه کښې بناغلی حبیبی مرحوم دا نوټ لیکلے دے-

"ګوابنل" بسکون اول، امتناع و از فعل بدی کسے را منع کردن ګوابن هم بهمین معنی اکنون مستعمل است (۱۴۴)

(ګوابنل- د اول حرف (ګ- منزجم) په سکون- امتناع او له بده کاره څوک منع کول "ګوابن هم په دې معنی کښې اوس هم مستعمل دے"

د "ګوابنل" د دې کلمې معنې د پښتو په فرهنګونو کښې داسې ده-

۱- رادرتی

ګوابن- صلح- جوړه- ثالثی- مداخلت- مذاکرات- خبرې اترې- ګفتګو- جګړه هوارول- (د رادرتی ډکشنری)

ګوابنل- مینځګړتیا کول- جګړه ختمول- صلح کول- خبرې اترې کول- جوړه کول- د جګړې د هوارولو د پاره مداخلت کول-

۲- بهلیو

ګوابن: ثالثی- منځګړے توب- خبرې اترې- جګړه هوارول (د بهلیو ډکشنری)

ګوابنل/ګوابندل: جګړه کول- غصه کیدل- جګړې ته تیارېدل سخت ځواب ورکول- ګرمول- ثالثی کول- خبرې کول- د جګړې فیصله کول-

۳- خیر اللغات

ګوابن- صلح- اتفاق- آمادګی-

ګوابنل:- صلح کول- یوځاې کول- لمسول- اماده کول-

۴- لغات افغانی

گواښ: صلح، اتفاق، امادگی۔

گواښل: صلح کول۔ یوځائې کول۔ لمسول۔ اماده کول۔

۵- سیند

گواښ: دَ جنګ وهلو ټکولو په حالت کښې دوه کسان خپلو کښې خلاصول۔ دا ټکے له "روغه" سره فرق لری۔

گواښېدل: تهدید کول۔ ویرول۔

۶- پښتو قاموس

گواښ: ۱. له جنګه بیلول۔ ۲- تهدید

گواښل: ۱. له جنګه منع کول۔ ۲- تهدید کول

۷- زړه پانګه:

گواښل: له جګړې نه سره بیلول۔ تهدیدول

"سیند" "پښتو قاموس" او "زړه پانګه" افغانستان کښې چاپ شوی فرهنګونه دی چې په ترتیب په ۱۳۱۶ هش، ۱۳۳۳ هش او په ۱۳۶۳ هش کښې چاپ شوی دی۔ وړومبے فرهنګ دَ پټې خزانې له چاپ کېدونه اووه کاله اګاهو، دویم فرهنګ دَ دغه "تذکرې" نه لس کاله پس او دریم ترې څلو ېښت کاله پس چاپ شوے وه۔ اوکه دغه وړومبے چاپ شوے فرهنګ (سیند) هم کتلے شوے وے نو دَ پټې خزانې فاضل مرتب به دا نه وو فرمائیلی چې "گواښ هم په دې معنٰی کښې اوس هم مستعمل دے۔

دَ دې کلمې لکه چې دَ بېلیو له معنو ښکاره ده۔ دوه متضادې معنې دی۔ او دا کلمه لکه دَ نوروژبو دَ لغت تضاد مثال دے یعنی

۱- "جنګ کول" او "۲- دَ جنګ په دوران کښې خلاصے کول" او هم په دیو معنو کښې اوس هم مستعمل او ژوندے ټکے دے خو له بده مرغه دَ "شیخ بوستان بړېڅ قدس الله سره العزیز" په شعر کښې دیو دواړو معنو کښې یوه معنٰی هم نه شی کېدے او صرف هغه معنٰی ورسره دې شعر کښې جوړیږی چې فاضل مرتب ورته بخښلې ده "پټه خزانه" کښې دَ "خلیل خان نیازی" سره دا رباعی منسوبه شوې ده:-

خړې وریځې ژاړی له پاسه
کوئله بږغ کا بېلتون له لاسه
یه، هغه لونی ګوهر په خول ستا
دا مرحبا کا ستا زمونږ مواسه (۱۴۵)

دَ دې رباعی ترجمه فاضل مشر حبیبی مرحوم داسې کړې ده۔

"از طرف بالا ابرهائے سیاه میگرید
کوئل از غم فراق می نالد
آن بر خود تو گوهر نثار می کند
و این مرحبائے ترا میکند اے نگهدار ما (۱۴۶)

دَ "مواس" په توری فاضل حبیبی مرحوم دا نوټ لیکلے دے

"مواس در پښتو بمعنی محافظ و نگهدار است حمید مهمند گوید

چې ئې تل سترګو کول پکښې خونونه
دَ مخ ښهر ئې دَ ږیرې مواس وینو (۱۴۷)

دَ 'مواس' معنې مختلفو فرهنګونو داسې کړی دی۔

راورتی

مواس: ۱- مخبر - چغلی خور - غیبت کونکے - جاسوس - ۲- فسادی
باغی - سرکښ - پائلاتی سړے - ۳- شیطان (مجازاً)

بېلیو

مُواس: غیبت کونکے - مخبر - باغی - فسادی -
مَواس: پناه - حفاظت - بچاؤ (هندی)

خېراللغات

مواس: پناه - محافظت - پناهی -

لغات افغانی

مواس: پناه - محافظت - پناهی -

پښتو قاموس

مواس: ۱- نمام (چغلی خور) سخن چین - ۲- موچی

زړه پانګه

مواس: دَ (۱- چغلی خور - ۲- مچی) په معنا قاموسونو اخیستے
خو په متنونو کښې (۱- ساتونکے - حافظ مجازاً مشر - ۲- نوکر - نفرخدمت
۳- اشغالګر - تالاکرونکے) په معنا وهم راغلے" (۱۴۸)

له دې نه پس زړه پانګه دَ پټې خزانې دَ خلیل خان نیازی دَ
شعرسند ورکوی - او له نهو نورو شعرونو له حوالې نه زیاتوی
"حُینې ځایونو ئې معنی څرګنده نه ده - (هم داسې)
"زړه پانګه" دَ حمید مومند دَ هغه شعرحواله هم ورکوی چې
حبیبی صاحب مرحوم دَ پټې خزانې په حاشیه لیکلے خو سهواً دَ
ږیرې" په ځائې "زیری" راوړی -

حبیبی صاحب چې دَ حمید مومند دَ کوم شعرحواله ورکوی هغه
(لکه چې نقل شه) داسې دے -

چې ئې تل سترګو کول پکښې خونونه
دَ مخ ښهر ئې دَ ږیرې مواس وینو

شاید چې دَ حبیبی صاحب مرحوم په نزد دَ دې شعردا معنی ده
دَ مخ هغه ښهر چې سترګو ئې پکښې تل خونونه کول (اوس)
دَ ږیرې محافظ ونیولو" حالانکې دَ مشرقی شاعری دَ روایاتو او تلازمو
په رڼا کښې دَ شعرمعنی دا ده
"دَ مخ هغه ښهر چې سترګو ئې پکښې تل خونونه کول (اوس)
دَ ږیرې پناه ونیوله"

دا معنی دَ ذکرشویو قاموسونو دَ معنو په رڼا کښې خو صحیح
ده ولې دَ حبیبی مرحوم قیاسی معنی صرف هغه وخت صحیح کېدے
شی چې دَ "مواس" معنی دَ قاموسونو مطابق نه بلکې دَ "محمد هوتک"
دَ مفهوم او دَ حبیبی صاحب دَ تشریح مطابق "نګهدار" وګڼلے شی -

دا ټول مثالونه ښه په وضاحت دا ښئ چې ترڅو پورې دَ
دیو لغاتو تعلق دے دَ "محمد هوتک" او دَ پټې خزانې دَ محترم مرتب
محشی او مفسر ترمنځه یو داسې "ذهنی" تعلق وه چې دَ یوې
وږدې مودې دَ تېریدو او دَ "محمد هوتک" دَ معاصرو لیکونکیو په
معنو کښې دَ مسلسل استعمال باوجود دَ دیو کلمو په "اصل" معنو
یا دَ پټې خزانې مولف پوه شه او یا پرې بیا دَ دغه کتاب فاضل
محشی او مفسر - په دې وجه یا خو به مونږ دَ "محمد هوتک" کتاب
صحیح شمېرو او دَ پښتو دا ټول معلوم شوے ادب به "جعلی" ګڼو

اویا به د "محمد هوتک" کتاب جعلی منواو د پښتو ټول معلوم ادب به صحیح کښو. زما په خیال دا دویمه خبره غوره ده - حُکه چې کوم دلائل تر اوسه درکړے شو (او ائنده صفحو کښې به هم یوه حصه د کُرانو لُستونکیو له نظره تیریږی) د هغو په رنا کښې زمونږ معلوم ادب صحیح او پته خزانه جعلی ثابتیږی.

حوالې او حواشي

۱. د خوشحال ختک مرغلرې ص - ٦

۲. حبیبی مرحوم د "پښتانه شعراء" مقدمه په ۱۳۱۹ هش کښې د جدی په لسمه وړځ ختمه کړې وه او دې مقدمه کښې هم دا لفظ استعمال شوے دے.

۳. پښتانه شعراء لومړے ټوک - ص - ۱۷۸

۴. متأسفانه د "سلیمان ماکو د تذکرې" پاڼې د "پښتانه شعراء" مسلسل نمبرنه لری او تصویر کښې ورته اے - بی - سی - ډی نمبرونه درکړے شوی دی - خو هغه هم صحیح نه ښکاری - بهرکیف درومیږ حواله په دغه ترتیب د سی او ډی ترمینځه (له سی - II) مخه او دویمه حواله له ډی مخه ده.

۵. پښتانه شعراء لومړے ټوک - ص - ٦٨

٦. یوسف زلیخا - کرستومپتی - ص - ۱۸۵

۷. د خوشحال ختک مرغلرې - ص - ۲۳۸

۸- خوشحال خان خټک (اردو) ص- ۱۰۳ (حاشیه) پېښور ۱۹۵۱ء

۹-۱۰- د خوشحال خټک مرغلرې ص- ۲۳۸

۱۱- ایضاً- ص- ۵۵۶ (حاشیه کښې ټې د 'هواد' په ځای "هېواد" لیکلے دے-

۱۲- د عبدالقادرخان خټک دیوان- د حبیبی مرحوم تدوین مقدمه ص- ۲۰-

۱۳- ایضاً- دیوان ص- ۱۰-

۱۴- هم دغه- ص- ۳۷-

۱۵- هم دغه ص ۷۳ او ۷۹ (دواړه شعرونه په ترتیب)

۱۶- فرهنګ زبان وادبیات پښتو ص ۲۸۳ او ورکه خزانه دروېمے جلد مطبوعه- ۱۹۶۰ء-

۱۷- ورکه خزانه- دروېمے جلد ص ۱۱۷/۱۴۱- د صفحاتو شمېر په کتاب کښې بې قاعدې دے-

۱۸- د اشرف خان هجری دیوان ص ص- ۱۲۰- ۱۸۴- ۱۹۹- ۲۰۵- ۲۳۴- ۳۸۵ او ۴۸۴ په ترتیب-

۱۹- ګلدسته د سعدیؒ د ګلستان ترجمه ص- ۱۰۷-

۲۰- د نجیب دیوان ص- ۶۳-

۲۱- شهزاده بهرام او ګل اندامه کلید افغانی ص- ۳-

۲۲- یوسف زلیخا کښې د عبدالقادرخان د دیو شعرو نو د پاره وګورئ- کرستوه میتی ص ص- ۱۸۵- ۲۱۰- ۲۱۹- ۲۵۰ (په ترتیب)

۲۳- دیوان سکندرخان خټک دویم چاپ ص- ۷۸

۲۴- ایضاً- ص- ۱۷۳-

۲۵- د رحمان بابا کلیات ص- ۱۸۲- د رحمان بابا په دې شعر په درومبی باب کښې بحث شوے دے-

۲۶- درومرجان ص- ۶۶)

۲۷- هم دغه دیوان ص- ۱۴۲

۲۸- د یونس دیوان- کابل- ص ص ۵۵- ۸۱- ۱۳۷- ۱۵۵- ۱۵۵- ۲۳۵ (په ترتیب)

۲۹- دیوان حسین ص ص- ۲۸- ۱۴۴- ۳۵۶- او ۴۱۵ (په ترتیب)

۳۰- دیوان سعید- ص- ۷۵

۳۱- د عبدالقادر دیوان- قندهار- ص ۷۳-

۳۲- دیوان د معزالله خان- ص- ۵۶-

۳۳- د بیاض دیوان- ص ص- ۹۱- ۱۲۷- ۱۲۳- ۱۵۶- ۱۶۳ (په ترتیب)

۳۴- دیوان د علی خان- دوهم چاپ (د سید تقویم الحق د مقدمې سره) ص- ۵۲-

۳۵- هم دغه دیوان ص- ۱۳۴-

۳۶- د عبدالقادرخان خټک دیوان- ص- ۳-

۳۷- د معزالله خان دیوان ص ص ۵۶، ۹۶ (په ترتیب)

۳۸- د نجیب دیوان- ص- ۶۳-

۳۹- کلیدِ افغانی- ص- ۳۰-

۴۰- د احمدشاه باباؒ دیوان- ص ص- ۸- ۱۵۷- ۲۳۵ (په ترتیب)

۴۱- نافع المسلمین د اخون ګدا- ص- ۳۰۸-

۴۲-

۴۳- تذکرة الابرار- قلمی نسخه ص ص- ۲۸- ۱۲۳ (په ترتیب)

۴۴. دیوان د حافظ الپوری ص ص ۱۳۲-۱۵۷-۱۶۵ (پہ ترتیب)
۴۵. ورکہ خزانہ دروہمے جلد فرہنگ زبان وادبیات پښتو ص ۴۸۰.
۴۶. ورکہ خزانہ دروہمے جلد. ص ص ۶۶/۸۰، ۹۰/۱۰۴ -
۴۷. د محمدی صاحبزادہ شعرونہ د هغه د دیوان پہ ص ص ۱۲۴، ۱۶۳ او ۳۵۱ ملاحظہ کړئ. د علی خان شعر د علی خان د دیوان (دویم چاپ) پہ ص ۵۳ ولولئ.
۴۸. د محمدی صاحبزادہ دیوان. ص ص ۵۹-۲۰۱-۲۴۵-۸۱-۱۴۲، ۳۵۷-۳۷۰-۴۳۵-۴۳۵-۴۳۶-۴۳۶-۴۳۶-۴۴۱-۴۴۱ او ۴۴۱ (پہ ترتیب)
۴۹. د قلندر دیوان ص ص ۱۵۸، ۱۷۰، ۱۷۹ (پہ ترتیب)
۵۰. ایضاً. ص. ۱۶۳.
۵۱. د ابوالقاسم د دیوان قلمی نسخه ص. ۱۰. ب.
۵۲. شهزاده بهرام او گل اندامه. پښتو اکیډیمی. ص. ۳۰.
۵۳. کلیدِ افغانی ص. ۲۵۸. دا شعر د پښتو اکیډیمی قصه د شهزاده بهرام او گل اندام کښې نشته.
۵۴. د پښتو اکیډیمی قصه د شهزاده بهرام او گل اندامه. ص ص ۳۱، ۳۲ (پہ ترتیب)
۵۵. جنگ نامه د سید حسین ص. ۳۰.
۵۶. دیوان د میاں نعیم. ص. ۸۲.
۵۷. دیوان د پیر محمد. ص ص ۲۱-۴۷-۵۱-۸۱.
۵۸. هم دغه دیوان. مقدمه. ص. ۲.
۵۹. د شمس الدین کاکړ دیوان. ص ص. ۷۷-۳۲.
۶۰. ورکہ خزانہ. مطبوعہ ۱۹۶۰ء. ص. ۱۵۹.
۶۱. ایضاً. ص. ۱۸۹.
۶۲. د صدیق دیوان. ص ص. ۱۴۵ او ۱۰۶ (پہ ترتیب)
۶۳. ایضاً. ص ص ۴۴ او ۱۷۰.
۶۴. د امیرخان قلمی دیوان. ص ص ۱۴۱-۱۶۲-۳۵۴-۷۲/۵۴، ۱۰۳/۷۷، ۱۵۱/۱۱۲-۳۵۱/۲۶۳، ۲۰۴/۱۴۹، ۲۰۷/۱۵۱، ۲۲۷/۱۶۴، ۳۴۱/۲۳۷ (پہ ترتیب)

۶۵. د امیرخان قلمی دیوان. ص ص ۹۸/۷۳-۲۵۰/۱۷۹-۲۵۸/۱۸۴، ۳۲۵/۲۲۶، ۳۳۹/۲۳۶، ۵۸/۴۳۵، ۱۰۱/۵۰۵، ۲۵۳، ۲۵۴، ۲۵۹، ۱۲۸، ۱۵۳، ۱۵۶، ۲۵۱، ۲۵۴، ۲۵۴ (پہ ترتیب).
۶۶. مناقب د حضرت جمیل بیگ. ترتیب د اکتر راج ولی شاه خټک ص. ۱۶۰.
۶۷. چمن بے عدیل. ص. ۱۴۷.
۶۸. د میاں جناب کاکاخیل دیوان ص ۲۶۷، ۲۶۷، ۲۷۴ (پہ ترتیب)
۶۹. الف لیلیٰ. څلورم جلد. ص. ۲۱. ترجمه د ملا نعمت الله.
۷۰. د حسین دیوان. ص ص. ۵۰۸-۵۱۴-۵۱۵ (پہ ترتیب)
۷۱. د امیر د دیوان قلمی نسخه. ص ص. ۲۵۳-۲۵۴-۲۵۹-۲۵۱-۲۵۴-۲۵۴ (پہ ترتیب)
۷۲. کرسټومیتی. ص. ۱۵.
۷۳. انوار سہیلی فارسی. ص. ۱۱۶.
۷۴. بستان حکمت. مطبوعہ مطبع جوهر هند دهلی ۱۹۰۲ء. ص. ۷۴.

۷۵۔ کرستومتی۔ سینټ پیټرزبرګ۔ ص۔ ۱۳۸۰۔

۷۶۔ زړه پانګه۔ ص۔ ۷۲۰۔ د عبدالحمید مومند دیوان۔ د زلمی هوادمر (فرهنګ)

۷۷۔ فوائد الشریعه۔ ص۔ ۱۴۸۰۔

۷۸۔ هم دغه کتاب۔ ص۔ ۱۵۲۰۔

۷۹۔ سبر السالکین۔ ص۔ ۱۲۵۔

۸۰۔ ایضاً۔ ص۔ ۱۷۱۔

۸۱۔ خزینه افغانی۔ ص۔ ۳۵۸۔

۸۲۔ د کرستومتی۔ ص ص۔ ۶۱۴۔ ۶۱۵ (په ترتیب)

۸۳۔ د راورتی دکشنری۔ ص۔ ۱۰۶۹۔

۸۴۔ هم دغه کتاب۔ ص۔ ۱۰۷۷۔

۸۵ هم دغه کتاب ص۔ ۱۰۹۱ (دایاد ساتل پکار دی چې د راورتی په دکشنری کښې د صفې نمبر د کالم نمبر وی یعنی په یوه صفحه دوه نمبرونه لګیدلی وی)

۸۶ د بلیو دکشنری۔ ص ص۔ ۱۸۰۰۔ ۱۸۲۰ (په ترتیب)

۸۷ د پلاوډن ترجمه۔ ص۔ ۲۲۳۔ حاشیه نمبر ۶۰۔ دا تشریح د دې شعر په سلسله کښې شوې ده "چې نړۍ شه د افراد دپوړ دپرې ته۔ وآسمان ته تله لوګی په هوادونه۔ کلید افغانی ص۔ ۲۵۸۔

۸۸۔ د پلاوډن ترجمه۔ ص۔ ۲۳۵ حاشیه نوټ ۷۶۔

۸۹۔ کلید افغانی ص۔ ۲۶۱۔ د اکیډیمی د شهزاده بهرام قصه ص ۳۱

۹۰۔ د پلاوډن ترجمه۔ ص۔ ۲۲۶۔ حاشیه۔ نوټ۔ ۸۸۔

۹۱۔ کلید افغانی۔ ص۔ ۲۶۲۔ د اکیډیمی د چاپی نسخې په ص۔ ۳۲ دا شعر داسې دے "د چین نښه رورته څرګنده شه له هوده۔ چې ې وې مانی وچتې له آسمانه

۹۲۔ د پلاوډن ترجمه ص ۲۲۶۔

۹۳۔ خیر اللغات۔ ص۔ ۱۹۳۔

۹۴۔ ایضاً۔ ص۔ ۱۹۴۔

۹۵۔ ایضاً۔

۹۶۔ لغات افغانی۔ ص ص۔ ۲۳۰۰۔ ۳۳۲۰۔ ۳۳۲ (په ترتیب)

۹۷۔ زړه پانګه۔ ص۔ ۷۰۲۔

۹۸۔ د مثال په طور د "فراق نامه" او د عبدالحمید د دیوان په لغت ناموکښې دا اهتمام شوے دے۔

۹۹۔ د شپږمې ګاس لغت کښې ې معنی Distance (ص ۴۳۳) لغات کشوری کښې "بُعد"۔ دوری (ص۔ ۱۶۰۰) او المنجد (عربی۔ اُردو) په ص ۲۴۵ او د منتخب اللغات په ص۔ ۱۴۱ هم هغه معنې لیکلی شوی دی چې متن کښې راوړے شوے۔

۱۰۰۔ پښتو۔ پېښور۔ د مارچ ۱۹۷۶ء کښه۔

۱۰۱۔ پته خزانه۔ دوهم چاپ۔ ص۔ ۷۰۔

۱۰۲۔ هم دغه ص۔ ۷۱۔

۱۰۳۔ دا خبره صحیح نه ده۔ کروهیدل اوس هم ژوندے لفظ دے (فراق نامه۔ پېښور چاپ۔ ص۔ ۳۶۔ حاشیه۔ نوټ ۳۔

۱۰۴۔ پته خزانه۔ دوهم چاپ۔ ص۔ ۷۰۔

۱۰۵۔ کلیات ص ص۔ ۷۰۰۔ ۷۹۸ (په ترتیب)

۱۰۶- فراق نامه پښتو چاپ - ص - ۱۲۹ -

۱۰۷- فضل نامه - ص ص - ۱۲، ۱۳۴ (پهه ترتیب)

۱۰۸- کرستومتی ص ص - ۲۵۳، ۲۶۱ (پهه ترتیب)

۱۰۹- ایضاً - ص - ۲۵۲ -

۱۱۰- ایضاً ص - ۲۶۱ -

۱۱۱- د سکندرخان دیوان - ص ص - ۳۴۶، ۳۷۳ (پهه ترتیب)

۱۱۲- د خواجه محمد بنګش دیوان - ص ص ۱۰۰ - ۱۲۹ - ۱۴۲ (پهه ترتیب

۱۱۳- د رحمان بابا کلیات - ص - ۲۴ -

۱۱۴- د یونس دیوان ص ص - ۶۳ - ۱۶۷ - ۲۴۰ (پهه ترتیب)

۱۱۵- شاه گدا - ص - ۵۹ -

۱۱۶- د راورتی کرامر - ص - ۴۲ -

۱۱۷- د نجیب دیوان - ص ص - ۱۶۶ -

۱۱۸- د حسین دیوان ص ص - ۴۵ - ۲۵۰ - ۴۵۹ او ۴۷۳ (پهه ترتیب)

۱۱۹- ورکه خزانه اول جلد - ص ۱۵۹، د رحمت داوی دیوان - ص -

۱۲۰- د خوشحال خټک مرغلري - ص - ۹۵۸ -

۱۲۱- ایضاً - ص - ۳۷۷ -

۱۲۲- پټه خزانه دوهم چاپ - ص - ۷۰ -

۱۲۳- ایضاً ص - ۷۱ -

۱۲۴- ایضاً ص ۷ (فارسی ترجمه - ص ۷۱) -

۱۲۵- ایضاً - ص - ۱۰۲ فارسی ص - ۱۰۳)

۱۲۶- ایضاً - ص ص - ۱۱۰ - ۱۱۶ - ۱۲۸ - ۱۶۲ (پهه ترتیب)

۱۲۷- د بیاض دیوان - ص - ۱۱۴ -

۱۲۸- د محمد هوتک ژوند او مزار - ص - ۹۷ -

۱۲۹- فوائد الشریعه - ص ص - ۱۳۱ - ۲۱۹ - ۲۲۴ (پهه ترتیب)

۱۳۰- فرهنګ زبان و ادبیات پښتو - ص - ۳۰۲ -

۱۳۱- ایضاً - ص - ۳۵۶ -

۱۳۲- د مخلص دیوان د اکیډیمی چاپ شوې نسخه - ص ص - ۱۹۰ - ۱۹۱ - ۲۰۳ - ۲۷۵ - ۳۴۹ - او ۳۶۰ (پهه ترتیب)

۱۳۳ د رحمان بابا کلیات - ص - ۲۱۰ -

۱۳۴- د میان حبیب ګل مجموعه چمن بے عدیل - ص - ۱۸۴ -

۱۳۵- د یونس دیوان ص ص - ۹۲ - ۲۴۳ (پهه ترتیب)

۱۳۶- ورکه خزانه - اول جلد - ص - ۲۲۸ -

۱۳۷- سبر السالکین - ص - ۱۲ -

۱۳۸- زره پانګه - ص - ۱۱ (د خبر البیان پهه حواله) د حاجی جمعه بارکزی دیوان - د پروفیسر عبد الشکور رشاد د مقدمې سره ۱۹۸۱ ص ص ۷۴ - ص ص ۷۴ - ۱۱۶ - ۱۲۱ - ۱۶۲ -

۱۳۹- پټه خزانه - دوهم چاپ - ص - ۵۶ -

۱۴۰- ایضاً - ص - ۵۷ -

۱۴۱- ایضاً.

۱۴۲- پټه خزانه - دوهم چاپ - ص - ۶۸ -

۱۴۳- ایضاً - ص - ۶۹ - (۱۴۴) هم دغه کتاب - ص - ۶۸ (حاشیه)

۱۴۵- ایضاً - ص - ۷۸ - (۱۴۶) ایضاً - ص - ۷۹ -

۱۴۷- ایضاً - ص - ۷۸ - حاشیه -

۱۴۸- زره پانګه - ص - ۶۰۷ -

تاریخی پس منظر

"پته خزانه" په اول ځل په ۱۳۲۳ هش له کابله چاپ شو
د دې کتاب په باره کښې دا ضروری خبرې یادې ساتل پکار دی:

ا - په ۱۳۱۷ هش کښې علامه عبدالعلی اخونزاده مرحوم
عبدالحئ حبیبی مرحوم ته له کوټې څخه پیغام ولیږه چې دوی د
پښتو یوه قدیمه تذکره مونډلې ده او که د هغې د چاپولو امکان د
قندهار په مطبعه کښې وی نو "به ټې دوی راواستوی" دا پیغام
د حبیبی صاحب مرحوم د پاره چې د قدیم پښتو ادب یوې پاڼې یا
یوه بهت ته هم "تبرے" وه د "زوټې زبرے" وه - ځکه نو دوی
(حبیبی مرحوم) علامه عبدالعلی اخونزاده مرحوم ته ووئیل (؟)
چې "زه پخپله کوټې ته درځم او هغه کورم (۱)

ب - بناغلے عبدالحئ حبیبی مرحوم د دومره شدید خواهش
باوجود د ۱۳۱۷ هش نه تر ۱۳۲۲ هش پورې کوټې ته لاړ نه شه -
په ۱۳۱۹ کښې مرحوم حبیبی له قندهار کابل ته تشریف یوړه او

هلته د پښتو تولنې مشر شو او پخپله وائی چې "په رسمی کار و داسې
اړسوم چې ۱۳۲۰ هش کال تر ډمې پورې سرکرولو ته هم نه وم خلاص (۲)
د ۱۳۲۰ هش له ډمې نه د ۱۳۲۲ تر پسرلی پورې کوټې ته د نه تللو
په باره کښې حبیبی مرحوم هیڅ جواز نه پیش کوی - ځکه نو په
ځاڼې ټې دا سوال پیدا کیږی چې د علامه عبدالعلی اخونزاده مرحوم
د عمر د کتاب د ارزښت او د حبیبی مرحوم د انتهائی اشتیاق باوجود
دا ولې ممکنه نه شوه چې هغوی کوټې ته تللے وے او دا کتاب ټې
ترلاسه کړے وے ؟ او ورسره دا سوال هم کم اهم نه دے چې
له ۱۳۱۷ هش نه تر ۱۳۲۲ هش پورې ولې علامه عبدالعلی اخونزاده
مرحوم په دې معامله چپ پاتې.... شه ځکه چې حبیبی مرحوم
خو لا دا کتاب کتلے نه وه - خو علامه مرحوم خو د کتاب په قدر
و قیمت خبر وه - او په ۱۳۱۷ هش کښې د علامه مرحوم عمر ۶۶ کاله
وه - په ۱۳۲۱ کښې د هغوی عمر ۷۰ کاله وه - او صحت ټې انتهائی
خراب وه - نو د دې حقائقو په موجودګی کښې علامه مرحوم
بناغلی عبدالحئ حبیبی مرحوم ته بیا یاد دهانی ولې نه کوله - او
د حبیبی مرحوم له خوا د دې ورځې خاموشی او بے التفاتی
په وجه ټې په خپله دا کتاب ولې نه چاپ کولو -

ج- بناغلے حبیبی مرحوم فرمائی :

"نسخۂ ازیں گنجینہ شاہوار..... در بہار سال (۱۳۲۲) بدستم افتاد"

(د دې شاهانه خزانې یوه نسخه ۱۳۲۲ په پسرلی کښې زما
لاس ته راغله) (۳)

د پوهنې د وزارت د دارالتالیف ریاست د هم دې کتاب د

"مقدمه طبع دوم" دَ عنوان لاندې لیکي.

"پښتو ټولنه نسخه ای از این اثر قیمتی را در سنه (۱۳۲۲) بدست آورد.

(پښتو ټولنې دَ دې قیمتي کتاب یوه نسخه په کال ۱۳۲۲ مشر لاسه کړه).

اوس یا خو به دا ګڼو چې دا دواړه بیانونه خپلو کښې تضاد لري او ځکه دواړو کښې یو ضرور غلط دے او یا به بیا دا خیال کوو چې حبیبي صاحب (مرحوم) دَ پښتو ټولنې دَ مشر په حیثیت دا کتاب تر لاسه کړے وه (او هم دا بیان صحیح دے).

په دې صورت کښې اوس سوال دا پیدا کیږي چې که چرې دا کار دَ پښتو ټولنې سره متعلق وه او حبیبي صاحب مرحوم دَ خپلو رسمي مصروفیاتو له کبله کوټې ته نه شه راتللے نو دَ پښتو په مفادو او پخپله دَ پښتو ټولنې دَ فرائضو په لړ کښې دا ولې ضروري ونه ګڼلے شوه چې دَ پښتو ټولنے څوک بل غړے (قیام الدّین خادم ګل باچا الفت. عبدالرؤف بېنوا (مرحومین) یا صدیق الله خان رښتین) دَ دې اهم کار دَ پاره کوټې ته راستولے شوے وے. نو تر څو چې دَ دې سوالونو اطمینان بخش ځوابونه نه وي شوے تر هغې دَ کتاب دَ موندلو دا حال هم تشه افسانه ده. چې دَ رښتیا و جرح او تعدیل ته یوه لحظه هم نه شي وُدریدے.

د- که دَ کتاب موندلو دا افسانه دَ حقیقت په حیث هم تسلیم کړو نو بیا هم دَ دې "حقیقت" ځنې اړخونه دومره ناقابل اعتبار دي چې هېڅکله دَ منلو نه دي. دَ مثال په طور

۱- دا کتاب په مبینه ډول دَ ۱۳۲۲ هش په پسرلي کښې دَ حبیبي

مرحوم (یا دَ پښتو ټولنې) لاس ته راغلے دے. که مونږ دَ پسرلي دا موسم دَ حبیبي صاحب مرحوم په تلو راتلو او دَ کتاب ابتدائي مطالعه کښې تېرو شمېرونو دَ ۱۳۲۲ دَ کال وړومبۍ درې میاشتې به له دغه کاله کموو، او چې حبیبي مرحوم دَ ۱۳۲۲ هش په جوزا کښې کابل ته بېرته راګرځېدلے ومنو نو دَ هغه مرحوم دَ خپل بیان مطابق.

"بعد از آنکه از اهمیت این کتاب واقف گشتم آنرا بحضور شوقمندان ادب ملی و در حلقه هائے ادبی و علمی عرضه داشتم و مورد دلچسپی فوق العادهٔ تمام دانشمندان و ارباب ذوق و علم واقع گردید ..... چوں شوق مفرط و علاقمندی عامه را باین کتاب حس کردم، به تصحیح و ترجمه و تحشیه و تعلیق آں پرداختم و اینک این گنجینهٔ ملی را ..... به جوانان حساس و شوقمندان عالم ادب ملی تقدیم میکنم (۴)

"پس له دې چې دَ دې کتاب له اهمیته واقف شوم، دا کتاب مې دَ ملّي ادب سره دلچسپي لرونکیو او علمي خلقو ته پېش کړه. او دَ ټولو دانشمندانو او دَ ذوق او دَ علم دَ خاوندانو دَ غېر معمولي دلچسپۍ مورد شه .....

هر کله چې ما دې کتاب سره ډېر زیات عام شوق او عامه دلچسپي محسوسه کړه نو دَ دې کتاب تصحیح، ترجمه او تحشیه مې شروع کړه او دا دے دا قومي خزانه حساسو ځلمیو او دَ ملّي ادب سره دلچسپي لرونکیو ته پېش کوم" (ترجمه)

دَ بناغلي حبیبي مرحوم دَ دې خپلې وېنا په رڼا کښې دَ پټې خزانې تر "پېش کولو" پورې کتاب له دیو لاندې لیکلیو مرحلو نه تېر شوے دے.

۱- دَ کتاب له اهمیته دَ حبیبي صاحب واقف کېدل.

پېش کېدل.

ب:- دَ کتاب علمي او ادبي حلقو ته پېش کېدل.

ج:- دَ دانشمندانو له خوا کتاب کښې دَ غېر معمولي دلچسپۍ اظهار.

د:- تصحيح

ه:- ترجمه

و:- تحشيه او تعليقات.

دا تولې مرحلې دېر لوئې اهميت لري او خاصکر به پرې وخت لګېدے دی. دَ ترې مرحلې به پرېږدو دَ کتاب په حاشيو له ۱۰۷ کتابونو نه حوالې او دَ هغو دَ صفحاتو شمېر ليکل دومره دقت طلب او وقت طلب کار دے چې کلونه غواړي. خاص طور سره په داسې حال کښې چې دېر ۱۰۷ کتابونو کښې اکثر کتابونه په دېرو جلدونو مشتمل دی او هر جلد ئې په سوونو صفحات لري. سره دَ دې پکښې قلمي او نور دېر کتابونه داسې هم شته چې اندېکسونه نه لري او حوالې راوکښل ترې دَ دېر وخت تقاضا کوي. لېکن سره دَ دې هر څه دا ټول کار دَ هم دغه کال دَ ميزان په لسمه (۲، اکتوبر) مکمّل شه (۵) او دا شپږ واړه مرحلې دَ سرطان، اسد او سُنبله درېو مياشتو کښې مکملې شوې لا بلکې دې دوران کښې حبيبي مرحوم دَ هم دغه کال دَ سنبلې په مياشت کښې دَ کابل دَ کالنۍ دَ پاره په "پټه خزانه" دَ يو دېرش مخونو يو طويل مضمون هم وکښلو (۶)

دا هر څه په دومره لږ وخت کښې سرته رسول يوه دومره لويه کارنامه ده چې دَ انسان دَ پاره ئې تصور انتهائي ناممکن دی او که بل يو دليل هم نه وے نو صرف په دې يو دليل دَ کتاب په باره کښې دا ثابتېدے شو چې هغه دَ جوناتن سوفټ خبره مونږ

ته "يو داسې شے" پېش کېږي "چې هغه نشته"

۲- دَ کتاب په باره کښې (لکه چې مخکښې ئې حواله ورکړے شوه) دا دعوئ کېږي چې دَ ۱۳۲۲ په پسرلي کښې حبيبي مرحوم له علامه عبدالعلي اخونزاده نه حاصل کړے دے. دَ ۱۳۲۲ په پسرلي کښې علامه عبدالعلي اخونزاده دېر سخت بيمار وه. او دَ يو کال دَ وږد رنځ نه پس هغوی هم په دې بيمارۍ کښې په ۱۶، شوال ۱۳۶۴ھ/۱۹۴۴م وفات موندلے دے (۷)

که چرې دا خبرې صحيح وی چې حبيبي صاحب مرحوم دَ علامه مرحوم نه دا کتاب په خپل لاس حاصل کړے دے نو بيا دا دېره غېر اغلب خبره ده چې دَ حبيبي مرحوم په شان مشفق دوست به دَ خپل "زاړه اشنا او خواخوږي مشر عبدالعلي اخونزاده" دَ دې علالت ذکر نه کولو او دا نتيجه به ئې ترې نه وکښله چې علامه مرحوم دَ پښتو ادب سره دومره مينه لرله چې په شديد علالت کښې ئې هم دوئ ته دا کتاب ورکړه. له دې حقيقت نه داسې بريښي چې بناغلي حبيبي مرحوم ته دَ کتاب ترلاسه کولو په سلسله کښې څه غلط فهمي شوې ده. که داسې نه وے نو دوی دَ يو لوئې عالم، دروند مشر او خوږ دوست مرض الموت څرنګه هېر کړے شه؟

۳- دَ عامې قاعدې مطابق بناغلي حبيبي مرحوم له پکار ورچې دَ پټې خزانې په دروېمې چاپ کښې ئې دَ کتاب دَ موندلو قصه بيان کړے وے. ځکه چې په دې طريقه به دَ کتاب په سلسله کښې دَ بدګمانيو ازاله شوے وے. خو بناغلي حبيبي مرحوم فرمائي چې "مګر اخنداده دَ خپلو خاصو مصالحو له پاره زما څخه دا خواهش هم وکړ

چې په چاپ کښې به ې زمانوم نه اخلے نو ځکه تر هغوچې هغه
مرحوم ژوندے وه ما دَ ده نوم نه اخیستے او دا راز دَ ده یوامانت
وه "۔ (۸)

په داسې صورت کښې بناغلی حبیبی مرحوم له پکار دوچې دَ
علامه مرحوم دَ نامې دَ اظهار نه بغیر ې نور ټول حقائق په درومبی
چاپ کښې بیان کړے وے چې هغه دا موقع نه پیدا کیدے چې چا
بغیر له کومه بنیاده "پټه خزانه" یو "مجهول اثر" کښلے (۹)

که دَ ۱۹۴۴ په شوال کښې دَ علامه عبدالعلی اخونزاده دَ وفات
خبره صحیح وی نو علامه مرحوم دَ پټې خزانې دَ درومبی چاپ نه شپږو
میاشتو کښې دننه دننه وفات موندلے دے ځکه نو اخلاقاً هم پکار وو
چې دَ افغانستان په جرائدو او مجلوکښې دَ علامه مرحوم دَ وفات خبر
خورشوے وے خو متأسفانه هغه علامه چې دَ "طلوع افغان" له زمانې
نه دَ افغانستان محترمو مشرانو لیکونکیو سره متعارف وه۔ له خپله
مرګه پس دَ دې قابل هم و نه ګڼلے شه چې دَ هغه په مرګ یو دوه
کرښې ولیکلے شی۔

یواځې دا نه بلکې دَ "پښتانه شعرا" دَ دریم ټوک دَ پاره چې په
مرحوم علامه عبدالعلی اخونزاده کوم مضمون لیکلے شوے دے هغه
هم محض خانه پُرۍ ده او هیڅ داسې نوې خبره پکښې نه ده شوې
چې هغه دَ پښتو ادب لُستونکیو ته له مخه نه وه معلومه۔ حالانکې
که داخبره رښتیا وی چې "پټه خزانه" دَ عبدالعلی اخونزاده دریافت
دے نو دَ هغه له مرګه پس دَ "پښتانه شعرا" په دریم ټوک کښې
خودَ هغه دَ دې عظیم الشان خدمت اعتراف کول پکار وو۔

حبیبی مرحوم لیکی: "کله چې دَ ده (علامه مرحوم) تر وفات
وروسته زما څخه چا پُښتنه کړې ده نو ما دغه حقیقت نه دے پټ
کړے۔ (۱۰)

مرحوم حبیبی صاحب دَ دې حقیقت اظهار دَ قوس ۱۳۵۶ په
شلمه درځ کړے دے (۱۱) او دَ علامه عبدالعلی اخونزاده وفات په
۱۳۲۳ هش کښې واقع شوے دے۔ په دیو ۳۳ کالو کښې حبیبی
مرحوم که ۳۳ کسانو ته دا "انکشاف" کړے وے نو دَ "پښتانه شعرا"
دَ دریم ټوک مؤلف ته به دَ دې حقیقت په ریکارډ کولو کښې
هیڅ تکلیف نه وه۔ او هغه به دَ دې هرو خلقو په حواله دا دعوی
ترحبیبی مرحوم رسولے وے چې "پټه خزانه" اصل کښې دَ چا
دریافت وه ؟

زما دَ معلوماتو مطابق په درومبی ځل چې حبیبی مرحوم دا
انکشاف کولو نو هغوی په پاکستان کښې وو۔ دَ "شاخ ګل" دَ چاپ
کیدونه پس حبیبی مرحوم په "ازاد افغانستان" کښې دا خبره
"څرګنده" کړه۔ بیا هم دا خبره دَ بناغلی جعفر اتکزی په "وندر"
کښې چاپ شوه۔ او دَ افغانستان محترمو لیکونکیو چې هرکله داخبره
کړې ده نو دَ بناغلی جعفر اتکزی په حواله ې کړې ده او خدائې
خبر چې دَ کوم مصلحت په وجه ې تل دا کوشش کړے دے چې
دَ حبیبی مرحوم نوم په دې ضمن کښې لُستونکیو ته معلوم نه
شی۔

شاید چې په درومبی ځل بناغلی حبیبی مرحوم په افغانستان
کښې دَ علامه عبدالعلی دا قصه دَ پټې خزانې دَ عکسی چاپ په

مقدمه کښې اوزېرى کښې چاپ شوے مقاله کښې په ۱۳۵۴ کښې شائع کړه بیاچې په ۱۹۷۶ء (۱۳۵۵ هش) کښې "پښتو" کښې زما د مقالې د چاپ کېدو نه پس "تاریخی پلټنې" چاپ شوې نوحبیبی مرحوم په یوځل بیا د عبدالعلی اخونزاده نوم د پټې خزانې د اصل دریافت کونکی په حیث بنکاره کړه۔

زه دېر په احترام او د مرحوم حبیبی صاحب د پاره د عقیدت باوجود د دې خبرې د منلو د پاره څه بنیاد نه وینم چې د دوی د علامه عبدالعلی اخونزاده د وفات نه پس د هغوی په باره کښې هر پښتنه کونکی ته د حقیقت څرګندونه کړې ده۔ او زما د دې عقیدې ثبوت دادے چې د پټې خزانې دوهم چاپ او د پښتانه شعرا دریم ټوک د علامه عبدالعلی اخونزاده له وفاته پس خواره شوی دی. نوکه د څه "مصلحت" په وجه په وړومبی چاپ کښې د مرحوم اخونزاده نوم نه شه چاپ کېدے نو په دویم چاپ کښې د هغوی له مرګه پس د هغوی د نامې په نه څرګندولو کښې څه حکمت وه؟ که چرې علامه عبدالعلی اخونزاده له حبیبی مرحوم ځنې داخواهش کړے وه چې د هغوی نوم دې قطعًا نه چاپ کیږی نو په ۱۳۵۴ او بیا په ۱۳۵۶ کښې د هغوی نوم ولې چاپ کړے شه او که چرې په ۱۳۵۴ او ۱۳۵۶ هش کښې د علامه مرحوم د نوم څرګندونې په نتیجه کښې د حبیبی صاحب هغه مرحوم سره کړې وعده نه ماتېده نو ۱۳۳۹ هش (د پټې خزانې د دوهم چاپ کال) او ۱۳۴۲ هش (د پښتانه شعرا دریم ټوک د چاپ کال) کښې که د علامه مرحوم نوم بنکاره کړے شوے وے نو هم به دغه وعده نه

ماتېده او اضافی فائده به ئې دا هم شوې وه چې د حبیبی مرحوم دا دعوی به صحیح ثابته شوے وے چې د علامه عبدالعلی "تروفات" وروسته" هغوی دا "حقیقت نه دے پټ کړے" چې اوس ئې د قبلولو د پاره هیڅ منطقی بنیاد نشته۔

د علامه عبدالعلی اخونزاده د کلام په مجموعه چې له کوټې چاپ شوې ده۔ د مرحوم "عبدالصمد خان اچکزی" "پېژندګلوی" او د "فضل احمد غازی" "لومړی توری" کښې دا "حقیقت" نه دے بنکاره کړے شوے چې مرحوم عبدالعلی اخونزاده د "پټې خزانې" اصلی دریافت کونکے وه۔ حالانکې عبدالصمد خان اچکزے مرحوم د علامه مرحوم سره له ۱۹۳۰ء نه د دوستۍ دعوی کوی. که چرې د حبیبی صاحب دعوی صحیح وی نو پکار وه چې دا خبره له هرچا مخکښې خان عبدالصمد خان اچکزی ته معلومه وے۔

د حبیبی مرحوم او د علامه عبدالعلی اخونزاده ترمنځه د تعلقاتو په ضمن کښې هم یوه خبره داسې شته چې د هغې له رویه دا ټوله افسانه غلطه ثابتیږی چې ګنې د دیو دواړو مشرانو ترمنځه ډېر صمیمانه تعلقات وو۔ د بناغلی حبیبی مرحوم د دعوې مطابق د علامه عبدالعلی اخونزاده سره د هغوی وروسې ملاقات په ۱۳۱۴ هش (۱۹۳۵-۳۶ء) کښې شوے وه۔ څلور کاله وروستو د دواړو مشرانو د تعلقاتو داحال وه چې علامه مرحوم قندهارته د یوخصوصی پیغام په ذریعه حبیبی مرحوم خبر کړه چې دوی د پښتو یوه قدیمه تذکره مونډلې ده۔ په ۱۳۲۲ کښې د دواړو محترمو مشرانو د تعلقاتو کیفیت داوه چې حبیبی مرحوم په دې مجبور شوے دے چې علامه مرحوم د "زاړه

اشنا او خواخوږی مشر په نامه یاد کړی - (دا ټول تفصیلات د
د حبیبي مرحوم د مقالې نه اخذ کړی دی) د دې تعلقاتو تقاضا
دا وه چې بناغلی حبیبی مرحوم د علامه عبد العلی د ادبی ژوند د
مهمو برخو په باره کښې خو معلومات یا پخپله حاصل کړے وے
او یا ورته علامه مرحوم ورکړے وے . خولې بده مرغه داسې نه
ده . بناغلی حبیبی مرحوم او د افغانستان ټولو محترمو لیکونکیو ته
د علامه مرحوم د ادبی ژوند دا اهمه واقعه نه ده معلومه چې علامه
عبد العلی اخونزاده د سیند (۱۹۳۷/۱۳۱۶ هش) لس زره لغت (۱۹۴۱/
۱۳۲۰ هش) او د پښتو قاموس لومړی ټوک (۱۹۵۱/۱۳۳۰ هش) نه
کلونه مخکښې په ۱۹۱۱ء/۱۲۹۰ هش کښې په پښتو کښې د یو لغت
د لیکلو کار شروع کړے وه . او په دې اهم کار کښې لس کسان
علماء د هغوی مددګاران وو (۱۲)

د پښتو د ادبی خدمت په لاره کښې دومره اهم اهمیت نظرانداز
کول دا صفا بښې چې حبیبی مرحوم او د افغانستان محترمو لیکونکیو
ته د علامه عبد العلی په باره کښې دا سې مفصل معلومات نه وو
حاصل چې د "ذاتی تعلقاتو" په نتیجه کښې ې پیدا کېدل یوه
نظری خبره ده . او خکه نو له دې زاویې چې کورو نو د حبیبی مرحوم
او د علامه عبد العلی اخونزاده ترمنځه د "ادبی تعلق" نفی خو کیدے
شی خو اثبات ې هیڅرې ممکن نه دے . او چې د دیو دوا د رومشرانو
ترمنځه د ذاتی او ادبی تعلق دا افسانه غلطه ثابته شی نو د پټې خزانې
د دریافت کېدو په سلسله کښې ټول تفصیلات پخپله غلط شی .
او له دې جهته هم د پټې خزانې جعلی کېدل ثابت شی .

د پټې خزانې د دریافت دا افسانه د هغو حقائقو په رنا هم بالکل
بې بنیاده ثابتیږی چې ورومبی باب کښې ې ذکر شوے دے . ما
پخپله ورومبی مقاله کښې د پټې خزانې د دریافت په باب له د
بناغلی حبیبی مرحوم د هغه وینا حواله ورکړې وه چې د هغې مطابق
د "پټې خزانې" قلمی نسخه دوی د علامه عبد العلی اخونزاده په
واسطه له اصلی مالکه څخه د پیسو په بدل کښې حاصله کړې وه
(زهرے . د لیندې ۵ ر کال ۱۳۵۴ هش - ۵ - نومبر ۱۹۷۵ - ۲۶ مه کښه)
په دې موضوع زما ځواب کونکی یو بناغلی هم زما د دې خبرې
رد نه دے کړے . خولې بده مرغه چې حبیبي مرحوم "تاریخی
پلټنې" کښې په دې موضوع خپله اخری مقاله لیکله نو شاید
چې دا ترې هېر شوی وو چې د پټې خزانې په باره کښې دوی په
۱۳۵۴ کښې څه لیکلی دی ځکه چې په دې اخری مقاله کښې
لکه چې عرض وشه د کتاب له علامه عبد العلی اخونزاده نه تر
لاسه کولو بالکل بدله قصه ر ویلے شوې ده د "اصلی مالک" او د
"پیسو په بدل کښې" په ځای د اخونزاده مرحوم سره دا وینا
منسوبه شوې ده "ما خو تاته ساتلې وه" ، دا ې خله اوچاپ ې که (۱۳)
د دیو دوا رو متضاد و خبرو نه کم از کم دا ثابتیږی چې د حبیبي مرحوم
"حافظه" څه خو متاثره شوې وه او د حافظې له دې خرابی ر نه
ګټونکی خپله خپله نتیجه اخذ کولو کښې حق بجانب دی .

حوالې اوحواشی

۱. تاریخی پلټنې۔ ص۔۲۰ (دَحبیبی مرحوم مقاله)

۲. هم دغه مقاله۔ ص۔۳۰۔

۳. پټه خزانه۔ دوهم چاپ۔ مقدمه مدون ومصحح۔ ص۔ ب۔

۴. ایضاً۔

۵. پټه خزانه۔ دوهم چاپ۔ ص۔ ۲۸۱۔

۶. دَ محمد هوتک ژوند اومزار۔ ص۔ ۱۱۰۔ (حاشیه ۳۹)

۷. شعرفارسی دربلوچستان۔ ص۔۱۳۲۔ راولپنډی۔ ۱۹۷۵ء۔ دې تاریخ کښې څه غلطی برېښی، ځکه چې ۱۶ر شوال ۱۳۶۴ھ په ۱۹۴۵ کښې راځی (تقویم تاریخی) کله عیسوی کال ۱۹۴۴ وی نوبیا به هجری کال ۱۳۶۳ وی فرهنګ زبان وادبیات پښتو هم دَعبدالعلی اخونزاده دَ وفات کال ۱۳۶۴ راوړے دے۔

۸. تاریخی پلټنې ص۔۴۰۔ (دَحبیبی مرحوم مقاله)

۹. دَ محمد هوتک ژوند اومزار۔ ص۔ ۳۶۔

۱۰. تاریخی پلټنې ص ۴۔ دَحبیبی صاحب مقاله۔

۱۱. دا تاریخ دَحبیبی مرحوم دَ هغه مقالې په اخر کښې لیکلے شوے دے چې دَ "تاریخی پلټنې" په ص ص ۱-۴ چاپ شوې ده۔ پخپله دَ "تاریخی پلټنې" په تائټل دَچاپ کال ۱۳۵۷ (هش) لیکلے شوے دے۔

۱۲. شعرفارسی دربلوچستان۔ گنجینهٔ ادب شماره ۵۔ جلد ۱۲۔ ص۔ ۱۳۳۔

۱۳. تاریخی پلټنې۔ ص۔۳۰۔ (دَحبیبی مرحوم مقاله)

جدیدیت

"پټه خزانه" کښې ځائې په ځائې داسې بې شمېره غلطۍ په نظر راځي چې دَ هغو توقع دَ دولسمۍ صدۍ دَ لیکونکی (لکه چې دَ محمد هوتک په باره کښې دعوی کیږی) نه هېچرې نه شي کېدے دَ مثال په طور هغه اسماء یا صفتونه وغېره چې وروستنے حرف ئې "یا" وی دَ پښتو دَ گرامر او دَ مشرانو دَ تعامل دَ قاعدې په بنیاد چې دَ جمع په صیغه کښې استعمال شي نو دَ "ی" په ځائې دَ "یو" شکل واخلی مثلاً "مزری" به دَ جمع په صورت کښې "مزریو" شي "اپریدی" به "اپریدیو" شي او داسې نور او داسې نور۔

په دې گرامری اصول باندې دَ پټې خزانې په ډېرو ځایونو کښې عمل شوے دے۔ دَ مثال په طور

دَ اسعد سوری په قصیده کښې دا دوه ځایه وځیرئ۔

ترنړۍ ئې غوره خاورې ادیره کا
دَ زمریو په بیړیو کله وی "څوار" (۱)

چې به نجلیو په نڅا پکښې خندله
چې به پېغلو کا اتڼ قطار قطار (۲)

دیو دواړو شعرونو کښې دَ "زمری"، "بېړۍ" او نجلۍ جمع۔ "زمریو" "بیړیو" او "نجلیو" شوې ده۔

نور مثالونه وگورئ

دَ "ښکارندوی" قصیده

دَ زلما ټالۍ راغلی دی په جنډیو
لکه پېغلې غُټۍ کاندی مکیزونه (۳)

زمری کله کاږی ځان له یرغلگریو
څو ئې نه کا مات مټونه ورمېږونه (۴)

یا به جگ کا دَ بریو رپې په هند کښې
یا به پرېږدی هم په دې چاره سرونه (۵)

"بابوجان بابی سره له خپلو غښتلیو ځوانانو چې درې زره تنه هوتک وو الخ" (۶)

له دیو مثالونو دا واضحیږی چې دَ "محمد هوتک" تروخته دا قاعده منلې او معروفه وه۔ اوس نو دَ دې قاعدې دَ خلاف ورزۍ مثالونه چې په "پټه خزانه" کښې گورو نو دا تاثر ترې خامخا ولاړیږی چې دا غلطه پښتو چا "نوی" لیکونکی لیکلې ده۔ ځکه چې دَ "ی" لرونکی ټکی جمع بغېر له "ی" لیکل یو ادبی بدعت دے چې زمونږ

دَ زمانې لیکونکیو کښې عام دے او یو څرګند مثال ئې پخپله په پټه خزانه کښې دَ ښاغلی حبیبی مرحوم هغه نوټ دے چې دا ترې ښکاری چې مرحوم حبیبی صاحب دَ دې قاعدې په ټولو تفصیلاتو پوه نه وه حبیبی صاحب لیکی.

"دا" اشارهٔ قریب است به دخول دال "وې" می شود بیائ مجهول و در بسې از محاوره در صورت جمع مشار الیه آنرا مفرد میگویند مثلاً "دَ دې سترګو" ولے درینجا "یو" را هم بشکل جمع آورده وشاید محاورهٔ آن وقت خټک باشد (۷)

(ترجمه): "دا" اشاره قریب ده. دَ دال په داخلېدو په یائ مجهول "دې" شی او ډېرو محاورو کښې چې مشار الیه جمع وی (هم) دَ مفرد په صورت کښې استعمالیږی. لکه "دَ دې سترګو" ولې دلته "دیو" هم دَ جمع په شکل راغلے دے. او شاید دا دَ هغه وخت دَ خټکو محاوره وی.

دَ دې مسلمې قاعدې نه دَ انحراف مثالونه وځیرئ

دَ امیرکروړ "ویاړنه" چې دَ "دویمې صدۍ هجری" تحریر او دَ پښتو وړومبے شعر ګڼلے شی، دا بدعت لری. حالانکې دا غلطی په دویمه صدۍ کښې هډو ممکنه نه وه امیرکروړ وائی ؎

غشی دَ من مې ځی برېښنا پر مېرڅمنو باندې
په ژوبله یونم یرغالم پر تښتېدونو باندې
په ماتېدونو باندې لما اتل نسته (۸)

دې بند کښې "تښتېدونو" او ماتېدونو" په ترتیب دَ "تښتېدونے" او "ماتېدونے" دَ جمع صیغې دی. دَ "پټې خزانې" فاضل محشی او

مترجم دَ دې بند دا ترجمه کړې ده.

تیرهائے اراده و عزم من مانند برق بر دشمنان میبارد
در جنگ و پیکار میروم و می تازم بر گریزندگان و بر
شکست خوردگان. پهلوان ترے از من نیست (۹)

دَ "تښتېدونو" او "ماتېدونو" ترجمه په ترتیب "گریزندگان" او "شکست خوردگان" شوې ده او دواړه دَ جمع صیغې دی. که څوک دا ووائی چې دا دَ کتابت غلطئ هم کېدے شی. او ممکنه ده چې "امیرکروړ" "تښتېدونیو" او "ماتېدونیو" وئیلی وی. او "نور محمد خروتی" یا "محمد عباس کاسی" په لیک کښې غلطی کړې وی. دا "عذر ګناه" به په دې وجه "بدتر از گناه" وی چې دا دواړه لفظونه دَ "میرڅمنو" په قافیه کښې استعمال شوے دی او که دا لفظونه "تښتېدونیو" او "ماتېدونیو" وګڼلے شی نو قافیه به غلطه شی.

بله دا چې که چرې دا غلطی دَ پټې خزانې دَ محشی او مترجم په نظر کښې غلطی وے نو هغوی به پرې خامخا نوټ لیکلے وے. دَ دې صفا مطلب دا دے چې دا اهمه غلطی دَ "امیرکروړ" "محمد هوتک" او ښاغلی حبیبی مرحوم نه په یوه طریقه صادره شوې ده. حالانکې دَ حبیبی مرحوم نه خو دَ جدیدیت په وجه دا غلطی ممکنه ده ولې دَ "محمد هوتک" او بیا دَ "دویمې صدۍ دَ شاعر امیرکروړ" نه خو په هیڅ صورت کښې ئې توقع نه شی کېدے ځکه چې دَ دې غلطۍ دا صورت هډو په دغه وخت کښې موجود نه وه.

دَ دې غلطۍ نور مثالونه دَ پټې خزانې په نظم و نثر کښې ملاحظه کړئ.

دَ "ښکارندوی" هغه قصیده چې له هغې مو درې شعره دَ دې
گرامری قاعدې دَ پابندۍ په ضمن کښې وُلُستل دا شعرهم لری

دَ مسیح په پو به مړو ژوندون بیا موند
پسرلے مگر مسیح سو په پوکړونه (۱۰)

دې شعر کښې دَ گرامر دَ ذکر شوې قاعدې سره سم دَ "مړو" په
ځائې "مړیو" لیکل پکار وو. دَ پټې خزانې عکسی چاپ کښې هم دا لفظ
"مړو" دے (۱۱) او دَ ښاغلی حبیبی مرحوم له خوا په دې غلطۍ چې
پاتې کېدل دا څرگندوی چې دوی دَ "مړیو" په ځائې 'مړو' لیکل
غلطی نه گڼله. دا خبره زه ځکه کوم چې هسې نه څوک دا ووائی چې
دا دَ کتابت غلطی ده او دا خبره دِ دَ گرامر دَ دې غلطۍ دَ ټولو مثالونو
په ضمن کښې دَ نظر لاندې وساتلے شی چې که چرې حبیبی مرحوم
دا "غلطی" دَ ژبې عیب گڼلو نو دَ پټې خزانې له "دریافت" نه ترخپله
وفاته پورې یوځل خو به ئې په دې سلسله کښې دَ خپلې قیمتی
رائې څرگندونه کړے وے.

"محمد هوتک" دَ شیخ رضی لودی علیه الرحمه" په ذکر کښې
وائی: "نقل هسې کا. نصر دَ شیخ حمید زوې په ملتان کښې دَ
ملاحده له استاځو سره کښېنوست" (۱۲) دلته دَ قاعدې مطابق
دَ "استاځو" په ځائې "استاځیو" لیکل پکار وو.

دَ شاه حسین هوتک دَ تذکرې په لړ کښې "محمد هوتک"
لیکی" او دَ ټولو غلجو ملکانو او خانانو او مشرانو شاه حسین پخپله
بادشاهۍ ومانه" (۱۳)

دلته دَ غلجو په ځائې "غلجیو" لیکل پکار وو دَ دولسمې صدۍ

دَ یو داسې لیکونکی نه چې پخپله هم غلجے دے دَ داسې غلطۍ امکان قطعاً
نه شی کیدے.

هم دغه غلطی دَ یو بل غلجی "ملا نور محمد" دَ ذکر په ضمن کښې
هم شوې ده. "محمد هوتک" لیکی "مشهور دے په غلجی او په غلجو
کښې توخی دے (۱۴)

"محمد هوتک" دَ کتاب په خاتمه کښې چې خپل کوم غزل راوړے
دے دَ هغې یو شعر دے.

دَ بېلتون په تاریکو کښې مې زړهٔ شین شو
رڼا لمر دَ جام دَ میو په ظلام را (۱۵)

دلته دَ "تاریکو" په ځائې "تاریکیو" پکار وه.

دَ شعر او نثر دا نمونې دَ مثال په طور پېش کړې شوې گڼی
نو داسې غلطۍ په کتاب کښې ځائې په ځائې شته او دا ثابتوی چې
دَ کتاب لیکونکے دَ لیکونکیو دَ جدید نسل غړے دے. او دې "جدید"
لیکونکی ته دَ دولسمې صدۍ لیکونکے وئیل تاریخ سره لویه بې
انصافی ده.

زمونږ دَ کلاسیکی شاعرۍ یو ښکاره روایت دا دے چې دغه شاعرۍ
کښې ټول اجوف افعال دَ حرف علت په فتحه تړلې شوی وی. دَ دې
په نتیجه کښې هر اجوف فعل دَ یو سېلابیز لفظ په ځائې دوه
سېلابیز شی. دَ مثال په طور "عیَب" ټولو پخوانیو شاعرانو "عیبَ"
او "قول" ئې "قوَل" تړلے دے. په کلاسیکی شاعرانو کښې دَ دې
روایت مثالونه دا دی.

خوشحال بابا

راشه مه کوه دپر جور
زه هم خوی لرم یو طور
د غماز په خلې مې وژني
نه انصاف لري نه غور (۱۶)

وخت د نوبهار دے راغ د باغ واړه ګلزار دے
راز د کردګار دے دا ګلونه طور طور
کښېنم وَ رود بار ته چې روانې ابهه ګورم
عمر غُندې درومی چې ښه وکم باندې غور (۱۷)

رحمان بابا

چې هنر کښې یاری د زور اورو
بول وکړم زه رحمان په دا هنر

چې یو یار له بله یاره لري باسی
د دې دور له ستمه ولې نه مرم (۱۸)

د دې کلاسیکی روایت په مقابله کښې د "پتې خزانې" د محمد ګل مسعود د "بدلې" یو بند پیش کوم۔

راشه د خدای د پاره غور کړه محمد ګل ژاړی
تاته تل تل ژاړی
دا ستا د عشق په واوېلا کښې لکه نل شه
اور راباندې بل شه (۱۹)

د دې بند په دوهمې مصرع کښې د "غور" تورے بالکل د ننني تلفظ مطابق ترلے شوے دے او د "محمد هوتک" د معاصر شاعر نه دا اُمید نه شی کېدے چې هغه به په دولسمه صدۍ کښې د "غور" کلمه په یو سبلابیز شکل کښې استعمال کړی۔

فارسی، پښتو، اُردو او د مشرق په خنو نورو ژبو کښې هم شعر د "بیت" په معنی استعمالیږی او ترڅوچې د ترکیب اضافی په صورت کښې نه وی راغلے نو هم دا معنی لری۔ د اضافت یا د توصیف په ځنې صورتونو کښې معنی البته شاعری شی لکه "شعرالعجم" "شعر پارسی" "شعرابدار" وغیره۔ د افغانستان محترم لیکونکی هم دا لفظ عام طور سره هم په دې معنی استعمالوی۔ پخپله په "پته خزانه" کښې څرڅوځل دا کلمه هم په دې معنی راغلې ده

د مثال په طور

"نصرالدین خان اندړ ښه اشعار وائی او زموږ د زمانې له موزونانو څخه کانړه شی۔ دیوان د اشعارونړی" (۲۰)

"څکه چې طبع لطیف ټې درلوده نو ټې دپرخواږه اشعارووئیل ..... کاتب الحروف کله کله دے وینی او اشعارټې اروی ..... په مجالسو کښې اشعار ارتجالاً لولی (۲۱)

"نازوانا..... هسې ارتینه وه چې د خدای تعالیٰ څخه په مناجات ټې دپرا شعار وئیل"

"دغه شعرونه له هغه کتابه زما د پلار په یاد وو" (۲۲)

ولې دا کلمه (شعر) د افغانستان محترم لیکونکی اوس په یوه نوې معنی کښې هم استعمالوی چې په دغه معنی کښې قدماو

نه دے استعمال کړے۔ او دا استعمال ئې بالکل جدید دے۔

دَ افغانستان دَ دې دور لیکونکی "شعر" دَ نظم په معنیٰ هم استعمالوی بلکې کله کله ئې دَ "غزل" دَ پاره هم پکاروی او "شعر" کم از کم درېو ځایونو کښې دیو جدید و معنو کښې په "پټه خزانه" کښې راغلے دے۔

"دغه یو شعر مالهه خپله پلاره اورېدلے وه چې نقل ئې کاندم"

او له دې نه پس چې کوم "شعر" رانقل شوے دے هغه دَ لسو بندونو یو وږد نظم دے۔

هم دغسې یو بل ځائې "محمد هوتک" وائی :-

"دغه شعر ما دَ خپل پلار له خُلې واورېدے چې دَ شیخ بوستان رحمه الله علیه دے۔

"شعر چې بدله ئې بولی" (۲۴)

له دې نه اګاهو یو بل ځائې "محمد هوتک" فرمائی۔

"دَ تېمن بابا دغه شعرونه زما پلار له بُستان الاولیاء" څخه نقل کول او ما له دهه واورېدل۔

"شعر" (۲۵)

دې حواله کښې په وړومبی ځل "شعرونه" په زړه معنیٰ کښې او په دویم ځل "شعر" په جدیده معنیٰ کښې استعمال شوې ده۔ دَ دې کلمې دا جدید استعمال دا ثابتوی چې دَ "پټې خزانې" دَ دیو متعلقه برخو لیکونکے څوک نوے لیکونکے دے چې دَ دولسمې صدۍ هجری سره هیڅ تعلق نه لری او چې دا ثابته شی نو دَ پټې خزانې" دَ جعلی کیدو یو بل ثبوت پیدا شی۔

دغسې یو بل تورے "قام" دے چې "ډورن" راورتی، بېلیو،

پادری خېرالله او راحت زاخیلی مرحوم په خپلو فرهنګونو کښې دَ "قوم" په معنیٰ راوړے دے "سیند" کښې دَ "کام" معنیٰ قوم ده۔ پښتو قاموس "قام" نه دے اخستے خو دَ "کام" معنیٰ ئې "مغفن قوم" کړې ده۔ ظاهره خبره ده چې "کام" ډېر اوسنے ټکے دے او په وړومبی ځل په ۱۳۱۶ هش (سیند) کښې مینځ ته راغلے دے۔ او پښتو قاموس ثابته کړه چې "کام" دَ پښتو خپل ټکے نه دے بلکې دَ قوم مغفن صورت دے۔ دا نوے ټکے په "پټه خزانه" کښې داسې استعمال شوے دے۔

"ځوان وه مېړه دَ تورې جنګ وه نا
ولاړ دَ کام په نام و ننګ وه نا (۲۶)

دې نظم کښې "قندهار" (چې اوس ئې دَ افغانستان محترم لیکونکی بغېر له حبیبی مرحومه مغفن صورت کښې "کندهار" لیکی یو لس ځل په "ق" لیکلے شوے دے۔ څرګنده خبره ده چې 'کام' هم لکه دَ 'کندهار' دَ 'قام' دَ توری جدید صورت دے۔ او چې دا ومنو نو دا به هم منو چې دا جدیدیت دَ "محمد هوتک" دَ دور یعنی دَ دولسمې صدۍ نه ډېر پس دَ څوارلسمې صدۍ وروستۍ نیمائی کښې مینځ ته راغلے دے۔ او دا هډو ممکنه نه وه چې نور خو لا څه چې "محمد عباس کاسی" هم دا تورے په دې صورت کښې لیکلے وے۔

افغانستان کښې دَ ټائپ دَ طباعتی نظام دَ رواج نه پس ځنې داسې املائی مشکلات پیدا شو چې په هغو دَ قابو راوستلو دَ پاره دَ افغانستان علماء په داسې فیصلو کولو مجبور شو چې دَ نسخ دَ لیک

دود په تاریخ کښې دېرزیات اهمیت لری۔

د مثال په طور د "ء" لیکل دو۔ دا حرف که د لفظ په منځ کښې راشی نو د زور لیک دود سره سم ئې لیکل ممکن دی مثلاً مطمئن، مسئول وغیره۔ داسې صورت کښې د "ی" د پاره جوړکولو د پاسه همزه اچول څه مشکل نه وو لیکن کوم ځای کښې چې دا حرف د مفرد حرف نه پس راځی هلته ئې لیکل ناممکن شو مثلاً جرأت کښې د همزه مقام د "ا" د پاسه دے۔ دې مقام کښې د ټایپ د حروفو د ساخت له کبله د حرف د پاسه حرف لیکل ممکن نه دی ځکه نو د دې دا علاج دریافت کړے شه چې دا همزه دې هم لکه د "مطمئن" د همزه په شان لیکلے شی۔ د دې علاج مطابق د "جرأت" د ټکی نوے شکل "جرئت" شه او داسې نور ټکی هم په دې شکل کښې لیکل شروع شو۔ د افغانستان د عالمانو له خوا شاید په نسخ لیک دود کښې یوه ډېره د قدر قابله اضافه وه۔ لیکن بهرحال دا فیصله د ډېرو جدید و مشکلاتو د مخ نیوی د پاره شوې وه ځکه نو نوعیت ئې بالکل جدید وه۔

"پټه خزانه" کښې له دیو الفاظو څخې یو لفظ استعمال شوے دے او د جدید ولیکونکیو له خوا د نوی مشکلاتو په وجه لیک دود کښې د تبدیلی د فیصلې په نتیجه کښې چې په املا کښې کومې تبدیلی راغلې وے هغوسره د مانوسیت له کبله دا نوی لیکونکی مجبورو چې دا ټکی په عامه املا کښې هم هم هغسې ولیکی لکه چې په ټایپ کښې ئې لیکل ممکن وو۔ که داسې ئې نه وے کړے نو کمپوزیټر به د حروف چینۍ (کمپازیټنگ) په دوران کښې د دغه

لفظ له لیکلو معذور وو۔ دا ټکے "قرات" دے چې د عکسی چاپ په صفحه ده په دې عبارت کښې راغلے دے۔

"کله په پښتو اشعارو ائی او کله فارسی ژبې ته هم مېل کا او استاد العلماء ملا یار محمد ته ئې قرات کا" (۲۷)

اوس هرکله چې د "قرات" دا املا بالکل نوې او د افغانستان په موجوده ټولو چاپې کتابونو کښې رائجه ده (تر دې حده چې د سکول او کالجونو د سبق ویونکیو د پاره د پښتو په ټولو کتابونو ئې په غټو الفاظو کښې "د پښتو قرات" لیکلے وی) نو ځکه دا وسیلے شو چې د "محمد هوتک" دا کتاب "پټه خزانه" په کوټه کښې نه بلکې په افغانستان کښې د ټایپ د طباعتی نظام د رواج نه پس لیکلے شوے دے او په دې کتاب د "۱۳۰۳" د کال دا تحریر محض او محض دروغ دی۔

هسې خو د پټې خزانې د جدیدیت په حق کښې د ټول کتاب "املا" د ثبوت په طور پیش کیدے شی۔ ځکه چې د دې قلمی نسخې املا کم و بیش ټوله جدیده ده۔ حالانکې د پښتو قلمی نسخو کښې داسې یو کتاب هم د مثال په طور نه شی پیش کیدے چې د هغې املا ټول کتاب کښې صحیح وی او موجوده املا سره ئې ډېر کم فرق وی۔ "پټه خزانه" شاید اکې یو کتاب دے چې د ننۍ معیاری املا سره یا بالکل مطابق دے او یا پکښې ډېر خفیف فرق دے ځکه نو د ټول کتاب په بنیاد کم از کم د املا ترحده دا دعوی په اسانه ثابتیدے شی چې "پټه خزانه" په جدیده معیاری املا کښې لیکلے شوے کتاب دے او جدیدې معیاری املا د دې کتاب د "آخری کاتب"

"محمد عباس کاسی" تر وخته (یعنی ۱۳۰۳ھ کښې) لا رواج نه وه پیدا
موندلے. حتی چې د "خوشحال ختک مرغلرې" املا هم تر هغه حده
معیاري نه ده تر کومه حده چې د پټې خزانې املا معیاري ده. او
دا د "پټې خزانې" د جدیدیت د ثابتولو د پاره بسه کافي دلیل دے. خو
د یو توري "ځ" د املا خبره داسې ده چې لږ غور پرې پکار دے.

د خېرالبیان د عکسي ایډیشن ۱۳۵۳ هش (۱۹۷۴) کښې د
افغانستان د لوړې علم پوهاند (اوس متقاعد) عبدالشکور رشاد
یوه مقاله "د خېرالبیان لیک دود" چاپ شوې ده. مقاله کښې
صرف د خېرالبیان په لیک دود عالمانه او محققانه بحث نه دے
شوے بلکې د دې خبرې سره سره فاضل پوهاند رشاد د موجوده
لیک دود په باره کښې هم خپله رائې پېش کړې ده. پوهاند رشاد
وائي:-

"د (ځ) اوسنے مروج شکل چې د (ح)
پرسر همزه (ء) کښلی دی. د وزیر
محمد گل خان مومند ایجاد دے. چې
دروسته عام سو او په لروبر پښتونخوا
کښې ټې رواج وموند" (۲۸)

د فاضل پوهاند دا تحقیق په دې لحاظ ډېر اهم دے چې دوی
په کوم کتاب کښې دا تحقیق کړے دے د هغه په تالیف کښې
درسره په مشرانو کښې مرحوم حبیبی او مرحوم ببنوا هم شامل
دی. او تراوسه د دې مشرانو له خوا د دې مقالې د دې حصې
واضح تردید نه دے شوے څکه نو مونږ مجبور یو چې د فاضل

پوهاند رشاد دا تحقیق د لیک دود په باره کښې د افغانستان متفقه
موقف وګڼو.

که د (ځ) دا توري د وزیر محمد ګل خان مومندؒ ایجاد وی نو
د "پټې خزانې" د حقانیت او قدامت د حامیانو په خدمت کښې
زه دا حقیقت پېش کول غواړم چې وزیر محمد ګل خان مومندؒ عین
په هغه کال پیدا شوے دے په کوم کال (۱۳۰۳ھ) چې د پټې
خزانې دویم کاتب "محمد عباس کاسی" خپل کار "باستعجال تمام"
خلاص کړے. بنا غلی زلمی هېواد مل په خپل کتاب "فرهنګ زبان
وادبیات پښتو" کښې د "مومند محمد ګل" تر عنوان لاندې خپل
لیک کښې د دوی د پیدائش کال ۱۳۰۳ھ او د وفات کال ۱۳۴۲ هش
بیانوی (۲۹). چې په ترتیب ۸۶-۱۸۸۵ او ۱۹۶۳ عیسوی راځي. او
په دې لحاظ مرحوم زمونږ معاصر وه. فاضل استاد رشاد دا صراحت
خو نه دے کړے چې وزیر محمد ګل خان مومند د "ځ" دا توري
کله ایجاد کړے وه خو په هرحال کښې د "پټې خزانې" د لیکلو
د کال (۱۳۰۳ھ) نه ټې پس کړے وه او څکه نو د پټې خزانې په
املا کښې د "ځ" د استعمال د دې نه بغېر بله هېڅ تشریح نه
شی کېدے چې "پټه خزانه" د محمد ګل خان مومندؒ د سن شعور
ته د رسېدو نه پس ته دور کښې لیکلے شوے کتاب دے او څکه نو
دا سروپ دروغ دی چې دا کتاب په ۱۳۰۳ھ کښې لیکلے شوے دے

د خېرالبیان په چاپ کښې برخه اخستونکی مهربانان که
اوس هرڅه وائي خو د دې حقیقت تردید نه شی کولے چې دوی د
کتاب د چاپ کېدو نه پس تراوسه یعنی تر ۱۹۸۶ء د فاضل پوهاند

رشاد په تحقیق خاموشه پاتې شوی دی. او څکه د خپلې خاموشۍ په وجه ئې دا ثابته کړې ده چې دوی درسره متفق دی اوس که د پټې خزانې د دفاع د پاره دا ښاغلی خپله رائې بدلوی نو دا د دوی خوښه خو د غیر جانبدار مبصر په رائې کښې د فاضل رشاد دا بیان د "سلطانی گواه" د بیان حیثیت لری. او د دې تحقیق په نتیجه کښې د پټې خزانې جدیدیت او جعلی حیثیت په خپله ثابت شی.

دلته دا خبره هم باید یاده وساتلے شی چې د "څ" دا تورے په هغه قلمی تذکره کښې هم استعمال شوے دے چې سلیمان ماکو پورې تړلې شوې ده. او د محترم پروفیسر رشاد د رائې مطابق د "څ" موجوده شکل د وزیر محمد گل خان مومند ایجاد دے نو په دې بنیاد د سلیمان ماکو تذکره هم د پټې خزانې غُندې یو جعلی دستاویز دے او د بیت نیکه، د ملک یار غرشین او شیخ اسمٰعیل د شاعرۍ قصه هم یوه افسانه ثابته شی.

حوالې او حواشی

۱- د پټې خزانې مدون د دې توری "څوار" په باره کښې لیکلی دی چې دا تورے اوس "له مینځه وتے" دے. خو له سیاق و سباقه ئې معنٰی د "صبر و استقامت و آرام و سکون" کیدے شی. (پته خزانه دوهم چاپ - ص - ۴۴).

۲- پته خزانه - دوهم چاپ - ص - ۴۶.

۳- ایضاً ص - ۵۲.

۴- ایضاً ص - ۵۶.

۵- ایضاً ص - ۵۸. دالفظ "بریو" د "امیر کرور" په "ویارنه" کښې هم استعمال شوے دے. "زما د بریو پرخول تاویږی هسک په نمنځ و په ویار" پته خزانه - ص - ۳۴.

۶- ایضاً - ص - ۱۳۶ - دا د "محمد هوتک" خپل تحریر دے.

۷- ایضاً - ص - ۱۴۴ (حاشیه)

۸- ایضاً - ص - ۳۴.

۹۔ ایضاً۔ ص۔ ۳۵۔

۱۰۔ ایضاً۔ ص۔ ۵۲۔

۱۱۔ پتہ خزانہ عکسی چاپ (دریم چاپ) ص۔ ۲۱۔

۱۲۔ پتہ خزانہ دوھم چاپ۔ ص۔ ۷۰۔

۱۳۔ ھم دغہ کتاب۔ ص۔ ۱۱۰۔

۱۴۔ پتہ خزانہ دوھم چاپ۔ ص۔ ۱۶۲۔

۱۵۔ ایضاً۔ ص۔ ۲۰۲۔

۱۶۔ د خوشحال خټک مرغلرې۔ ص۔ ۱۰۹۔

۱۷۔ ایضاً۔ ص۔ ۹۰۔

۱۸۔ د رحمان بابا کلیات۔ ص ص۔ ۸۶۔ ۱۳۳ (په ترتیب)

۱۹۔ پتہ خزانہ دوھم چاپ۔ ص۔ ۱۲۰۔

۲۰۔ ایضاً۔ ص۔ ۱۶۰۔

۲۱۔ ایضاً۔ ص۔ ۱۶۶۔

۲۲۔ ایضاً ص ص۔ ۱۷۸، ۱۸۴ (په ترتیب)

۲۳۔ ایضاً۔ ص۔ ۲۴۔

۲۴۔ ایضاً۔ ص۔ ۶۶۔

۲۵۔ ایضاً۔ ص۔ ۶۳۔

۲۶۔ ایضاً۔ ص۔ ۱۸۸۔

۲۷۔ پتہ خزانہ دوھم چاپ کښې دا عبارت په ص۔ ۱۱۲ راغلے دے۔

۲۸۔ د خیرالبیان عکسی چاپ۔ د پوهاند رشاد مقاله ص ص۔ ۷۳۔ ۷۴

۲۹۔ فرهنګ زبان وادبیات پښتو۔ ص۔ ۴۹۱۔

د پټې خزانې مآخذ

د پټې خزانې د مؤلف د وینا مطابق ده د "پټې خزانې" د پاره د برش کاله تحقیق کړے دے او د پښتونخوا پرلتو ټ د ګرځیدلو تکلیف کړے دے (۱) دې ته چې یو لُستونکے خیال وکړی او بیا پته خزانه ولولی نو د مایوسی ر پیدا کیدل ضروری وی۔ او هر محنتی او فهیم لُستونکے به د دې کتاب په حقله دا رائې قائموی چې دا دعوئ په دروغو مبنی ده چې د پټې خزانې د ترتیب د پاره "محمد هوتک" د برش کاله تحقیق کړے دے او د پښتونخوا په لتو ګرځیدلے دے۔ ځکه چې په کتاب کښې داسې هیڅ نشته چې دا دعوئ پرې ثابته شی۔ د دې برعکس د کتاب دننه چې څومره مواد "راځائې کړے شوے دے له هغه څخه دا ثابتیږی چې دا کتاب هغه د صافتی اصطلاح مطابق "په مبز" جوړ شوے خبر دے۔

کتاب کښې د یو پښتوس لیکوالکیو حالات "ثبت" شوی دی چې یو پکښې مؤلف او بل ټ والد محترم "داودخان" دے۔ په دې لحاظ د

نهه څلوېښتو لیکونکیو دَ حالاتو دَ پاره دَ تاریخي سندونو ضرورت وه.
له بده مرغه دَ پښتو معلومو لیکونکیو خوشحال خان بابا او رحمان بابا دَ
پاره هم په کتاب کښې دَ کوم باوري سند حواله نه ده ورکړے شوے
او چې کوم سند پېش کړے شوے دے دَ هغه په باره کښې به
راتلونکیو صفحو کښې معروضات پېش کړے شي.

پټه خزانه په درېو خزانو وېشلې شوې ده. وړومبۍ خزانه کښې
دَ هغو شاعرانو بیان دے چې پخوا تېر شوي دي. دویمه خزانه دَ مولف
دَ زمانې دَ شاعرانو په حالاتو مشتمله ده او درېمه خزانه کښې دَ هغو
"ښځو" بیان دے چې شعرونه ئې وئیلي دي. وړومبۍ خزانه کښې
دَ دوه ویشتو شاعرانو، دویمه خزانه کښې دَ یویشتو شاعرانو، درېمه
خزانه کښې دَ شپږو زنانه لیکونکیو او خاتمه کښې دَ دوو شاعرانو حال دے.

دَ وړومبۍ خزانې وړومبے شاعر "شیخ المشائخ قطب العارفین
وزبدة العارفین بابا هوتک علیه الرحمة" دے. دَ دهه په حالاتو کښې
څلورځل دَ "نقل دے" الفاظ راغلي دي. درې واره دَ دې نقل دَ
ماخذ ذکر نه دے شوے. نه دا ښیئلې شوي دي چې دا حالات
"محمد هوتک" ته چا بیان کړي دي. صرف یوځل "ما ته خپل پلار
داودخان داسې نقل وکا" لیکلي شوي دي. خو دلته بیا "سهواً" دا
ذکر نه دے شوے چې دَ "داودخان" مرحوم ماخذ څه یا څوک
وه. او نه دَ داودخان دَ "نقل" دَ حد او سرحد پته لګي چې چرته
ختم شوے دے. ځکه له دغو الفاظو پس دا واقعات بیان شوي دي

۱. "سورغر په دغه روځ دَ مغلو په وینو داسې لجند سو چې
پلوشو دَ لمر به برېښانده کا".

۲. "په دې شخړه کښې پښتانه لږ او بې ځواک و"
۳. چې دَ سرو مغلو پېښه راغله او اخیسه ئې وکا نو یو څو غښتلي دَ
بابا هوتک خپلوان ومړل.
۴. بابا هوتک په لوړ ژغ دا سندره "لولوله" او په غشیو ئې دَ
مغلو ټټرونه څیرل.

اوس پته نه لګي چې دَ "داودخان" روایت کوم دے. دا دَ تاریخ
لیکلو له رویه ډېره کمراه کونکې غلطي ده.

دَ "بابا هوتک" دَ پېدائش او دَ وفات دَ کلونو غُندې اهمو حقائقو
دَ پاره دَ هیڅ سند ضرورت نه دے محسوس شوے. هم دغه حال دَ
"بابا هوتک" دَ "ځوئې" "شیخ ملکیار" دَ تذکرې هم دے. چې دَ دهه
په حالاتو کښې هم پینځه واره دَ "نقل دے" تکرار شوے دے خو
دَ منقول عنه ذکر نه دے شوے. داسې ښکاري چې محمد هوتک ته
"الهاماً" دا ښئیلے شوي دي چې ملکیار دَ پلار دَ مرګ په کال (۷۴۰ھ)
دَ پینځه ویشتو کالو ځلمے وه (او په دې بنیاد ئې دَ پېدائش کال ۷۱۵ھ
شي). دَ شیخ ملکیار په ضمن کښې یوه عجیبه خبره دا ده چې پټې
خزانې دَ ترنګ دَ سېلاب کال (۷۴۹) خو لیکلے دے خو دَ شیخ ملکیار
دَ وفات کال ترې هېر شوے دے. حالانکې که دَ سېلاب دَ کال دَ
پاره دَ سند ضرورت نه وه نو دا تکلف دَ شیخ ملکیار دَ وفات دَ کال
دَ پاره هم ضروري نه وه.

دَ شیخ ملکیار دَ سندرې ماخذ هم "پټه خزانه" کښې نشته. دَ
خرښبون او اسمٰعیل په ذکر کښې هم دَ کومې حوالې ضرورت نه دے
محسوس شوے حالانکې دَ انسابو په کتابونو کښې کم از کم دَ دوی

نامې خوشته. د خربښون د وفات د کال او د هغه د کلام د پاره د
"محمد هوتک" علم غیب کانې ماخذ ګڼلے شوے دے.

د وړومبۍ خزانې د پینځم لیکونکی "شیخ متی" د پیدائش کال
(۶۲۳ھ) بغیر له څه حوالې درج دے. د وفات کال ئې صراحتاً نه
دے راوړے شوے خو هرکله چې بغیر له سند دا دعوی شوې ده
چې "شیخ متی" د پینځوشپیتو کالو په عمر کښې وفات شوے وه نو
تخمین کولے شو چې د وفات کال ئې ۶۸۸ ھ دے. دې تذکره کښې
یا د "محمد هوتک" د "والد صاحب" "داود خان" نه نقل شوے دے
او یو ورځ شعر د ده په حواله د شیخ متی د کلام د نمونې په طور
راوړے شوے دے.

د وړومبۍ خزانې شپږم شاعر "جهان پهلوان" امیر کرور دے
د ده ذکر د "شیخ کټه متی زی" د کتاب "لرغونی پښتانه" په سند
اخستے شوے دے او شیخ کټه خپل معلومات له "تاریخ سوری"
اخذ کړی دی. دا د پټې خزانې له ټولو زور شاعر دے خو اپته
نه لګی چې د ده ذکر په شپږم نمبر ولې راغلے دے؟ ځکه چې تاریخی
تذکرې په داسې حال کښې چې د تذکرې د رجالو پیدائش او
وفات د کلونو په حقله معلومات لری عام طور سره په تاریخی
ترتیب کښې دی. پته خزانه کښې تاریخی ترتیب بغیر له څه
ښکاره سببه نظرانداز کړے شوے دے.

د اووم شاعر شیخ اسعد سوری ذکر د "لرغونی پښتانه" او
د "تاریخ سوری" په غبرګه حواله شوے دے. او اګرچې د وفات د
کال (۴۲۵ھ) ذکر شته خو خدائې خبر چې دغه دواړو کتابونو کښې د

اسعد سوری د پیدائش کال ولې نه دے ښکاره شوے او نه ئې دا
خبره څه اهمه ګڼلې ده چې د پیدائش د کال په ضمن کښې دواړه
کتابه ولې خاموشه دی.

د "ښکارندوی" ذکر هم د دغو دواړو "تاریخونو" په سند
راوړے شوے دے او منتأ سفانه "دواړو تاریخونو" د سلطان شهاب الدین
غوری د درباری شاعر د پیدائش او وفات کال نه دے ښکاره اونه
ئې پرې څه افسوس ښکاره کړے دے. د ښکارندوی هغه "قصیده"
چې په پینځه څلوېښتو شعرونو مشتمله ده دا ښکاره خامې لری:-

ا:- د قصیدې د روایا تو مطابق کریز نه لری.

ب:- د قصیدې د روایا تو مطابق د شاعر تخلص نه لری.

ج:- پته خزانه دا نه ښئی چې د ۴۵ شعرونو دا قصیده "محمد هوتک"
له کومه بیا موندې ده.

د پټې خزانې د نهم شاعر "ابو محمد هاشم ابن زید السروانی البستی
رحمة الله علیه" ذکر هم د شیخ کټه د کتاب "لرغونی پښتانه" په
سند راغلے دے. د هغه د پیدائش کال، تعلیم، عراق ته مسافرت
او په ۲۹۴ھ له هغه ځایه واپسی او درې کاله پس وفات خود شیخ
کټه په "حکایت" مبنی واقعات دی خولې دې نه پس ته د هغه
د عربی، فارسی او پښتو د شاعری په باره کښې هیڅ ماخذ نه
دے ښئیلے شوے او نه د دې وضاحت شوے دے چې کوم "شعر"
په "پته خزانه" کښې راغلے دے. هغه له کومه ځایه اخستے شوے
دے. دغسې د هغه د پښتو کتاب "د سالو ورځمه" په باره کښې
نه د ماخذ د ښئیلو ضرورت محسوس شوے دے او نه دا تفصیل

شته چې دا کتاب په نثروه اوکه په نظم- او بیا هم زمونږ خپل
درونه په دې دعوی اصرار کوی چې "پته خزانه" د تذکرې نګاری
اعلی ترینه نمونه ده-

د پټې خزانې د لسم شاعر "عارف ربانی برهان السالکین شیخ تهمن
رحمة الله علیه" ذکر د "بستان الاولیاء" نومې کتاب په حواله شوے
دے د دې شاعر د ذکر په باره کښې داخبرې د غور لاندې راوستل
پکار دی-

۱- د "مولف" پلار قدس الله سره "بستان الاولیا (د کال ۹۵۶ھ
لیکلے) نه پخپله حواله ورکوی-

۲- 'بستان الاولیاء' دلته په ۹۵۶ھ کښې لیکلے کښلے شوے دے
خود "بستان الاولیا" د مولف "شیخ المشائخ" بستان بړبخ
په ذکر کښې راغلی دی چې (بستان بړبخ) چې وطن ته راغے
په سنه ۹۹۸ھ کښې پ د اولیا الله په بیان کتاب (بستان الاولیا)
وکښې (۳)- د "پټې خزانې" فاضل ایډیټر بنا غلے حبیبی مرحوم
وائی "ایں اختلاف سنین شاید ناشی از سهو نساخ و نویسندگان باشد (۴)
(د کلونو دا اختلاف شاید د نسخه نویس اولیکونکیو له سهوې
پیدا شوے وی)- د پټې خزانې د اخری کاتب محمد عباس کاسی
د جُملې "باستعجال تمام قلمی شد" په عذر د رحمان بابا د وفات کال که
"۱۱۲۸ھ" په ځای "۱۱۱۸ھ" لیکل سهو کتابت نتیجه وکښلے شی
(چې روستو به پرې بحث کیږی) نو په اعدادو کښې خوشه
یوواله شته چې د هغې په غلط بنیاد دعوی شوې ده خود
۹۵۶ھ او ۹۹۸ھ ترمینځه د هندسو یا عبارت کوم التباس

کهډے شه چې د هغې په بنا مونږ د مرحوم حبیبی د سهو کتابت
عذر ومنو. د حبیبی مرحوم د وفات نه پس د هغو په باره کښې
خیال انګیزی څه ښه خبره نه ده خو له بده مرغه د هغوی
دا حاشیه لُستونکے په دې خیال انګیزی کولو خامخا مجبور وی-

۳- د "شیخ تهمن" د پیدا ئښ او وفات کلونه ولې ثبت نه کړے شو؟

د پټې خزانې د لسم شاعر" کاشف اسرار عرفان شیخ بستان بړبخ
قدس الله سرهٗ العزیز" ذکر د مولف" پلار علیه الرحمه "له" قدما"
څخه د روایت په بنا کړے دے- او له بده مرغه په ټول کتاب
کښې د دې قدماو هیڅ تفصیل نشته د "قدماو" په دې روایت
کښې د شیخ بستان د ژوند پیدا ئښ او وفات په باره کښې هیڅ
تفصیل نشته- د شیخ بستان د کلام نمونې د پاره د بل هیڅ
سند ذکر نه دے شوے او صرف په هغه کتاب تکیه شوے ده
چې هغه د "بستان الاولیا" په نامه د "اولیاء الله په بیان" لیکلے
شوے وه-

د پټې خزانې د لسم شاعر" امیر الفصحاء شیخ رضی لودی علیه
الرحمه" دے- د دې په باره کښې معلومات له "کلید کامرانی" څخه
اخستی شوی دی چې دغه کتاب د شیخ احمد ابن سعید اللودی" په
کتاب اعلام اللوزعی فی اخبار اللودی" مبنی دے- د دواړو کتابونو د
لیکلو کال په ترتیب ۱۰۳۸ھ او ۶۸۶ھ لیکلے شوے دے- خو د
شیخ رضی لودی او د هغه د تربور نصر لودی د پیدا ئښ او وفات
د کلونو په باره کښې دواړو کتابونو خپلو لُستونکیو ته څه معلومات
نه دی ورکړی-

"پټه خزانه" کښې دَ شیخ رضی علیه الرحمه "دَ "پاړکۍ" ماخذ هم نه دے ښیلے شوے البته دَ دې پاړکۍ په ځواب کښې دَ نصر لودی "غبرګون" دَ شیخ احمد لودی په سند راوړے شوے دے. دَ 'نصر لودی' په باره کښې په "پټه خزانه" کښې نقل هسې کا چې "چې شیخ حمید رحمة الله وفات شه نو ئې پرځائې نصر کښېنوست او دَ الحاد ترویج ئې غوره کړئ او قرامطه ئې راوستل شیخ رضی علیه الرحمه چې سوچه مسلمان وه خپل تربور نصر ته ئې داسې "پاړکۍ" وکښل او وائې ستول.

پاړکۍ

دَ الحاد په لور دی ترپلل ګروه دې زموږ وکوراوه

له دې نه پس شپږ نور شعرونه ئې چې پکښې په نصر لودی دا الزام لګیدلے دے چې دے مرتد شوے او دَ پلار نیکه له دینه اوړیدلے دے. دَ دې الزاماتو په ځواب کښې دَ شیخ احمد لودی په حواله دَ نصر لودی "غبرګون" راغلے دے چې دَ رضی لودی دَ الزاماتو ئې تردید کړے دے. پکار دا وه چې دَ دې تردیده پس دَ نصر لودی دَ عقیدې په باره کښې اطمینان ښکاره شوے وے خو له بدقسمتۍ نه داسې نه ده شوې او دَ هغه په باره کښې دا الزامات لاقائم دی چې هغه دَ الحاد ترویج غوره کړے وه او قرامطه ئې راوستلی وو"

دَ پټې خزانې څوارلسم شاعر "مقبول ربانی شیخ عیسی مشوانی" دے چې حالات ئې دَ مخزن افغانی په بنیاد راوړے شوی دی. ځکه نو تاریخی لحاظ سره پکښې څه غلطی نشته. البته دَ شیخ عیسی مشوانی دَ شاعرۍ په باره کښې دَ تاریخ خان جهانی پوره روایت داسې دے

"نقلست که در توحید حق تعالی میان شیخ عیسی مشوانی رساله تصنیف فرموده اند از سه قسم بزبان پشتو و فارسی و هندی" (۶) ترجمه: "یعنی وائی چې شیخ عیسی مشوانی دَ حق تعالی دَ توحید په باب په دریو ژبو پښتو، فارسی او هندۍ (یا هندکو) کښې یوه رساله لیکلې وه "پټه خزانه" دَ مخزن افغانی دَ حوالې باوجود دَ دې رسالې ذکر نه کوی. هم دغسې دَ شیخ عیسی مشوانی په نمونه دَ کلام کښې هم اختلاف دے او هغه داسې:-

دَ پټې خزانې قرأت:-

پخپله کار کړې پخپل انکار کړې
کله بادار یم کله مې خوار کړې
ته خو قادر یئې په صفتونو
کله مې نور کړې کله مې نار کړې
عیسی حیران دے په دې شیونو
کله مې یار کړې کله اغیار کړې

دَ مخزن افغانی قرأت

پخپله کار کړې پخپله انکار کړې
کله عزیز مې کله مې خوار کړې
ته قادر ئې په صفتونو
کله مې نور کړې کله مې نار کړې
عیسی حیران دے په دې صفتو
کله مې یار کړې کله اغیار کړې (۷)

وړومبۍ، دویمه، دریمه او څلورمه مصرعه کښې لاس وهنه دَ لسمې صدۍ دَ شاعرۍ دَ څوارلسمې صدۍ دَ شاعرانه معیار سره

د سمولو کوشش دے۔ دا شعرونه "پښتانه شعرا" لومړی ټوک کښې
داسې راغلی دی:-

پخپله کار کړې پخپل انکار کړې
جګ پر هوا یم کله مې خوار کړې
ته ښه قادر ې صفت دې دا دے
کله مې نور کړې کله مې نار کړې
عیسی حیران دے په دې صفت کښې
کله مې یار کړې کله اغیار کړې (۸)

د تنقید او تاریخ د اصولو تقاضا دا ده چې حبیبی مرحوم کم از کم
په تعلیقاتو کښې (که حاشیه کښې ورته څه مشکل پېښېدلی) دا
ښکاره کړے وے چې دا شعرونه د "پښتانه شعرا" لومړی ټوک د
پاره دوی هم د مخزن افغانی د قلمی نسخې نه په مختلف اندازکښې
نقل کړی وو۔ بهرکیف د مرحوم دوست محمد خان کامل مومند د
مخزن افغانی له چاپی او قلمی نسخو څخه نقل شویو شعرونو او د
حبیبی مرحوم د قلمی نسخې (یا نسخو) څخه نقل شعرونو کښې دا فرق
پخپله دا ثابتوی چې د "پښتانه شعرا" او "پټې خزانې" قرأتونه د
شیخ عیسی مشرانی په شعرونو کښې د شعوری لاس وهنې ثبوت دے۔ او
د دیو شعرونو د وزن کومې غلطۍ چې "حبیبی مرحوم" په ۱۳۱۹هش
کښې محسوسې کړې وې هم هغه غلطۍ "محمد هوتک" په ۱۰۴۲ ق
کښې هم صحیح کړې وې۔ او حبیبی مرحوم په دې "حسن اتفاق"
د پټې خزانې په نوټونو کښې څه لیکل ضروری و نه ګڼل۔

د پټې خزانې د پنځلسم شاعر "سلطان السلاطین سلطان بهلول لودی
علیه الرحمة الله الولی" دے۔ د دې حالات د مخزن افغانی په سند شروع
شوی دی خو هرکله چې د دې د پښتو د کلام نمونه په مخزن افغانی
کښې نشته نو له دې کبله د "محمد رسول کلاتوال هوتک" له بیاضه
استفاده شوې ده۔ او دې "بیاض" کښې ې د سلطان سره سره د
شپاړسم شاعر "خلیل خان نیازی" د شاعرۍ نمونه هم (بغیر د حالاتو
له تفصیله) راوړې ده۔ د سلطان بهلول لودیؒ د خوانینو یا مصاحبینو
په سلسله کښې د "خلیل خان نیازی" نوم زما تر نظره نه دے راغلے
که د پټې خزانې بیان کړې قصه صحیح وے نو دا نوم به د لودی
کورنۍ د تاریخونو په یو نه یو کتاب کښې خامخا راغلے وے (د دې
تفصیل مخکښې راځی)۔

اوولسم شاعر خوشحال خان بابا دے۔ د دې ذکر "لومړی خزانه"
کښې په دې نه وه پکار چې لومړی خزانه د هغو شاعرانو په
بیان کښې ده چې "پخوا تېرسوی" دی او خوشحال بابا په ۱۱۰۰ھ
کښې وفات شوے دے۔ ځکه نو د دې په زمانه د "پخوا" د لفظ
اطلاق نه کیږی۔ بهرکیف د دې شاعر د پاره د "محمد رسول هوتک"
د بیاض نه استفاده شوې ده۔ د خوشحال بابا د پیدائش کال ۱۰۲۲ھ
صراحتاً د "محمد رسول هوتک" په سند لیکلے شوے دے او د وفات
کال په ۱۱۰۰ھ اشارتاً د هم دغه راوی په وینا مبنی دے۔ د محمد رسول
هوتک په باره کښې به مفصل بحث په راتلونکیو پاڼو کښې کیږی۔
ځکه نو اوس ې ذکر پرېږدم صرف په هغه نمونه کلام به خپل
معروضات پېش کړم چې د دغه بیاض په حواله راوړې شوې ده۔

د خوشحال بابا هغه غزل چې مطلع یې دا ده :

"په کاتھ کاتھ مې ستړګې په واتھ شی
چې خبر دې د راتلو رابانديې وشی"

" د خوشحال خان خټک مرغلرې " د مرحوم کامل مومند مرتب کړی کلیات او کابل نه د ۱۳۵۹ چاپ شوے د کلیات لومړی ټوک کښې نهه شعرونه لری خو پټه خزانه کښې دا غزل د اتو شعرونو دے او د کتاب مشرح (چې " د خوشحال خان خټک مرغلرې " یې مرتب کړې وے) پرې هیڅ نوټ نه دے لیکلے۔ کهه دا غلطی د " محمد رسول هوتک "، " محمد هوتک "، " نور محمد خروټی " او " محمد عباس کاسی " وے نو حبیبی مرحوم به پرې خامخا نوټ لیکلو خو چې هر کله دا غلطی د " بل چا " ده نو ځکه نوټ پرې ونه شهه لیکلے۔

د غزل یو شعر دا سې دے :

"چې دیدن د محبوب وکړمه تازه شم
لکه کښت چې په باران سره ابهه شی"

دوهمې مصرع کښې د محبوب په ځای ټولوچاپی نسخو کښې "مین" دے دا هم هغه غلطی ده چې محمد هوتک، نور محمد خروټی او محمد عباس کاسی ته نه شی منسوبیدے ځکه چې بنا غلی حبیبی مرحوم پرې د حاشیې لیکلو ضرورت نه دے محسوس کړے۔

د " محمد رسول هوتک " په دې نمونه کلام کښې د دغسې نورو غلطیو تفصیل دا دے۔

په ټولوچاپی نسخو کښې د غزل دې شعر

"د خپل یار د جدائۍ هسې کار دے
لکه روح چې له وجوده په واتھ شی

کښې د " روح " په ځای " سا " ده۔

د دویم غزل مطلع ده۔

که مسجد ګورې که دیر
دواړه یو دی نشته غیر

د مطلع دویمه مصرع کښې د ټولوچاپی نسخو قرأت دا دے :

" واړه یو دی نشته غیر

هم د دې غزل یو بل شعر پټه خزانه کښې داسې دے۔

هغه ځای په سر ګرځم
چې تړې نه رسیږی طیر

ټولوچاپی نسخو کښې د دویمې مصرعې وروسته تورے " غیر " دے " د خوشحال خان خټک مرغلرې " کښې یې د متن قرأت " غیر " او حاشیه کښې بغیر له څه حوالې یا د نسخې له وضاحته " طیر " راغلے دے۔ او هم دا " طیر " په " پټه خزانه " کښې هم دے۔

د پټې خزانې د غزل شعرونه ځلورد ی او دا شعر پکښې نشته

" په احول باندې یو دوه شی
ځکه نشته باندې خبر "

" د خوشحال خان خټک مرغلرې " د " احول " په ځای " احوال " راوړے دے او د دې غلطۍ اصلاح په غلطنامه کښې نه ده شوې۔

هر کله چې غزل د ځلورو شعرونو نه وی بلکې کم از کم د پنځو شعرونو وی نو په دې لوۍ غلطۍ هم ستړګې پټول ممکن نه وو۔ او که دا غلطی د نسخه نویسو وے نو د حبیبی مرحوم غنای عالم سړی به هیڅرې نه وه نظرانداز کړې۔ لسټونکی دی پخپله

اندازه ولګوی چې دا "نظرانداز" کړې شوې غلطی دَ چا ده ،

دَ خوشحال بابا دَ رباعیاتو په ضمن کښې هم هم دغه غلطی شوی دی دَ دویمې رباعۍ د وړومبۍ مصرع " هوښیار به مینه په ورمو زیاته کا " په ټولو نسخو کښې " هوښیار به مینه په ورمونو زیاته کا " راغلې ده او پته خزانه کښې ئې " اصلاح " شوې ده خو نوټ پرې نه دے لیکلے شوے۔ له دې ټولو معروضاتو دا ثابتیږی چې دَ " محمد رسول هوتک " لیکلی دغه شعرونه دَ ټولو چاپی نسخو نه مختلف وو او جبیبی مرحوم پرې دَ څه وضاحت کولو ضرورت نه دے محسوس کړے۔ دا غلطی که یو ځل شوے وے نو دَ بشریت دَ تقاضې په عذر ئې دفاع کیدے شوه خو دَ یوه شاعر په حال کښې په یو ځای شپږ غلطئ څرنګه .ې وضاحته پاتې شوې.دی دَ بشریت دَ تقاضې په بانه به ئې څنګه دفاع وکړے شی۔ دې مجموعه کښې "خوشحال خان خټک د وړومبے شاعر دے چې مونږ ئې دیوان په لاس کښې لرو او تاسر وکتل چې دَ دې وړومبی شاعر په نمونه کلام کښې شپږ لوئ غلطئ شوې دی۔ دَ هغه په حالاتو کښې دَ غلطئ ذکر به وروستو راشی۔

دَ خوشحال بابا نه پس اتلسم شاعر " زرغون خان جنت مکان " دے چې پته خزانه ئې دَ دوست محمد کاکړ دَ "غرغښت نامه" په حواله ذکر کوی ' دوست محمد کاکړ ' دَ زرغون خان دَ پیدائش کال ۸۹۰ هجری خو دا ضرور وائی چې " زرغون خان په کال ۸۹۱ سنه هجری مُبارک لاړو هرات ته " او دا هم چې په ۹۲۱ هجری په دیراوت کښې وفات شو۔ دغسې دا هم نه بنئی چې دَ هغه دیوان چې " پوره

درې سوه " اوراق ئې وو دَ هغه له وفاته نهه کاله مخکښې په ۹۱۲ کښې څنګه دَ " ملا ایوب تهمنی " لاسوته ورسید ه "غرغښت نامه" لکه چې " محمد هوتک " ئې اقتباس پیش کوی په نثر نه بلکې په نظم کښې دے او دَ غرغښت بابا قدس الله سره الکریم حکایات دی او له رشتینو خلقو ئې روایات راجمع کړی دی (۱۰) دا کتاب دَ محمد هوتک پلار" په توبه کښې میندلے وه " او دَ پټې خزانې دَ مولف په قول " زمونږ کهول موکوچنیو او زنیو په سبق لُست" (۱۱) اوس نو دَ دیو تصریحاتو په رنا کښې دا سوالونه پیدا کیږی۔

۱: چې " غرغښت نامه " په نظم کښې وه نو له هغې نه اقتباس په نثر کښې ولې غوره وګڼلے شه ۔ او ټول روایت کښې دَ " دوست محمد کاکړ " دَ یو شعر حواله هم ور نه کړے شوه ۔

۲: چې کتاب " غرغښت نامه " دَ غرغښت بابا په حکایاتو مشتمل وه نو دَ غرغښت بابا په حکایاتو کښې دَ " زرغون خان " دَ کلام دَ رانقل کولو کومه موقع ده (۱۲)

۳: دَ " غرغښت نامې " اصل دَ " دوست محمد کاکړ " دَ پلار کتاب " تذکرهٔ غرغښت " وه۔ هرکله چې دَ " دوست محمد کاکړ " پلار بابړخان وفات شه نو دوست محمد کاکړ په کور نه وه او له دې کبله هغه کتاب ورک اوضائع شوے وه ۔ خو دوست محمد کاکړ دَ دغه کتاب " خبرې اوریدلې او په وارو وارو وئیلی وے " او هم ئې " څه له هغو په یاد وے " ځکه نو دَ " دوست محمد کاکړ " دَ قول ما پرخدائې توکل وکا او هغه قصې او روایات مې بیا په شعر ووئیل " او له دې څخه په " ۹۲۹ ه " کښې " غرغښت نامه " جوړه شوه (۳)

اوس چې دا تفصیلات په ذهن کښې ساتو نو څرګنده خبره ده
چې که زرغون خان په ۹۲۱ کښې وفات شوے وی نو د هغه ذکر
په "غرغښت نامه" کښې هسې هم نه شته راتلے. ځکه چې په
۹۲۹ هـ کښې د "دوست محمد کاکړ" پلار مړ وه. او په ۹۱۲ هـ کښې
دوست محمد کاکړ د زرغون خان دیوان په سجعان کښې لیدلے وه
بابر خان نه وه لیدلے ځکه نو دا ټول روایت مجروحیږی. یا به
غرغښت نامه د دوست محمد کاکړ کتاب ګنړو او دا روایت به منوچې
دوست محمد کاکړ د زرغون خان دیوان په ۹۱۲ هـ کښې په سجعان
کښې لیدلے او هغه وږده ساقی نامه ئې تري رانقل کړې ده چې
د پټې خزانې د دوهم چاپ په ص ۸۴، ۸۶ او ۸۸ درج ده او ۳۹
شعرونه لري او یا به دا منو چې غرغښت نامه د "تذکره غرغښت"
د لیکونکی په باره کښې دا دعوی نه ده شوې چې هغه د زرغون خان
دیوان لیدلے وه او د هغه د کلام د ذکر هیڅ وامکان نشته. دیو دواړو خبرو کښې
که هره یوه خبره ومنلے شی نو پته خزانه پرې جعلی ثابتیږی.

د پټې خزانې نولسم شاعر د "غرغښت نامې" لیکونکے "دوست محمد
کاکړ" بیان شوے دے. چې د "زرغون خان" په ضمن کښې پرې
بحث وشه. دې سلسله کښې بس دومره خبره اهمیت لری چې د
زرغون خان ذکر خو د غرغښت نامې په بنیاد شوے دے خو د "دوست محمد
کاکړ" ذکر هم د هغه د خپل کتاب (چې اصل کښې ئې د پلار کتاب وه)
په بنیاد شوے دے او لکه د زرغون خان د ذکر د ده خپل ذکر هم
په نثر کښې راغلے دے حالانکې غرغښت نامه د "شیرینو ببتونو
مثنوی" وه. (ص) او په آسانه تري شعرونه نقل کیدے شوځکه چې

"غرغښت نامې" کتاب د پټې خزانې د مولف په خاندان کښې "کوچنیو
اوزنیو په سبق لست او کله له دغه کتابه د ۳۹ شعرونو ساقی نامه
او د ۳۳ شعرونو حکایت رانقل کیدے شوه نو د مصنف "زرغون خان"
په حال کښې هم یو څو شعرونه تري رانقل کول څه دومره مشکل
کار نه وه.

د غرغښت نامې په باره کښې دا هم یاد ساتل پکار دی چې د
دې کتاب نه رانقل شویو دواړو منظوماتو کښې د لیکونکی تخلص هم
دغسې نشته لکه چې د "پټې خزانې" اکثرو قصیدو کښې هیر کړے
شوے دے.

شلم شاعر "محبوب سبحانی عبدالرحمن علیه الرحمه" دے. پته
خزانه کښې د رحمان بابا ذکر د "محمد رسول هوتک علیه الرحمه" د
بیاض په سند راغلے دے. د رحمان بابا په دې خزانه کښې د راوستو
په باره کښې هم هغه اعتراض واردیږی کوم چې د خوشحال بابا په
ضمن کښې عرض شوے دے. یعنی دا چې رحمان بابا د "محمد هوتک"
د زمانې شاعر وه او لومړی خزانه کښې د "محمد هوتک" د خپل
بیان مطابق صرف هغه شاعران راتلل پکار وو چې "پخوا تیرسوی" دی.

د رحمان بابا د حالاتو نور تفصیل پخپله د "محمد هوتک" او څه
نور د هغه د پلار په حواله راغلے دے. د دې تفصیل په باره
کښې به تنقیدی تبصره کران لستونکی محکښې ولولی. دلته صرف
دومره قدرې عرض کوم چې د رحمان بابا د کلام د نمونې په طور د
راغلی غزل ماخذ نه دے ښیلے شوے او اګرچې دا وئیلی شوی دی
چې د رحمان بابا د دیوان نقلونه "اوس وهردی" خو بیا هم د تاریخی

تحقیقی او تنقیدی روایا تو تقاضا دا وه چې محمد هوتک دا ښیلے وے
چې دهٔ دا غزل لهٔ کومې نسخې را نقل کړے دے هغه چا اوکله لیکلې
وه۔

د پټې خزانې یویشتم شاعر "محمد صالح رحمه الله علیه" دے
چې د کتاب مولف ئې د ملا الله یار الکوزی د کتاب تحفهٔ صالح په
سند "حالات" لیکلی دی محمد هوتک لیکی۔

"ملا الله یار د خپل شیخ په نامه وکښلی کتاب چې "تحفه صالح"
ئې نوم وه۔ په هغه کتاب کښې د خپل شیخ علیه الرحمه احوال او
خبرې وکښلې "خو سره د دې هم دغه "احوال او خبرې" څه چې
مونږ ته دا علم هم نه دے راکړے شوے چې د دهٔ شیخ د کومې
زمانې سړے وه۔ او د دهٔ د زمانې د یقین د پاره مونږ د "شاه بیګ خان"
په احوالو د تحقیق کولو محتاج یو۔ او چې د دهٔ د نوم سره د قندهار
د صوبه دار د الفاظو په وجه دے "شاه بیګ خان کابلی" په ګڼلو
مجبور یو اوس نو سوال دا پیدا کیږی که دا صوبه دار په ربښتیا
کابلے وه نو بیا ورته شیخ محمد صالح پښتو کښې ولې لیک استولو۔

د شیخ محمد صالح د دویم غزل د دې شعر وړومبی مصرع
لهٔ وزنه خارج ده۔

صه مګر الله چې حبیب دے هم طبیب دے
کارسازی کا د خوارانو رنځورانو

د لومړی خزانې وروستے او د پټې خزانې دوه ویشتم شاعر
"علی سرور قدس سره العلی" دے چې محمد هوتک ئې د "تحفهٔ صالح"
او "مخزن افغانی" په حواله ذکر کړے دے۔ "مخزن افغانی" د علی سرور

د حالاتو د پاره مستند کتاب کیدے شی۔ ځکه چې د علی سرور نه
بغیر هم پکښې د نورو پښتنو ولیانو ذکر دے۔ خو "تحفه صالح" د
علی سرور لودی د حالاتو د پاره یو بالکل غیر متعلق کتاب دے ځکه
چې د محمد هوتک د خپل بیان مطابق دا کتاب ملا الله یار د خپل
شیخ (محمد صالح) په احوالو او خبرو لیکلے وه (۱۲) نو ځکه دې
کتاب کښې د "محمد صالح" د ذکر نه بغیر د بل چا د ذکر ګنجائش
نه وه۔ بیا خاص طور سره دا کتاب د "علی سرور" د غزل ماخذ
په هیڅ وقت نه لری او کهٔ لری نو "محمد هوتک" ئې
وضاحت نه دے کړے۔

د پټې خزانې دویمه حصه د "دوهمه خزانه" په نوم د هغو
شاعرانو بیان ته وقف ده چې "زمونږ معاصر دی غفرالله لهم" دې
عنوان سره د "غفرالله لهم" جمله اګرچې معنوی لحاظ سره صحیح ده
خو د عام روایت مطابق دا جمله صرف د مړو خلقو د پاره استعمالیږی
او ځکه د ژوندیو د ذکر سره دا جمله سمون نه خوری۔

د دې خزانې وړومبے شاعر چې د کتاب دروېشتم شاعر دے
"ملا باز توخی" نوم لری او اګرچې دا شاعر د "محمد هوتک" همراز
او "اشنائی راز" دے ولې بیا هم محمد هوتک د هغه د پیدائش د
کال ذکر نه دے کړے حالانکې دهٔ په دې باره کښې له خپل
معاصرنه پُښتنه کولې شوه۔

د کتاب څلویشتم او پنځویشتم شاعر په ترتیب شاه حسین او
ملا زعفران دے۔ د دواړو د حالاتو د پاره د چا د روایت ضرورت نه
دے محسوس شوے۔ د شاه حسین په باره کښې د ټولو ضروری کلونو

ذکرشته خو دا اهتمام دَ ملا زعفران په سلسله کښې نه دے شوے او که دا ملا زعفران هم هغه "ملا زعفران تره کی" وی چې دَ "گلدسته زعفرانی" لیکونکے دے (۱۸) نو دَ "مدار المهام" او "صدر الافاضل" په حیثیت هیڅکله غیر معروف سړے نه وه. او ځکه ئې ضروری معلومات حاصلول هیڅ گران کار نه وه - دَ مجموعې شپږویشتم شاعر "محمد یونس خان" دے چې پټه خزانه کښې ئې ذکر دَ "رحمت هوتک" په حواله شوې دے. او بناغلی حبیبی مرحوم پرې په تعلیقاتو کښې هیڅ اضافه نه ده کړې. حالانکې هغوی داسې کولے شو ځکه چې دَ یونس دیوان په ۱۳۲۰ هش کښې هغوی ته رسېدلے وه. او دَ پښتانه شعرا، په ص ۲۰۲ هغوی دا اعتراف کړے دے چې دَ یونس دَ دیوان یوه نسخه "خورا په ښه خط مطلا لیدلې شوې ده - چې په پېښور کښې دَ فیض طلب خان توپچی باشی په امر په ۱۱۷۶ کال زین الدین نومې کاتب لیکلې وه (کذا) "دا هم هغه نسخه ده چې بناغلی عبد الله خدمتگار په ۱۳۵۶ هش کښې دَ یونس دیوان په نامه چاپ کړے دے. البته دَ "توپچی باشی" دا تورې په هغه نسخه کښې نشته بلکې دَ هغه دیوان ترجمه داسې ده.

"بحسب فرمائش مرشد کونین مربیٔ دارین پیشوائے سالکان طریقت، رہ نمائی گمرہان شریعت خان صاحب بلند اقبال فیض طلب خان ساکن ہشتنگر طال عمرہٗ کتاب میمونہ المسمی دیوان یونس از قلم شکستہ رقم فقیر زین الدین غفر اللہ لہ ولوالدیہ واحسن الیہما صورت تحریر یافت مطابق سنہ ۱۱۷۶". (۱۹)-

بناغلے عبد الله خدمتگار لیکی:-

"دَ ۱۳۲۰ هش په شاوخوا کښې دَ افغانستان دَ دولت دَ ارگ کتابخانې

ته دَ یونس یو بشپړ دیوان رسیدلے دے چې دغه دیوان دَ هغه له مخه چاپ شه او وروستو به پرې وگړیږو.

..... دَ ارگ دَ کتاب خانې دَ ذکر شوې قلمی دیوان له مخه پوهاند عبد الحئی حبیبی دَ یونس پیژندنه لیکلې ده..... چې په ۱۳۲۰ هش کال په پښتانه شعرا لومړی ټوک کښې تر ۴۲ لمبر لاندې چاپ شوے دے (۲۰).

له دې صفا ښکاری چې دَ یونس دیوان بناغلی حبیبی ته دَ پښتانه شعراء لومړی ټوک دَ ترتیب په وخت میسّر وه او حبیبی مرحوم دَ څه خاص مصلحت په وجه نه هغه وخت دَ دې خبرې اعتراف کړے دے او نه ئې دَ پټې خزانې په تعلیقاتو کښې دَ هم دغه "خاص مصلحت" له کبله دا خبره څرگنده کړې ده چې دوی دَ یونس دیوان لیدلے دے. گران لُستونکی دې اوس دَ دې خاص مصلحت په باره کښې پخپله اندازه ولگوی چې دَ پټې خزانې سره ئې څه تعلق شته او که نه.

دَ یونس دَ دیوان نه چې دَ پټې خزانې په باره کښې کوم معلومات حاصلیږی دَ هغو تفصیل مخکښې بیان شوے دے. او گران لُستونکی دې ئې هلته ملاحظه کړی. البته دومره خبره دې پرې زیاته ولولی چې دَ رحمان بابا او دَ یونس تر منځه دَ استازۍ او شاگردۍ دَ تعلق په باره کښې چې "رحمت هوتک" کوم انکشاف کړے دے هغه دَ دې انکشاف نه مخکښې حبیبی مرحوم ته معلوم وه او ځکه هغه دا لیکلی دی.

"یونس دَ خپل استاذ رحمان بابا مرثیه وئیلی او دَ هغه دَ ابدی

فراق پهه ارمان داسې غلبلې کړی دی" (۲۱)

ښاغلی حبیبی مرحوم دَ یونس شعر

پیاده گان کوټوال راهدار لیونی سپی دی

پر ډکه دې خدائې څوک نه کا برابر څوک

کښې دَ "ډکه" دَ غلطې معنې پهه بنیاد دا خیال ظاهر کړے دے چې پهه دې شعر کښې دَ ډکې دَ استعمال نه "ښکاریږی چې دَ خیبر دَ شاوخوا کښې اوسیدئ" (۲۲) او بیا ئې دَ "رحمت هوتک" پهه روایت پټه خزانه کښې دَ دې خیال توثیق کړے دے. حالانکې لکه چې دَ یونس دَ دیوان دَ شهادت پهه ضمن کښې عرض وشهه دا "ډکه" هم هغه ډکه ده چې رحمان بابا پخپله داسې استعمال کړې ده چې

هم ئې هند پهه ډکه واخست

هم کابل هم پښاور (۲۳)

یا لکه خوشحال بابا چې وئیلی دی.

شړی ور پښتون به ئې سل پهه ډکه یوسی

کشمیری چې بغرګ شالونه ئې پهه دوش وی (۲۴)

اوه ویشتم شاعر پټه خزانه کښې دَ "رحمت هوتک" پهه روایت متعارف شوے دے چې هغهه دَ "سرامد شعرائې موجود محمد گل مسعود نوم خو لیکلے دے خو دَ دهه دَ پیدائش کال دَ استوګې ځائې او پېښور کښې دَ موجودګۍ وجه ئې نه ده لیکلے رحمت هوتک دَ محمد گل مسعود دَ پاره دَ "ولیدل شو" ټکی استعمال کړی دی چې دا ښئی چې دَ دهه ورسره پوخ تعارف نه وهه. ځکه نو "رحمت هوتک" له پکار وو چې دَ هغه بدلې ماخذ ئې ښئیلے وے چې دهه دَ خپل تربور

دَ پاره نقل کوله-

هم دغسې دَ اتویشتم شاعر "عبد القادر خان خټک" پهه باره کښې نواب محمد اندړ هم دا روایت کوی چې پهه سنه ۱۱۱۳ هـ کابل کښې لیدل شوے وهه. پهه صیغهٔ مجهول کښې دَ دې روایت باوجود دَ عبد القادر خان دَ پیدائش کال خو پهه ورځ هم ښئیلے شوے وهه او دا وئیلی شوی دی چې هغه دَ ۱۰۶۱ هـ دَ جمادی الثانی پهه ۲۳ پیدا شوے وهه (۲۵) ظاهره ده چې دَ "لیدلی شوی" عبد القادر خان پهه باره کښې به دا معلومات پخپله لهه عبد القادر خانه حاصل شوی وی او پهه دې صورت کښې دا خبره دَ عبد القادر خان بالکل دروغ کړې یا نواب محمد اندړ غلطه اوریدلې او "محمد هوتک" غلطه لیکلې ده چې دَ خټکو خانان دَ عبد القادر خان تابع وو (۲۶)-

صرف کابل کښې دَ لیدلے کیدو پهه نتیجه کښې دَ عبد القادر خان خټک پهه باره کښې چې معلومات حاصل کړے شوی دی هغه یقیناً حیرت انګیز دی ځکه چې صرف دَ عبد القادر خان دَ لیکلی کتابونو تفصیل نه بلکې دَ هغو دَ لیکلو کلو نه هم پکښې راوړے شوی دی. او لهه ټولو حیرت انګیزه خبره دا ده چې عبد القادر خان پهه ۱۱۱۳ هجری کابل کښې لیدل شوے وهه خو دَ دهه پهه ذکر کښې دا هم شته چې دهه پهه ۱۱۱۵ هـ کښې یو بل کتاب نظم کا چې نوم ئې دے "حدیقه خټک". دا کتاب محمد هوتک پهه سنه ۱۱۴۰ هـ کښې "لهه صدر الزمان بهادر خانه ولیدو" دا بهادر خان هم هغه سړے دے چې دَ پټې خزانې نهه ویشتم شاعر او دَ "محمد هوتک" محسن دے ځکه چې دَ پټې خزانې دَ پاره ئې ورلره یوه بدله ورکړې

وه. که دَ غیر ضروری تفصیلاتو په ځای "محمد هوتک" له دهغې دومره پښتنه کړے وے چې دهه "حدیقه ختک" له کومه پیدا کړے دے نو دا به دَ پښتو ادب یو لوئې خدمت وے.

دَ پټې خزانې نهه ویشتم شاعر لکه چې ذکر وشه "صدر اکابر دوران بهادرخان" دے چې دَ شاه حسین دَ لښکرو سالار او امیرالامرا بیان شوے دے خو له بدقسمتۍ نه دَ دومره معروف سړی دَ پیدائش دَ کال په باره کښې پټه خزانه هیڅ معلومات نه ورکوی.

دَ پټې خزانې دَ دیرشم شاعر ملا محمد صدیق پوپلزی په باره کښې هم چې "محمد هوتک" ئې دَ دوستۍ دعویٰ هم کوی پټه خزانه دا تفصیل نه ورکوی چې دے کله پیدا شوے وه.

دَ دې مجموعې یو دېرشم شاعر "ملا پیر محمد میاجی" دے چې دَ مولف معاصر دے خو لکه دَ نورو ډیرو معاصرینو ئې دَ پیدائش دَ کال او دَ سکونت دَ ځائې ذکر نه دے شوے. دَ دهه په ضمن کښې یوه غلطی چې دَ حبیبي مرحوم ورته خیال نه دے شوے دا ده چې "محمد هوتک" دَ شاه محمد هوتک" (م - ۱۱۳۸) دَ وفات نه څلور کاله پس هم دَ هغه دَ پاره دَ "ادام الله دولتهم" دعائیه کلمات استعمالوی.

دَ مجموعې دَ دو دېرشم شاعر "اللهیار افریدی" ذکر دَ عبدالعزیز کاکړ په روایت شوے دے خو بیا ئې هم دَ پیدائش دَ کال ذکر نه دے شوے. دَ محمد یونس دَ خیبر دَ سکونت دَ افسانې سره دَ اللهیار افریدی په کاکړو کښې دَ سکونت افسانه څه توازن خو پیدا کوی حالانکې په دولسمه صدۍ کښې دَ خپل قبیلوی ماحول

نه بلې قبیلې ته منتقلی ناقابل یقین خبره ده.

دَ پټې خزانې دَ درې دېرشم شاعر بابوجان په باب روایت پخپله دَ کتاب دَ مولف دے او هر څو که دَ دهه په ذکر کښې دوه تاریخونه ۱۱۳۴ ه (دَ شاه محمد په ایران حمله) او ۱۱۲۹ ه (دَ شها او ګلان دَ قصې دَ نظم کولو کال) راځی خو بیا هم دَ دومره ښکاره او مشهور شاعر دَ پیدائش دَ کال ذکر مناسب نه دے ګڼلے شوے.

هم دغسې دَ پټې خزانې دَ څلور دېرشم شاعر ریدی خان دَ پیدائش دَ کال یا دَ ژوند په باره کښې معلومات نشته. دا شاعر دَ پټې خزانې دَ مولف "مجلسی" هم بیان شوے دے. ریدی خان ۱۱۳۲ ه کښې اصفهان ته دَ شاه محمود "صحبتونو" له تللے وه او په واپسۍ ئې "محمود نامه" ولیکله چې دَ ګرګین خان دَ وژلو بیان ترې په پټه خزانه کښې را نقل شوے دے. خو عجبه خبره دا ده چې په دې قصه کښې دَ رحمان بابا له دیوانه دَ فال وکښلو داستان نه دے بیان شوے.

دَ پینځه دېرشم شاعر ملا محمد عادل برېڅ ذکر هم "محمد هوتک" بغیر له کومه سنده دَ خپلو معلوماتو په بنا کوی او دَ هغه عمر یا دَ پیدائش کال بیا هېروی. دَ دې شاعر ذکر کښې په عکسی نسخه کښې الفاظ داسې دی "خلقو له لار ښوونه کا" او فارسی ترجمه ئې داسې ده "بمردم هدایت میکند" (۲۷)

دَ پټې خزانې شپږ دیرشم شاعر "محمد طاهر جمریانی" دے دَ دهه ذکر هم "محمد هوتک" په خپله "ذمه دارۍ" کوی خو دَ پیدائش دَ کال ئې ورته علم نشته بلکې دَ عمر متعلق ئې داسې خبرې

کوی چې پخپلو کښې متناقضې دی یعنی :-

۱- "محمد طاهر خوش طبع ځوان دے" کهه دَ مولف په دې خبره اعتبار وکړو او دَ محمد طاهر عمر ۲۵ کاله فرض کړو او

۲- "په کلوکلو په متنګ کښې دَ پلار سره اوسېدلے او هلته ئې له اکملو علماو څخه لوست وکا او علوم دینی ئې زده کړه" له جملو دا نتیجه وباسو چې دهه لس کاله تحصیلات کړی دی نو

۳- دَ دهه دَ یو دوست محمد عمر خان دې خبرې له به څو کاله له کومه راوړو چې دَ هغو په بنیاد محمد عمر دا ووئیلے شی چې دهه "لس کاله دَ محمد طاهر سره په مجلس او وېنایم" دا یاد ساتل پکار دی چې مولف دَ څلو ېښتو کالو عمر ته پوخ عمروانی[۲۸] اتهه دېرشم شاعر "ملا محمد ایاز نیازی" دے. دے دَ پټې خزانې دَ مولف هم عصر دے خو دَ دهه ځنې حالات دَ دهه دَ یو شاګرد "ملا عبدالحلیم" په سند هم راوړی شوی دی او حسب معمول دَ کال یا تاریخ دَ یادولو تکلیف نهه دے شوے. دَ ملا محمد ایاز نیازی حالاتو کښې هم ډېرې عجیبه او متضادې خبرې شته. مثلاً

۱- دَ "محمد هوتک" دَ معلوماتو مطابق دے دَ "میاں عبدالحکیم قدس سره العزیز" مرید دے. او دَ میاں عبدالحکیم په باره کښې حبیبی مرحوم په خپل نوټ کښې لیکی "میاں عبدالحکیم کاکړ از مشاهیر اولیاء و عرفائ افغان است که در طریقت شهره امان بوده و بے از تلامیذ وے شهرت دارند ایں عارف کامل در حدود (۱۱۴۰ ه) حیات داشت و پیش از (۱۱۵۰ ه) از قندهار به کاکړستان رفت (۲۹)

۲- ترجمه - "میاں عبدالحکیم کاکړ دَ پښتو له مشهورو اولیاو او عارفانو ځنې دے چې په طریقت کښې شهره زمان وهه او دَ دوی ډېر شاګردان شهرت لری - دا کامل عارف دَ ۱۱۴۰ ه په حدودو کښې ژوندے وهه او دَ ۱۱۵۰ ه نه اګاهو له قندهاره کاکړستان ته لاړهه" دَ دې معنٰی دا شوه چې دَ پټې خزانې دَ لیکلو په وخت (۴۲-۱۱۴۱ ه) کښې دے ژوندے وهه - دا خبره دَ پټې خزانې له دې عبارته هم څرګندیږی چې "کهه دَ خپل پیر دستګیر پر مخ داسی ژړاکا" دَ حال دَ صیغې استعمال دا ظاهروی چې دَ پټې خزانې دَ لیکلو په وخت مرید (محمد ایاز نیازی) او پیر (عبدالحکیم) دواړه ژوندی وو- او چې میاں عبدالحکیم ژوندے وهه نو دَ هغهه دَ پاره محمد هوتک دَ "قدس سره العزیز" الفاظ ولې استعمالول ځکه چې دا الفاظ دَ وفات شوی سړی دَ پاره استعمالیږی او معنٰی ئې دا ده چې "خدائې پاک دې دَ دهه قبر مقدس کړی (۳۰) او چې لا دَ میاں عبدالحکیم صاحب مزار جوړ شوے نهه وهه نو دَ دهه دَ پاره دا دُعا څنګه شوې ده او له دې نه هم عجیبه خبره دا ده چې کهه چیرې "محمد هوتک" له "قدس سره العزیز" معنٰی نهه ورتلله نو حبیبی مرحوم په معنٰی کښې ولې خطا شهه او دا څهه چل دے چې دَ کوم لفظ یا جملې معنٰی "محمد هوتک" له نهه ورځی په هغه لفظ "حبیبی مرحوم" هم نهه پوهیږی ؟

۲- "محمد هوتک" دَ "محمد ایاز نیازی" په باره کښې لیکی "..... په میاشتو ورک وی له کوره..... په شپو شپو وېښ وی

او پروښتو او غرو ګرځی ذکر کاندی..... اکثر په غرو کښې ګرزی او دَ دې باوجود هم دومره وخت لری چې دَ "شعر غُنډ دیوان لری"

۳. دَ "محمد ایاز نیازی" دَ کلام دَ نمونې په طور څلور رباعیانې رانقل شوی دی. خو دیو څلورو واړو کښې یوه رباعی هم دَ رباعۍ په هغه وزن کښې نه ده چې دَ دولسمې صدۍ شاعرانو به پکښې رباعیانې وئیلې. دَ دې رباعی په "جدید وزن" کښې هم دریمه مصرع له وزنه خارجیږی.

زړونه خوښ کړه دا نیکی ده دَ رښتیا
مکړه چا باندې تېر نه په جفا
دَ خدائې کور مه ورانوه په ستمو
دَ خدائې کور وګڼه زړه چې وی صفا

دا رباعی دَ

دل بدست آرد که حج اکبر است
از هزاران کعبه یک دل بهتر است

دَ تاثر لاندې لیکلې شوې ده. خو دا خبره څه دومره اهمیت نه لری ځکه چې پټه خزانه کښې نور هم ډېر شعرونه داسې دی.

نه ډېرشم شاعر "محمد حافظ بارکزے" دے چې دَ "محمد هوتک" معاصر خو دے ولې دے ورسره خپل تعلقات نه بیانوی. او دَ هغه دَ کلام نمونه ئې هم دَ هغه له کتابه راخستې ده. حسب معمول ئې دَ پیدائش دَ کال ذکر نه دے کړے.

هم دغسې دَ څلوېښتم شاعر نصرالدین خان انډر دَ پیدائش

دَ کال او دَ ژوند دَ پېښو ذکر نه دے شوے.

دَ یو څلوېښتم شاعر ملا نور محمد غلجی دَ پیدائش کال صراحتاً ذکر خو نه دے شوے البته اشارتاً ئې داسې ذکر شوے دے چې "په عمر پوخ سړے دے اتیا کلن" نو له دې استنباط کولے شو چې دَ پیدائش کال ئې (په ۱۱۴۰ ه کښې دَ اتیا کالو کېدو په وجه) ۱۰۶۰ ه دے. دَ ده په باره کښې څه خاص ذکر نه دے شوے البته دَ ده دَ ذکر په سلسله کښې دا خبره اهمه ده چې ده به "مشکوٰة شریف او بخاری شریف او هدایه او کنز او طریقهٔ محمدیه او نور مروجه کتب" په یو ځائې لولول. حالانکې دَ څو سوه کاله راسې چې دَ درس نظامی کوم کتاب مقرر دے په هغه کښې دا کتابونه بېل بېل مضامینو سره دَ تعلق په وجه یو استاد نه لولوی

دَ پټې خزانې دوه څلوېښتم شاعر "عبد اللطیف اڅکزے" بیان شوے دے چې تصادفاً دَ شاعرۍ دَ مضمون له اعتباره ئې نوم سره دَ "شاعر ظریف" صفت هم قافیه شوے دے. دَ دې شاعر په ذکر کښې دَ وږد نظم ماخذ نه دے ښئیلے شوے حالانکې دَ شاعر په باره کښې وئیلی شوی دی چې هغه "په مجالسو کښې اشعار ارتجالاً لولی" او دا صراحت نه دے شوے چې دَ ده کوم دیوان یا دَ شعرونو مجموعه هم شته.

دَ درې څلوېښتم شاعر "سید ال خان ناصر" دَ ذکر وړومبۍ فقره داسې ده "محمد هوتک له الف خان ناصره روایت کا" دَ خپل ځان متعلق دَ واحد غائب دا صیغه په ټول کتاب کښې په وړومبی ځل استعمال شوې ده او سبب ئې نه دے ښئیلے شوے. دَ

سیدال خان ناصر غُندې دَ مشهور او معروف سړی دَ پیدائش دَ کال ذکر هم نه دے شوے او نه دا خبره څرګنده کړے شوې ده چې دَ ده دا بدله له کومه اخستې شوې ده. دَ سیدال خان ناصر په باره کښې محمد هوتک دا هم لیکلی دی چې دے عالم سړے وه چې مروجه علوم ئې لُستی وو خو کومه بدله چې دَ ده دَ کلام دَ نمونې په طور نقل شوې ده هغه دا سې ماته ګُډه، بې وزنه او غلطه ده چې له هیڅ عالمه ئې توقع نه شی کیدے.

دَ کتاب دریمه خزانه "په بیان دَ ښځو" ده "چې شعرونه ئې ویلی دی" دې خزانو کښې دَ شپږو ارتینو ذکر دے چې اوله (دَ کتاب څلور څلوېښتم) شاعره پکښې 'نازو توخی' ده چې دَ میروېس نیکه مور بی بی وه. دَ دې محترمې دَ پیدائش کال خو "محمد هوتک" ته معلوم وه او ۱۰۶۱ ه ئې ثبت کړے دے خو دَ وفات کال ئې نه "محمد هوتک" ته معلومه وه او نه دَ "محمد هوتک" فاضل او معمر والد بزرګوار ته چې په ۱۰۲۹ ه کښې پیدا شوے وه او دَ بی بی نازو نه ۳۲ کاله مشر وه او په کال ۱۱۳۶ ه کښې دَ میروېس نیکه له وفاته (۱۱۲۷) نهه کاله پس وفات شوے وه دَ نازو بی بی دا رباعی "محمد هوتک" ته دَ هغه پلار اورولې وه

سحرګه وه دَ نرګس لیمه لاندې
څاڅکے څاڅکے ئې له سترګو څڅېدې
ما وېل څه دی کښلی ګله ولې ژاړې
ده ویل ژوند مې دے یوه خله خندېدې

دا رباعی دَ اقبال له دې رباعی نه "ماخوذه" ده

شبے زار نالید ابر بهار
که این زندگی گریهٔ پیهم است
درخشید و برق سبک سیر گفت
خطا گفت خنده یک دم است

ترجمه:

یوه شپه دَ پسرلی وریځ په زار زار ژړل چې دا ژوند مسلسله ژړا ده. تیز برق وپړقېدې او وئی وئیل خطا دې ووئیل (ژوند) دَ یوې لحظې خندا ده.

دَ نازو ادې سره تړلې شوې رباعی دَ خیال او مقصد له رویه ډېره ټیټه بلکې غلطه ده. ځکه چې ګل سره دَ سحر دَ خندلو تلازمه تړلې شوې ده او دَ نازو ادې ګل سحر ژاړی. بیا چې ترې پُښتنه کیږی نو ګل وائی چې زما ژوند یوه خله خندیدې دی حالانکې له دې نه مخکښې په ژړا وه. دا سې غیر شاعرانه رباعی دَ اقبال دَ یو لطیف شاعرانه خیال نه دَ متاثر شوی دَ دریمې درجې دَ شاعر تخلیق کېدے شی ځکه چې اقبال دَ پسرلی وریځ په ژړا وینی چې وائی چې ژوند یوه مسلسله ژړا ده. ځواب کښې ورته برق وپړقېدې (او مړشه) او وئی وئیل چې دا خبره دې صحیح نه ده بلکې ژوند دَ یوې لمحې خندا ده. ګران لُستونکی دې دواړه رباعیانې پخپله دَ غور لاندې راولی او دَ اصل او نقل قضاوت دې پخپله وکړی.

پینځه څلوېښتمه شاعره "حلیمه حافظه" ده چې "محمد هوتک" ئې دَ خوشحال بابا لور او دَ عبدالقادر خان خورګنی. دَ اشرف خان هجری هغه نظم کښې چې پکښې ئې دَ خپل خاندان دَ شاعرانو ذکر کړے دے

ذدې بي بي ذکر نشته. تاریخ مرصع کې هم ذکر نه دے کړے او

"در جرم کر باده فروشی از کجا شنید"

که دوی ته شي چې خوشحال خان بابا، اشرف خان هجری او عبدالرحیم ذ پښتنو روایاتو مطابق ذ خپل خاندان ذ زنانه ذکر نه شه کو نو دا به غلطه خبره وي چې خوشحال بابا ذ مرحاقه، اید ذکر کو او ذ یوې لور تاج بي بي نوم یې اخستو چې "نیک بخته لور مې وه قرآن خوانه. کتابونه یې لستې وو په طاعت په عبادت کښې او چې افضل خان ذ تاریخ مرصع په یوه صفحه کښې ذ خپل خاندان ذ لسو مستوراتو نومونه اخستے شو (۳۲) نو ذ خوشحال بابا ذ یوې شاعرې لور ذکر به یې هم کړے وے. خو فرض کړئ چې دا اعتراض صحیح دے نو بیا ذ "محمد هوتک" والد صاحب دا تفصیلات چا ورسول او بیا خاص طور سره ذ بنو ذ سفر په دوران کښې چې نه اکوړی نه ذ هغه وخت ذ مزل نه اعتباره ډېر لرې ځائې وه.

شپږ خلوېښتمه شاعره بي بي نیک بخته چې ذ دریمې خزانې دریمه شاعره ده محمد هوتک ذ خپل پلار په روایت معرفي کوي چې هغه ذ هغې ذکر "اولیائې افغان" نومې کتاب کښې لیدلے وه او ذ هغې ذ واده او ذ دویمې خوئې ذ پیدائش او ذ هغې ذ کتاب ذ تکمیل کلونه یې لیکلي لیکلي وه خو ذ بي بي نیک بختې ذ پیدائش او وفات کال لیکلے نه وه.

اووه خلوېښتمه (ذ دریمې خزانې څلورمه) شاعره بي بي زینب ده چې ذ محمد هوتک معاصره او ذ هغه ذ مهربان بادشاه خور او

ذ میرویس نیکه لور ده. خو ذ پیدائش ذ کال علم یې هیچا ته نشته نه محمد هوتک ته نه ذ هغه عالم پلار ته. نه بادشاه حسین ته او نه ذ بي بي زینب استاذ نور محمد غلجي ته. په مختلفو بحرونو کښې ذ بي بي زینب ذ بیتې ذ شاه محمود ذ مرثیې په باره کښې هم دا نه دي ونیلی شوي چې له کومه ذ محمد هوتک لاس ته راغلي دي.

ذ پټې خزانې اته خلوېښتمه (ذ دریمې خزانې پنځمه) شاعره "زرغونه" ده چې پښتو کښې یې ذ بوستان ترجمه په ۹۰۰ه کښې کړې ده. ذ پلار نوم یې معلوم دے. ذ دې ذ کتاب په ۱۰۰۰ کښې لیدلے شوے دے خو ذ دې خبرې څه ضرورت نه دے محسوس شوے چې ذ مؤلف فاضل پلار ذ دې شاعرې ذ ولادت او وفات کلونه معلوم کړے وے.

ذ پټې خزانې نهه خلوېښتمه شاعره "رابعه" ده چې ذ کتاب مؤلف یې ذکر ذ خپل دوست "محمد طاهر جمریاني" په سند کوي او دا نه بیانوي چې محمد طاهر ته دا روایت چا راورسولے دے. دا محمد طاهر جمریانے هم هغه شاعر دے چې ذکر یې ذ پټې خزانې ذ شپږم دیرشم شاعر په حیث شوے دے. خو هلته محمد هوتک دا ضرورت نه دے محسوس کړے چې جمریانے موږ سره معرفي کړي او دلته پرې حاشیه لیکي چې "هم قوے است از قوم پښتون" (۳۳) خدائې خبر چې دا خیال ورته ورو وروستو څنګه راغے؟

ذ پټې خزانې ذ پنځوسم او یو پنځوسم نیکونې ذکر په

"خاتمه د کتاب" کښې راغلے دے۔ پنځوسم لیکونکے د مولف پلار داود دے چې په ۱۰۲۹ھ کښې پیدا شوے وه، او اګرچې پته خزان صراحتًا دا نه ښئ چې د ده د پیدائش کال مؤلف ته چا ښسلے دے خو داسې به فرض کړو چې ده به پخپله خپل خوئ ت د خپل پیدائش او د خپل پلار د وفات کلونه ښسیلی وی. محمد هوتک وائی چې د ده پلار په "اوان د حباوت" علوم لسلو وو او پخپل عصر په موزونانو او فصحا او علماء د نامه (؟) خاوند وه او د هر عمر له قندهاره تللے او د کسی غرونه او بروب او دهری او پیښور او نور ځایونه ئې لیدلی وو۔ محمد هوتک دا هم وائی چې د ده پلار په هغو جنګونو کښې شریک وه چې میرویس نیکه له ګرګین خان سره کړی وه۔ حالانکې تاریخ کښې د دا سې یو جنګ هم ذکر نشته چې د میرویس نیکه او ګرګین خان تر منځه شوے وه تاریخ د یوې خونړۍ واقعې ذکر کوی چې د هغې په نتیجه کښې ګرګین ووژلے شو که دغه واقعې ته محمد هوتک 'جنګونه' وائی نو وائی به۔

په ۱۱۲۰ھ کښې چې د صفوی بادشاه لښکرے راغے نو داود د میرویس نیکه سپه سالار وه۔ دا وخت د هغه عمر ۹۱ کاله وه له میرویس غُندې تکړه او هُښیار جرنیل نه دا توقع نه شی کېدے چې هغه به د یو دومره اهم کار د پاره دومره بُوډا سړے منتخب کړے وے خاص طور سره په داسې صورت کښې چې محمد هوتک د خپل پلار د علم و فضل ذکر خو کوی خو د جنګی مهارت په باره کښې ئې څه نه وائی۔

د دې مجموعې یو پنځوسم لیکونکے د پټې خزانې مولف "محمد هوتک" پخپله دے۔ ده چې د خپل ځان په باره کښې څه لیکلی دی هغه هم د لُستونکی په زړه کښې شکونه پیدا کوی مثلًا

۱۔ د میرویس نیکه د جدوجهد په دوران کښې د ۳۵ کالوړه خو د دغه قومی تحریک کوائف دے د پلار په روایت بیانوی او داسې ښکاری چې د پښتنو په دې لویه مبارزه کښې دے بالکل غیر جانبدار وه۔

۲۔ محمد هوتک په ۱۰۸۴ھ کښې پیدا شوے دے او د عمر تر اتلسم کال یعنی ۱۱۰۲ھ پورې ده له خپله پلاره سبق وئیلو د ۱۱۰۲ھ نه تر ۱۱۳۶ھ پورې د "محمد هوتک" د مصروفیاتو په باره کښې پته خزانه هیڅ نه ښئ۔ په دې کال چې د ده پلار مرشی او دے د شاه حسین دربار ته راشی نو بیا د ده د ادبی ژوند ابتداوشی۔ حالانکې د کتاب په ابتدا کښې دے دا وائی چې ده له دېرشو کالو راسې د پښتو د شاعرانو د تذکرې لیکلو کار شروع کړے وه۔ په دې حساب ده دا کار له ۱۱۱۱ نه شروع کړے وه خو پخپلو حالاتو کښې ده دا تفصیل نه دے ښسلے۔

۳۔ د "محمد هوتک" پلار چې کوم علوم لُستی وو په هغو کښې د طب ذکر نشته حُکه نو د محمد هوتک په زده کړیو علومو کښې هم د طب علم شامل نه دے او دا یوه قدرتی خبره وه حُکه چې ده ټول علوم له پلاره زده کړی وو او پلار ئې چې کوم علم نه وه حاصل کړے هغه ده خپل خوئ ته

نه شه ښئیلے - خو دا خبره ډیره عجیبه ده چې سره دَ دې
چې طب نه داود لُستے وه او نه "محمد هوتک" خو بیا
هم موخرالذکر صاحب "په بیان دَ طبابت او علاج" یو
کتاب دَ "خلاصة الطب" په نامه لیکلے دے او چې دا
کتاب ئې په ۱۱۳۹ ه کښې شاه حسین ته پیش کړه نو
هغه ورته "سل طلاوې" صله ورکړه (۳۴)

۴- دَ "محمد هوتک" دَ دیوان په برخه کښې وئیلی شوی دی
چې "نور اشعار مې په دیوان کښې یو ځائې دی شائقان
دَ علم او شعر ئې له دیوانه لولی" نو که داسې وی نو پکار
ده چې دَ دې دیوان ډېرې نسخې وې اوس له دوی یو
خو پاتې وې - خو له بده مرغه یواځې دَ "محمد هوتک"
نه بلکې پټه خزانه کښې چې دَ کومو قلمی دیوانونو او نسخو
ذکر دے هغو کښې یوه هم په دیو څلو ښښتو کالو کښې
ښکاره نه شوه.

دَ پټې خزانې دیو ټولو مآخذونو ته چې فکر وکړو نو دَ کتاب
په لیکلو کښې دَ "محمد هوتک" خپله حصه صرف دومره ده چې
هغه دَ لاندې لیکلیو شاعرانو حالات بغیر له څه حوالې دَ
خپلو معلوماتو په بنا راوړی دی :-

۱- ملا باز توخی
۲- شاه حسین
۳- بهادر خان
۴- محمد صدیق پوپلزے -

۵- ملا پیر محمد میاجی (صرف حالات - نمونهٔ کلام ئې له "افضل الطرائق"
اخستې ده -
۶- بابو جان بابی (جزواً)
۷- ریدی خان مهمند
۸- ملا محمد عادل بړېڅ
۹- محمد طاهر جمریاڅے -
۱۰- محمد ایاز نیازی (جزواً)
۱۱- محمد حافظ بارکزے (جزواً)
۱۲- نصرالدین خان اندړ
۱۳- ملا نور محمد غلجے
۱۴- حافظ عبداللطیف اڅکزے

گویا دَ مولف په ۲۱ معاصرو لیکونکیو کښې هم صرف دَ
څوارلسو لیکونکیو حالات مولف دَ خپلو معلوماتو په بنا بیان
کړی او چې څنګه ئې بیان کړی دی دَ هغو تفصیل مو بره له
نظره تېر شه -

دَ دریمې خزانې په شپږو زنانه لیکونکیو کښې صرف دَ
یوې لیکونکې بی بی زینب چې دَ مولف معاصره وه حالات مولف
دَ خپلو معلوماتو په بنا لیکلی دی - دغسې دَ خپل پلار او دَ
خپل ځان حالات ئې هم دَ خپلو معلوماتو په بنیاد راوړی دی
گویا دَ ۵۱ لیکونکیو په دې مجموعه کښې صرف دَ اوولس (چې
پکښې مولف او پلار ئې هم شامل دے) لیکونکیو حالات "محمد هوتک"
پخپله لیکلی دی - دَ باقی ۳۲ لیکونکیو دَ حالاتو دَ پاره لاندې لیکلی

ذرائع استعمال شوې دی۔

۱۔ لرغونی پښتانه، تاریخ سوری دري لیکونکی (امیر کرور، اسعد سوری۔ بښکارندوی)

۲۔ لرغونی پښتانه یو (ابو محمد هاشم)

۳۔ بستان الاولیاء یو (شیخ تیمن)

۴۔ کلید کامرانی، اعلام اللوزعی دوه (رضی لودی، نصرلودی فی اخبار اللودی)

۵۔ مخزن افغانی دري (شیخ عیسی مشوانی۔ سلطان بهلول لودی علی سرور لودی)

۶۔ غربنت نامه یو (زرغون خان)

۷۔ تحفهٔ صالح دوه (محمد صالح اوعلی سرور مخزن افغانی هم ذکر کړے دے)

۸۔ اولیائی افغان یو (بی بی نیک بخته)

۹۔ محمد طاهر جمریاڼے یو (بی بی رابعه)

۱۰۔ دَمولف پلار اته (هوتک بابا۔ شیخ متی۔ شیخ تیمن (بستان الاولیا) بستان برېښ۔ میرمن نازو۔ حلیمه حافظ نیک بخته (شعرونه)

۱۱۔ محمد رسول هوتک دري (خلیل خان نیازی۔ خوشحال بابا اورحمان بابا

۱۲۔ رحمت هوتک دوه (یونس، محمد گل مسعود)

۱۳۔ نواب محمد امندړ یو (عبدالقادر خان خټک)

۱۴۔ علم غیب دري (ملکیار، اسمٰعیل، خربنبون)

حوالې او حواشی

۱۔ پټه خزانه۔ دوهم چاپ۔ ص۔ ۶۰

۲۔ دَدې فعل دا محل صریحاً غلط دے۔

۳۔ پټه خزانه دوهم چاپ۔ ص۔ ۶۶

۴۔ ایضاً۔ ص۔ ۶۲ (حاشیه)

۵۔ کابل مجله دَ ۱۳۶۱ هش کال ۴۔ ۵ ګڼه۔ دَ فاضل استاد عبدالشکور رشاد مقاله۔ دَ "محمد هوتک ژوند اومزار" په حواله۔ ص۔ ۳۳۰

۶۔ تاریخ خان جهانی۔ جلد ۲ ص ۸۲۵۔ ډاکه۔ تاریخ مرصع ص۔ ۱۳۰

۷۔ تاریخ مرصع ص۔ ۱۳۰۰۔ نوټ ۱۰ ص۔ ۱۳۰۴

۸۔ پښتانه شعراء۔ لومړے ټوک۔ ص۔ ۷۳

۹۔ پټه خزانه۔ دوهم چاپ۔ ص۔ ۸۔

۱۰۔ ایضاً۔ ص۔ ۸۸

۱۱۔ ایضاً۔

۱۲۔ دَزرغون خان مثنوی دَغربنت نامې په حواله رانقل شوې ده

پټه خزانه ص- ۸۴

۱۳- پټه خزانه- دوهم چاپ- ص- ۸۸- په واوېنو کښې دننه عبارت دَ "محمد هوتک" دے- دَ نور عبارت مفهوم ماپخپلو توریو کښې بیان کړے دے-

۱۴- ایضاً ص ۸۸ - (۱۵) ایضاً (۱۶) ایضاً- ص- ۱۰۰

۱۷- ایضاً- ص- ۱۰۶ (۱۸) ایضاً ص- ۱۱۲ (۱۹) دَیونس دیوان. ص

۲۰- دَ یونس دیوان- مقدمه اووه ویشتم مخ-

۲۱- پښتانه شعراء لومړے ټوک ص ۲۰۳

۲۲- ایضاً ص- ۲۰۴ (۲۳) دَرحمان بابا کلیات ص ۸۳

۲۴- دَخوشحال خټک مرغلرې ص ۴۵۴

۲۵- دَعبدالقادرخان دَ پیدائش کال لکه چې دَ هغه دَ نامې له اعدادو ښکاره دے ۱۰۶۳ھ دے-

۲۶- پټه خزانه دوهم چاپ- ص- ۱۲۰

۲۷- عکسی چاپ پټه خزانه- ص۷۹- دوهم چاپ ص ۱۵۰ او ص ۱۵۱

۲۸- پټه خزانه دوهم چاپ ص ۶۶

۲۹- ایضاً ص ص- ۱۵۴- ۱۵۵-

۳۰- دَ "قدس سره العزیز" دَ معنې دَ پاره وګورئ- دَ شتمانن ګاس فرهنګ دَ "قدس" دَ کلمې دَ معنې دَ لاندې- ص- ۹۵۸

۳۱- بیاض دَ خوشحال خان بابا- تاریخ مرصع ص- ۳۱۵

۳۲- تاریخ مرصع- ص- ۲۵۷

۳۳- پټه خزانه دوهم چاپ ص- ۱۹۵

۳۴- ایضاً ص- ۲۰۰

دَ پټې خزانې راویان

ګرانو لُستونکیو ته به اندازه شوی وی چې په دېرشو کالو کښې محمد هوتک دغه هومره محنت کړے دے چې په دیو تېرو مخونو کښې ئې ذکر وشه یعنی صرف دَ څوارلسو معاصرو لیکونکیو یوې معاصرې شاعرې او دَ خپل پلار او ځان څه خاورې ایرې تذکره ئې ولیکلے شوه- اوس به دَ هغو راویانو په باره کښې څه خبرې وکړم چې "محمد هوتک" ثقه ګڼلی دی او دَ هغو دَ معلوماتو په بنیاد ئې "خپلې خزانې" ډکې کړی دی په دیو کښې له ټولو نه زیات "باخبر" راوی دَ "محمد هوتک" پلار دے چې دَ دریو واړو خزانو دَ لیکونکیو په تذکرو کښې ئې 'اهم کردار' ادا کړے دے-

دَ "داود هوتک" کوم سوانح چې "محمد هوتک" لیکلی دی له هغو دَ ځنو هغو خبرو تردید کیږی چې بیلو بیلو ځایونو کښې هم دې "محمد هوتک" کړی دی. مثلاً دا چې یو خوا خو "محمد هوتک" لیکی چې دَ هغه پلار "بنو" ته تللے وه (۱) او بل خوا چې دَ پلار دَ

سفرونو ذکر کوی نو وائی چې "زما پلار..... دَ کسی غرونه او ږوب او ډېری او پېښور او نور ځایونه ئې لیدلی وو (۲) کهه "نورو" ځایونو کښې مولف "بنو" هم شاملوی نو دا به صحیح ځکه نهه وی چې بنو ته دَ "داود هوتک" دَ سفر خاص ذکر شوے دے ځکه نو دَ سفرونو په ضمن کښې ئې خاص ذکر پکار وهه او صرف دَ "نورو ځایونو" په ذکر اکتفا نهه ووکول پکار. بیا دا هم کتل پکار دی چې داودخان سره لهه قندهاره دَ ډېر عمر دَ پاره دَ تللو او دَ کسی غرونه، ږوب، ډیری، پېښور او دَ نورو ځایونو دَ لیدلو (۳) وخت چرته وهه. داودخان په ۱۰۲۹ هه کښې پېدا شوے او په ۱۱۳۶ هه کښې وفات شوے بیانیږی. ظاهره ده چې کهه داودخان په ځوانئ کښې بنو او پېښور ته تللے وے نو دَ خوشحال بابا او رحمان بابا سره به ئې ملاقات شوے وے ځکه نو قیاس به دا کوو چې دے دَ خوشحال بابا او دَ رحمان بابا دَ وفات نه پس پېښور ته تللے وهه. او دې کښې وروستے کال دَ پټې خزانې مطابق ۱۱۲۸ هه دے. نو ځکه داودخان هوتک به دَ ۱۱۱۸ هه (یا دَ ۱۱۲۸ هه) نه پس پېښور ته تللے وی چونکې پټه خزانه دَ ۱۱۲۰ هه نه دَ میروېس نیکهه تر وفاته (۱۱۲۷ هه) داودخان په اهمو قومی او جنګی کارونو کښې مصروف بیانوی (۴) نو ځکه تر ۱۱۲۷ هه پورې خو دَ داودخان په باره کښې دا کمان نهه شی کیدے چې دَ میروېس نیکهه دَ سپه سالار (۵) په حیثیت به ئې پایه تخت یا خپل فوځ پرېښے وی او په سیاحت به وتے وی ځکه نو کهه دا سیاحت هغهه کړے وی نو دَ ۱۱۲۷ هه نه پس به ئې کړے وی چې هغه وخت به ئې عمر ۹۸ کاله وهه - او

کهه "محمد هوتک" خپل پلار په دومره زاړهه عمر دومره لوئې سفر ته پرېښوهه نو دا ئې دَ سعادت مندۍ ثبوت نه بغېر نور څهه کیدے شی.

"محمد هوتک" په ۴۲-۱۱۴۱ کښې دا وائی چې "مالهه دېر شو کالو راهسې دَ ډېرو شاعرانو دَ پښتنو احوالونه راټول کړی دی (۶) ګویا په ۱۲-۱۱۱۱ هه کښې دهه دَ پټې خزانې دَ لیکلو تابیا کړې وه چې دَ دهه دَ پلار داودخان عمر ۸۲-۸۱ کاله وهه په دومره عمر کښې دا بالکل ممکنه نهه ده چې چاته دې هغه هومره شعرونه او تاریخونه یاد پاتې شوی وی لکه چې دَ داودخان په باره کښې ئې دعویٰ شوې ده او چې لاندې ئې یوه خاکه درج ده.

۱- دَ اوومې صدۍ کال او څوارلس شعرونه
۲- دَ اوومې صدی دَ شاعر شیخ متی دیرش شعرونه
۳- دَ لسمې صدۍ دَ شیخ تېمن کال او اتهه شعرونه
۴- دَ لسمې صدۍ دَ بستان برېڅ کال او دیارلس شعرونه
۵- دَ یولسمې صدۍ دَ نازو بی بی کال او یوه رباعی
۶- دَ یولسمې/دولسمې صدۍ دَ حلیمه حافظه شپږ شعرونه
۷- دَ لسمې صدۍ دَ بی بی نیک بختې کلونه او یویشت شعرونه
۸- دَ لسمې صدی دَ زرغونه انا کلونه او دولس شعرونه

دا ټول ۹۹ شعرونه شوهه چې دَ اتیا کالو نه زیات عمر لرونکی یو بوډا سړی دَ کلونو لهه قیده په مسلسل ډول یاد ساتلی وو او دَ هر یو شاعر شعرونه ورته په واضحه طریقه یاد وو. دا هم ډېره ګرانه خبره ده چې چاته دې دومره زیات عمر کښې دومره شعرونه یاد پاتې شی خو دا بالکل ممکنه نهه ده چې دَ هر شاعر بیل بیل نظم،

غزل یا بدله دې ورته په مسلسل ډول یاده وی او بیا چې د راوی
د خپل ځان او د متعلقه شاعر ترمنځه د کړیو د هیرولو په مرض
کښې گرفتار دے نو د "تدلیس" الزام پرې بالکل ثابت دے.

د رحمان بابا له دیوانه د میروپس نیکه د فال وکښلو افسانه م
پته خزانه کښې "محمد هوتک" د خپل پلار په حواله بیانوی. د
عبدالرؤف بېنوا مرحوم کتاب "میروپس نیکه" کښې هم دا روایت
د پټې خزانې په حواله بیان شوے دے. عجیبه خبره دا ده چې
میروپس نیکه په لمړی ملی جرګه (د بېنوا مرحوم د کتاب د
ص ص ۵۸-۶۰) او دویمه ملی جرګه (هم د دغه کتاب ص ص
کښې د میروپس نیکه د رحمان بابا له دیوانه د فال افسانه خو
هم د پټې خزانې په حواله لیکلې ده ولې د دریمې اوخلورمې
ملی جرګې (هم د دغه کتاب له ص- ۶۹- ۷۴) د پاره د رحمان بابا
له دیوانه د فال ذکر نه کوی بلکې له دغه پس نور هم اهم
تاریخی واقعات لکه خسروخان سره جنګ او د قندهار محاصره (د
دغه کتاب ص ص ۸۲، ۸۶) راپېښیږی مګر میروپس نیکه نه دا
خبره هیره وی چې د رحمان بابا له دیوانه فال وباسی. اخر د
دې دومره اهم فروګزاشت د پاره به میروپس نیکه سره څه
وجه خوره؟

د روایاتو د شمېر په لحاظ په دویمه درجه کښې محمد رسول
هوتک دے د ده ذکر په پته خزانه کښې د راوی په حیثیت د پرې
ځل شوے دے. یو ځل ورته "محمد رسول کلاتوال هوتک" وئیلی
شوی دی (۷) په دویم ځل د "محمد رسول هوتک" په نوم یاد

شوے دے (۸) او په دریم ځل ئې نوم "محمد رسول علیه الرحمه"
بیان شوے دے (۹) نو په یقین سره نه شو وئیلے چې دا د پرې
واړه نومونه د یو سړی دی که د درېو مختلفو راویانو. ولې هرکله
چې د پرې واړه ځل د ده نوم سره د بیاض ذکر شوے دے نو
غالب ګمان کېدے شی چې دا د پرې واړه هم د یو راوی مختلف
نومونه دی. بهرکیف دومره خبره خو یقینی ده چې دا راوی هم
"مدلس" دے ځکه چې خپل ماخذ نه بنکاره کوی او د "بهلول
لودیؒ (وفات ۸۹۴ ه) خوشحال بابا (وفات ۱۱۰۰ ه) او د رحمان بابا
(وفات له ۱۱۲۳ ه نه پس) درېو واړو په باره کښې معلومات
درکوی. په ټوله پته خزانه کښې د ده له بیاضه د درېو پښتنو
شاعرانو ذکر اخستے شوے دے او "محمد هوتک" د دې "بیاض" په
باره کښې هیڅ تفصیلات نه دی پېش کړی چې آیا دې کتاب کښې
صرف د هم دومره شاعرانو حالات وو او که نه د نورو شاعرانو
حالات ئې هم لرل خو د ځنې وجوهاتو له کبله دغه حصه حذف
کړے شوه. ترڅو چې د بیاض متعلق مونږ ته دا معلومات نه وی
حاصل تر هغه مونږ د دې ماخذ په بناء درج شوی حالات مستند
نه شو ګڼلے.

پخپله د "بیاض" مندرجات هم داسې دی چې یقین او اعتبار
تمبوی. د "محمد رسول کلاتوال هوتک" د روایت د بهلول
لودیؒ د یو درباری "خلیل خان نیازی" متعلق دے. دا شاعر د بهلول
لودیؒ په دربار کښې دومره مخوریز یاد شوے دے چې سلطان
پخپله د هغه د رباعی په ځواب کښې د رباعی وئیلو په ذریعه

دَ هغه عزت افزائی کوی. خو دَ حیرانتیا خبره دا ده چې مولوي
"خلیل خان نیازی" غُندې دَ معتبر لودی امیر ذکر دَ لودیانو په
تاریخ کښې نه وینو بناغلی عبدالشکور رشاد "لودی پښتانه" کښې
دَ "سلطان بهلول دَ وختو حکام" او دَ "سلطان بهلول دَ دربار
امرا" دَ عنوان لاندې دَ سلطان دَ اهمو درباریانو ذکر کوی او
خو دیو درباریانو کښې دَ "خلیل خان نیازی" نوم نشته. دې
کتاب کښې بناغلی رشاد دَ "خلیل خان نیازی" ذکر صرف دَ پټې خزانې
په حواله کوی او داسې دا ثابتوی چې دَ "لودی پښتانه" دَ پاره
پکار راوستلی شویو ۷۸ قلمی او چاپی کتابونو کښې دَ "خلیل خان نیازی"
نوم صرف په یو کتاب "پټه خزانه" کښې (چې دَ ماخذونو په
اتم نمبر ئې ذکر دے) راغلے دے.

دَ پټې خزانې "مولف" ته که دا معلومه وے چې دَ سلطان
بهلول لودی نیازیانو سره دومره ورانه وه چې په خپلو وصیتونو
کښې ئې خپل جانشین ته صفا وئیلی وو چې "دَ نیازی قام هیڅ څوک
به نه نوکر کوی ځکه چې دا خلق بې مروته او نمکرامه دی (۱۱)
نو دَ "خلیل خان نیازی" نوم به ئې پټه خزانه کښې هیڅکله نه
وے راوستے. هم دغه وجه ده چې دَ سلطان دَ دور په خانانو امیرانو او
دَ لودی خاندان په ټول تاریخ کښې دَ "نیازی" قبیلې سره دَ
تعلق لرونکی یو کس ذکر هم نشته او بناغلے عبدالشکور رشاد وائی:

مورخین دَ سلطان بهلول دَ امراو شمېر (چې په هغو کښې
ځنې هندوان امیران هم شته) څلور دېرش ښووی خو په دې
ټولو کښې دَ سوری او نیازی پښتنو یو سړے هم نشته. دَ هندوانو

ته لا امیری ورکړې مګر پر سوریو او نیازیو ئې دومره ویسا او پېرزو
نه وه چې په خپل وخت کښې لا څه بلکې دَ دهه دَ اولاد په
وختو کښې دې لا کومه عهده یا امیری ومومی. دا ځکه چې په
سوریو کښې ئې دَ پاچهی هڅه او په نیازیو کښې ئې دَ دهه په
قول بې مروتی لیدله او دَ دهه تدبر او میړانې اجازه نه ورکوله
چې دا دوه پلاره (؟) پښتانه دې دَ دهه په دربار کښې لارولری
دَ بناغلی رشاد په خیال کښې نیازیانو سره دَ سلطان بهلول دَ
ورانی وجه دا وه چې دَ سلطان په خیال دا قبیله بې مروته وه. ولې
حقیقت دا دے چې نیازیانو سره دَ سلطان دَ سختې ورانې او دښمنۍ
لویه وجه دا وه چې دَ سلطان بهلول پلار ملک کالاخان دَ نیازیو
له لاسه مړ وه (۱۳) ځکه نو دَ دیو ټولو حقائقو په رڼا کښې دا
خبره غلطه، بې بنیاده او صریحاً دروغ ثابته شی چې دَ سلطان بهلول
لودی په دربار کښې "خلیل خان نیازی" نومې څوک سړے وه. او
هم په دې وجه "محمد رسول هوتک" او دَ هغه بیاض دواړه
فرضی او دَ یو جعلی دستاویز جعلی ګواهان دی.

دَ دې "محمد رسول هوتک" دویم روایت دَ خوشحال بابا په
باره کښې دے. پټه خزانه وائی.

"خوشحال بېګ دَ مغلو په بند کښې وه او دَ رنتهمبور په کوټ
بندی وه، پښتانه خټکان ولاړل او دے ئې له هغه بندی خانې
راویوست اورنګ زېب نه سو خبر څو چې دے خپل وطن ته راورسیدے (۱۴)

دَ پټې خزانې دا باوری راوی محمد رسول هوتک یو خوا دَ
خوشحال بابا دَ ولادت صحیح کال لیکی، دَ هغه دَ وفات صحیح کال

لیکی او خپل "بیاض" کښې دَ هغه شعرونه هم راوړی خو بل
خوا دَ هغه دَ رهائۍ په باره کښې دومره بې خبره دے چې دَ
خوشحال کلیات کښې ئې هغه شعرونه هم هېر دی چې په دې
سلسله کښې ترې تمسک کیدے شی - او بیا چې "محمد هوتک"
دا روایت رانقلوی نو له خپله پلاره ئې تصدیق کول ضروری نه
ګڼی حالانکې دَ "محمد هوتک" پلار دَ خوشحال بابا هم عصروه
که خوشحال بابا ئې نه وه لیدلے نو ډېر داسې خلق به ئې لیدلی
وو چې دَ خوشحال بابا سره به ئې ملاقات شوے وه - خاص طور
سره په داسې صورت کښې چې خوشحال بابا کابل او دَ افغانستان
نورو علاقو کښې هم پاتې شوے وه یا کم از کم نواب محمد اندړ
نه به ئې تصدیق کړے وے چې دَ خوشحال بابا ځوئې عبدالقادر
خان سره ئې دومره تعلق وه چې دَ هغه دَ پېدائش کال خو
څه چې ورځ ئې هم ورته معلومه وه - او په ۱۱۱۳ ه کښې ئې ورسره
کابل کښې ملاقات هم شوے وه (۱۵)

یو عجیبه تصادف دا شوے دے (او داسې حسن اتفاق یا
سوئے اتفاق پټه خزانه کښې ډېرو ځایونو کښې شته) چې دَ
پټې خزانې دَ چاپ کیدو تر وخته فاضل او محترم حبیبی مرحوم
ته هم دَ خوشحال بابا دَ رهائۍ دَ واقعاتو په باره کښې پوره معلومات
نه ووګڼی نو دا څنګه ممکنه وه چې دَ دومره لوئې غلطۍ په باره
کښې به حبیبی مرحوم په حاشیو یا تعلیقاتو کښې دَ "محمد هوتک"
یا "محمد رسول هوتک" اصلاح نه وه کړې - دا حقیقت هم څه
کم اهم نه دے چې دَ خوشحال بابا په حالاتو کښې مرحوم حبیبی

صاحب دَ پټې خزانې په متن یوه لغوی (۱۶) او بله جغرافیائی او تاریخی
تفصیلات لرونکې حاشیه هم لیکلی ده (۱۷) خو دَ خټکو له خوا دَ
خوشحال بابا له بندی خانې نه دَ راوکښلو په غلط روایت ئې هیڅ
نه دی لیکلی او په خپل سکوت ئې دا ثبوت ورکړے دے چې
مرحوم حبیبی صاحب دې واقعې سره هیڅ اختلاف نه لرلو -
بلکې دَ "خوشحال خان خټک مرغلرې" (چې په دویمه حاشیه کښې
ورته دَ خوشحال بابا دَ مفصل حال دَ پاره دَ رجوع سفارش شوے
دے (۱۸) مطبوعه ۱۳۱۷ هش (۱۹۳۸ء) او دَ "پښتانه شعرا"
مطبوعه ۱۳۲۰ هش (۱۹۴۱ء) کښې چې دَ خوشحال بابا دَ رهائۍ په
باره کښې کومه وېنا شوې ده دَ پټې خزانې بیان هغې ته ډېر
نژدې دے - وړومبے "دَ خوشحال خان خټک مرغلرې" بیان ولولئ -
"په پائې کښې خوشحال خان په اګره کښې په ملګرۍ
دَ خپلو خپلوانو فرصت وموندے او خپل وطن ته راغے (۱۹)
دَ "پښتانه شعرا" روایت دا دے -
"خوشحال خان په پائې کښې له اګرې څخه فرصت وموند
او وطن ته راغے (۲۰)
دَ دې دواړو اجمالی روایتونو (چې ډېر ټکی پکښې مشترک دی)
لږ غُندې زیات تفصیل په "پټه خزانه" کښې دا بیان شوے
دے چې "پښتانه خټکان ولاړل او دے ئې له هغې بندی خانې
راویوست - اورنګ زیب نه شو په خبر څو چې دے خپل وطن
ته راورسېدے (حواله بیان شوې ده) "دَ خوشحال خان خټک مرغلرې"
کښې دَ خپلو خپلوانو په ملګرۍ "فرصت موندل" او دَ "پښتانه شعرا"

لومړے ټوک کښې د خوشحال خان "اګرې څخه فرصت" موندل دوارې
داسې خبرې دی چې د هغو په بنیاد "محمد رسول هوتک" او
"محمد هوتک" د دروغو د اعمارت جوړولے شے چې پښتنو خپلکانو،
خوشحال بابا له بندی خانې راوکښو. او په دې دول د محمد رسول
هوتک دا دویم روایت هم افسانه ثابته شوه.

د دې راوی دریم روایت د "محمد رسول هوتک علیه الرحمه"
د "بیاض" په حواله د رحمان بابا په بارہ کښې دے. دغه د روایت
اهمې خبرې دا دی:

۱. عبدالرحمان بابا په سنه ۱۰۴۲ هجری کښې پیدا شے
۲. عبدالرحمان بابا په پښتنو کښې په رحمٰن بابا مشهور شے
۳. عبدالرحمان بابا په سنه ۱۱۱۸ ھ کښې وفات شے
۴. د رحمان بابا د ښېتو او غزلو دیوان شته او دېر دېر پیدا کیږی.
۵. خلق ئې تراوسه د پېښور په هدیره کښې زیارتونه کا.

لکه چې مخکښې عرض وشے که دا "محمد رسول" هم هغه
دی چې د بهلول لودیؒ ذکر کونکے "محمد رسول کلانتوال هوتک" او
د خوشحال بابا ذکر کونکے "محمد رسول هوتک" دے نو اول بحث
خو په دې پکار دے چې دلته ورته "علیه الرحمه" ولې وئیلی شوی
دی. دا قیاس کیدے شی چې د رحمان بابا تر ذکره پورې چې
مولف راورسیدهٔ نو "محمد رسول هوتک" وفات شوے وه حُکه
ورته علیه الرحمه وئیلی شوی دی خو دا قیاس به حُکه غلط وی
چې "محمد رسول هوتک" نه "محمد هوتک" براه راست روایت
نه کوی بلکې د دې وارې روایته د "محمد رسول هوتک" له "بیاضه"

ځوی دی. د پټې خزانې مولف پخپله هم د رحمان بابا او خوشحال بابا
د زمانې سره دے او تر دېرشو کالو د پټې خزانې د پاره د مواد و
راغونډولو په غرض د پښتونخوا په لټو کړېدلے دے نو د دغه
سیاحت په دوران کښې د دې "محمد رسول هوتک" سره ملاقات
وې ونه شو؟ دا ټول سوالونه داسې دی چې "محمد هوتک یا حبیبی
مرحوم له ځوابونه ورکول پکار وو او چې دوئ ئې ځوابونه نه
دی کړی نو د "محمد رسول هوتک" او د "پټې خزانې" ثقاهت
او اصلیت ئې مشکوک کړے دے.

د "محمد هوتک" د پاره شاید چې د پټې خزانې په ټولولیکونکیو
کښې جسمانی او روحانی طور سره نژدے لیکونکے د هغه پلار دے
پته خزانه کښې ده د خپل پلار ذکر په نامه، د پلار په نامه یا
د واحد غائب ضمیر په شکل کښې ۲۹ واړه کړے دے چې پینځه
ځل ئې ورته علیه الرحمة یا رحمته الله علیه وئیلی او یوځل ئې ورته
"قدس الله سرہ" وئیلی دی. خپل نیکه ته ئې یوځل هم داسې
اشاره نه ده کړې نو په دې لحاظ که دا سې حساب وکړو چې
په ۴۲-۱۱۴۱ کښې ده صرف د خپل پلار د پاره چې په ۱۱۳۶ھ
کښې وفات شوے وه د رحمته الله دُعا کړې ده نو نتیجه به
تر دې دا راووځی چې د پینځه کاله مخکښې وفات شوی دهرنژدے
رشته دار ته دې "رحمته الله علیه" وائی. که داسې وی نو بیا
خو به د محمد رسول هوتک په بارہ کښې دا اندازه لګولے شو
چې دے هم کم از کم تر ۱۱۳۶ھ ژوندے وه او که داسې وګڼو
نو بیا د محمد رسول هوتک او د "محمد هوتک" تر منځه ملاقات

ولې ونه شه-

دَ "علیه الرحمة" دا بحث هډو جملهٔ معترضه وګڼئ اوس به راشو هغو پیښو خبرو ته چې دَ رحمان بابا په سلسله کښې دَ "محمد رسول هوتک علیه الرحمه" په حواله "پټه خزانه" کښې شوی دی. دیو خبرو کښې دَ وړومبۍ او دریمې خبرې تعلق دَ رحمان بابا دَ پیدائش او وفات کلونو سره دے نو دا دواړه خبرې به یو بل پسې دَ بحث لاندې راولو-

دَ پټې خزانې دَ راوی "محمد رسول هوتک علیه الرحمه" دَ وینا مطابق په ۱۰۴۲ھ کښې پیدا او په ۱۱۱۸ھ کښې وفات شوے دے "محمد رسول هوتک" دَ خپل تحقیق ماخذ نه ښئ نو ځکه داسې به فرض کړو چې موصوف ئې له خپله علمه وائی. اوس مشکله دا ده چې مونږ ته دَ "محمد رسول هوتک علیه الرحمه" په باره کښې "محمد هوتک" هیڅ معلومات نه راکوی چې دَ هغو په بنیاد ئې مونږ دَ "علم راسخ" څښتن وګڼو. دَ دې په مقابله کښې چې مونږ بیره څه ووئیل دَ هغو په بنیاد خو هډو دَ دې سړی وجود مشکوک کیږی او دَ ده په افسانه دا دا سوالونه سر راوچتوی.

۱- دَ "محمد هوتک" پلار چې پېښور او بنو ته تللے وه نو دَ رحمان بابا دَ پیدائش تاریخ ئې ولې معلوم نه کړے شه-

۲- محمد هوتک هم دَ رحمان بابا هم عصر وه - ده ته دَ وړومبۍ خزانې دَ زړو لیکونکیو دَ پیدائش کلونه اهم ښکارېده خو هم دَ دغه خزانې دَ نسبتاً نوو شاعرانو په باره کښې ئې دا معلومات ولې حاصل نه کړے شول او خاص طور سره

په داسې حال چې دَ پخوانیو په باره کښې دَ علم ذرائع مفقود او دَ خپل دور دَ شاعرانو په باره کښې دا ذرائع موجود وو-

۳- دَ "محمد هوتک" تربور "رحمت هوتک" چې په ۱۱۳۰ھ کښې پېښور ته تللے وه نو دَ یونس سره دَ یوې میاشتې دَ قیام باوجود هم ده ته دا ونه ښئیلے شو چې رحمان بابا کله پیدا شوے وه-

۴- نواب محمد اندړ چې په ۱۱۱۳ھ کښې عبدالقادر خان په کابل کښې دَ لیدلو ذکر کوی نو نواب صاحب له عبدالقادر خان نه دَ رحمان بابا په باره کښې دا پُښتنه ولې نه کوله چې دَ ده دَ پیدائش کال څه وه.

دَ پټې خزانې له چاپ کیدو نه مخکښې دَ پټې خزانې مدون او مصحح ښاغلی عبدالحئی حبیبی مرحوم دَ رحمان بابا دَ ژوند موده له ۱۰۵۰ھ نه تر ۱۱۲۰ھ پورې قیاس کړې ده (۲۱) یعنی دَ هغوی دَ اټکل سره سم دَ رحمان بابا عمر ۷۰ کاله وه - دا هم په هغو اتفاقاتو کښې شامل اتفاق دے چې مخکښې ئې ذکر شوے دے چې دَ پټې خزانې دَ روایت مطابق هم دَ رحمان بابا عمر او یا کاله وه یعنی هغوی په ۱۰۴۸ھ کښې پیدا او په ۱۱۱۸ھ کښې وفات شوے وه-

دَ رحمان بابا دَ پیدائش کال ۱۰۵۰ھ ځکه ګڼلے شوے دے چې دَ حبیبی صاحب دَ قیاس مطابق رحمان بابا او خوشحال بابا یو بل سره لیدلی وو- زه دَ ډېر کوشش باوجود هم په دې منطق پوه نه شوم چې دَ خوشحال بابا سره دَ لیدلو دَ پاره دا ولې ضروری

ګڼلے شوے ده چې رحمان بابا دې ۱۰۵۰ھ کښې پېدا شوے فرض کړے شي. که رحمان بابا ۱۰۴۰ھ یا ۱۰۷۰ھ کښې پېدا شوے وے نو خوشحال بابا سره به ئې لیدل ممکن نه وو څه ؟

دَ رحمان بابا دَ پېدائش دَ کال په باره کښې دَ پټې خزانې روایت ډېر قوی او صحیح ګڼلے شي حالانکې هم دَ دغه راوی دَ روایت په بنیاد بیان شوے پټه خزانه کښې درج دَ رحمان بابا دَ وفات کال ۱۱۱۸ھ (چې وروستو پرې بحث کوم) غلط ثابت شوے دے او دَ افغانستان محترم لیکونکی ئې هم اوس صحیح نه منی بلکې اوس ئې یو بل کال (۱۱۲۸ھ) وضع کړے دے (چې دغه بحث کښې به پرې خبره کوم) نو که دَ پټې خزانې بیان کړے یو تاریخ صحیح نه دے نو دَ بل تاریخ په صحت ولې اصرار کیږی (۲۲)

دَ لرې پښتونخوا ځنو لیکونکیو چې پکښې ګران او محترم سید تقویم الحق هم شامل دے. دَ رحمان بابا دَ پېدائش دَ کال په سلسله کښې دَ رحمان بابا له هغه وږدې قصیدې نه چې پکښې دَ اورنګ زیب عالمګیر دَ وفات ذکر شوے دے دَ دې یو شعر حواله ورکړے ده.

تر پنجاه تر پنجه تېر شوې
ته لا ځان بولې پسر (۲۳)

او دا قیاس ئې کړے دے چې که چرې دَ اورنګ زیب دَ وفات په کال (۱۱۱۸ھ) دَ رحمان بابا عمر پینځه پنځوس کاله وګڼو نو دَ پېدائش کال به ئې ۱۰۶۳ھ وی. مرحوم دوست محمد خان کامل مومند دَ ۱۰۴۲ھ په دې کال دَ شک دَ اظهار نه پس دَ مختلفو

قیاسونو په بنا دَ رحمان بابا دَ پېدائش مختلف کلونه اټکلوی. مثلاً دَ اشرف خان هجری په یوه قصیده کښې دَ رحمان بابا دَ ذکر په بنا دا وائی چې دَ اشرف خان دَ ګرفتارۍ په کال ۱۰۹۲ھ کښې که دَ رحمان بابا عمر شل کاله فرض کړو نو دَ پېدائش کال به ئې ۱۰۷۲ھ شي او که پنځویشت کاله ئې فرض کړو نو دا کال به ۱۰۶۷ شي. دغسې دَ راورټی دَ یو نوټ په بنیاد چې پکښې وئیلی شوی دی چې حمید مومند دَ اولسمې عیسوی صدۍ په دویمه نیمائۍ کښې پېدا شوے دے او دَ هغه له شاعرۍ چې رحمان بابا خبر شه نو راوئې غُښتو او دُعا ئې ورته وکړه، کامل مرحوم دا خیال کړے دے چې په دې حساب دَ حمید مومند دَ پېدائش کال ۱۰۸۵ھ کېدے شي (۲۴) او که دهه دَ پنځویشتو کالو په عمر کښې رحمان بابا لیدلے وی نو دا به دَ ۱۱۱۰ھ واقعه وی او که ۱۱۱۰ھ کښې رحمان بابا دَ پنځوسو کالو فرض کړو نو دَ پېدائش کال به ئې ۱۰۴۰ھ وی. له دې ټولو مفروضو په مقابله کښې زما یوه تنقیدی رائې دا ده چې دَ رحمان بابا دَ پېدائش په باره کښې هره هغه مفروضه غلطه ده چې دَ هغې مطابق دَ خوشحال بابا دَ مرګ په کال (۱۱۰۰ھ) دَ رحمان بابا عمر له شلو پنځویشتو کالو زیاتوی ځکه چې که دَ پټې خزانې روایت (۱۰۴۸ھ) صحیح وګڼلے شي نو په ۱۱۰۰ھ کښې دَ رحمان بابا عمر ۵۲ کاله شي، که دَ سید تقویم الحق صاحب او نورو محترمو لیکونکیو روایت ۱۰۶۳ھ صحیح وګڼلے شي نو په ۱۱۰۰ھ کښې دَ رحمان بابا عمر ۳۷ کاله جوړیږي او که دَ کامل مرحوم قیاس صحیح وګڼو نو په دغه کال دَ رحمان بابا

عمر شپیته کاله شی او دا ټول کلونه زما په خیال څکه صحیح نه دی چې که چرې په ۱۱۰۰ھ کښې د رحمان بابا دغه عمر وے نو هغه به دومره پرځ شاعر وے چې د خوشحال بابا غندې ادبی نقاد د پاره د هغه نظرانداز کول مشکل څه چې بالکل ناممکن وو او مونږ د خوشحال بابا په کلام کښې د ډیرو شاعرانو ذکر وینو خو د رحمان بابا ذکر پکښې بالکل نشته۔

د خوشحال بابا یوه قطعه ده۔

(۴) چې لاف وهی د شعر — نن په دا دور دی ډیر
خدائ دې نه کا چې به وایم — حال د دیو ټیر و ډیر
څوک پاوے څوک نیم پاوے دے — قلندر پکښې نیم سیر
(چې) د مونږه په حساب دے — هیڅ مې نه دے واصل هیر
بل دولت فقیر درې پاوه — زه ترې څو شرشاهی تیر
چې په سرائ کښې به پیدا شی — پس له قرنه پوره سیر (۲۵)

دې خبره کښې به ماسره هیڅوک هم اختلاف ونه کړی چې خوشحال بابا دلته د کومو شاعرانو ذکر کړے دے۔ رحمان بابا له هغو ټولو لوی شاعر دے او که خوشحال بابا ته د رحمان بابا د شاعرۍ علم وے نو هغه به خامخا د هغه ذکر کولو دلته دا قیاس کېدے شی چې خوشحال بابا دې قطعه کښې د رحمان بابا ذکر ځکه نه دے کړے چې د دې قطعې د لیکلو په وخت خوشحال بابا ته د رحمان بابا د شاعرۍ علم نه وه۔ دا په یو لحاظ زما د خبرې او قیاس تائید دے۔ که چرې د خپل مرګ نه مخکښې هر وخت خوشحال

بابا غندې عظیم نقاد ته د رحمان بابا غندې عظیم شاعر د شاعرۍ په لګیدلے وے نو د هغه تنقیدی شعور به د رحمان بابا شاعرانه عظمت خامخا تسلیمولو۔

دلته په دې برادب د خپل محترم دوست او مشر جناب دوست محمد خان کامل مومند مرحوم دې رائ سره د اختلاف جرأت بنکاره کوم چې د رحمان بابا د شاعرۍ د مقبولیت او شهرت په باره کښې ئې څرګنده کړې ده۔ محترم کامل مرحوم فرمائی۔

"مونږ د دې خبرې د پر معتبر شهادت لرو چې خوشحال بابا لا ژوندے وه چې د رحمان بابا شعر عروج ته رسیدلے او شهرت ئې لرې نژدې خور شوے وه (۲۶)

دا "معتبر شهادت" د اشرف خان هجری هغه قصیده ده چې پکښې هجری د پښتو د څلورو شاعرانو ذکر کړے دے او چې پکښې ئې د نورو شاعرانو سره د رحمان بابا ذکر داسې کړے دے۔

د رحمان په وئیل ځائ د لقب نشته
چې ئې ما شعر منظور کړه معتبر دے
دې ضمن کښې زما مودبانه معروضات دادی

دا قصیده د انتهائ معتبر شهادت له رویه چې استاد ئې کامل مرحوم هم منلے دے۔ د خوشحال بابا د وفات نه پس لیکلے شوې ده۔ دا "انتهائ معتبر شهادت" د دې قصیدې دا شعر دے۔

ټول ئې وسپارله په ما سرپر د نظم
هغه نمر چې نن د خاورو په بستر دے

دا "نمر" خوشحال بابا وه چې د هجری د څپل شعر په رڼا کښې د
قصیدې د لیکلو په وخت "د خاورو په بستر" وه. ځکه نو له
دې قصیدې نه دا استنباط چې د خوشحال بابا په ژوند د رحمان
بابا د شاعرۍ شهرت لرې نژدې خورشوے وه صحیح نه دے

محترم کامل مومند مرحوم د څپل قیاس د پاره یوه وجه دا
بیانوی چې اشرف خان هجری په ۱۰۹۲ ه کښې مغلو نیولے وه
او "له هغه پسه ئې په غم او ویر لړلی د ژوند نورکلونه د ګوالیار
او د دکن د بیجاپور په بندی خانه کښې تېرکړی وو. اګر که
خوشحال خان بابا سره هم د هغه د قید په زمانه کښې د هغه
خپلو خپلوانو او دوستانو کله کله لیدل کتل او خط و کتابت به
ئې ورسره کولو او دغه قیاس مونږ د اشرف خان هجری په باب
هم کولے شو بلکې د سکندرخان یو نظم نه دا خیال تریقینه
رسی نو دا ناممکنه خو نه ده چې هجری ته د څپل وږد قید
په زمانه کښې د رحمان بابا د شاعرانه عظمت په حقله معلومات
حاصل شوی وی خو دېره غټه اغلبه ضرور ده چې په دې دوران
کښې چې مونږ پکښې د نظم د تصنیف وخت ټاکلے دے یعنی
۱۱۰۰ ه او ۱۱۰۶ ه تر منځه ورته د عامو خطونو او د سکندرخان او
نورو ورونو د نظمونو نه علاوه د رحمان بابا او نورو پښتنو شاعرانو
نظمونه هم ورلیږلے شوی وی او بیا په دومره تعداد کښې
چې د رحمان بابا په باب ئې د هغو نظمونو په بنا دومره
وچته رائې په دومره حتمی طریقه قائمه کړې وی نو غالب
قیاس هم دغه کېدے شی چې هجری ته دغه معلومات د قید په

نه ورومبے حاصل شوی وی" (۲۷)

د دې وږدې حوالې د نقل کولو د پاره د څپلو ګرانو لُستونکیو
نه د معافۍ غُښتلو نه پس یو ځل بیا د څپل ګران، محترم او مرحوم
مشر دوست محمد خان کامل مومند الفاظ په دې غرض رانقلوم
چې د مرحوم عندیه ګرانو لُستونکیو ته بنه واضحه شی. مرحوم کامل
صاحب فرمائی:

"..... او که بالفرض مونږه دا هم ومنو چې هجری ته د
رحمان بابا د شاعرانه کمال په حقله معلومات بندی خانې ته د
وراستولی شوو نظمونو په ذریعه حاصل شوی وو او که دا هم
ومنو چې دغه نظمونه ورومبے نه بلکې چرته د سنه ۱۱۰۰-۱۱۰۶ھ ترمنځه
ورلیږلی شوی وو نو بیا هم به زمونږ دا قیاس معقول وی چې د
رحمان بابا د شاعرانه کمال او شهرت زمانه هجری ته د علم کېدو
نه په هرحال ورومبۍ وه. ځکه چې په سلګونو میلونه لرې
د دکن په بندی خانه کښې د هغې وخت د رسل ورسائل په
ذریعه هجری ته د رحمان بابا شعر رسېدو نو په پښور او نورو
پښتونخوا او بیا خاص طور سره د خوشحال بابا په علم و هنر
او شعر و ادب مین خاندان ته خوبه په ورومبے رسېدلے وی
خو باید چې لکه زما د بناغلو لُستونکو رحمان هم د دغه مفروضو
برخلاف وی لکه چې دېره اغلبه ده نو صحیح خبره هم دا ښکاری
چې هجری ته د رحمان بابا د شاعرۍ او د فن د ښکلا او خوبۍ علم
د ګرفتارۍ او قید ېدو نه ورومبے شوے وی. (۲۸)

د کامل مرحوم دا فرمودات لکه چې هغوی پخپله اعتراف

فرمائی په معروضاتو مبنی دی. اوله مفروضه دا ده چې هرکله اشرف خان په ۱۰۹۲ هـ کښې گرفتار شوے او بیا ترخپله وفات (۱۱۰۶)ھ په هند کښې پاتے وه نو هغه ته په دومره تعلق کښې د رحمان بابا او نورو پښتو شاعرانو د شاعرۍ د مطالعې.... موقع نه شوه حاصلیدے نو ځکه خامخا به دا منو چې هجرۍ ته دا ټول معلومات له قیده بدونه اول (یعنی له ۱۰۹۲ هـ نه اول) حاصل شوی وو.

کامل مرحوم لکه چې د هغوی عادت وه (او هرلوی مرځ او نقاد لره پکار دی چې دا عادت ولري) د دې مفروضې خلاف پخپله دا ځواب پیش کوی چې لکه د خوشحال بابا اشرف خان هجرۍ ته هم د قید په دوران کښې د خپلو خپلوانو د ملاقات او د خطونو موقع میسره وه نو ناممکنه نه ده چې هجرۍ ته د رحمان بابا په باره کښې معلومات د خپل قید په دوران کښې حاصل شوی وی. خو بیا دا ځواب په دې رد کوی چې دومره لوئی شهر کښې د رحمان بابا د غزلونو هجرۍ ته رسیدل د هرغیر اغلب دی چې د هغو په بنیاد هجرۍ په حتمی طریقه دومره وچته رائې درکړے وے.

دویمه مفروضه هغوی دا پیش کوی چې که دا وشلے شی چې د اشرف خان هجرۍ دا رائې د رحمان بابا په هغو نظمونو مبنی دی چې ده ته د ۱۱۰۰ او ۱۱۰۶ هـ په مینځ کښې بندی خانې ته لیږلی شوی وو نو بیا به هم دا مثل ضروری وی چې که دا نظمونه هجرۍ ته د کښې مهیا وو نو د هغه د خاندان په پښتو

مینو او د پښتونخوا نورو شوقمنو خلقو ته خو به له مخکښې نه حاصل وو. ځکه نو پښتونخوا کښې به هغه خامخا شهرت او مقبولیت لرلو.

زه له احترامه سره چې تل مې د مرحوم کامل مومند د پاره لرلو او اوس ټې د هغوی د بهلتانه له احساسه سره زیات او د هر متاثر کونکے کښم دغه دواړه مفروضې سره د اختلاف جرأت کوم. زما استدلال دا دے چې د روهیلے خو دا خبره ثابته نه ده چې اشرف خان هجرۍ لکه چې عام طور سره ګڼلے شی په دکن کښې بندی وه. تاریخ مرصع د ګوالیار د بند په زمانه کښې اشرف خان بندی ګڼی (۲۹) خو د اشرف خان د هرهغه شعرونه چې هغه په دکن کښې لیکلی دی دا نه ځرګندوی چې هغه بندی وه. د مثال په طور دا څو شعرونه پیش کوم.

رب دې ورک اتشین غږ د دې سرنا کا
دم په دم د مرده غم راته احیا کا
بهجاپور لره چې راغلم که مې غوږ کړ
ولې هم هغه فغان دے چې ټې دا کا

د وطن عیش و هوا به مې هیر نه شی
بهجاپور که راته ډک همه په زر کا

غم به همره دلهری په هجرۍ نه کړه
که یو ګل د یار په رنګ وے په دکن کښې

نیرنگی د جهان کوری زمانیو
د هجری مکان دکن جان په کابل شه

زهٔ هجری دائم هوس د خپل وطن کړم
بهجاپور که هرځو بنه د اورنګ شاه دے

چې هر دم پې غم د یار په زړه څرخېږی
بهجاپور که همه ګل هجری ته کاغ دے

زه خټک په بهجاپور اشنا په روه دے
ولایت مو سره او د هندوبار دے

چې هجری غُندې جُدا وی له یارانو
که بادشاه شی په دکن عمرې خوار دے

یاره ذوق په روه کړه په دکن خوښ یم
مه مې تن لره څکوه نه دې داکار دے

یار مې پاتو په وطن زه په دکن شوم
اوس به یار نسمه بل په بهجاپور کښې

که هرځو په دکن ډېرې دی دلبرې
هجری ته په غوره ونیوې ګوهرې

چې په مهر مې تل یادکړې مرګ دې مه وے
لب شکرې ، سیمین برې ، موکمرې

له دی شعرونو نه صفا بنکاری چې اشرف خان هجری ته بهجاپور کښې صرف یو تکلیف وه چې د روه یاران تړې جُدا وو او د هغوی په ځایې ده په دکن کښې دوستان، یاران بلکې محبوبې پیدا کړې نو بیا دکن او بهجاپور "همه ګل" او د هجری "مکان" شه - انصاف پکار دے چې د هجری دې شاعری کښې د خوشحال بابا د فراق نامې څه روح شته او دې ټوله شاعری کښې هغه کرب شته چې د خوشحال بابا دې یو شعر

ننګیالی قبلوی ګور ګور خو نه وی رن تن بور

کښې چې وهی ؟

د اشرف خان هجری دیوان کښې ځنې نظمونه هم داشهادت ورکوی چې دا د زندان په ظلمتونو کښې لیکلی شاعری نه ده - وګورئ د یو وړد نظم انتخاب -

په ما هر زمان اختر دے چې تا وینم
.بې دیدنه دې دکن شه راته خار
په اخلاص شه راروانه فکر مه کړه
وَ همت وته شی لنډه لویه لار

تل دې لاف د پت کاوه په خپل وطن کښې
دکن څه دے که رښتیا کوې اختیار
تر هندوې کمه مه شه په یارۍ کښې
چې په یار پسې له اوره نه کا دار
که په ما پسې را نه شې و دکن ته
په دروغ دې راته که د مینې شمار
د لیلی غُندې رښتیا وکړه نامی شه
په مجنون پسې وطن کړه هندو بار
په دکن کښې ناوې جُونه کښې نه دی
که مې زړه په چا کولے لږ قرار

د دې برشو شعرونو دې نظم کښې له خپلې وطنی محبوبې نه بار بار او په اصرار دا درخواست شوے دے چې له روهه دکن ته راشی، اوس نه یو خبر چې د مغلو د زمانې په بندی خانو کښې سیاسی قیدیانو ته دامراعات حاصل وو چې خپلې محبوبې خان سره ساتلے شی۔

د یو بل نظم څنې شعرونه پیش کوم چې اشرف خان هجری په بیجاپور کښې لیکلے دے۔

ما له شعره شغل کړ په بیجاپور کښې
چا وې تا له راځی د هند افغان دے
بل مطلب ئې په زړه نشته .ې دیدنه
خواهش کا د غزلونو سخن دان دے

وې مې ژړې بربر راوله نادانه
د دانا سری مجلس داد د یزدان دے

که دا شعرونه په زندان کښې لیکلی شوی وی نو د دې مطلب دا شه چې د هندی مغلو بندی خانو کښې په ملاقاتونو هیڅ پابندی نه وه او بندیانو پکښې دا سې خلق خان سره ساتلی شو چې دوی ورته "نادان" وئیلے شه او هغوی به نه خفه کیدهـ۔ که دومره سهولتونه په دغه زمانه کښې سیاسی بندیانو ته حاصل وو نو بیا خو د مغلو حکومت د دې پر تعریف اوستائینې اهلیت لری۔ خو حقیقت دا دے چې د بادشاه خپل زوئ معظم چې ۴۰ هزاری وه او هم دغلته کښې قید وه نوهغه او څامنو ته ئې د سرخرئیلو اجازت هم نه وه (۳۰) هم دغسې د اشرف خان هجری له یوه بله نظمه معلومیږی چې د بیجاپور په زندان کښې سیاسی قیدیانو ته د سپل او تفریح اوبهرته د تللو سهولتونه هم حاصل وو۔ هجری یو نظم کښې وائی ۔

عمارت د بیجاپور وارې عالی دے
ولې ما سره نژدے یوه مانۍ ده

گویا زمونږ سیاسی قیدی په بیجاپور کښې په "مانۍ" کښې یا کم از کم مانۍ سره نژدې وسیدهـ۔ دې نظم کښې د مانۍ د مېرمنې د حسن صفت هم شوے دے شاید دا د هغه زمانې سیاسی قیدیانو ته اضافی رعایت وهـ۔

یو بل نظم کښې د خپل یو سپل تفصیل بیانوی۔

یوه ورځ د باغ په سپل ومه تلے
د چمن په سر دلبره وه ولاړه

ما وې اے د صباحت په سریر ناستې
تر تا خار شه د دکن دلیرې وارې

نو که د دې ټولو مراعاتو او خصوصی رعایتونو باوجود د پښتو مشران او کشران په دې اصرار کوی چې اشرف خان هجری بیجاپور کښې ټول عمر په زندان کښې تېر کړے وه نو بیا به د خامخا نو چې د داسې انصاف پسنده واکدارانو سره د اشرف خان ټول اختلاف د ګناه ترحده غلط وه۔

د اشرف خان هجری د دیوان له یو فارسی نظمه داسې بشکاری چې د ګرفتاری په لسم کال "شهنشاه غفور" (لکه چې هجری اورنګ زیب ته نوم ورکوی) هغه معاف کړے وه۔ وائی

پس ازاں کش قلم عفو بورزم راندی

بعد ایام کشیرد پس از اعمار دراز

"پس له هغه چې د معافی قلم دې زما په ګټه (یاد دا که لفظ "بورزم" وی نو زما د ګناه په پیټی) ډېرې ورځې او وږدې مودې نه پس راکښلو" او بیا په دې خپله حیرانتیا بشکاره کوی چې د ګناه د معافی نه پس زه ولې "څوکارغانو" ته حواله شوم۔ نو "د ګناه د معافی" باوجود خدائ خبر چې دا خیال ولې کیږی چې اشرف خان هجری په بندی خانه کښې وه۔

دا خو د اشرف خان هجری له خپله کلامه د هغه بیجاپور کښې د بندی کېدو برخلاف دلیلونه وو اوس به ځنې نور دلائل هم وڅیرو۔

د سکندر خان د کوم نظم چې کامل مرحوم ذکر کوی د هغې

یو شعر دا دے۔

چې پېره په دا مکان د وطن نه کړې
مکر خوښ د تا مکان د هندوبار شه

د دې شعر په دویمه مصرعه کښې که د مکان په ځای "زندان" راغلے وے نو د ورومبی مصرعې د "مکان" سره به ې "تضاد" په وجه تاثر هم ډېر زیات شوے وے او د "حقیقت" مطابق به هم وه ځکه چې د هجری په باره کښې تراوسه دا دعوی کېدے شی چې هغه په دکن کښې بندی وه خو چې د دې شعر دویمه مصرع کښې "مکان" دے او "زندان" نه دے نو مونږ وئیلے شو چې په "هغه دیار" کښې اشرف خان خپل "مکان" کښې وسپدو۔ هم د دې نظم په یو بل بند کښې سکندر خان زاغې ته خطاب کوی او ورته وائی:

ولې بیا چې ولایت وته رادرومې
جګی جګی وکړه بیا زمونږ په خان برغ
چې د مونږ سره رادرومه و وطن ته
بې له تا بلبلې نه کا په بوستان برغ

که اشرف خان په بیجاپور کښې په بندی خانه کښې وے نو هېڅرے به ې وطن ته د راتللو اختیار نه لرلو او په دې صورت کښې د سکندر ختک له خوا دا ډه ته د "رادرومه" درخواست څه جواز لرلو۔ که صرف دا یو حقیقت هم د نظر لاندې وساتلے شی چې مونږ د اشرف خان هجری هغه مکمل دیوان لرو چې لویه حصه ې په هندوستان کښې لیکلې شوې ده او د اورنګ زیب برخلاف

د لسونکي او پارونکي شاعرۍ نه ډک دے نو داخبره په غالب
کومان کولے شو چې د هندوستان د قیام په زمانه کښې اشرف خان
قید نه بلکې ازاد وه ځکه چې بیا دا سوال پیدا کیږی چې کله
قید وه نو دا دیوان له هنده چا راوړه ؟

د تاریخ مرصع بیان دادے چې د اشرف خان د ګرفتارۍ
نه پس چې کومه جرګه شوې وه هغې کښې دا فیصله شوې وه:

"چې خان جنت مکان (اشرف خان. ناقل) چې قید دے مغل
دې ښې خلاص کا. د بادشاه په حضور دې وسی منصب دې ورکا
دا زمان بهرام لکه مغل د وراندې کړے دے هم دے دې
وسی. خانی ښې په نامه د بهرام کړه (۳۱)

دا فیصله چې کیده نو افضل خان (مولف د تاریخ مرصع)
په جرګه کښې شامل نه وه په "سرورمیله" پاتې شوے وه او غالباً
چې دا جرګه د "شیخ جیو زیارت" (یعنی د کاکا صاحب زیارت)
کښې شوې وه چې بهرام او "خان علیین مکان" پکښې د "تمامی
قبیلې او اولس" سره شرکت کړے وه او د جرګې نه پس "لوی
خان" سرورمیلې ته راغے او هرکله چې د جرګې په فیصله د
خبریدو نه پس افضل خان نظام پور ته روان شوے وه نو
"خان علین مکان" هم ورپسې نظام پور ته لاړه. افضل خان
د "خان علین مکان" نظام پور ته د رسیدو د واقعې د ذکر
نه پس لیکی "محال تری بولاق ښې هم په بهرام وسپارل. د
بهرام څوښې ښې ولاچی ته واستوه" (۳۲) او سره د دې افضل خان
دا نه وائی چې دیو فیصلو سره هغه اختلاف وکړو بلکې لا دا

وائی "څو مدت مې خان څخه په نظام پور کښې تېر کړه په امید
د ملګیرۍ چې راسره به مل شی خپل انتقام به واخلم (۳۳) له
دې څخې صفا معلومیږی چې افضل خان د بهرام د سرداری او
د محال تری بولاق هغه ته د ورکولو مخالف نه وه او خوشحال بابا
نه ښې دا امید کولو چې د دې د انتقام اخستلو په سلسله کښې
به دې سره ملګرتیا کوی. څرګنده خبره ده چې افضل خان د
خوشحال بابا نه صرف د مغلو برخلاف د ملګرتیا امید لرلو ځکه
چې افضل خان د پلار بدل صرف د مغلو نه اخستل غوښتل.
او هرکله چې نا امیده شه نو د بهرام په خلاف ښې څه
حرکت و نه کړه بلکې د تاریخ مرصع د بیان مطابق افضل خان
له لشوړې سوارې واستول" بادشاهی لار ښې ووهله (۳۴) دا د
افضل خان له خوا وړومبے اقدام وه چې د هغې په نتیجه کښې
بهرام څوابی کاروائی وکړه خوشکست ښې وخوړ. او د غوریه خیلو
او یوسف زیو جرګه ښې "کمرومیلې" ته واستوله. دې جرګه کښې
خوشحال بابا نه علاوه افضل خان هم موجود وه او د افضل خان
د وینا مطابق "تمامې جرګې خان ته ووئیل چې هغه (بهرام. ناقل)
د تازوئ، دا دې نمسے. اختیار د تا کې سرداری دې ته ورکوې
کې هغه ته. خان علین مکان ورته په څواب کښې ووئیل
چې د ما ازردګی دا ساعت د دواړو په سرداری نه ده. په
هغه جرګه چې څه مقرر شوی وو. د بهرام سره چې خان جنت
نشان (اشرف خان. ناقل) چې په قید دے خلاص دې شی دا
په کوم سبب په ګوالیار کښې محبوس شه. بویه چې لکه قرارداد

شوے دے د کوالیارہ دې کوزشی په منصب دې سرفرازشی...
ماخان ته عرض وکړچې دا ساعت دِ ما فکر اوسن وسال تقاضا
د سرداری نه کا دا هومره تلاش چې محض د پلار د خلاصو
دے گټه د بهرام نه سرداری اخستل د خدا ﷻ په کړه
ما وته اسان دی. هر وخت چې کمربندی وکړم انشاءالله تړې
به ﷻ واخلم. هرچې تا دا معرکه (د کمرومیلې جرګه. ناقل) وکړه
وړ دې نه وکړه زه هم پرې راضی شوم" (۳۵)

کویا افضل خان او خوشحال خان بابا دواړه د کمرومیلې
جرګې په نتیجه راضی وو او صرف د افضل خان "د پلارخلاصی"
ﷻ اصل مقصد وه او بهرام نه ﷻ هم دا مطالبه کوله چې
هغه دې دا مقصد حاصل کړی دې سلسله کښې یوه بله
جرګه راوغښتې شوه چې افضل خان ورته دا پیغام ولیږلو "زه
په دا معرکه نه درځم که بهرام اتفاق دِ ما د پلار پ خلاصو
کا دا وسواس دې نه کا چې زه به مغل ته ورشم او که تاسو
نورخپل روزګار سره لړئ زه د روزګار کړون نه کوم رخصت ې
کړل. خان علین مکان له هغه جرګې بیا راغے نظام پورته. ما
ﷻ وفرمائیل چې څونصو روپۍ د دې ماهه موږ دِ تا د خرڅ د
پاره د بهرام سره مقرري کړې ته خپل سړی واستوه خیرآباد
ته چې اخلی یئ. ما ورته ووې چې دِ ما دِ تا قرار داد سره هومره وه
چې څوته دِ ما او د بهرام سره په اتفاق راضی شوے نه ﷻ
اوس چې تا او دا سره اتفاق وکړه د ما په اتفاق هم بهرام
سره راضی شوے اوس دِ ما دِ تا سره جُدائی ده. هذا فراقُ بیني

و بینک" (۳۶)

او له دې فراق نه فوراً پس افضل خان امیرخان لره ځی
له هغه خلعت قبلوی. "ملازمت" ﷻ کوی (۳۷) او عن دا چې
د تاریخ مرصع د سیاسی قصې انجام په دې کیږی چې "زما د
منصب تجویز ﷻ وکړ. بادشاه ته ﷻ واستوه څه زر ﷻ هم دِ ما
په طریق د مدد خرڅ مقرر کړه او هرچې راسره څه سوارهوو
د هغوئ ﷻ علوفه وکړه چې جلال آباد لره راغلو د خان د فوت
خبر راغے. دا مرثیه ﷻ خان جنت نشان وئیلی ده الخ (۳۸)

گرانو لُستونکیو لره دا هیرول نه دی پکار چې دا امیرخان
چې افضل خان ﷻ ملازمت اختیار کړو هم هغه "امیرخان" دے
چې "جنت مکان" اشرف خان ﷻ گرفتار کړے وه. دا امیرخان
د خلیل الله خان یزدی زوئ د باچا رشته دار.....او
انتهائی قابل اعتبار افسر وه او په ده د عالمگیری اعتبار اندازه
له دې حقیقته لګول اسان دی چې دے د عالمگیر په دورکښې
په ۱۰۸۷ھ کښې د کابل صوبه دار شوے دے او چې په ۱۱۰۹ھ
کښې وفات کېدے نو هم د کابل صوبه دار وه. داسې تقریباً
دوه ویشت کاله دے د سلطنت له تولونه زیاتې "امادهٔ فساد" صوبې حاکم
پاتې شو دومره موده په تول مغل دورکښې عموماً او د اورنګ زیب په دور
کښې خصوصاً یو امیر هم د کابل صوبه دار نه دے پاتے شوے
او له دې دا قیاس کېدے شی چې که دې امیرخان په ۱۰۹۸ھ
(۳۹) (د اشرف خان د گرفتاری نه شپږ کاله پس) کښې بادشاه

ته دَ افضل خان دَ منصب تجویز کړے وی نو دَ دے منصب سره
سم به ئې دَ اشرف خان لهه زندانه دَ بهر کولو تجویز هم کړے
وی لکه چې دَ سیاست تقاضا هم وه او لهه بهرامه دَ خوشحال بابا
او دَ افضل خان مطالبه هم.

دَ مغلو او افضل خان دَ تعلقاتو حال دغه وه چې ولیکلے شه
تاریخ مرصع لکه چې مخکښې ذکر وشه دَ نورو ډېرو تفصیلاتو
سره دَ اشرف خان دَ گرفتارۍ او وفات ترمېنځه تفصیلات نه
بیانوی. تر دې حده چې دَ تاریخ مرصع نه دا پته هم نه لگی
چې اشرف خان هجری لهه گوالیاره کله بېجاپور ته تللے یا استولے
شوے وه. تاریخ مرصع دَ اشرف خان دَ وفات خبر داسې بیانوی.
"په دامیان کښې خان جنت مکان (اشرف خان هجری.
ناقل) چې په بېجاپور کښې وه دَ وفات خبر ئې راغے په سنه
زرصل شپږ (۴۰) اوس دَ تاریخ مرصع دا الفاظ "چې په بېجاپور
کښې وه" دا معنٰی نه ورکوی چې په بېجاپور کښې قېدی یا
بندی وه. بلکې دَ ازاد خان دَ تاریخ "غم اندوه" په موجودگۍ
کښې به دا ډېره ضروری وه چې کهه اشرف خان قېد وے نو
افضل خان به خامخا دا لیکل چې په قېد کښې ومړ. دا حقیقت
چې دَ اشرف خان ځوئې دَ خپل پلار دَ مرگ واقعه لیکی او خپلو
لُستونکیو ته دا نه ښئی چې هغه په قېد کښې مړ دے دا صفا
ثابتوی چې افضل خان په هغه مقصد کښې خامخا کامیاب
شوے دے کوم ئې چې بهرام نه لرلو او دَ کوم دَ نه پوره کېدو
په وجه ئې چې نیکه ته "هذا فراق بینی و بینک" وئیلی وو. یعنی

اشرف خان ئې دَ گوالیار لهه بنده خلاص کړے وه او اشرف خان
بېجاپور کښې ازاد ژوند تیرولو او صرف دا پابندی پرې وه چې
وطن ته نه شه راتلے. او دا هغه شرط وه چې دَ خټکو په
دواړو جرگو کښې خوشحال بابا، افضل خان او بهرام منظور
کړے وه.

نو په دې دلیل هغه وړومبۍ مفروضه ختمه شی دَ هغې
دَ لاندې اشرف خان ته په بندی خانه کښې دَ رحمان بابا دَ
شاعرۍ په باره کښې معلومات رسېدل غېر اغلب گڼلی شوی
وو. هرکله چې اشرف خان هجری قېد نه وه نو هغه ته هرقسم
معلومات رسېدے شو. دَ دې مفروضې تردید په دوه رنگه
لهه هغه ترجیع بنده هم کیږی چې دَ سکندرخان خټک په قلمی
دیوان کښې راغلے دے. وړومبے لهه دې حقیقته چې دَ ترجیع بند
عنوان داسې لیکلے شوے دے "خط په اشرف خان جیو چې
هندوستان لره استولے شوے وه احوال دَ واړو په نظم کښې
راووړ شه" او دا ترې ښکاری چې نظم "هندوستان ته لیږلے
شوے وه" زندان ته نه. او دویم دا چې دَ دې ترجیع بند یو
شعر دے:

سل شپېټه بېته مې ستا په خدمت وکښل
په دا واړه کښې دا یو حُسن اَحسن دے

(دَ ترجیع بند ټول شعرونه ۱۶۴ یا ۱۶۳ دی) او کهه دومره
وږد نظم اشرف خان ته "بندی خانې" ته لیږلے شه نو دا
دَ رحمان بابا دَ اتلسو شلو غزلو برابر شعرونه لری. کهه داسې

دوه درې ځله هم له پېښوره بېجاپور ته "ډاک" تللے وی (حالانکې
د ۱۱۰۰ھ نه تر ۱۱۰۶ھ پورې شپږ کاله کښې کم از کم شپږ ځل داسې
کېدے شو) نو دومره تعداد کښې د رحمان بابا د غزلو لیږل ممکن
وو چې اشرف خان پرې په "حتمی طریقه" یوه "وچته رائې"
قائمولے شوه۔

بهرکیف دا خبره هم د بحث ده چې اشرف خان د رحمان بابا
د شاعرۍ په ضمن کښې "وچته رائې" په "حتمی طریقه" ورکړې
هم ده او کهه نه د دې مقصد د پاره موږ ګران لُستونکی د
اشرف خان هجری هغه نظم ته متوجه کوو کوم کښې چې دا "وچته
رائې" په "حتمی طریقه" قائمه شوې ده۔ د نظم ساخت داسې
دے چې اوّل پکښې د خوشحال بابا ذکر دے بیا ئې د شاګردانو
ذکر دے (چې د خوشحال بابا ځامن وه) او بیا

پس له دې به کیفیت د نورو وایم
چې د چا شعر شمشېر د چا خنجر دے

او په دې ضمن کښې د مختلفو شاعرانو ذکر داسې شوے دے

شاعران د پښتنو ګویا څېره دی
د مرزا شعر شمله بلکې افسر دے
تکلّف په دا کښې نشته باور وکړ
په دا فن ئې ګوی وړے له یوهر دے
نن په دا دور کهه ښه شاعران غواړې
که دوه درې تنه دګر یو قلندر دے

خوږ زبان په زمانې شکرې لونی
هغه واف چې مستقر ئې پېښور دے
د رحمان په وئیل ځائې د لقب نشته
چې ئې ما شعر منظور کړه معتبر دے
ارزانی دولت د خپل دور بلبل وو
نن ئې وللے زمانې د شعر فر دے
د واصل له شعره څه وایم و چاته
چې زما په مخ ئې پورې د حال ور دے
نور قابل د یادو نه دی په دا زیل
نه ئې شعر سنجیده نه د باور دے
ټول ئې وسپاره په ما سریر د نظم
هغه نمر چې نن د خاورو په بستر دے (۴۱)

ګرانو لُستونکیو ته به دا احساس شوے وی چې په دیو
شعرونو کښې دا اهتمام شوے دے۔ چې په یو شعر کښې د شاعر
ذکر دے او ورپسې ئې په تعریف کښې شعر وئیلے شوے دے۔
وړومبے شعر د مرزا په ذکر کښې دے او دویم شعر ئې تعریف
کښې۔ دریم شعر کښې د قلندر ذکر دے او څلورم شعر کښې
ئې تعریف۔ پنځم، شپږم او اووم شعر کښې د نسبتاً وړو شاعرانو
ذکر شوے دے ارزانی او دولت په یو شعر کښې رایوځائې شوی
دی ځکه چې "زمانې ئې د شعر فرو للے" دے۔ د واصل په
شاعرۍ تبصره ځکه نه ده شوې چې د هغه د حال ور په

هجري "پورې" وه او نور شاعران قابل ذکر نه دي ګڼلي شوي
په دې دليل د هجري دا شعر:

خوږ زبان په زمانې شکرې لونی
هغه واف چې مستقر ئې پېښور دے

د رحمان بابا په باره کښې نه بلکې د قلندر په باره کښې دے
او هر کله چې زمونږ نقادانو دا شعر د رحمان بابا په باره کښې
ګڼلے دے نو دا خيال ئې څرګند کړے دے چې اشرف خان هجري
د رحمان بابا د شاعرۍ په حقله په حتمي طريقه وچته رائې
قائمه کړې ده. د دې شعر وړومبۍ مصرع په قلمي نسخه کښې
داسې ده:

"خوږ زبان په زمان شکر لونی"

او د چاپي نسخې مرتب دا مصرع داسې لُستې ده.

"خوږ زبان ئې په زمان شکرې لونی"

زما د مقصد د پاره به چاپي قرأت زيات ښه وه خو زما په خيال
په دې شکل کښې مصرع بې معنې کيږي ځکه هم هغه قرأت
ئې درست دے چې مخکښې درج شه.

او په دې طريقه دا بحث هم فيصله شه چې د کوم
قلندر مومند ذکر اشرف خان هجري د دکن په حوالې کوي
هغه په اصل کښې د پېښور وه.

د رحمان بابا په باره کښې اشرف خان هيڅ وچته رائې نه
ده ښکاره کړې بلکې د رحمان بابا په ذکر کښې ئې هم "وچته
رائې" د خپل ځان په باره کښې ښکاره کړې ده او د رحمان بابا

د تعريف د پاره د هجري صرف خپل اعتراف دا ثابتوي چې
رحمان بابا هغه وخت دومره لوئې شاعر نه وه چې د "مرزا"
غُندې د پښتو شعر ئې "شمله بلکې افسر" ګڼلے شوے وے
يا د قلندر غُندې "شکرپاش" معرفي شوے وے. د ديو په
مقابله کښې د رحمان بابا شعر ځکه له اعتراضه مبرا ګڼلے شوے
دے چې ـــ

چې ئې ما شعر منظور کړه معتبر دے

او له دې نه دا هم ثابتيږي چې "هغه واف چې مستقر ئې پېښور
دے" رحمان بابا نه بلکې قلندر دے. ځکه چې قلندر د اشرف خان
هجري په خيال کښې يو داسې شاعر دے چې.

که دوه درې تنه دګر يو قلندر دے

خو دا حيثيت دے رحمان بابا لره نه ورکوي بلکې د هغه شاعري
صرف د خپلې منظورۍ له کبله ګڼي.

د کامل مرحوم دريمه مفروضه داسې نه ده چې زما
دعوې ته نقصان ورسوي ځکه چې که رحمان بابا د ۱۱۰۰ هـ نه
تر ۱۱۰۶ هـ پورې د خوشحال بابا خاندان کښې د شاعر په حيثيت
د شهرت خاوند وګڼلے شي نو دا د دې خبرې اضافي ثبوت دے
چې د ده د شاعرۍ نمونې اشرف خان هجري ته استول ضروري
ګڼلے شول.

هر څو که د دې خبرې د پاره د ثبوت ورکولو ضرورت نشته
چې د اشرف خان هجري په مخکښې د رحمان بابا نوله شاعري
نه وه. ځکه چې اشرف خان هجري په ۱۱۰۶ هـ کښې وفات شوے

دے او دَ پټې خزانې مطابق رحمان بابا په ۱۱۱۸ هـ (او دَ افغانستان
دَ لیکونکیو دَ نظرثانی شوې رائې مطابق په ۱۱۲۸ هـ) کښې وفات
شوے وه. او دَ رحمان بابا دَ ژوند دَ ورستیو دولسو (یا دوه ویشتو)
کالو شاعری دَ هغه دَ شهرت او مقبولیت په سلسله کښې دَ
نظر انداز کولو نه ده خو بیا هم دَ دې مفروضې دَ تردید دَ
پاره چې دَ اشرف خان هجری دَ رحمان بابا دَ شاعری متعلق
رائې حتمی او وچته وه دا حقیقت دَ سترګو نه لرے کول نه
دی پکار چې اشرف خان ته دَ رحمان بابا هغه شعرونه قطعاً
نه وو رسېدلی (بلکی تر ۱۱۰۶ هـ پورې دَ خوشحال بابا اولاد ته
هم نه وو رسېدلی) چې پکښې رحمان بابا دَ خوشحال بابا په
مقابله کښې تعلی کړې ده. مثلاً دَ رحمان بابا دا شعرونه:

یو خوشحال یو کم سل ختک نور په طبیعت کښې
څارشه دَ رحمان سره بنی تر یوه فرده

خوشحالا او دولتا مې غلامان دی
زه رحمان په پښتو ژبه عالمګیر یم

که ټول شعر دَ رحمان مومند تر غوږ شی
غوږ به نه باسی په شعر دَ خوشحال خوک

دا غزل په حاشیه وکښه رحمانه
دَ خوشحال دَ بیاض پاڼې به ورېږدی

خو قطعاً اشرف خان نه وو لُستلی او دَ دې دعوې ثبوت دا
دے چې دَ اشرف خان هجری په دیوان کښې دَ قلندر مومند
یو غزل راغلے دے چې دَ دیو درېو شعرونو:-

نوے طرز مې په پښتو ژبه کښې وکړه
دَ افغان په شاعرانو کښې سُلطان یم
په پښتو کښې چې څوک دم وهی دَ شعر
خوشه چین مې دی دَ څېر مې زه دهقان یم
وَ پښتو ژبې مې آب ورکړه په شعر
دَ فارسی شعر چې نه وایم افغان یم

په جواب کښې اشرف خان هجری یوه وږده قصیده لیکلی
ده. چې څنې شعرونه تر یې رانقلوم.

دا مهینه قصیده مې چې انشا کړه
عجب کړے په اشعار قلندر خان یم
ما ټې شعر هسې دک له فخره ولید
چې حیران ټې دَ شاعر په دا کمان یم
همره کبر بدائی کا په خپل شعر
وائی شه په دا هنر دَ شاعران یم
خوشه چین دَ پښتو ژبې شاعران دی
زه دهقان دَ بلاغت فیض رسان یم
دے عطا دَ ویږو کا دا نه ټې نه وی
خندا وړے په عطا دَ دې دهقان یم

د پښتو شعر ې سم له ډېرو نه دے
د مغل د شعر لاف وهی حیران یم
شاه د شعر په پښتو ژبه هغه دے
چې ې زه حلقه بگوش د شاگردان یم

خکه نو که د رحمان بابا هغه شعرونه چې بره ې ذکر وشه او خوشحال بابا ته براه راست اشاره لری اشرف خان هجری ته رسېدلے وے نو د هغو شعرونو له خوابه (چې د قلندر مومند غزل کښې د خوشحال بابا له نامې بغېر راغلی دی) به ې سختو او ترخو الفاظو کښې خواب شوے وه. دا خیال چې اشرف خان هجری ډېر "وسیع القلب" شاعر وه او هغه به د رحمان بابا د دیو شعرونو باوجود هم د هغوی خواب نه وے کړے. د اشرف خان هجری د دیوان نه د انتهائی سختې بې خبری ثبوت پېش کوی.

د دې معروضاتو په رنړا کښې زما ذاتی رجحان دې خوا دے چې د خوشحال بابا د وفات په کال رحمان بابا ادبی لحاظ سره دومره عمر نه لرلو چې خوشحال بابا ې ذکر کړے وے او په دې لحاظ به ې په دغه کال عمر زیات نه زیات شل یا پنځویشت کاله وه (۴۲) او خکه ې د پېدائش کال ۱۰۸۰ھ/۱۰۷۵ کنل غېر اغلب نه دی.

د دې دوه بحث په رنړا کښې د محمد رسول هوتک هغه د غېر غشے هم خطا شه چې د رحمان بابا د پېدائش د کال په باره کښې ې ریښتے وه.

اوس راځو د رحمان بابا د وفات د کال په باره کښې د "محمد رسول هوتک" تحقیق ته. د پټې خزانې مطابق د رحمان بابا د وفات کال ۱۱۱۸ھ دے (۴۳) له پټې خزانې نه مخکښې بناغلی عبدالحئی مرحوم پښتانه شعرا لومړے ځل کښې دری ځل دا غلطی کړې ده چې د شاه عالم تخت نشینی ې په ۱۱۱۸ھ کښې لیکلې ده. (۴۴) حالانکې شاه عالم د خپلې باچائی اعلان په لاهور کښې د ۱۱۱۹ھ د محرم په وروستیو یا د صفر په وروستیو ورځ کړے وه. بناغلی حبیبی مرحوم ته دا غلط فهمی له دې کبله شوې ده چې هغوی د نورو مغلی باچایانو غُنډې د اورنګ زیب د وفات نه فوراً پس د هغه د جانشین د باچائی دور شروع کړے دے حالانکې داسې نه ده. اورنګ زیب د ۱۱۱۸ھ په ۲۸ ذی قعده په جنوبی هند (احمدنګر) کښې وفات شوے وه او د وفات خبر ې پښتونخوا ته چې شاه عالم پکښې واشرائی وه د ۱۱۱۸ھ د ختمېدو نه دوه یا درې ورځې مخکښې په ۲۷ ذی الحج راورسېدلے وه او شاه عالم (بهادرشاه اول) چې له پېښورہ روانېدے نو د باچا په حیث نه بلکې د باچائی د امېدوار په حیث روان شوے وه. او د خپلې باچائی اعلان ې لاهور کښې (لکه چې مخکښې وویل شو) کړے وه او اصل باچائی ې هغه وخت شروع شوې وه چې دهم دغه کال د ربیع الاوّل په یویشتمه ورځ ې د جاجو په مقام خپل کشروړور ته شکست ورکړه. حبیبی مرحوم دا عقیده د څه غلط فهمی په وجه نه له لرله بلکې د ۱۹۵۳ ترنیمائی پورې ې په خپله خبره اصرار کولو (۴۵) خکه چې د کامل مرحوم

اُردو کتاب "خوشحال خان خټک" باندې خپله ریویو کښې ئې د کامل مرحوم هغه اعتراض غلط ګڼلے دے چې د رحمان بابا د وفات د کال په سلسله کښې ئې په پټه خزانه کړے وه (۴۶) او د افغانستان نورو لیکونکیو کم از کم تر ۱۹۷۵ء (د تاریخ مرصع د چاپ کېدو کال) یعنی تر ۱۳۵۴ هش پورې دا عقیده لرله چې د رحمان بابا ژوند تر ۱۱۱۸ ه پورې یقینی دے (مجله کابل. د ۱۳۵۴ هش ګڼه. وږے (اګست ستمبر ۱۹۷۵) ص-۴۶ حاشیه ۶) د ګل خان جمال خان د واقعې له ذکره د راورټی (۴۷) او بیا وروستو د تاریخ مرصع په حواله چې کامل مرحوم دا ثابته کړه چې دا واقعه په ۱۱۲۳ ه کښې پېښه شوې وه او رحمان بابا تر دغه وخته ژوندے وه نو د افغانستان محترم لیکونکی د پټې خزانې د تاریخ (۱۱۱۸ ه) د غلطۍ معترف شو خو دا ئې ووئیل چې د ۱۱۱۸ ه دا کال د کتابت غلطی ده ځکه چې د پټې خزانې وروستی کاتب دا کتاب "باستعجال تمام" لیکلے وو (۴۸)

د پټې خزانې د داخلی شهادت په بنیاد زه په دې اصرار کوم چې د رحمان بابا د وفات کال ۱۱۱۸ ه لیکل د کتابت غلطی نه ده بلکې دا د حبیبی مرحوم (لکه چې عرض وشه) او د "محمد هوتک" عقیده وه چې رحمان بابا په ۱۱۱۸ ه کښې مړ وه. زما د دې دعوې بنیاد دا دے چې د رحمان بابا د ذکر په سلسله کښې پټه خزانه وائی چې :-

"هغه مغفور (میرویس نیکهؒ) یوه ورځ تر نماښامه له نورو پښتنو خانانو او مشرانو سره مصلحت وکا او هسې ئې

تړون وکا چې ظالمان مړه کړی او ځانونه له جور وظلمه وژغوری په پائی کښې حاجی میرخان علیه الرحمه ووئیل: راسئی چې عبدالرحمان بابا قدس سره هم وپوښتو. چې د دهه دیوان ئې خلاص کا (۴۹) د پټې خزانې دا عبارت "راسئی چې عبدالرحمٰن بابا قدّس سرّه هم وپوښتو" د میرویس نیکهؒ الفاظ دی چې په ۱۱۱۹ ه کښې ئې رحمان بابا ته "قدّس سرّهٗ" وئیلے دی او لکه چې مخکښې عرض شوے دے "قدّس سرّه" صرف د مړی د د پاره استعمالیږی او کهه د کاتب د "استعجال تمام" په نتیجه کښې ژوندی رحمان بابا ته "قدّس سرّه" ووئیلے شو نو حبیبی مرحوم پرې نوټ ولې ونه لیکلو. ظاهره ده چې دا هم هغو "اتفاقاتو" کښې یو "اتفاق" دے. چې حبیبی مرحوم او "محمد هوتک" پرې خپلو کښې متفق دی. ځکه چې پټه خزانه کښې د دې "قدّس سرّه" د موجودګۍ په وجه د افغانستان د محترمو لیکونکیو دا ځواب قابل قبول نه دے چې د پټې خزانې په روایت کښې ۱۱۱۸ ه کال د کتابت سهو ده.

دې ضمن کښې دا اضافی خبره هم هیرول نه دی پکار چې "محمد هوتک" د رحمان بابا" د رحمان بابا ذکر په وړومبۍ خزانه کښې کړے دے چې عنوان ئې د "محمد هوتک" په خپلو الفاظو کښې دا دے.

"په بیان کښې د هغو شاعرانو چې پخوا تېر سوی دی او مونږ ته د ډوی وینا وې ښکاره دی" نو کهه دا خبره ومنلے شی چې رحمان بابا په ۱۱۲۸ ه کښې وفات شوے وه نو په ۱۱۴۱ ه

کښې خو به دا وئیل صحیح نه وو چې رحمان بابا په هغو شاعرانو کښې یو دے چې "پخوا تېر سوی دی" ظاهره ده چې دا خبره هم دَ دې دعوې ثبوت کېدے شی چې پټه خزانه په یو داسې دور کښې لیکلے شوې ده چې دَ رحمان بابا زمانه ترې "پخوا" تېره شوې وه او دا دور دَ ۴۲-۱۱۴۱ھ دور نه شی کېدے.

دَ "محمد رسول هوتک علیه الرحمه" په حواله پټه خزانه دَ رحمان بابا په ضمن کښې دا هم وائی چې "خلق یُ تراوسه دَ پېښور په هدیره کښې زیارتونه کا" دَ تراوسه" دا ټکی دا څرګندوی چې دَ رحمان بابا او دَ دیو توریو دَ لیکونکی ترمېنځه ډېره لویه وقفه وه ځکه نو دا دَ "محمد هوتک" یا دَ "محمد رسول هوتک" لیکلی الفاظ نه دی بلکې دَ داسې سړی لیکلی الفاظ دی چې رحمان بابا سره لوئ زمانی بُعد لری.

دَ رحمان بابا په باره کښې دَ "محمد رسول هوتک" یو روایت دا هم دے چې عبدالرحمان بابا..... په پښتنو کښې په "رحمان بابا مشهور سو" حقیقت دا دے چې دَ "مشهوریدو" دا خبره هم داسې ده چې دَ "مرور ایام" ضرورت لری او دا څرګندوی چې دَ "محمد رسول هوتک" او دَ رحمان بابا دَ ژوندانه ترمېنځه دومره فاصله ضرور وه چې په دغه دوران کښې عبدالرحمان دَ رحمان بابا په نامه مشهور شه. خو ترڅو چې دَ پښتو دَ ادبی تاریخ تعلق دے "رحمان بابا" په دې نامه صرف او صرف په شلمه صدۍ مېلادی کښې مشهور شوے دے (او دغسې خوشحال بابا او حمید بابا هم) دَ رحمان بابا ذکر چې زمونږ شاعرانو

کړے دے نو هېچا ورته "رحمان بابا" نه دے وئیلے دَ ده ذکر کونکیو شاعرانو کښې اشرف خان هجری، یونس، نجیب، کاظم خان شېدا، معزالله مومند، پیر محمد او شمس الدین کاکړ ډېر جوت مقام لری خو دیو کښې یو هم رحمان بابا دَ "رحمان بابا" په نامه نه دے یاد کړے. تر دې حده چې دَ شلمې صدۍ په سر کښې شمس العلما میر احمد شاه رضوانی او پروفیسر عبدالمجید افغانی هم خپلو لیکونو کښې دې دَ رحمان، او عبدالرحمان په نامو یاد کړے دے انفنستن، راورټی او هیوز هم ده ته چرې "رحمان بابا" نه دی وئیلی. په دې دومره وږده موده کښې که چا دَ رحمان بابا نامې سره دَ 'بابا' لقب استعمال کړے دے نو هغه عبدالعظیم رانے زے دے چې وائی:

دَ بابا عبدالرحمان مومند په شانې ؛ جوړ کړه ما دَ غم کتاب دَ مرګ دَ لاسه

اول خو دې شعر کښې دَ رحمان بابا دَ پاره دَ "بابا عبدالرحمان" نوم استعمال شوے دے. بیا دې ته هم کتل پکار دی چې عبدالعظیم رانے زے دَ دیارلسمې صدۍ په وروستۍ نیمه کښې ژوند کولو لکه چې پخپله وائی.

دَ تصنیف دَ مخمس واوره سامعه
سن یو زر دوه سوه درې پنځوس ووایه

او ځکه کم از کم دا ثابتیږی چې دَ دیارلسمې صدۍ وروستۍ نیمې پورې رحمان بابا دَ رحمان بابا په نامه شهرت نه لرلو.

ترڅو چې دَ رحمان بابا دَ "ولایت" او دَ هغه له دیوانه دَ فال وکښلو دَ افسانې تعلق دے نو دَ دې خبرې دَ تردید دَ پاره

دومره وئیل کافی دی چې دَ رحمان بابا نوم دَ پښتنو اولیاو په هغه
تذکره کښې نشته چې دَ "محمد هوتک" معاصر محمد افضل خان
خټک دَ خپل کتاب تاریخ مرصع په دریمه برخه کښې دَ مخزن افغانی
دَ دویمې برخې دَ ترجمې سره دَ اضافې په شکل لیکلې ده (۵۰) او
پکښې ئې تر خپلې زمانې دَ پښتنو اولیاو حال بیان کړے دے
او عن تر دې چې دَ رحمان بابا دَ کلی سره نژدے په بډه بیره
کښې دَ وسېدونکی دَ راول فقیر حال ئې هم لیکلے دے. او دغه
راول فقیر سره ئې دَ خپل ملاقات تفصیل هم راوړے دے (۵۱)
خو دَ رحمان بابا ذکر ئې دَ ولی الله په حیث نه دے کړے.
حالانکې دَ تاریخ مرصع متن کښې راغلے وړومبے شعر ؎

څوک له خاورو ایرو پاڅوی تخت ورکړې
څوک له تخته دَ ایرو په ډیران ولې (۵۲)

دَ رحمان بابا دے (۵۳) او له دې دا په حتمی طور څرګندیږی
چې افضل خان خټک خپل معاصر شاعر رحمان بابا سره ډېر
لوئې عقیدت لرلو او کهه دا خبره رښتیا وے چې رحمان بابا په
خپل ژوند انه کښې دَ خپل ولایت یا شاعرۍ په وجه په
خلقو کښې دَ "رحمان بابا" په نامه شهرت لرلو نو افضل خان
به ئې خامخا ذکر کولو. او چې داسې نه ده شوې نو صفا مطلب
ئې دا دے چې پخپل ژوند کښې رحمان بابا په دغه نامې
مشهور نه وه.

اوس به راشو دَ "محمد رسول هوتک علیه الرحمه" دَ روایت
هغه حصې ته چې پکښې دا وئیلی شوی دی چې دَ رحمان بابا

دَ بېتو او غزلو دیوان سته او ډېر ډېر پېدا کیږی" (۵۳)
"محمد هوتک" لکه چې مخکښې عرض وشه دَ "محمد رسول هوتک
علیه الرحمه" په باره کښې موږ ته دا نه ښئی چې هغه کله
"علیه الرحمه" شوے دے خو لکه چې مخکښې مو یوه اندازه
لګولې وه شاید چې "محمد رسول هوتک" تر ۱۱۳۶ھ ژوندے
وه په دې اندازه کهه تکیه وکړو نو دَ "محمد رسول هوتک"
دَ روایت مطابق دَ ۱۱۳۶ھ خوا وشا په قندهار کښې دَ رحمان
بابا دَ "بېتو او غزلو دیوان ډېر ډېر پېدا کېدهه" (۵۴)

اوس چې پخپله دَ "محمد هوتک" دا بیان دَ نظر لاندې
وساتو چې "ظل الله پادشاه جهان شاه حُسین کاتبان واستول
او له پېښوره ئې دَ عبدالرحمان بابا علیه الرحمه دَ دیوان نقلونه
راوړل او په قندهار کښې علماء او زهادو وکښل او اوس ډېر
دی. فقرا او دَ خدائې دوستان دَ عبدالرحمان بابا شعرونه
ډېر لولی او خوښوی او عام خلق فالونه پرې ګوری حتی چې
ښځمنې هم دا کتاب ډېر وائی" نو صفا ثابته شی چې دَ رحمان
بابا دَ دیوان دَ "ډېر ډېر" پېدا کېدو په سلسله کښې دَ
"محمد رسُول هوتک علیه الرحمه" او دَ "محمد هوتک" روایتونه
یو دَ بل تردید کوی. ځکه چې کهه دَ "محمد رسول هوتک
علیه الرحمه" تر وخته دَ رحمان بابا دَ بېتو او غزلو دیوان "ډېر
ډېر پېدا کېدهه" نو بیا "ظل الله پادشاه جهان شاه حسین"
ته څهه ضرورت پېښ شوے وه چې پېښور ته ئې کاتبان
استول او دَ "عبدالرحمان بابا علیه الرحمه" دَ دیوان نقلونه"

ئې راوړل- او کھ شاه حسین دَ پاره ضروری وه چې لھ پېښوره دَ رحمان بابا دیوانونه راوغواړی نو هغه دَ "محمد رسول هوتک علیه الرحمه" ډېر ډېر پېدا کېدونکی دَ بېتونو او غزلونو دیوانونه ورک شوی وو څھ؟ دا دواړه متضاد خبرې دا ثابتوی چې یوه خبره پکښې غلطه ده او کھ هره یوه غلطیږی نو دَ پټې خزانې بنیاد پرې نړیږی-

ګویا محمد رسول هوتک دَ خپلو درېو واړو روایاتو په بیانولو کښې دومره غلطۍ کړی دی چې دَ هغه دَ وېنا په بنیاد هېڅ قسم دعویٰ دَ سماعت اهلیت نه لری او دَ پټې خزانې دا راوی انتهائی ساقط الاعتبار ثابتیږی-

دَ "محمد رسول هوتک" په باره کښې یوه بله اهمه خبره چې مخکښې هم عرض شوې ده دا ده چې پټه خزانه کښې درې ځل دَ دھ دَ بیاض ذکر شوے دے- خو دا نه دی بیان شوی چې آیا دھ دا بیاض صرف دَ سلطان بهلولؒ خوشحال بابا او دَ رحمان بابا دَ حالاتو دَ پاره وقف کړے وه او کھ دَ بل کوم لیکونکی حالات هم پکښې ثبت شوی وو ځکه چې دَ بل چا په ذکر کښې دَ دې بیاض دَ تائیدی شهادت حواله هم نه وه ورکړے شوے او دا خبره په حتمی ډول دا ثابتوی چې راوی او "بیاض" دواړه جعلی دی-

بل راوی دَ "محمد هوتک" "تربور" رحمت هوتک دے چې "پټه خزانه" کښې ترې دَ "رحمان بابا دَ شاګرد" یونس او دَ یو بل شاعر چې ورته "سرآمد شعرائے موجود" محمد ګل مسعود

وئیلی شوی دی په باره کښې دَ "محمد هوتک" دَ تربور "رحمت هوتک" دَ روایت تردید پخپله دَ یونس په دیوان کښې موجود دے او ما پرې په دویم باب کښې بحث کړے دے دلته به دَ محمد ګل مسعود په باره کښې دَ "رحمت هوتک" په روایت خبرې وکړم "محمد هوتک" دې شاعر ته "سرامد شعرائی موجود" وائی او حال دا دے چې دھ پخپله محمد ګل مسعود نه لیدلے دے او نه ئې دَ هغه کلام لُستے دے او "رحمت هوتک" ترې صرف یوه بدله رانقل کړې ده- زه حېران یم چې دَ یوې بدلې په بنیاد "محمد هوتک" دھ ته څرنګه "سرآمد شعرائی موجود" وئیلے شو- "محمد هوتک" سره کھ مونږ ډېره "فیاضی" کوو نو دا به ووایو چې شاید دا غلط معلومات ورته خپل تربور "رحمت هوتک" ورکړی وی چې محمد ګل مسعود "سرآمد شعرائی موجود" دے- او کھ "رحمت هوتک" ورته دا وئیلی وی نو دَ دې مطلب دا شه چې "رحمت هوتک" نه پېښور ته تللے وه او نه ئې یونس لیدلے وه ځکه چې په ۱۱۳۰ ھ کښې په پېښور کښې نه یواځې حمید بابا موجود وه بلکې سعید خټک، کامګار خټک او نجیب هم وو او په دیو ټولو یونس خبر وه نو کھ "رحمت هوتک" یونس سره ملاقات کړے وے نو دَ ذکر شویو شاعرانو لھ مقامه به ضرور خبر شوے وه او بیا به ئې هېچرې "محمد ګل مسعود" ته "سرآمد شعرائی موجود" نه وے وئیلے-

او کھ دا سې نه وی او دا غلطی "محمد هوتک" پخپله کړې وی

نو نه صرف د هغه د "شعرشناسۍ" په باره کښې مونږ ته معلومات راکوی بلکې پخپله د "محمد هوتک" د دې خبرې تردیر هم کوی چې هغه د پښتنو شاعرانو د تذکرې لیکلو د پاره دهرش کاله د پښتنو د مختلفو لتو په سیاحت متهرکړی دی. په دواړه صورته کښې د پټې خزانې د ماخذونو دروغ صفا ثابت شی

د پټې خزانې یو بل راوی نواب محمد اندړ دے چې "محمد هوتک" ترې د عبدالقادرخان ختک په سلسله کښې روایت کړے دے. اول خو داخبره څه ډېره عجیبه بنکاری چې د یو معاصرشاعر په باره کښې د داسې راوی په روایت تکیه شوې ده چې د پټې خزانې لُستونکی ې هډو وپېژنی نه. د "محمد رسول هوتک" "رحمت هوتک" او د یونس په موجودګی کښې د نواب محمد اندړ روایت ته احتیاج لرل یوه داسې خبره ده چې هیڅ وضاحت ې نه شی کېدے. دا خبره هم پخپل ځای ډېره اهمه ده چې د پټې خزانې د مولف پلار ته بنو کښې د عبدالقادرخان د خور حلیمه حافظه په باره کښې خو معلومات حاصل شو خو د عبدالقادرخان ختک غندې لوی شاعرشاید چې بنو کښې هیڅا نه پېژندو. اوکه داسې نه وی نو اخر د عبدالقادرخان په باره کښې د "نواب محمد اندړ" نه د استفادې څه ضرورت وه. مولف پخپله دهرش کاله د پښتنو په لتو ګرځېدلے وه. پلار ې ورلره ډېر معلومات راجمع کړی وو رحمت هوتک په ۱۱۳۰ھ

کښې پېښور کښې وه او د یونس او د محمدګل مسعود سره ې ملاقات ونه او رابطه شوې وه او له ټولو زیاته د "محمدرسول هوتک" بیاض د پټې خزانې د مولف سره موجود وه چې پکښې د رحمان بابا ذکر شوے دے (او دا رحمان بابا د عبدالقادرخان هم عصر وه) نو د دیو ټولو خبرو په موجودګی کښې د "نواب محمد اندړ" روایت ته ولې ترجیح او اهمیت ورکړے شوے دے؟ دا وضاحت کول د "محمد هوتک" د پاره ډېرضروری وه او چې دا نه دے شوے نو د لُستونکیو شکونه ې جوازه هېڅکله نه دی.

عبدالقادرخان ختک په ۱۱۱۲ھ کښې د "یوسف زلیخا" کتاب لیکلے دے (۵۵) او په ۱۱۱۴ھ کښې ې یو غزل لیکلے دے (۵۶) نو شاید چې ځکه پته خزانه په ۱۱۱۳ھ کښې هغه کابل کښې "لیدلے شوے" بیانوی چې د ختکو د قوم له خوا کابل ته راغلے وه او د کاروانو د تېریدو خبرې ې د بنګش پرخواکولې (۵۷)

د "نواب محمد اندړ" دا روایت له تاریخی اعتبارہ انتهائی غلط ې بنیاده او ې سنده دے چې عبدالقادرخان په ۱۱۱۳ھ کښې کابل کښې لیدلے شوے وه او د بنګش پرخوا ې د کاروانو د تېریدلو خبرې کولې. د دې روایت د تردید د پاره د تاریخ مرصع داځای د لُستو دے:

"بهادرشاه کابل ته لاړ. یو ناکرده کار د بهادرشاه بکاول وه. محمد حسین نومېد ه، حریص طامع دائم الخمر. هغه ې د کابل د صوبې متصدی کړه. کارونه به وارې د دهه په

معرفت کېدل. دے خود، ناواقف کار. دا دَ هندوستان لښکر
ورسره واړه ناواقف بهرام ته دا هسې لښکر خدائې ورکړه. دې
مزور په غرور دَ محمد حسین جست وجوئ دَ بنګښ دَ لارې
کاوه. ده ورته ووئیل چې دغه لار به هم زه درته پېدا کړم.
یو هسې ملک مې لیدلے دے دَ بنو چې تېرصو کوټه لری
او هم ابی دے.... او تر نن ورځې پورې هېچا پرې عمل دخل
نه دے کړے..... بهادرشاه ته ئې لا ډېر اعتبار وشه.
دَ بنګښ په لارئ روان کړل بیا ئې دَ دوړو په لار په سن
زرسل ودولس ئې بنو ته وروست (۵۸)

دَ دې "خدمت" په انعام کښې "محال دَ تری او بولاق
"له افضل خانه واخستے شه او بهرام ته ورکړے شه (۵۹)
بهادرشاه دَ ۱۱۱۲ ه ژمے په بنو کښې تېر کړه بیا کابل ته
روان شه. په لاره کښې واړه لوئ جنګونه وشو" چې په
خوست ورغے دَ بهرام کردې ئې په یاد شوې وئ بالهه
قېدئ کړه ترکابله ئې په کجاوه کښې بیوه..... بهرام
چې لښکر دَ بهادرشاه په کابل ورغے له کابله وتښ دَ غلجی
دَ بنګښ په لارې دَ ټېرۍ څوترې وته راورسېد (۶۰)

دَ بهرام له فراره پس بهادرشاه یو ځل بیا افضل خان
سره سلسله جنبانی شروع کړه او "محال دَ بولاق" ئې یو ځل
بیا افضل خان ته ورکړه (۶۱) دَ ۱۱۱۲ ه دَ اوړی له تېریدونه
پس بهادرشاه له کابله دَ خېبر په لارې له جمروده واخور
ته راغے. له هغه ځایه په اشنغر ډیره شه او افضل خان

ئې اشنغر ته وبالهه هلته دا مصلحت وشه چې بهادرشاه به
کوهاټ کښې مسکن ونسی او افضل خان به دَ بنو هغه ماتې
ګډې روغې کړی چې دَ بهرام له لاسه مغل حکومت ته
پېښې شوې دی افضل خان چې له کوهاټه بهر بهادرشاه
سره ملاقات وکړو نو بهادرشاه ورته ووئیل چې "زه دا زمان
درومم زیړان او مکران ته دا اوړے به هغه ځائې تیروم (۶۲)
له دې وږدهه اقتباسه دا څرګندیږی چې بهادرشاه دَ ۱۱۱۲ ه
ژمی کښې له کابله راروان شوے وه او دَ ۱۱۱۳ ه اوړے ئې
په کُرمه کښې تېر کړه یعنی په دغه کال هغه کابل ته
لاړ نه شه او دَ بنو په لور ئې تجویز دَ فوځ مقرر کړه.....
ناصرخان..... بهادرشاه دَ مروتو دَ لکۍ په لار په عیسیٰ خیلو
ورغے په سن زرسل څوارلس دَ اوانه باغ وته راغے (۶۳) له
دې اقتباسه دا قیاس نور هم پوخ شی چې بهادرشاه دَ ۱۱۱۲ ه
ژمی نه پس بیا کابل ته نه وو تللے. نو چې داسې حال وه
نو بیا عبدالقادرخان په ۱۱۱۳ ه کښې کابل کښې څه کول
او چا سره ئې دَ "بنګښ پرخوا" دَ کاروانونو دَ تېرولو خبرې
کولې لکه چې ګرانو لُستونکیو ته معلومه ده. مغل وائسرائې
به اوړے تل په کابل کښې او ژمے په پېښور کښې تېرولو.
شاید چې ۱۱۱۳ ه اکّی یو کال دے چې بهادرشاه دَ کابل
په ځائې په کُرمه کښې تېر کړے دے. ځکه چې په بهرام
دَ اعتماد په وجه ئې ځان ته داسې حالات جوړ کړی وو چې
دَ بهادرشاه دَ "بنګښ پرخوا" موجودګی ضروری وه.

ماثر عالمگیری کښې په دغه کال د بهادرشاه د هیڅ یو مصروفیت ذکر نشته ځکه چې بادشاه پخپله د دکن په مهم کښې وهېر زیات بوخت وه. د دې کال په واقعاتو کښې ماثر عالمگیری یوځل د "محمد معظم بهادرشاه" ذکر کوی چې میرابوالوفا د هغه یو "مرموز" خط د بادشاه په وینا لوستے وه او بس (۶۴) ځکه نو د تاریخ مرصع شهادت اکی یوحتمی شهادت دے چې د بهادرشاه له کابله غیرحاضری ثابتوی اوچې بهادرشاه کابل کښې نه وه نو د عبدالقادرخان په کابل کښې موجودگی هېڅوڅه معنی نه لری.

د تاریخ مرصع دغه متعلقه حصه که په غور ولوستے شی نودا تری ثابتیږی چې په دغه کال بهرام د بهادرشاه نه فراری وه ځکه نو د بهرام د نمائنده په حیثیت د عبدالقادرخان د سیاسی خبرو سوال هېڅ و نه پیدا کیږی. بهادرشاه د "بنګښ پرخوا" پخپله تللے وه او افضل خان ته یې د بنو د هغو کارونو د انصرام کولو وئیلی وو چې د بهرام له لاسه خراب شوی وو او افضل خان د "بنګښ پرخوا" د کاروانو تو د اجازې کار ته وزکار نه وه. ځکه نو چې دا ټولې خبرې د نظر د لاندې رسا تلے شی نو صفا تری ثابتیږی چې د عبدالقادرخان په ۱۱۱۳ھ کښې کابل ته د تللو "واقعه" محض یوه افسانه ده چې هیڅ بنیاد نه لری. او د دې روایت په وجه د نواب محمد اندر ثقاهت هم مجروح شی. اوچې دا ټول راویان یې ټول روایتونه د دروغو کوی نو پته خزانه به څوک په رښتیا و مبنی کتاب وګڼی؟

حوالې او حواشی

۱- پته خزانه- دوهم چاپ- ص ۱۸۰-
۲- ایضاً- ص- ۱۹۶-
۳- ایضاً- ص- ۱۹۸ (۴) ایضاً
۵- ایضاً- (۶) ایضاً- ص- ۶- (۷) ایضاً- ص- ۷۶
۸- ایضاً- ص- ۷۸- (۹) ایضاً- ص- ۹۲-
۱۰- لودی پښتانه- ص- ۱۱۸-
۱۱- لودی پښتانه- ص- ۱۰۳-
۱۲- ایضاً- ص ص- ۱۱۸- ۱۱۹-
۱۳- ایضاً- ص- ۵۵-
۱۴- پته خزانه- دوهم چاپ- ص- ۸۰
۱۵- ایضاً- ص- ۱۲۰- (۱۶) ایضاً- ص- ۷۹-
۱۷- ایضاً- ص ص- ۸۰-۸۱ (۱۸) ایضاً- ص- ۸-
۱۹- د خوشحال خټک مرغلرې مقدمه- ص- ۱۵-

۲۰. پښتانه شعرا. لومړے ټوک. ص. ۱۵۳

۲۱. ایضاً. ص. ۱۹۳.

۲۲. کامل مرحوم هم له دې وجهې دَ پټې خزانې روایت ته دَ شک په سترګه ګوري رحمان بابا. ص. ۱۰۰ (اول ایډیشن) ص. ۸-۹ (دویم چاپ).

۲۳. دَ رحمان بابا کلیات. ص. ۸۱.

۲۴. رحمان بابا. ص. ۱۵ (وړومبے چاپ) ص. ۱۲-۱۳. (دویم چاپ)

۲۵. دَ خوشحال خان خټک مرغلرې. ص. ۹۸۴.

۲۶. رحمان بابا. ص. ۳۳. (وړومبے) چاپ) ص. ۲۶. (دویم چاپ)

۲۷. ایضاً. ص ص. ۳۶-۳۷ (وړومبے چاپ) ص ص ۲۹-۳۰. (دویم چاپ)

۲۸. ایضاً ص ص. ۳۷-۳۸ (وړومبے چاپ). ص ص. ۳۰-۳۱. (دویم چاپ)

۲۹. "خبر راغے چې خان جنت مکان (اشرف خان هجری. ناقل) بادشاه په قلعه دَ ګوالیر محبوس کړه" تاریخ مرصع. ص ۲۹۴

۳۰. مآثر عالمګیری. ص. ۲۰۶ (انګریزی ترجمه دَ سرجادونات سرکار)

۳۱. تاریخ مرصع. ص. ۴۹۴.

۳۲. ایضاً (۳۳) ایضاً (۳۴) ایضاً

۳۵. ایضاً. ص. ۴۹۵.

۳۶. ایضاً. ص. ۴۹۷

۳۷. ملازمت دَ مغل دربار په اصطلاح کښې مخصوص "درباری سلام" ته وائی. په ننو معنو کښې ئې "نوکری" مفهوم نه وه.

۳۸. تاریخ مرصع. ص. ۵۱۱ (۳۹) ایضاً

۴۰. ایضاً. ص. ۴۸۷.

۴۱. دَ اشرف خان هجری قلمی دیوان او دَ کامل مرحوم رحمان بابا ص ص ۳۳-۳۴ (وړومبے ایډیشن) ص. ۲۷ (دویم ایډیشن).

۴۲. کامل مرحوم دَ رحمان بابا عمر په ۱۰۹۲ ه کښې شل یا پنځه ویشت کاله فرض کړے دے او داسې ئې دَ پیدائش کال ۱۰۷۲/۱۰۶۷ ه راوکښے دے. رحمان بابا. ص. ۱۲ (وړومبے چاپ) ص. ۱۰ (دویم چاپ)

۴۳. پټه خزانه. دوهم چاپ. ص. ۹۴.

۴۴. ایضاً. ص ص ۱۷۴ او ۱۹۳.

۴۵. ازاد افغانستان. ۱۵ جون ۱۹۵۳.

۴۶. خوشحال خان خټک (اردو) ص. ۴۰۲. (فټ نوټ)

۴۷. سیلیکشنز فرام ده پوئټری او ده افغانز. ص. ۳

۴۸. دَ محمد هوتک ژوند او مزار. ص. ۳۳

۴۹. پټه خزانه دوهم چاپ. ص. ۹۶.

۵۰. تاریخ مرصع ص ص. ۵۱۴-۶۰۶.

۵۱. ایضاً. ص ص. ۶۰۴-۶۰۶.

۵۲. تاریخ مرصع قلمی ص. ۱. چاپی. ص. ۳.

۵۳. دَ رحمان بابا کلیات. ص. ۳۱۱.

(۵۳ و). پټه خزانه. دوهم چاپ. ص. ۹۴.

۵۴. ایضاً.

۵۵. پښتانه شعرا. لومړے ټوک. ص. ۱۷۴.

۵۶. ایضاً. حاشیه (۱).

۵۷- پټه خزانه- دوهم چاپ- ص- ۱۲۰-
۵۸- تاریخ مرصع- ص- ۳۵۶-
۵۹- ایضاً- ص- ۳۵۷
۶۰- ایضاً-
۶۱- ایضاً-
۶۲- ایضاً-ص-۳۶۲
۶۳- ایضاً- ص-۳۶۳-
۶۴- مآثر عالمگیری- ص-۲۷۳- انگریزی ترجمه (د اورنګ زیب د جلوس د شپږ څلوېښتم کال واقعات).

فنی ارخونه

دې باب کښې زه د پټې خزانې د ترتیب، ادبی کمزورې او ځنې نورو غلطیو په باره کښې داسې معروضات پیش کول غواړم چې د هغو اکې یو مناسب عنوان دغه دے چې ما ولیکلو زه هیله لرم چې کران لُستونکی به دا ټول معروضات د فنی ارخونو په ضمن کښې مطالعه کړی او که دا هرڅه د فنی ارخونو د عنوان لاندې نه راځی نو ما به معاف کړی- ځکه چې د مختلفو نوعیتونو د دې معروضاتو د پاره د ډېر کوشش باوجود ما یوه نامه وضع نه شوه کړے-

۱- پنه، نو وړومبے به د پټې خزانې د ترتیب په باره کښې څه ووایم د پټې خزانې ترتیب په دوه قسمه شوے دے اول ترتیب ئې د "خزانو" دے چې د مرتب د پخته کارۍ ثبوت ورکوی- یعنی د دریو خزانو وېش په داسې اصولو شوے دے چې دا تړې ښکاری چې مولف یو پخته کار لیکونکے دے- چې

اوله خزانه کښې د تیرې زمانې شاعران دویمه خزانه کښې د
خپلې زمانې شاعران او دریمه خزانه کښې ئې زنانه شاعرانې
راجمع کړی دی. خو شاید چې مولف نورې پخته کاری ته
تیار نه وه نو د هرې یوې خزانې په سلسله کښې ئې د
امتهائی خامکاری د اظهار نه کاراخستے دے او شاید چې د
خامکاری دا اظهار بالکل دا نسته دے چې څوک دا ونه وائی
چې په هغه زمانه کښې دومره ماهرانه ترتیب څنګه ممکن
کیدے شه. د خزانو دننه دا ترتیب نه خو د حروف تهجی
په لحاظ دے، نه د علاقو په لحاظ، نه د فضیلت په لحاظ
او نه د تاریخ په هغه لحاظ چې عام طور سره ټولې تذکرې
ئې تقلید کوی. د ورومبی خزانې ورومبے شاعر "بابا هوتک" او
دویم شیخ ملکیار دے چې پلار او زوی دی. "بابا هوتک" په
۷۴۰ ه کښې وفات شوے او "شیخ ملکیار" په ۷۴۹ ه کښې
ژوندے بیان شوے دے (۱) تر دې حده خو دا یو طبعی او
فطری ترتیب دے او په دې لحاظ هم قابل فهم دے چې
دا دواړه د مولف د خپلې قبیلې ورومبنی شاعران وو خو له
دوی نه پس چې په کوم تاریخی ترتیب د لیکونکیو تذکره
شوې ده له هغې نه دا اندازه کیدې شی چې دا بې ترتیبی
سهواً نه بلکې دانسته شوې ده. ګنی که د هغو د برشو
کالو په دوران کښې چې مولف د پښتنو شاعرانو احوال
راټولول (۲) دهه په تاریخی ترتیب دا شاعران مرتّب کړے وے
نو هیڅ مشکل کار نه وه. لاندې لیکلی فهرست کښې د شاعرانو

د زمانې هغه کلونه لیکلے کیږی چې د پټې خزانې مولف یا محشی ئې
صحیح ګڼی.

۳- اسمٰعیل پنځمه هجری صدی
۴- خربنبون ۴۱۱ ه مړ (۳)
۵- شیخ متی ۶۸۸ - ۶۲۳
۶- امیرکرور ۱۵۴ ه کښې مړ
۷- شیخ اسعد سوری وفات ۴۲۵ ه
۸- بنکارندوی - د سلطان شهاب الدین معاصر
۹- ابو محمد هاشم البستی ۲۹۷ - ۲۲۳ ه
۱۰- شیخ تهمن د ۵۵۰ ه حدود
۱۱- شیخ برپښ ۱۰۰۲ ه (د پټې خزانې حاشیه او تعلیقات)
۱۲- شیخ رضی لودی د الپتګین او سبکتګین معاصر
(څلورمه هجری صدی)
۱۳- شیخ نصر لودی ۳۹۰ ه تعلیقات
۱۴- شیخ عیلی مشوانی د شیرشاه سوری معاصر (لسمه صدی)
۱۵- سلطان بهلول لودی ۸۹۴ ه وفات
۱۶- خلیل خان نیازی د سلطان بهلول هم عصر نهمه هجری
صدی (د ۸۹۰ ه حدود)
۱۷- خوشحال خان خټک ۱۰۲۲ - ۱۱۰۰ ه
۱۸- زرغون خان ۹۲۱ ه وفات
۱۹- دوست محمد کاکړ ۹۲۹ ه ژوندے
۲۰- رحمان بابا (۱۰۴۲ - ۱۱۱۸) دواړه کلونه مشکوک.

۲۱. محمد صالح. د شاه بیګ کابلي هم عصر په ۱۰۰۳ھ کښې ئې قندهار نیولے وه (تعلیقات)

۲۲. علي سرور لودي د زمانې ئې هیڅ پته نه لګي خو هر کله چې د نعمت الله هروي په مخزن افغاني کښې ئې ذکر شوے دے نو د جهانګیر له دوره مخکښې تېر شوے دے.

د کتاب په دویمه خزانه کښې لکه چې مخکښې عرض شوے دے د کلونو او تاریخونو څه التزام ضروري نه دے ګڼلے شوے. ځکه نو دا پته نه شي لګیدے چې د دې خزانې په شاعرانو کښې تاریخي ترتیب د نظر لاندې ساتلے شوے دے او کهه نه البته د "محمد یونس خان" ذکر چې په ۱۱۳۰ھ کښې ژوندے بیان شوے دے له عبدالقادر خان نه مخکښې راغلے دے چې پخپله مولف ئې ۱۰۶۱ھ کښې پیدائش تسلیموي او تر ۱۱۱۵ھ ئې ژوندے ګڼي او د پټې خزانې د لیکلو په وخت دا ګمان کوي چې عبدالقادر خان به ژوندے نه وي. د دې په مقابله کښې هم په دغه ورځو کښې یونس ژوندے ګڼي او د ژوند دُعا ورته کوي.

د دریمې خزانې د زنانه شعر ویونکیو تاریخ داسې بیان شوے دے.

۱. نازو توخي ۱۰۶۱ھ پیدائش

۲. حلیمه حافظه د خوشحال خان خټک لور. د دولسمې صدۍ شاعره.

۳. بي بي نیک بخته ۹۶۹ھ کښې ژوندۍ

۴. زرغونه - ۹۰۳ھ کښې ژوندۍ

۵. رابعه. د بابر باچا په عصر کښې چې افغانستان کښې ئې له ۹۱۰ھ نه تر ۹۳۷ھ حکومت کړے وه.

د زرغونې او رابعې تر منځه د میرویس لیکهؒ د لور بي بي زینب ذکر دے چې ورته د پټې خزانې د لیکلو په وخت یعنی ۴۲-۱۱۴۱ کښې د "اطال الله بقائها" دعا شوې ده او دا ترې ښکاري چې په ۴۲-۱۱۴۱ کښې بي بي زینب ژوندۍ وه. له دې فهرسته دا څرګندیږي چې په دریمه خزانه کښې هم د تاریخي بې ترتیبۍ روایت قائم ساتلے شوے دے. او یوه اضافه پکښې دا شوې ده چې د ماضي او حال د شعر ویونکیو مېرمنو ذکر پکښې د یو عنوان د لاندې شوے دے.

محترمو لُستونکیو به محسوس کړی وی چې د پټې خزانې مولف د خپلې تذکرې د لیکونکیو په سلسله کښې هیڅ ترتیب د نظر لاندې نه دے ساتلے. د ځنو لیکونکیو تر منځه د پینځو پینځو سوو کالو داسې فاصله ده چې مخکښې ذکر شوے لیکونکے د وروستو ذکر شوی لیکونکی نه پینځه سوه کاله وروستو تېر شوے دے (د مثال په طور شیخ متی او امیر کروړ) دغسې د دوو دریو سوو کالو فرق خو ډېر عام دے. نو ځکه مونږ بغېر د تردید له ویرې وئیلے شو چې د پټې خزانې "مولف" د خپل کتاب د ترتیب په ضمن کښې د اصولو او معیار هیڅ پیروی نه ده کړې او د کتاب د ګیډې ډکولو د پاره ئې له خپله دماغه د څه ربط نه بغېر

نومونه رایوخائي کړی دی. او دا شے پخپله دا شک په یقین کښې بدلوی چې د کتاب د تالیف په پس منظر کښې تحقیقی یا علمی محرکات نه وو او نه دا کتاب د یوې علمی تذکرې یا تحقیقی مضمون د تقاضو سره سمون نه خوری.

ب: د پټې خزانې د دفاع په سلسله کښې یوه خبره دا کیږی چې د کتاب د مندرجاتو د تنوع له کبله د یو انسان د پاره دا ممکنه نه ده چې په یواځې ځان دومره متنوع مواد له خپله طرفه جوړ کړی. دا خبره خو اول د منلو نه ده ځکه چې د جعلسازۍ عامو وارداتو کښې هم دغسې متنوع کارنامې سرته رسولے شی خو که دا ناقابل یقین خبره ومنلے شی نو زه په ډېر ادب دا عرض کوم چې د پټې خزانې مواد دومره متنوع هم نه دے چې یو انسان پې له ځانه جوړولے نه شی.

ما چې د پټې خزانې په شعری مواد و څومره غور کړے دے نو هغه په څلورو برخو کښې تقسیمیدے شی. اوله برخه پې په ملی وزنونو کښې لیکلی شوی هغه فوکلوری نظمونه دی چې نمونې پې زمونږ ژبه کښې په دومره ګڼ تعداد کښې موجودې دی چې ډېره په اسانه پې نقل کیدے شی او که یو سړے کښینی نو صرف د "هار و بهار" نه پنځوس شپیته نمونې حاصلولې شی.

د پټې خزانې دوئمه برخه زمونږ د کلاسیکی دور د غزلونو ده چې عام موضوع پې عشق او تصوف دے. د مثال په طور دا نمونې وګورئ:

د لیلی د میڼې فیض هر سبا زاړم
ببهوده منت به ولې د نور چا وړم
پې له عشقه خوشحالی پرما حرامه
زه صالح که په خله خوښ په زړه ژاړم

که په سر د هغه یار د لاسه سنګ خورم
خدائې دې نه کا چې به بله خوا ته څنګ خورم
زه رحمان به څوڑوندے په جهان کړځم
چې په بلولمبو څرخ لکه پتنګ خورم

دا دواړه غزلې د دولس سلابیزو مصرعو دی او د لیکونکیو تر منځه پې کم از کم د سلو کالو فرق دے. ګویا په دغو سلو کالو کښې د پښتو غزل کښې هیڅ فرق نه وه راغلے.

د صالح له دغه ذکر شوی غزل نه دری سوه کاله (د پښتانه شعرا د مولف په قول) اکا هو اکبر زمینداروی په دغه زمکه کښې دا غزل لیکلے وه.

چې مدام زه ستا و ځ وته نظر وړم
د بهلتون له بهرې زړه زهر وزبر کړم
ستا د تورو څنو خیال هسې طویل دے
تل په زړه کښې دغه فکر زه اکبر وړم (ه)

د مرزا انصاری په دیوان کښې هم په دې زمکه کښې یو غزل شته چې مطلع او مقطع پې په ترتیب لاندې لیکلے شی.

چې د یار د میني خوب په خراب زړه وړم
بیهوده به د نور چا منت په څه وړم

په مرزا د محبت لمبې چوپړ شوې
په دغه آتش به دهر اومه پاخه وړم

دې غزلونو کښې یواځې سپلابیز یووالے نه دے بلکې ردیف د دیو غزلو یو دے۔

پټه خزانه کښې د صالح یو بل غزل هم راغلے دے چې مطلع او مقطع ئې په ترتیب داسې دی۔

چې په زړه ئې غشی څرخ شی د چشمانو (۶)
روغ به نه شی په دارو د طبیبانو

که صالح غُندې د زړه په وینو پاڼی
نور دولت پر دُنیا نسته طالبانو

(پټه خزانه۔ دوهم چاپ ص ۱۰۲)

د پټې خزانې د مولف په خیال کښې محمد صالح د ۱۰۱۴ھ په حدودو کښې تېرشوے دے۔ خو له دې نه سل کاله پس هم په دې مزکه کښې د پښتو دوو دېرو لویو شاعرانو غزلونه لیکلی دی چې زه ئې صرف مطلعې او مقطعې ورکوم۔

د رحمان بابا د یو غزل مطلع ده۔

تا چې رنګ د میو ورکړه و لبانو
اور دې پورې کړه په کور د میخوارانو

او مقطع ئې ده۔

ستا له غمه په خان زړه د رحمان سوی
لکه شمع په زیارت د شهیدانو (۷)

هم د رحمان بابا د یو بل غزل مطلع او مقطع ملاحظه کړئ۔

چې کوتلی وی په تیغ ستا د چشمانو
سر حلقه وی د جمله و شهیدانو

او

ماسوا له یاره هر چې دی رحمانه
واړه کفر دے په دین د عاشقانو (۸)

د خوشحال بابا حُوئ او د پښتو یو بل لوئ شاعر عبدالقادر خان ختک هم د "صالح" د غزل په زمکه کښې غزل لیکلے دے چې مطلع او مقطع ئې داسې دی۔

راشه کوره ننداره د فاسقانو
دم دهی د خدائ د خاصو عاشقانو

مرګ ئې سل ځله بهتر له حاضرانو
دے بنده عبدالقادر له آبقانو (۹)

د یو بل شاعر نجیب (۱۱۷۸ھ کښې ژوندے) د "صالح" د غزل په زمکه کښې درې غزلې لیکلی دی چې زه ئې دلته صرف مطلعې او مقطعې پېش کوم۔ د وړومبی غزل مطلع ده۔

هغه څوک چې اشفته شه په خوبانو
همیشه کړې په بر له غزالانو

او مقطع ئې ده

چې له عشقه کناره کړې نجیبه
سپے نه دے په شماره د چارپایانو

د بل غزل مطلع

خوښ یم زه په دې عادت د مهرویانو
کاه کهی چې مهر کا په عاشقانو

او مقطع

چې پرې تل ستا افتاب مخ ته نجیب ګورم
روشنائی مې څکه لاړه له چشمانو

او د دریم غزل مطلع دا ده۔

چې هوس مې کړه و عشق ته د خوبانو
قبلوم به ناکړدې د رقیبانو

او مقطع ئې ده

دا نجیب دے په هجران کښې چې زګپروی کا
په دوزخ کښې که زګپروی وی د عاصیانو (۱۰)

هم دغسې د علی سرور د غزل

محبت پیاله مې نوش کړه په مجاز کښې
د حق نور دیدم په سترګو د ایاز کښې

په وزن د رحمان بابا د غزلونه د مثال په طور پیش کیږے شی۔

ستا د میني ګوهر نشته په هر آب کښې
مګر بیا موند شی د اوښیو په دریاب کښې

(د رحمان بابا کلیات ص ص ۳۵۹-۶۰)

یا دا ستا چشم و ابرو و یم په خواب کښې
یا مستان دی وودہ شوی په محراب کښې

(ایضاً ص ص ۳۶۰-۶۰)

زړه مې بائیلو ستا په مهر محبت کښې
عاشقیه زهر راکړه په شربت کښې

(ایضاً۔ ص ص ۳۶۱-۶۲)

مغرور مه اوسه د عشق په کاروبار کښې
هر څنے تېره تېغ دے په دا لار کښې

(ایضاً۔ ص ص ۳۶۲-۶۳)

مدام ناست یم وچ ګوګل سترګې په نم کښې
عشق راوښو بحر و بر په خپل حرم کښې

(ایضاً۔ ص ص ۳۶۳-۶۴)

د بلبلو له حال زده کړه په خزان کښې
بیا د ګلو نظاره کړه په بوستان کښې

(ایضاً۔ ص ۳۶۵)

هسې بې یاره خفه یم په جهان کښې
چې مې نه شی ځائې په زمکه په آسمان کښې

(ایضاً۔ ص ص ۳۶۵-۶۶)

هسې خوښ یم ستا د در په خاکساری کښې
لکه خوښ وی سرداران په سرداری کښې
(ایضاً۔ ص ص ۳۶۷۔ ۶۸)

سپین مخونه تور کودے شی په پیری کښې
سم قدونه کوږ لرګے شی په پیری کښې
(ایضاً ۳۶۸ - ۶۹)

د نجیب په دیوان کښې په دې وزن اووه غزلونه دی۔ چې مطلعې یې داسې دی۔

که مې سپین شو دواړه کسی په ژړا کښې
دلربا مې چرې و نه نیو په خوا کښې
(دیوان نجیب۔ ص۔۱۰۰)

سمندر غُندې که سوزم تل په اور کښې
خوښ یم ستا د عاشقی په شروشور کښې
(ایضاً۔ ص ۔ ۱۰۱)

هیڅ بیا نه موندھ ما ستا په محبت کښې
تمام عمر مې ګذر شه په محنت کښې
(ایضاً۔ ص ۔ ۱۰۲)

یاره ستا د عاشقی په کاروبار کښې
سمندر غُندې تل زیست کوم په نار کښې
(ایضاً۔ ص۔ ۱۰۳)

عشق اور واچاوه زما په دل و جان کښې
حُکه زهٔ کرم فریادونه په هر آن کښې
(ایضاً۔ ص۔۱۰۳۔ ۴)

دا دې مخ دے چې خلیږی په نقاب کښې
که حیران یمه آفتاب دے په سحاب کښې
(ایضاً۔ ص۔ ۱۰۴)

محنتونه دی بسیار د ستا په عشق کښې
بې حساب هم بې شمار د ستا په عشق کښې
(ایضاً۔ ص۔ ۱۰۴۔ ۵)

د دیو دو و شاعرانو ذکر ما د نمونې په طور وکړه۔ ګنی نو د پټې خزانې د هر هغه شاعر چې غزل یې لیکلے دے په وزن، قافیه اوردیف د هغو نورو شاعرانو غزلونه پیش کیدے شی چې مونږ یې پېژنو او د پټې خزانې د چاپ کیدو نه مخکښې پښتون اولس ته معلومه وو۔

د پټې خزانې د شعری مواد و درېمه برخه هغه مثنویانې دی چې تولې په یوه بحر کښې لیکلې شوی دی۔ مثلاً

د هدیٰ د آسمان ستوری ؛ څې رنا یې لور په لوری
شپه زمونږ یې کړه روښانه ؛ دوی دې وی خوښ پوهنانه
(مقدمه۔ پټه خزانه۔ محمد هوتک)

ساقی پاڅه پیاله راکړه مرور یار مې پخلا کړه
پسرلے شو غنچه ګُل کا زلفې تاوې د سنبل کا
(ساقی نامه د زرغون)

له نیکانو روایت دے ؛ هسې توګه حکایت دے
نور محمد کاکړ راوی دے ؛ چې یې فیض تل جاری دے
(غرغښت نامه۔ د دوست محمد کاکړ)

شیخ متی چې خلیلی وه ÷ دے له اره لوئ ولی وه
یوه ورځ روان پر لار وه ÷ لوئ څښتن په استغفار وه
(افضل الطرائق۔ ملامیرمحمد)

عشق یو هسې تورپالے دے ÷ چې په هرڅاڅې برے دے
د عشق اور هسې سوزان دے ÷ چې سوځلے ئې جهان دے
(قصص العاشقین۔ بابوجان بابی)

اورښلې مې قصه ده ÷ چې له شاتو هم خوږه ده
د اختر په ورځ سهار ÷ بایزید چې وه روی دار
(حکایت له بوستانه۔ زرغونه)

پته خزانه کښې یوه وږده مثنوی د محمود نامې په نامه راغلې ده۔ د "محمد هوتک" د وینا مطابق دا مثنوی "ریدی خان مهمند" لیکلې ده۔ د دې مثنوی په وزن بله مثنوی پښتو کښې زما له نظره نه ده تېره شوې البته پخپله په پته خزانه کښې په دې وزن شعرونه شته وروسته د یولس سپلا بیزی مصرعې لرونکی د محمود نامې یوخو شعرونه وګورئ۔

اوس به نو تاته حکایت کړم د بسو
خوږ روایت د کرګین خان د وژلو
کافر کولے سلطنت سی مدام
که وکړی داد نه وی جابر په انام
چې میرخان هسې عرض که حال د ظلم
هغه شپه مات سو توره ډال د ظلم

اوس په دې وزن له پتې خزانې یوخو شعرونه نورپیش

کوم چې یولس سپلا بیزې مصرعې لری۔

وروسته نمونه پخپله د محمد هوتک یو شعر دے۔

د حاجی میر غښتلے زوې ګرندے
خالقه تل دې وی ځلان دا غځے

اوآخر کښې د ملا محمد حافظ بارکزی له "بدله وعظیه" سر یو بند د نمونې په طور پیش کوم۔

کم بخته مه کړه په دُنیا دوښکونه
که دې زړه غواړی د جنت ځلونه

کم بخته مونږ یو مېلمانه په دنیا
وطن مو بل دے اخر ځو به ربنتیا
هم به شه بد سی رامعلوم په عقبا
تولـه سره اورکئ په امان ځانونه

د دې قسم یو والے هم د پتې خزانې د شاعرانو ترمینځه شته چې دیو په یو وزن او په ځنو صورتونو کښې په یوه وزن او قافیه نظمونه لیکلی دی د مثال په طور د "بنکارندوی" قصیده چې وروسته دوه شعرونه ئې دا دی:-

د پسرلی بنکلونکی بیا کړه سنګارونه
بیا ئې ولونل په غرونو کښې لالونه
زمکه شنه لاښونه شنه لمنې شنې شوې
طلیسان زمردی واغسته غـرونه

ښکارندوی دَ پټې خزانې اتم شاعر دے۔ دَ دې کتاب دَ نهم شاعر ابو محمد هاشم ابن زید السروانی دَ کلام نمونه چې محمد هوتک په پټه خزانه کښې راوړې ده دَ هغې دوه شعرونه لاندې لیکم

ژبه هم ښه وېنا کاندې چې ئې وینه
دَ خاوند په لاس کښې زر او درهمونه
ژبور ورله ورځی وېنا ئې اردوی
دَ درهم خاوندان تل وی په ویاړونه

دَ دې دواړو شاعرانو دَ لیکلیو شعرونو صرف وزن یونه دے بلکې قافیې ئې هم یو دی۔ او ځکه دا دعویٰ هېڅ بنیاد نه لری چې دَ پټې خزانې کلام دومره متنوع دے چې داسې شعرونه لیکل دَ یو سړی له وسه بهر دی۔

ج۔ دَ "پټې خزانې" غُندې تذکرې دَ لیکلو دَ پاره دا ضروری ده چې لیکونکے ئې دَ شاعرۍ په فن (کم از کم) ښه پوهېدے۔ دَ "محمد هوتک" په باره کښې دَ ښاغلی حبیبی مرحوم (شاید اخری) رائ دا ده چې "محمد دَ پښتو ژبې یو تکړه لیکوال او دَ قندهار دَ هوتکو دَ دربار یو ځلاند ستورے وه"(۱۱)

دَ ګران زلمی هوادمل په خیال دے (محمد هوتک) دَ پښتو شاعر ښه نثرګار، ادبی منقد، قدیم طِب په اصولو او اسالیبو پوه ورسره په فصاحت او بلاغت کښې مطالعې او څېړنې تښتن سړے، بصیر او مدقق مورخ، تذکره نګار او واقعه نګار هم دے(۱۲)

په دې ټولو صفتونو موصوف "محمد هوتک" چې دا صفتونه په پټه خزانه کښې څنګه ثابت کړی دی دَ هغې نمونې وګورئ:

۱۔ دَ شاه حسین په باره کښې دوه مدحیه شعرونو ته ئې بېت وئیلے دے (۱۳)

۲۔ دَ دې غلطۍ ارتکاب ئې بار بار په لاندې لیکلیو ځایونو کښې کړے دے۔

ا۔ دَ څلوریځې په ځائې څلوریځ۔ (دَ خرښبون ذکر)

ب۔ دَ بېتونو په ځائې شعر۔ (دَ ملا باز ذکر)

ج۔ دَ بېتونو په ځائې بېت۔ (دَ ملا زعفران دَ شعر نمونه)

د۔ دَ بېتونو په ځائې بېت۔ (دَ ملا عادل بړېڅ ذکر)

۳۔ دَ شاه حُسین په باره کښې دَ دوه مدحیه شعرونو (چې بره ئې ذکر وشه) ځنې وړومبے شعر دَ لسو سېلابونو او دویم شعر دَ یولسو سېلابونو دے۔

۴۔ دَ شیخ اسد سوری قصیده له دې شعره شروع کیږی ؎

دَ فلک دَ چارو څه وکړم کوکار
زمولوی هر ګل چې خاندی په بهار

دَ دې ټولې قصیدې قافیه، کوکار، بهار، زار وغېره ده۔ خو دې قصیده کښې یو شعر دا هم دے:-

هغه غور په ویر ناتار دَ واګمن کښېوست
هغه غورسو دَ جاندم غُندې سوراړ

اوس خدائې خبر چې "سوراړ" دَ "خلاصة الفصاحته" دَ کومې قاعدې لاندې دَ دې قصیدې قافیه کښې راځائې کړے شوے دے۔

۵۔ دَ "عارفه، کامله بی بی نیک بخته" په ذکر کښې چې "محمد هوتک" دَ هغې کومه "مثنوی رانقل کړې ده۔ هغه دا ده۔

په زړه بنادشے اے مومنه په ظاهر په باطن سپینه
ظاهر زهد په اخلاص کړه په زړه تینګ شه له یقینه
شکر صبر په هر حال کړه خود نمائی مه شه خود بینه
شب و روز به په ژړا ئې که خبر شي له سجّینه
سجّین ځائې د خود نمایه د .ې نمازد او .ې دینه
له هغه ځائې امان راکې یا اله العلمینه (۱۴)

د دې شعرونو عنوان "محمد هوتک" مثنوی په نصیحت کښې، ورکړے دے۔ که دا مثنوی وی نو د خلاصة الفصاحت د لیکونکی د مهارت او علم اندازه کول گران کار نه دے۔ خو له دې نه هم عجیبه خبره دا ده چې دا غلطی د پټې خزانې د "مصحح اومدون" له نظره څنګه پټه پاتې شوه او دا څه وجه ده چې کله داسې غلطی شوې ده نو "محمد هوتک" اوجیبی مرحوم دواړو په شریکه کړې ده۔

۶۔ بناغلے حبیبی (مرحوم) د بدلې تعریف داسې کوی۔

"بدله نوع مخصوص است از اشعار پښتو که بالحان مخصوصے خوانده وسروده می شود۔ و بدله در ابتدا یک معیار عروضی مخصوصے داشت که آنرا کسر گویند و تمام بدله باید بر همان معیار برابر باشد و بعد از هر بند تکرار می گردد۔ اوزان بدله بسیار است" (۱۵)

ترجمه:۔ بدله د پښتو د اشعارو مخصوص قسم دے چې په خاصو سُرونو وُیلے شی۔ او بدلې په ابتدا کښې یو مخصوص عروضی معیار لرلو چې ورته کسروائی۔ او تولې بدلې پکار ده چې په دغه معیار برابروی۔ او دا د هر بند نه پس تکرار یږی د بدلی د هر

وزنونه دی"۔

د بدلې دا تعریف هم په مکمل دول صحیح نه دے۔ خو که دا صحیح وګڼلے شی نو د هوتک بابا د کلام نمونه چې د پټې خزانې دوهم چاپ په ص ص ۱۰۔۱۲ نقل شوې ده۔ د دې تعریف مطابق بدله ده حبیبی مرحوم ورته بدله وئیلی دی او دا ئې زیاته کړې ده۔

"این ترانه رجز و حماسی بروزن خالص ملی است که باصطلاح قندهار انرا بدله وبند اول آنرا کسر گویند" (۱۶) (ترجمه) دا رجزیه او حماسی ترانه خالص په ملی وزن ده چې د قندهار په اصطلاح کښې ورته بدله او وړومبی بند ته ئې کسروائی" خودا بدله د "خلاصة الفصاحت" د لیکونکی "محمد هوتک" په خیال "سندره" ده چې عنوان ئې ورلره "بېتونه" خوښ کړے دے (۱۷) اوس د دې لُستونکی پخپله انصاف وکړی چې د بدلې په سلسله کښې د "محمد هوتک" معلومات زیات قابل اعتبار دی اوکه د پټې خزانې د مصحح او مدون؟

۷:۔ د پټې خزانې د وړومبی خزانې د وړومبی شاعر "باباهوتک" "سندره" "بېتونه" یا بدله هر څه چې دی په دوه وزنه کښې لیکلې شوې ده۔

پرسور غر بل راته نن اوردے وګړیه جور راته پېغور دے
پرکلی کور باندې مغل راغے هم په غزنی هم په کابل راغے

کښې وړومبنی دوه مصرعې د نهو نهو سیلابونو او وروستی دوه مصرعې د لسولسو سیلابونو دی۔ د دې بدلې د هر بند دری

درې مصرعې دَ نهو سېلابو او څلورمه مصرع ئې دَ لسو سېلابو ده.

ب:- دَ "امیر کروړ" په نامه چې کومه "ویاړنه" پټه خزانه کښې شامله ده دَ هغې وزن هر بند سره بدلیږی.

مثلاً دا وړومبے بند ملاحظه کړئ.

زه یم زمرے پردې نړۍ له ما اتل نسته
په هند و سند و پر تخار او پر کابل نسته
بل په زابل نسته ÷ له ما اتل نسته

دَ دې بند وړومبۍ دوه مصرعې دَ څوارلسو څوارلسو او وروستۍ دوه مصرعې دَ اوو اوو سېلابونو دی. اوس دویم بند وګورئ:-

غشی دَ من مې ځی بر ېښنا په میرڅمنو باندې
په ژوبله یونم یرغالم پر تښتېدونو باندې
په ماتېدونو باندې ÷ له ما اتل نسته

دې بند کښې وړومبۍ دوه مصرعې دَ پنځلسو پنځلسو (۱۵،۱۵) درېمه مصرع دَ اوو (۷) او څلورمه مصرع دَ شپږو سېلابونو ده.

دَ درېم بند په څلورو مصرعو کښې څلور بېل بېل وزنونه استعمال شوی دی.

زما دَ بریو پرخول تاویږی هسک په نمنځ او په ویاړ
دَ اس له سوو مې زمکه رېږدی غرونه کاندم لتاړ
کړم ایوادونه اوجاړ ÷ له ما اتل نسته

دَ دې وړومبۍ مصرع دَ څوارلسو (۱۴) دویمه مصرع دَ پنځلسو (۱۵) دریمه مصرع دَ اوو (۷) او څلورمه مصرع دَ شپږو سېلابو ده. هم دغه "صفت" دَ څلورم بند په څلورو مصرعو کښې "مراعات" شوے دے.

زما دَ تورې ترشپول لاندې دی هرات او جروم.

غرج و بامیان و تخار بولی نوم زما په او دوم
زه پېژندو یم په روم ÷ له ما اتل نسته

دې بند کښې هم وړومبۍ مصرع دَ څوارلسو، دویمه دَ پینځلسو، دریمه دَ اوو او څلورمه دَ شپږو سېلابونو ده.

پینځم بند دا دے:-

پر مرو زما غشی لونی ډاری دښن راڅخه
دَ هریوال او دَ پرڅنډو ځم تښتی ېلن راڅخه
رپی زړن راڅخه ÷ له ما اتل نسته

دې بند کښې وړومبۍ مصرع دَ پنځلسو (که "زما" او "څخه" دَ دوو دوو سېلابونو وګڼلے شی. ګنی دَ دیارلسو) دویمه مصرع دَ پنځلسو (که څخه یو سېلابیز وی ګنی دَ شپاړسو) او درېمه مصرع دَ اوو (که "څخه" دوه سېلابیز وی ګنی دَ شپږو) سېلابو ده. هرکله چې درېمه مصرع په ټولو بندونو کښې اووه سېلابیزه ده نو دا نتیجه راوکښل به غلط نه وی چې دیو درې واړو مصرعو کښې "څخه" دوه سېلابیز دے ځکه نو وړومبۍ مصرع دَ پنځلسو، دویمه دَ شپاړسو او درېمه دَ اوو سېلابو ده.

شپږم بند دا دے:-

دَ زرنج سو به مې دَ تورې په مخ سور وکړه
په باداری مې لوړوالے دَ کول دَ سور وکړه
ستر مې تربور وکړه ÷ له ما اتل نسته

دې بند کښې وړومبۍ دوه مصرعې دَ څوارلسو څوارلسو سېلابونو او

دریمه او څلورمه مصرع دَ شپږو شپږو سېلابونو ده۔

اووم بند وګورئ

خپلو وګړو لره لور پېرزوینه کوم

دوئ په ډاډینه ښه بالم ښه ئې روزنه کوم

تل ئې ودنه کوم ؛ له ما اتل نسته

دَ دې بند وړومبۍ دوه مصرعې دَ پینځلسو پینځلسو سېلابونو۔ دریمه مصرع ئې دَ اوو سېلابونو او څلورمه ئې دَ شپږو سېلابونو ده۔

اخری بند دے

پر لویو غرو مې وینه درومی نه په ځنډو په تال

نړۍ زما ده نوم مې بولی په دریځ ستایوال

په ورځو شپو میاشتو کالو ؛ له ما اتل نسته

دَ دې بند وړومبۍ دوه مصرعې دَ پنځلسو پنځلسو سېلابونو دریمه ئې دَ اوو سېلابونو او څلورمه ئې دَ شپږو سېلابونو۔ له دې ټوله بحثه دا نتیجه راووته چې دَ "امیرکروړ" له نامې سره منسوبه دا "ویاړنه" هر بند کښې دَ وزن مختلف "انتظام" لری۔ او ټوله په یوه وزن نه ده۔

ج :- دَ شیخ اسعد سوری له کومې قصیدې نه چې بره په (۴) کښې دوه شعره رانقل شوی دی دَ هغې یو شعر دا دے۔

کله غڅې کاندې مراندې دَ زړګیو

کله تېر باسی وګړی هُښیار (۱۸)

دویمه مصرع کښې دَ یو سېلاب کے دے ځکه دَ مصرع وزن غلط دے۔

(د) هم په دې مخ (۴۲) یو بل شعر دے۔

کله غرځوی واکمن له پلازونو

کله کښېنوی په خاورو کښې نادار

قطع نظر له دې حقیقته چې دا شعر دَ رحمان بابا دَ یو شعر دَ مضمون نه ماخوذ دے (یا شاید چې رحمان بابا له دې شعره خپل دا شعر اخذ کړے دے)

څوک له خاورو ایرو پاڅوی تخت ورکړی

څوک له تخته دَ ایرو په ډیران ولی (۱۹)

دې شعر کښې وړومبۍ مصرع له وزنه خارجیږی۔ وړومبے ځکه چې دَ "غرځوی" درې سېلابیزه کلمه کښې زور (خج) په دریم سېلاب (وی) دے او په دې شکل دَ مصرع وزن هېچرے صحیح کېدے نه شی تر څو چې دا زور (خج) په وړومبی سېلاب رانه شی خو که دا وګڼلے شی چې دَ اسعد سوری زمانه کښې "غرځوی" کښې فشار په وړومبی سېلاب وه یا اوس کومه لهجه کښې داسې شته نو بیا دَ وزن دَ غلطۍ دویمه وجه دَ حبیبی مرحوم له حاشیې پېدا کیږی چې ئې لیکلی دی "پلاز :- این کلمه بسکون اول در بین قدما بمعنی تخت واریکه بود۔ اکنون از استعمال افتاده (۲۰) (ترجمه :- پلاز۔ دا کلمه دَ اول (یعنی دَ 'پ') په سکون زړو دَ تخت په معنیٰ پکاروله (مثال ئې نه ورکوی۔ ناقل) ولې اوس له استعماله پرېوتې ده) نو که دَ حبیبی مرحوم دا توجیه صحیح وګڼلے شی او "پلازونه" کښې "پ" ساکنه وُلستے شی نو دَ وړومبۍ مصرع وزن سروخوری۔ ځکه چې مصرع دَ دولسو په ځائې دَ یولسو سېلابو شی۔

(ه) دَ شیخ تیمن دَ "شعر" وړومبے بند داسې دے۔

کهیځ رڼا دَ نمر خوره سوه
زما پر کور دَ ویر ناره سوه
دَ بېلتون ورځ توره تیاره سوه
ژغ سو ناڅاپه چې بېلتون راغې

دَ دې بند وړومبۍ درې مصرعې دَ نهو نهو سېلابونو او څلورمه دَ لسو سېلابونو ده (دویمه مصرع کښې به "زما" دوه سېلابیزوایو ګنی وزن ماتیږی۔ دریمه مصرع کښې 'دَ' په "بېلتون" کښې تغیر نه دے راوستے حالانکې دَ "دَ" په داخلېدو دالفظ "بېلتانه پکاروه) دې ټول "شعر" کښې دَ هر بند وړومبۍ درې مصرعې نهه سېلابیزې او څلورمه لس سېلابیزه ده۔

(ا) دَ بستان بړېڅ دَ بدلې سر داسې دے۔

اوښکې مې څاڅی په ګریوان یو وار نظر کهه په ما
راسه ګزر که په ما

دَ دې سر وړومبۍ مصرع دَ پینځلسو او دویمه دَ اوو سېلابونو ده او له دې کبله په ټولو مصرعو کښې دَ سېلابونو دغه اهتمام لازمی وه خو دَ وړومبی بند دا څلور مصرعې وتلئ:۔

دَ مینې اور دې زما زړګے وریت په انګار کینا
ښې تارو نار کینا
خود به ویلېږم چې مې زړه پر تا مفتون کینا
ځان مې زبون کینا

دې څلورو مصرعو کښې وړومبۍ او دریمه مصرع دَ څوارلسو

څوارلسو او دویمه دَ شپږو شپږو سېلابونو ده حالانکې لکه څنګه چې وو ئیلے شو دا په ترتیب دَ پینځلسو او اوو سېلابونو پکار دی۔

ز:۔ دَ محمد صالح دَ غزل مطلع ده۔

چې په زړه ئې غشی څرخ شی دَ چشمانو
روغ به نه سی په دارو دَ طبیبانو (۲۱)

دې غزل کښې یو شعر دے

مګر الله چې حبیب دے هم طبیب دے
کارسازی کا دَ خوارانو رنځورانو

دَ دې شعر وړومبۍ مصرع هم له وزنه خارجه ده

ح:۔ دَ محمد ګل مسعود (چې "سرآمد شعرائے موجود" بللے شوے دے) دَ بدلې سر داسې دے:۔

چې مې جانان په نیمه شپه کښې رانه بیل شو
اور راباندې بل شو (۲۲)
چې رانه لاړې نو دې غم له مانه مل شو
اور راباندې بل شو

دَ دې سر وړومبۍ او دویمه مصرع دَ دیارلسو دیارلسو او دویمه او څلورمه مصرع دَ شپږو شپږو سېلابونو ده ځکه نو پکار ده چې په ټولو بندونو کښې هم دغه اهتمام شوے وے خو دَ دې ځائې دَ هر بند وړومبۍ مصرع دَ دیارلسو په ځائې دَ څوارلسو سېلابونو ده۔

ښکلی لیلیٰ له مانه لاړه زه نسکوریمه
رب دې بنائست درپورې اور کړی زه دې سکور کړمه
راشه دَ خدائې دَ پاره غور کړه محمد ګل ژاړی

دا درې واړه مصرعې دَ دیارلسو په ځائې دَ څوارلسو سېلابونو دی

(ط) "دَ صدر اکابر دوران" بهادرخان دَ بدلې دَ سرو ړومبۍ، دریمه او پینځمه مصرع دَ څوارلسو څوارلسو سېلابونو ده ځکه نو پکار داوو چې دَ بدلې دَ نورو بندونو طاقو مصرعو کښې هم هم دغه وزن استعمال شوے وے خومونږ وینو چې دَ دویم بند

راغله لېلی په شینکی خال نڅا په ګلو کوی
په سرو منګلو کوی
سحر چې ووځی سېل کا ژغ په بلبلو کوی
ګل په اوربلو کوی
ملالې سترګې ئې کاتھ په ویره ژلو کوی
زېب په کجلو کوی
دَ ژوبل زړه وینې په هرګړۍ هردم څاڅی
لکه شبنم څاڅی

دَ دې بند وړومبۍ، دریمه او پینځمه مصرع دَ پینځلسو پینځلسو سېلابونو او اوومه مصرع ئې دَ څوارلسو سېلابونو ده.

دَ بدلې دویم بند دے.

ښکلې نجلۍ! دَ باغ په لور مه ځه نڅا مه کوه
عاشق رسوا مه کوه
وریت سوے زړه مې دے مئین پورې خندا مه کوه
راشه جفا مه کوه
زه یم پتنګ ته ئې ډیوه ماجلبلا مه کوه
نور ظلم بیا مه کوه

یم ستا له عشقه لېونے پر ماتم څاڅی
غم او الم څاڅی

دې بند کښې هم وړومبۍ، دریمه او پینځمه مصرع دَ پینځلسو پینځلسو سېلابونو او اوومه مصرع دَ څوارلسو سېلابونو ده.

ی۱. پټه خزانه کښې دَ یو دېرشم شاعر "ملا پیر محمد میاجی" یو حکایت دَ هغه دَ کلام دَ نمونې په طور راوړے شوے دے چې په اوولسو شعرونو مشتمل دے. دیو اوولسو شعرونو کښې یولس شعرونه په اتھ سېلابیز او شپږ شعرونه اووه سېلابیز دی.

دَ اتو سېلابونو دَ شعرونو نمونې دا دی.

شیخ متی چې خلیلی وه — دے له اره لوئې ولی وه
یوه ورځ روان په لار وه — لوئې څښتن په استغفار وه
پردې لار وې تېرې ګټې — لارې زمکې وې په پټې

اوس دې حکایت کښې اووه سېلابیز شعرونه ملاحظه کړئ.

کړ ده ذکر دَ غفار — یو شېبه نه وه وزګار
ډېرې شپې راغے رویدار — چې ئې صافه کړله لاره
ده به لید په توره شپه — شیخ متی په زیاراخته
په شپوشپو یئ ته بېخواب — په زحمت په اضطراب
داسې ووې شیخ متی — دَ مولا په عشق پټی
چې خدمت دَ خلق الله — یو ګړۍ په یوه سا

یا- هم دا "صفت" بابوجان په خپله "مثنوی عشق" کښې هم استعمال کړے دے، چې دَ نهو شعرونو "مثنوی" کښې ئې اووه شعرونه په اتھ سېلابیز او دوه شعرونه اووه سېلابیز راوړی دی - دَ اتو

سېلابیزو شعرونو نمونه دا ده.

عشق یو هسے توریالے دے چې په هر ځائې ئې برے دے
دَ عشق اور هسې سوزان دے چې سوځلے ئې جهان دے

اووه سېلابیز شعرونه دا دی.

نه دے عشق په یوه رنګ کله صلح ګهې جنګ
پښتانه کاندی متل چې دے خوږ ترشات عسل

یب :- دَ ایاز نیازی یوه رباعی ده.

محبت دَ اب وخاک دے بې بنیاد
راسه څه کړې دَ دنیا خونه اباد
که دې زړه سپین وی دَ خدائې له محبته
په صحرا به ئې بې کوره اوره ښاد

دَ دې رباعۍ وړومبۍ، دویمه او څلورمه مصرع دَ یولسو یولسو سېلابونو ده او درېمه مصرع ئې دَ دولسو سېلابونو ده.

دَ هم دې شاعر یوه بله رباعی ملاحظه کړئ.

زړونه خوښ کړه دا نیکی ده دَ رښتیا
مه کړه چا باندې تېرنه په جفا
دَ خدائې کور مه ورانوه په ستمو
دَ خدائې کور وګڼه زړه چې وی صفا

دَ دې رباعۍ درېمه مصرع ترهغه وخته "بې وزنه" ده ترڅو چې دا ونه ګڼلے شی چې "ستمونو" دَ "عباس کاسی" دَ "استعجال تمام" په نتیجه کښې "ستمو" شوے دے. او دغه صورت کښې به هم درېمه مصرع دَ دولسو او نورې مصرعې دَ یولسو سېلابونو وی.

(یج) : دَ سیدال خان ناصر بدله کښې دَ وزن غلطۍ ځائې په ځائې محسوسیږی مثلاً دَ بدلې سر چې حبیبی مرحوم ئې "کسر بولی داسې دے:

یار ماله هسې ګران شو را تېر تر ټول جهان سو
نور نه وینم په سترګو جهان ټول راته جانان سو

دَ دې سر څلورمه مصرع کښې دَ "ټول" تورے ټوله مصرع بې وزنه کوی ځکه چې نورې درې مصرعې دَ اوو اوو سېلابونو دی او څلورمه مصرع کښې یو سېلاب زیات دے. دغه غلطی دَ سر سره قافیه لرونکې هره مصرع کښې شوې ده مثلاً

راته اور تازه بوستان سو
دَ دلبر دَ تیر نښان سو
ګوره زړه ډک په ارمان سو
چې تا خون مې ستا په ځان سو
لېونتوب مې اوس عیان سو
زه سېدال دا مې بیان سو

دا ټولې مصرعې اته سېلابیزې دی. خو له دیو مصرعو نه مخکښې دَ هر بند پینځمه مصرع دَ اوو سېلابو ده مثلاً

په اور دې وسوم یاره
پرهار مې ګوره خلقه
وصال ئې نصیب نه سو
نظر پر ما غریب کړه
ښکاره سوه چې مجنون یم نتلے دَ بېلتون یم

(وروستۍ مصرع کښې دَ "خلاصة الفصاحت" لیکونکی نه دا

هېرووچې دَ "دَ" په داخلېدو دَ بېلتون مغيره حالت (بېلتانه راوستل پکار دی)

دَ سېدال خان ناصر دَ دې بدلې دَ وړومبی بند درېمه اوڅلورمه مصرع دَ دیارلسو سېلابو ده۔

سرې اشرپۍ دې په تندی باندې سپرې کړې
کرځی په باغ کښې په ګلونو کښې نخرې کړې

دَ دویم بند درېمه اوڅلورمه مصرع دَ پینځلسو پینځلسو سېلابونو ده:۔

شهۍ ده ستمګاره خوشحال زړونه به زخمی کا
لیندۍ لری دَ وروځیو دَ باڼو غشی کاری کا

دَ درېم بند درېمه مصرع دَ څوارلسو څوارلسو اوڅلورمه مصرع دَ پینځلسو سېلابونو ده۔

ووځی له وطنه، وطن پرېږدی پرچولو ځی
فریاد و نارې وکا په نارو (۲۳) په غلبلو ځی

دَ څلورم بند درېمه مصرع اوڅلورمه مصرع دَ پینځلسو پینځلسو سېلابو ده:۔

ناتوانه دَ بېلتون یم یو ګړۍ نه لرم دمه
بې تا مې نفس خیژی راځه زما دَ زړه همدمه

درېمه مصرع کښې دَ "دَ" دَ داخلېدو په نتیجه کښې دَ "بېلتون" په ځائې دَ دې تورې مغیره حالت (بېلتانه) راوړل پکار وو خوشاید چې دَ هغه زمانې دَ فصاحت تقاضې بدلې وے۔ دې مصرع کښې دَ "دمه" تلفّظ هم داسې دے چې دَ وروستی سېلاب په ځائې زور په وړومبی سېلاب دے۔ دا تلفظ تراوسه پښتو شاعرۍ کښې لا زما مطالعه کښې نه دے راغلے۔

دَ پینځم او شپږم بند درېمې او څلورمې مصرعې دَ پینځلسو پینځلسو سېلابونو دی۔

خوناب ځی ستا له غمه زما په مخکښې لارې لارې
تمامه شپه کم تېره په ژړا په نارې نارې

دَ زړه پرهار ګلګون دے چې بلبل په تماشا دے
په مینه ئې زړه وچاودے ته وائی په خندا دے

دَ پینځم بند څلورمه مصرع کښې دَ "تمامه شپه کم تېره" کښې دَ "کم" لفظ او دَ "په ژړا په نارې نارې" کښې دَ "نارې نارې" ټکی دَ توجه قابل دی۔ ځکه چې "کم" غیر فصیح او "نارې نارې" دَ محاورې خلاف دے۔ دَ "کم" په ځائې "کړم" او دَ "په" نارې نارې" په ځائې "په نارو نارو" پکار وه۔

دَ ټولو بندونو وړومبۍ او دویمې مصرعې دَ اوو اوو سېلابونو دی۔ او دَ دې انتهائی بې بحره بدلې په باره کښې دَ پټې خزانې مدون او مصحح وائی:۔

"ایں بدله که از طرف یک نفر سپه سالار معروف و دلاور سروده شده از حیث بحر و عروض از نوادر آثار ادبی زبان ملی است۔ و بحر مخصوصے دارد که در بین اشعار پښتو که اکنون در دست است کمتر دیده شده و حفظ این ودیعهٔ ادبی از غنائم ایں کتابست (۲۴)

ترجمه:۔ دا بدله چې دَ یو معروف او دلاور سپه سالار له خوا وئیلې شوې ده۔ دَ بحر او عروض له حېثه دَ ملی ژبې له نادرو اثارو ځنې ده او یو مخصوص بحر لری چې اوس دَ پښتو کوم اشعار مونږ لرو هغو

کښې کمترپه نظر راځي. او دَ دې ادبي ودیعې محفوظول دَ دې کار
(پښتو خزانې) له غنا نه څخه دے؟

که دَ غلطیو تکرار ته نادرا ثار وو ایو نو بیا دَ حبیبي صاحب وینا
صحې ده. څو لکه څنګه چې مسلسل دروغ صداقت نه شي پیدا
کولے. دغسې مسلسله بې بحري نادر بحر نه شي کېدلے. او له
بده مرغه دَ سپدال خان ناصر دا بدله دَ بې بحرۍ او بې وزنۍ دَ
صنعت یو شهکار دے.

(ید) :- دَ "شاه محمود جنت اشیان" مرثیه کښې "بي بي زینب"
هم دوه وزنه استعمال کړي دي. دَ مرثیې دَ سربند او ور پسې
...... درې بنده دَ لسو لسو سپلابو دي.

پېغ سو چې درور تېر له دنیا سونا
قندهار واره په ژړا سونا
زړه مې په ویر کښې مبتلا سونا
چې شاه محمود له ما جلا سونا

دَ سر او ور و مبیو درېو بندونو نه پس اوه بندونه یولس سپلابیز
دي یوه نمونه یې وګورئ.

دروره مقر دې ستا مولا کړي جنت
دردې کړې تاته پس له مرګه جنت
روح دې وه ښاد په لویه ورځ دَ قیامت
ځ دې وه روڼ دَ خدائې په مهر ورحمت

(یه) :- "دَ زرغونه" دَ بوستان په ترجمه کښې هم دوه بحره
استعمال شوي دي دَ دولسو شعرونو دې حکایت کښې اته شعرونه

دَ اتو سپلابونو او څلور شعرونه دَ اووو سپلابونو دي. ور وجې دَ اتو
سپلابونو شعرونه ملاحظه کړئ.

اوربدلي مې قصه ده ... چې له شاتو هم خوږه ده
له حمامه راووتلے ... په کوڅه کښې تېرېدلے
ایرې خاورې چا له بامه ... راچپه کړلې ناپامه
بایزید په شکر کښېوسو ... دَ خپل مخ په پاکېدو شو
له ایرو به څه بد ورمه ... یا به لږ شکر کومه
هر پوهانو خان ایرې کړ ... له لوئ یې خان برې کړ
لوئ تل په ګفتار نه ده ... لویه خبره پکار نه ده
تواضع به دې سر لوړ کا ... متکبر به دې تل خوړ کا

اوس هم دَ دې حکایت هغه شعرونه وګورئ چې اووه سپلابیزې مصرعې لري.

دَ اختر په ورځ سهار ... بایزید چې وه روڼدار
مخ او سر یې سو ککړ ... په ایرو په خاورو خړ
چې نه وریسم دَ بل اور ... چې په اور کښې سم نسکور
څوک چې خان ته ګوري تل ... خدائې ته نه سی کړے کتل

دا هم هغه دَ "مجمع البحرین صفت" دے چې ملا پیر محمد میاجي
او بابو جان بابي په خپل کلام کښې (وګورئ - ی او یا) استعمال کړے دے.

۸- پښتو خزانه کښې داسې غلطیو هم تر نظره راځي چې له دېر
مبتدي شاعرانه یې هم توقع نه شي کېدے. دَ مثال په طور دَ
"سندره دَ ملکیار بابا" کښې دیو غلطیو ته خیال وکړئ.

ؤ. دَ سندرې هر بند دَ پینځو مصرعو دے. وړومبۍ بند کښې درېمه او پینځمه مصرع "هم قافیه" ښئېلی شوی دی. نورو بندونو کښې دوېمه او پینځمه مصرع سره هم قافیه دی. وړومبے بند داسې دے

ترنګ بهیږی ترنګ بهیږی غاړې تر غاړې
زما زړګے خو — خپل لالے غواړی

دې بند کښې لکه چې عرض وشه درېمه او پینځمه مصرع هم قافیه ګڼلی شوی دی (حالانکې "غاړې تر غاړې" کښې دَ "ی" اواز دَ "غواړی" دَ معروفې "ی" نه بل شان دے او ځکه دا قافیه غلطه ده) نو پکار دا ده چې نورو بندونو کښې دَ وړومبی بند دَ قافیو اهتمام حاوی ساتلے شوے وے خو مونږ ګورو چې دوېم بند :-

که روده روده دَ ترنګ روده خاوند دې وچ کا
چې زړګے مومی زما خپله سوده

کښې دَ قافیې اهتمام دَ دویمې او پینځمې مصرعې تر منځه شوے دے

ب:- دَ دې سندرې درېم بند دے.

که نیزدے نیزدے نیزدَ بیلتون دے زړه نیزه وړے
په ویر ژړلے په غم زبون دے (۲۵)

دَ پښتو دَ ګرامر یو عامه قاعده دا ده چې کومو اسمونو کښې معروف یا مجهول واو راځی په هغو دَ عاملو حروفو دَ دخل په نتیجه کښې دَ اسمونو شکل تغیر مومی مثلاً "پښتون" باندې که 'دَ'، 'له'، "په" وغېره راشی نو "پښتانه" شی. دَ خوشحال بابا شعر دے.

اتفاق په پښتانه کښې پېدا نه شه
ګنی ما به دَ مغل ګرېوان پاره که

دغسې "تنور" به 'تنارهٔ' "لور" به "لارهٔ" او "پسور" به "پسارهٔ" کیږی. متقدمینو دَ دې ګرامری اصولو ډېره په سختۍ پابندی کړې ده خو لکه چې مخکښې هم مثالونه ورکړے شوے دی پټه خزانه کښې چې "بېلتون" باندې "دَ" داخل شوے دے نو هېڅ تغیرې پکښې نه دے راوستے. لکه چې دَ دې بند دَ دویمې مصرعې نه ښکاری. حالانکې دا مصرع "نیز دَ بېلتانه دے" پکار وه.

ج:- دَ قافیې دَ غلطۍ یو بل مثال وګورئ :

دَ محمد حافظ دَ "بدله وعظیه وروستے بند دے :-

کم بخته مه ځه دَ حرام پر لوری
خدائې به وتاته په غضب وګوری
که دې زړه غواړی ښائسته ښې حورې
بې ځایه مه ږده بې پروا پلونه (۲۶)

دې بند کښې "حورې" دَ "ګوری" او "لوری" په قافیه کښې استعمالول صریحاً غلطی ده.

د:- "پټه خزانه" دَ اسعد سوری په قصیده کښې دا شعر راوړی.

نه ښکاریږی هغه سور دَ سور په لتو
نه ځلیږی هغه نمر پر دې دیار (۲۷)

دَ وړومبۍ مصرعې وروستے تورے "لتو" دوه سېلابیز دے چې دلته فشار په وړومبی سېلاب لری. په دې صورت کښې دا "تورے" دَ "لته" جمع ده چې دَ پښې ګوزار ته وائی. خو په شعر کښې دا لفظ دَ "نواحی" په معنو راغلے دے او په دې شکل کښې ئې فشار په دوېم سېلاب دے. نو که مونږ دَ دې کلمې په دوېم سېلاب زور واچوو

نو دَ مصرعې وزن سروخوري. دَ "شیخ اسعد سوري" غندې "ښه اشعار" ویونکی نه دَ داسې غلطۍ ارتکاب امکان ډېر غېر متوقع دے داسې غلطۍ که په زړو متونو کښې وشي نو مدون لره پرې نوټ لیکل ضروري وي خو هرکله په دیو کښې یوه غلطي هم دَ پټې خزانې مدون ته غلطي نه ده ښکاره شوې نو دا نتیجه ترې حاصلیږي. چې دَ پټې خزانې دَ "مولف" او دَ دې کتاب دَ مدون رائ دَ زمانو دَ فرق باوجود په غلطیو کښې هم یوه ده. او دا "تصادف" هغه وخت کیږي چې مولف او مدون "یک جان و یک قالب" وي.

۹. دَ غلطۍ پښتو بې شمېره مثالونه پټه خزانه کښې موجود دي. دَ ژبې دا غلطۍ مولف هم کړي دي او هغو "شاعرانو" هم چې "پټه خزانه" ئې ذکر کوي. دیو غلطیو کښې دَ ګرامر غلطۍ هم شته او دَ محاورې هم. دَ املا غلطۍ هم شته او دَ انشاء هم. لغوي غلطۍ هم شته او ترکیبي هم. دَ داسې غلطیو دَ نمونو یو فهرست او دَ هغو صحیح شکل لاندې راوړم :-

مخ	دَ پټې خزانې عبارت	صحیح عبارت
۲	حمد وثناده هغه خدائ ته (۲۸)	حمد وثناده هغه خدائ لره
۲	چې انسان ئې په ژبه او بیان لوړکا (۲۹)	چې انسان ئے په ژبه او بیان لوړکړ.
۲	دَ رحمت وربه وه نسکور	دَ رحمت وربه وه بند
۲	نشکور	نسکور (۳۰)
۴	نسکور	په ص-۲ ئې معنیٰ "بسته" او په ص-۴ ئې "نهاد" راغلې ده.

۴-	دَ انسان زړه انشراح په مومي	دَ انسان..... پرې مومي
۴-	کاږم	کښم
۴-	هیله (۳۱)	هیله
۴-	سوران (معنیٰ طوفان باد)	سوران (معنیٰ شور فریاد)
۱۰-	ټول ئې پینا کړل	ټول ئې پوپنا (فوفنا) کړل
۱۰-	سندره لولوله	سندره لوسته
۱۶-	غشي تېره کا (تیرها را تیز میکند)	غشي تېروي یا دَ غشیو تېرول کا
۲۶-	یورڼا ده	یوه رڼا ده
۴۲-	ځار ځار	زار زار
۴۲-	په ځار ځار زګېروي کول	په زار زار ژړا کول
۵۲-	لمرونه	لمر
۵۴-	دَ میرڅمنو (از دشمنان)	له میرڅمنو
۱۱۲-	کاتب دَ دې کتاب	مولف دَ دې کتاب
۱۱۲-	——— " ———	——— " ———
۱۱۲-	استاد العلماء	استاذ العلماء
۱۲۶-	علما مېلمه کا	علماء مېلمانه کا
۱۲۸-	ماتم څاڅي	ماتم کیږي. ماتم جوړوي
۱۲۸-	اوربلو (۳۲)	اوربل
۱۲۸-	ګل کول	ګل ایښول
۱۲۸-	هرګړۍ	هره ګړۍ
۱۳۴ (۳۳)	یوګړۍ	یوه ګړۍ

دَ دومره ډېرو غلطیو په موجودګۍ کښې هم چې "محمد هوتک"

باندې دَ "ښه نثر نګار" "ادبي منقد اتو" په فصاحت او بلاغت کښې دَ مطالعې او څېړنې تښتن "خطابات بارولے شي (۳۴) نو سړے به پکښې څه ووائي ؟

۱۰- دَ پټې خزانې متن کښې دَ طرز او اسلوب دَ قدامت دَ تقاضو پوره کولو دَ پاره شاید چې ځنې غلطۍ دیده دانسته شوی دی دَ مثال په طور لاندې زه یو څو نمونې پېش کوم چې پکښې بې خونده او بې ځایه تکرار شوے دے۔

۱- چې انسان ئې په ژبه او بیان لوړکا۔ (ص-۲- ژبه او بیان

۲- تمیز ئې ورکا په نطق او وېنا سره (ص-۲)۔ نطق او وېنا

۳- نسته بل خاوند او بل بادار دَ وګړیو (ص-۲) خاوند او بادار

۴- مونږ تې راوښوله (ص-۲) سمه لار او روده] لار او روده

دَ یو قسم دا غلطۍ صرف له یوه مخه راغُنډے کړے شوی دی. دا سې غلطۍ په هر مخ خورې پرتې دی او دَ "مولف" دَ "قادرالکلامۍ" ګواهي ورکوي۔ ځکه نو ګران لُستونکی دې دا ونه ګڼي چې ګڼي بس هم دومره غلطۍ دی چې مونږ ذکر کړې بلکې دا لکه چې مخکښې عرض وکړے شو صرف هغه نمونې دی چې ترې نه دَ "بهار قیاس" کیدے شي۔

زه یو ځل بیا دلته په ډېر ادب سره عرض کوم چې "پټه خزانه" څو څو واره چاپ شوې ده نو کهه دَ مرحوم مدون او مصحح دیو ټولو غلطیو سره "اتفاق" نه وے نو هغوی ډېر په اسانه په حاشیو او تعلیقاتو کښې له دیو غلطیو ځنې خپله وېزاری څرګندولے شوه

او چې هر کله مرحوم حبیبي له دې موقعې فائده وانه خسته نو اوس دَ پټې خزانې هېڅ یو دفاع کونکے دا نه شي وئیلے چې دا غلطۍ دَ کتابت یا طباعت غلطۍ دی یا دَ حبیبي مرحوم ورته توجه مبذوله شوې نه وه ځکه چې کهه دا دَ دغه نوعیت غلطۍ وے نو کهه په اول ځل نه وے نو په دویم دریم ځل خو به ورته خامخا دَ حبیبي مرحوم پام شوے وه۔

بیا خاص طور سره چې دریم ایډیشن دَ اصل نسخې عکس دے او ما ډېر په فکر دَ پټې خزانې دوهم چاپ له دې حکمتي نسخې سره مقابله کړے دے نو ځکه دَ طباعتي غلطیو دَ عذر پېش کولو دَ پاره هېڅ بنیاد نشته او دَ دې حقیقت دَ پاره دَ بل کوم ثبوت او دلیل ضرورت نشته۔ چې دَ پټې خزانې غلطۍ په یو ځائې دَ "محمد هوتک" او دَ حبیبي مرحوم غلطۍ دی او لُستونکی ازاد دی چې دَ دې حقیقت په بنیاد خپله رائې قائمه او فیصله صادره کړي۔

حوالې او حواشی

۱- پټه خزانه دوهم چاپ ص ۱۲ - ص ۱۴-
۲- ایضاً- ص-۶
۳- پښتانه شعرا لومړے ټوک پې پهه ص-۵۳- د ژوند زمانه پس لهه ۵۰۰ هـ ښئ.
۴- چرته چې د کوم بل کتاب حواله نهه ده ورکړے شوې هلته د پټې خزانې متن ته رجوع وکړئ.
۵- پښتانه شعرا- لومړے ټوک- ص- ۷۰
۶- د "مڑکانو" په ځائې چشمانو ناقابل معافی ضعفِ شاعرانه.
۷- د رحمان بابا کلیات ص ص- ۱۶۵- ۱۶۶-
۸- ایضاً ص ص- ۱۶۶- ۱۶۷-
۹- د عبدالقادر ختک دیوان- قندهار چاپ-
۱۰- د نجیب دیوان ص ص-۱۸۲- ۱۸۳، ۱۸۷، ۱۸۸
۱۱- د محمد هوتک ژوند او مزار- د حبیبي مرحوم ابتدائی تعارف-

۱۲- ایضاً- د زلمی هوادمل د لیک وروسے مخ-
۱۳- پټه خزانه دوهم چاپ- ص-۶۰-
۱۴- ایضاً- ص-۱۸۴- دې نسخه کښې وروستی مصرع "یاالهالعالمین" غلطه ده-
۱۵- ایضاً- ص-۶۶ (حاشیه ۱)-
۱۶- ایضاً- ص-۱۰۰- (۱۷) ایضاً (۱۸) ایضاً- ص ۴۲-
۱۹- د رحمان بابا کلیات ص-۳۱۱
۲۰- پټه خزانه- دوهم چاپ- ص ۴۳-
۲۱- ایضاً- ص-۱۰۲-
۲۲- پټه خزانه دوهم چاپ کښې په ص ۱۲۰ باندې دا مصرع غلطه ده د "رانه" الفاظ نه لرې- له عکسی چاپ صحیح کړے شوه-
۲۳- عکسی چاپ کښې د "نارو" په ځائې "ناورین" دے خو په دې سیلابونو کښې څه فرق نه راځی-
۲۴- پټه خزانه دوهم چاپ- ص ص- ۱۷۲- ۱۷۳ حاشیه (۱)
۲۵- ایضاً ص- ۱۵۸-
۲۶- ایضاً- ص-۱۶۰ (۲۷) ایضاً ص- ۴۶-
۲۸- هم په دې مخ دا جمله هم شته "ستائنه اوسپاس دے هغه خاوند لره" اوس نو سوال دا پیدا کیږی چې "خدائ ته" صحیح دے او که "خاوند لره" د پښتو د محاورې مطابق د دې سوال ځواب دا دے چې "لره" صحیح دے چې ترجمه ئې "دا" شوې ده-
۲۹- داسې غلطی په کتاب کښې بې شماره دی چې ماضی مطلق

کښې د "کا" استعمال شوے دے خو د دې صحیح شکل "کړ" هم ترک شوے نه دے مثلاً په ص ۴۰ دې عبارت کښې "خالق تعالیٰ د آدم په سر نسکور کړ" هم "کړ" راغلے دے.

۳۰۔ د دې توری هم دا تلفظ په پښتو فارسی قاموس کښې هم دے۔

۳۱۔ حبیبی مرحوم د "هیله" تلفظ داسې بیا نوی "بکسرهٔ اول و یائی معروف و لام زورکی دار" په داسې صورت کښې د توری تلفظ هغه نه پاتې کیږی چې اصل کښې دے۔

۳۲۔ اوربل په داسې صورت کښې جمع نه استعمالیږی۔

۳۳۔ د مخونو نمبر د پتې خزانې د دوهم چاپ مطابق دے۔

۳۴۔ د محمد هوتک ژوند او مزار ص - ۲۰۔

اینکرانیزم

اینکرانیزم هغه تاریخی غلطی ر ته وائی چې یو لیکونکے یوه واقعه له خپله وقوعه مخکښې یا وروستو وختونو ته منسوبه کړی یعنی فرض کړی چې یوه واقعه د حضرت مسیح علیه السلام نه مخکښې پېښه شوې وی او څوک هغه واقعه بالواسطه یا بلاواسطه داسې بنکاره کړی لکه چې د مسیح علیه السلام نه پس ته په عمل کښې راغلی وی۔ هم دغسې که د بعد از مسیح علیه السلام واقعه د قبل مسیحؑ تاریخ سره بالواسطه یا بلاواسطه منسوبه کړے شی نو دا به یوه داسې غلطی وی چې ورته اصطلاحًا اینکرانیزم وئیلے شی۔

هسې خو په تیرو پانو کښې هم ما په پته خزانه کښې د اینکرانیزم یونیم مثال ورکړے دے خو په دې موقع زه د تاریخ د دې غلطی ر یو داسې مثال ورکول غواړم چې د هغه په موجودګی ر کښې هیڅوک هم دا جرأت نه شی کولے چې پته خزانه یو ربنتنے او واقعی تاریخی اثر وبولی۔

د "بنکارندوی" دا دوه شعرونه وخیږی :-

په پسرلی چې ې تېرون په اټک وکا
غاړه غاړه ې سوللە زړونه

او

په هر کال اټک د ده بنه راغلے کاندې
غوړوی په څنډو خپل پاسته سالونه

بناغلی حبیبی مرحوم د دیو شعرونو ترجمه داسې کړې ده

وقتیکه در موسم بهار بر اتک گذشت
دلهاے مردم کران تا کران دریا پلے را تشکیل داد
اتک هر سال به دے خوش آمدید میگوید
در ریگ هاے نرم خود را بر کرانها می پراگند (۱)

دیو دواړو شعرونو کښې "اټک" د اباسین په معنو کښې استعمال شوے دے حالانکې د "بنکارندوی" (چې ورته د سلطان شهاب الدین غوری (۶۰۲ - ۵۶۹ ھ) معاصر وئیلے شوے دے) په وخت کښې د "اټک" د نوم د موجودګی هیڅ تاریخی ثبوت نشته۔

ابوالفضل په اکبرنامه کښې لیکی :-

"له (اهمو) واقعاتو څخه یوه واقعه د اټک بنارس د قلعه بنیاد ایښودل وو۔ د دنیا بناښته کونکی (یعنی اکبر) په زړه کښې داخیال وه چې هرکله فوځ دې سرحد ته راورسی یوه درنه قلعه دې (دلته) جوړه کړے شی۔ په دې موقع د هغه ځایې منظوری ورکړے شوه چې هُنیارانو خوښ کړے وه۔ د خرداد په پنځلسمه د دوه پهره دوه ګړی تېرېدو نه پس په مقدسو لاسونو د دې

د نامې سره سم بنیاد کښودے شه لکه څنګه چې د مشرقی صوبو اخر سرته د "کټک بنارس" په نامه یوه وړه قلعه ده (۲)
ایچ بیوریج (د اکبرنامې د انګریزی مترجم) په اټک داسې نوټ لیکلے دے۔

"بدایونی وائی چې دا نوم (اټک) اکبر خوښ کړے وه چې یوې بلې سرحدی قصبې "کټک" سره قافیه یوه شی۔ په حقیقت کښې هم دغه دلته د ابوالفضل مطلب هم دے۔ ظاهره ده چې "کټک" ته به ې هغو ورځو کښې "کټک بنارس" وئیلو" (۳)

د منتخب التواریخ د انګریزی ترجمې مطابق "د ربیع الثانی په میاشت کښې شهنشاه د نیلاب په غاړه چې عام طور سره د سند ساګر په نامه پېژندے شی، د یوې قلعه د جوړولو حکم وکړه چې "اټک بنارس" نوم ې پرې ځکه کښښوه چې د کټک بنارس نه ې فرق وکړے شی" (۴)

د طبقات اکبری مولف نظام الدین احمد بخشی د جلوس د اوو ښتم (۲۷) کال په حالاتو کښې لیکی۔

"د ربیع الثانی په میاشت کښې هغه (اکبر) د اباسین په غاړه چې "سند ساګر" نومیږی د یوې قلعه د جوړولو حکم ورکړو او د "اټک بنارس" نوم ې پرې کښښو (۵)

جهانګیر په خپل توزک کښې لیکی :

د پیر په ورځ په اوولسم تاریخ کوچ وکړے شو او شاهی جنډې د نیلاب د سیند په غاړه د اټک قلعه سره لګې شوې (۶)

اوس د اکبر د زمانې د دیو درې مستند و تاریخونو او د جهانګیر

د ذاق بیان د شهادتونو نه پس د اورنگ زیب د زمانې سرکاري تاریخ
چې د بهادر شاه اول په زمانه کښې لیکلے شوے وه حواله وخیرئ.

ساقي مستعدخان د عالمگیر د جلوس د لسم کال په حالاتو کښې لیکي
"د زیارت په ورځ په (۲۱ مئی) ۱۸ ذي القعده شمشیرخان
د نیلاب د سیند د عبورکولو نه پس اټک ته راغلے او د سیند په
پورې غاړه د یوسف زیو سیمې ته مخامخ د دښمن په علاقه ورننوت"

حاجي زین العابدین شیرواني په ریاض السیاحه (تالیف
۱۲۳۷ هـ) کښې د "اټک" په باره کښې لیکي:

یوه لویه قصبه او ستره سیمه ده چې د کاڼیو نه تراشلې
یوه پخه قلعه او مستحکم حصار لري او باني ئې اکبرشاه بن همایون
بن بابر گورگاني وه. او هر کله چې دا (ځائې) د کابلستان د ملک
په آخر او د هندوستان د ملک په سر کښې واقع وه او په
ترکۍ ژبه کښې د امورو آخر ته اټک وئیلے شي نکه چې لمنې ته
هم اټک وئیلے شي نو ځکه ئې د اټک په نامه وبللو" (۸)

نو د دېرو تولو حوالو په رڼا کښې چې دا ثابته شوه چې
په دې ځائې د اټک نوم جلال الدین اکبر (۱۰۱۴-۹۶۳ مطابق ۱۵۵۶
۱۶۰۵ع) په کال ۹۸۹ هـ (۱۵۸۱ء) (۹) کښې ایښے دے نو دا بیا
هیڅکله ممکنه نه وه چې د شهاب الدین غوري (۶۰۳-۵۶۹هـ)
مطابق (۱۲۰۷-۱۱۷۴ء) معاصر شاعر "ښکارندوی" دې د "سیند" په
حېثیت "اټک" وستائي.

اټک په پښتو کښې هېچرې د اباسیند د پاره نه دے استعمال
شوے او که چاترې دا معنی وکښلې ده نو "اټک" نه بلکې "د

اټک سیند" ئې یاد کړے دے. دا سیند نکه چې د منتخب التواریخ
په حواله وویلے شو، فارسي کښې د نیلاب او هندي کښې د سند
ساگر په نامه یاد شوے دے. د مثال په طور به زه د تاریخ مرصع
نه څو داسې مثالونه وړکړم چې هلته "اټک" د مقام د پاره او "اباسند"
د اباسند د پاره استعمال شوے دے.

په اباسیند کښې د خوشحال بابا د کشتۍ د ډوبېدو ذکر
په تفصیل کښې وائي "خان علیین مکان د دوو درېو سړیو سره
په یوه تخته پالتو شهـ. تخته د کانبه ته ... ونښته او کښته
پورته ښوروله. هرچې د اټک په لوري پرېوتل هغه خلاص
شول..... هرچې د خېراباد و لور ته پرېوتل هغه واړه غرق شول"
(تاریخ مرصع. ص. ۳۷۴)

دلته دا خبره یاد ساتل پکار دي چې دا کشتۍ په اباسین
(د ښکارندوي اټک) کښې روانه وه او افضل خان د اباسین یوخوا
ته اټک او بل خوا د خېراباد کلے یاد دوي.

یو بل ځائې د خوشحال بابا له بیاضه داسې نقل شوے دے:

"ما هم په ننگ د پښتانه زهوزاد له سرایه راویوست
نظام پور لره مې راوست. قصد مې د اټک د نیوو وکړ چې اټک به
ونیسم" (ص. ۲۹۹)

د کتېر وسره د جنگ په باره کښې لیکي:

"حکم مې کړے وه چې اټک خو بادشاهي ښهر دے لیکن
فتح جنگ..... په تېغ په اور ئې تاخت تاراج کړئ. (ص. ۴۱۰)

اوس د "اب سیند" مثالونه وخیرئ.

دَ بابر په باره کښې لیکي.

"کوچ ئې په طرف دَ "اب سیند" وکړ. په ګودر دَ نیلاب راغې پورې شه کوچ په کوچ بهېرې ته لاړ..... نور ئې بیا په لور دَ کابل کوچ وکړ. دَ نیلاب په لور راغے. ترګذره دَ نیلاب ئې واړول. کشتۍ ئې دَ نیلاب لاهوکړه راپورې شه. دَ اب سیند دَ غاړې نه چې ئې کوچ وکړ. ناګاه مزرے پیدا شه (ص-۲۴۴)

دَ روښانیانو دَ "غزائے کلان" په باره کښې لیکي.

"پس دَ یوه مدته دَ یوسفزیو سره مخالفت پیدا شه. یوسفزي پرې جمع شول. دَ اب سیند په غاړه شیخ عمر ئې دَ څو یارانو سره مړ کړ (ص-۲۴۰)

دَ کټړو دَ جنګ دَ هغه واقعې نه لږ مخکښې چې دَ "اټک" حواله ترې ورکړے شوه. افضل خان لیکي.

"نقل دے چې دَ مکهډو باغ عالمو څو ورځې په سبب دَ مرده ګانو ابه دَ اب سیند نه څښې" (ص-۴۱۷)

تاریخ مرصع ځائې په ځائې دَ "اټک ګذر" دَ "اټک لار" دَ "اټک شاهراه" اوعن چې دَ "اټک سیند" هم یادوی خو یواځې "اټک" هیڅکله او هیچرته هم دَ "اباسیند" دَ پاره نه استعمالوی.

محترم دوست محمد خان کامل مومند دَ تاریخ مرصع دَ جغرافیائی نومونو په انډکس کښې دَ "اټک، اټک بنارس" ذکر داسې کوی. (پرګنه. کوټ. مقام. سیند) (۱۰)

له دې دا غلط فهمی پیدا کېدے شی چې شاید کامل مرحوم هم هم هغه غلطی کړې ده کومه چې "ښکارندوی" کړې ده. خو

دا غلط فهمی دَ تېرو پانو دَ معروضاتو په رڼا کښې پخپله زائلیږی ځکه چې زما دعوی دا ده چې "اټک" دَ "پرګنې. کوټ. مقام او سیند" سره یو ځائې خو پښتو کښې استعمالیږی خو دَ "اباسیند" دَ پاره دا لفظ یواځې هیچرې نه استعمال شوے دے او نه استعمالیږی.

دَ "ښکارندوی" کوم دوه شعرونه چې ما بره نقل کړی دی هغو کښې دویم.

په هر کال اټک دَ دهښه راغلے کاندی
غوړوی په څنډو خپل پاستې سالونه

باندې یو داسې اعتراض هم پیدا کیږی چې هر څوکه دَ "اینکرانیزم" سره ئې تعلق نشته خو دَ پټې خزانې "مصنوعیت" پرې ضرور ثابتیږی ځکه نو دلته ئې ذکر ضروری ګڼم.

دَ دې شعر په دویمه مصرع کښې "سالونه" یو تورے استعمال شوے دے چې حبیبی مرحوم ئې ترجمه "ریګ ځای نرم" کړې ده. دا لفظ پټه خزانه کښې دَ زبدة الفصحا ابو محمد هاشم ابن زید السروانی البستی" په ذکر کښې دَ هغه دَ یو کتاب (شایر نثر) په نامه "دَ سالو وږمه" کښې استعمال شوے دے او حبیبی مرحوم پرې په حاشیه کښې لیکلی دی "سال بمعنی سرمه ریگ است" (۱۱) (سال دَ مېده شکې معنی لری)

په دې لحاظ "سالو" دَ "سال" جمع ده. چې دَ "کال" دَ جمع په وزن ئې اندازه کولے شو.

پښتو قاموس ئې هم "سرمه ریگ" معنی کړې ده (۱۴) خو جمع ئې نه ده ورکړې حالانکې دا قاموس عام طور سره دَ ټولو اسماؤ جمع بیانوی.

"زړه پانګه" د "سال" معنی داسې کوی "وړې شکې پښتو قاموس اخستې او د پکتیا په خبو برخو لکه منګل، خدران کښې په هم دغه معنی ژوندی ده (۱۳) متاسفانه "زړه پانګه" هم د دې کلمې د جمع صیغه نه بیانوی (۱۴)

پته خزانه ټې یو ځل جمع "سالو" او بل ځای "سالونه" بیانوی پښتو کښې د "کال" جمع هم کله کله په مغیره حالت کښې "کالو" او معمولاً "کالونه" کیږی خو هر کله چې د "نه" جمع معمولاً هغه اسماؤ کښې راځی چې شمیرلے شی ځکه نو د سال (شبکه) جمع په دې قاعده "سالونه" صحیح نه ده۔ او د دې توری په باره کښې هم د اجنبیت په وجه د مصنوعیت الزام صحیح ثابتیږی۔

د اسکرانزم یو بل مثال د "بی بی حلیمه حافظه" په سلسله کښې پتې خزانې راوړے دے۔ پته خزانه د خوشحال بابا د "لور" په باره کښې "محمد هوتک" د خپل پلار په روایت هسې وائی: "زما پلار..... هسې وائی: چې مشکلات د مثنوی شریف او مکتوبات د حضرت امام ربانی قدس سرّه حل کوی (۱۵) "مکتوبات امام ربانی" د حضرت مجدد الف ثانیؒ د هغو مکتوباتو مجموعه ده چې د حضرت مجددؒ په مبارک ژوند کښې په دریو بهلو بهلو دفترونو کښې راجمع کړی شوی وو۔ او هر دفتر ټې څان ته داسې بیل بیل نوم لری چې له هره یوه څخې د ابجد وپه حساب د تکمیل کال راوځی۔ لکه د وړومبی دفتر نوم چې حضرت مجددؒ پخپله خوښ کړے وه "دالمعرفت" ۱۰۲۵ھ وه (۱۶) دا نوم د حضرت مجددؒ خلیفه حضرت مولینا یار محمد جدیدؒ (دوی ته به ټې جدید

ځکه وئیل چې هم په دغه نوم د حضرت مجددؒ یو بل خلیفه هم وه چې یار محمد قدیم بللے شه) تجویز کړے وه۔

د مکتوبات شریف د دویم دفتر نوم نورالخلائق ۱۰۲۸ھ او د دریم دفتر نوم ټې معرفت الحقائق ۱۰۳۱ھ او ثالث ۱۰۳۱ھ (دریم) وه۔ دا ټول تاریخی نومونه دی او له دیو بیلو بیلو نومونو دا څرګندیږی چې د حضرت مجددؒ په خپله مبارکه زمانه کښې او له هغوی نه پس ته هم تر دې پورې مودې دا کتابونه په دغو نومونو موسوم وو۔

د حضرت مجددؒ تذکره نګارانو او د هغوی خلفاؤ حضرت مجدد تل د مجدد په حیثیت مثلے دے دغه وجه ده چې د حضرت مجددؒ د ژوند مبارک او تعلیمات تو په باره کښې چې کوم کتابونه لیکلی شوی دی هغو کښې د اکثرو نومونو کښې د "مجدد" یونه یو شکل خامخا وی لکه ۱:۔ تذکرهٔ مجدد الف ثانیؒ۔ د مولنا محمد منظور نعمانی۔ ۲۔ جامع المجددین۔ د مولنا عبد الباری مکنوی۔ ۳۔ جواهر مجددیه د خواجه احمد حسین امروهوی۔ ۴۔ سوانح عمری حضرت مجدد الف ثانی د محمد احسان الله عباسی۔ ۵۔ هدیه مجددیه د مولنا وکیل احمد سکندر پوری۔

زما تر نظره چې د حضرت مجدد په باره کښې کوم کتابونه تر شوی دی هغو کښې صرف یو "سیرت امام ربانی" د محمد داود امرتسری دے او هغه هم ډیر اوسنے دے یعنی په ۱۳۴۳ھ کښې چاپ شوے دے

د حضرت مجددؒ اولاد او د هغوی خلفاء د مجددی په نومونو مشهور دی مثلاً د افغانستان د مجددی کورنی ټول غړی، د عمدة المقامات لیکونکے خواجه محمد افضل مجددی۔ د عبد الله خویشکی

نومې کتاب لیکونکے محمد اقبال مجددی دَ جواهر علویه اردو مترجم شاه روف احمد مجددی، دَ مقامات احمدیه لیکونکے خواجه محمد امین مجددی، دَ تحفة العاشقین او تحفة العارفین مصنف شاه عبدالصمد مجددی ټول په "مجددی" کېدو فخر کوی۔

حضرت مجددؒ په خپله زمانه کښې دَ "شیخنا" "امامنا" وغیره په نومونو مشهور وه او پس له وفاته دَ مجدد الف ثانیؒ یا حضرت مجدد په نومونو یادېدو۔

دَ مکتوبات دَ وړومبی دفتر جامع حضرت مولنا یار محمد الجدید طالقانی بدخشی دَ وړومبی دفتر "خطبه" کښې فرمائی: "اما بعد. نموده می آید که این دفتر اول است از مکتوبات قدسی آیات حضرت غوث المحققین قطب العارفین برهان الولایة المجددیة حجة الشریعة المصطفویة شیخ الاسلام والمسلمین شیخنا وامامنا الشیخ احمد فاروقی النقشبندی سلمه الله سبحانه وابقاه"

دَ مکتوبات فاضل محشی نور احمد مجددی امرتسری په خطبه کښې په استعمال شوی لفظ "النقشبندی" داسې حاشیه لیکی:-

"الحنفی مذهبًا الشهیر عند الاقاصی والادانی بالمجدد للالف الثانی الاویسی الرحمانی العارف الربانی قدس الله سره" (دَ مذهب له لحاظه حنفی او لرې او نژدې دَ مجدد الف ثانی، اویسی، رحمانی، عارف ربانی قدس الله سره په نامه مشهور)

دَ مکتوبات دَ دویم دفتر خطبه کښې حضرت مجددؒ ته حضرت ایشان او مکتوبات ته "مکتوبات قدسی آیات" وئیلی شوی دی۔

دَ معزالدین خټک "ربقة الاسلام" کښې هم چې په ۱۱۶۰ھ کښې مکمل شوے او په ۱۳۱۱ھ کښې چاپ شوے دے دَ مجدد

الف ثانیؒ دَ پاره دَ "حضرت ایشان" نوم استعمال شوے دے۔

دَ هغویؒ دَ سلسلې سره متعلق مشهور مفسر حضرت قاضی ثناء الله محدث پانی پتی علیه الرحمه خپل تفسیر "تفسیر مظهری" (چې دَ حضرت مرزا مظهر جانجانانؒ دَ مبارک نوم سره منسوب دے) کښې چې کله دَ حضرت مجددؒ حواله ورکړې ده نو وئیلی ئې دی "قال المجدد لالف الثانی رضی الله عنه" یا "قال المجدد رضی الله عنه (۱۷)

دَ مکتوبات شریف دَ دریو واړو دفترو دَ عربی ترجمې نوم "الدرر المکتوبات النفیسه" دے۔ که دَ مکتوبات شریف دَ دریو واړو دفترونو یو نوم وے (لکه چې اوس دے) نو دَ حضرت شیخ محمد مراد المکی دَ پاره دا اسانه وه چې دَ کتاب نوم ئې دَ "الدرر المکتوبات النفیسه" په ځائې "مکتوبات الامام الربانی" ایښے وے۔

دَ مجددیه تحریک په ټولو کتابونو کښې دَ مکتوبات نوم مکتوبات شریف، مکتوبات قدسی آیات، مکتوبات شریفه، مکتوبات مکتوبات قدسی، مکاتیب وغیره اخستې شی او "مکتوبات امام ربانی" دَ هغو دریو دفترو مجموعې ته وائی چې په دیار لسمه صدی کښې راټول او چاپ شوی دی۔ لکه چې مخکښې عرض وشو دَ حضرت مجددؒ دَ مکتوبات درې واړه دفتره ځان ځان له داسې نومونه لری چې ترې دَ تکمیل کلونه راووځی۔ دا اهتمام مجددؒ او دَ هغو ملګریو دَ نورو کتابونو په سلسله کښې هم ساتلے دے۔ مثلاً دَ اهل تشیع دَ یوې رسالې په ځواب کښې دَ حضرت مجددؒ دَ کتاب "کوائف الشیعه" له نامې نه (۱۰۰۲ھ) راوځی چې دَ دغه کتاب دَ تالیف کال وه۔ هم دغسې دَ هغوی دَ یو بل کتاب مکاشفات عینیه مجددیه نه دَ ابجدو

په حساب د کتاب د تکمیل کال ۱۰۵۳ راوځی چې د هغوی خلیفه حضرت محمد هاشم کشۍ مرتب کړے وه. پخپله د حضرت محمد هاشم کشۍ د کتاب "زبدة المقامات" نه ۱۰۳۷ھ راووځی چې د دغه کتاب د تکمیل کال دے له دې اړخه چې "مکتوبات امام ربانی" ته ګورو نو د ۱۲۱۴ھ کال تړې راووځی. د حضرت مجددؒ اخری سوانح نګار سید زوار حسین شاه صاحب خپل کتاب "حضرت مجدد الف ثانی" مطبوعه ۱۳۹۲ھ مطابق ۱۹۷۲ء کښې لیکی.

"د اصل فارسی مکتوباتو متعلق عرض دے چې مکتوبات شریفه درې واړه دفتره..... غالباً په ورومبی ځل نولکشور شائع کړی دی" (۱۸)

د نولکشور پریس بانی رائې بهادر منشی نول کشور بهارګوا په ۱۸۳۲ء (۱۲۴۷ھ) کښې پیدا شوے او په ۱۸۹۵ء (۱۳۱۲ھ) کښې مړ شوے وه. د دې پریس په ۲۳ نومبر ۱۸۵۸ء (۱۲۷۵ھ) حضرت ګنج لکهنو کښې د مهاراجه مان سنګ بهادر نه المعروف غالب جنګ په عمارت کښې قائم شه. (۱۹)

په دې لحاظ هرکله چې د نول کشور مطبوعات په دیارلسمه صدۍ کښې شروع شوی دی نو مونږ ښه په یقین داویلے شو چې "مکتوبات امام ربانی" تاریخی نوم دے اوځکه د "حلیمه حافظه د پاره دا هرومکنه نه وه چې له خپله مرګه دوه سوه کاله پس د "مکتوبات امام ربانی" مشکلات حل کړی. ځکه چې د حضرت مجددؒ مکتوبات په دغه نامه د حلیمه حافظه له مرګه پس په دیارلسمه صدۍ کښې مرتب اوچاپ شوی دی.

حوالې اوحواشی

۱: پته خزانه - دوهم چاپ ص ص - ۵۳ - ۵۶ عکسی چاپ ص ص ۲۳ - ۲۴ ترجمه دری - ص ص - ۲۲ - ۲۳ -

۲: اکبرنامه - جلد اول - ص ص - ۵۲۰ - ۵۲۱ -

۳: ایضاً - ص ۵۲۰ (حاشیه ۳)

۴: منتخب التواریخ - دویم جلد (د ډبلو اړخ نو ترجمه) ص - ۳۰۱

۵: طبقات اکبری (انګریزی ترجمه) ص - ۹۳ -

۶- توزک جهانګیری - جلد اول (د الیګزنډر روجرز انګریزی ترجمه) ص ۱۰۱ -

۷- مآثر عالمګیری - (د سرجادوناتھ سرکار انګریزی ترجمه) ص ۴۱

۸- ریاض السیاحه - ص - ۷۳ - ماسکو - ۱۹۷۴ - (د دې کتاب حواله د "اټک" په ضمن کښې بناغلی زلمی هوادمل د مست د منتخباتو په تعلیقاتو کښې په ص - ۱۲۶ ورکړې ده - دا منتخبات د ذکر شوی لیکونکی د "یوکلنه علمی پروژه" په سلسله

کښې مرتب کړی دی۔

۹- د اکبرنامې په انګریزی ترجمه مترجم عیسوی کال ۱۵۸۸ لیکلے دے۔ چې هم د دغه ترجمې په ص ۵۱۸ د غه کال ۱۵۸۱ء لیکلے شوے دے۔ ځکه وروسته لیکلے شوے کال (۱۵۸۸) صحیح نه دے اوطباعتی غلطی ده۔

۱۰- تاریخ مرصع - ص - ۱۴۳۶ -

۱۱- پټه خزانه - دوهم چاپ - ص - ۶۱ - عکسی نسخه نوټ نمبر ۳۲ء ص - ۲۲ پټه خزانه دوهم چاپ ص (۵۶) (حاشیه) کښې مرحوم حبیبی ویلی دی "این کلمه اکنون عمومی نبوده فقط در قبائل سمت جنوبی مستعمل است (دا کلمه اوس عمومی نه ده اوفقط د سمت جنوبی قبائلو کښې استعمالیږی۔

۱۲- پښتو قاموس ص - ۵۹۵ -

۱۳- زړه پانګه - ص - ۳۶۰ - دا د حبیبی مرحوم د "سمت جنوبی" یو بل وضاحت دے حالانکې سمت جنوبی کښې "ځاځیان" "سال" نه بلکې سګی استعمالوی او په دغه نامه دغلته یو کلے هم شته - زما د معلوماتو مطابق ځنې قبائل د دې کلمې د پاره "سوال" (سال ته) استعمالوی -

۱۴- توزک جهانګیری کښې شهنشاه جهانګیر صراحت کوی چې 'سال' یا 'شال' د کامې (جلال آباد) په علاقه "جالې" ته وائی - توزک - جلد اول ص - ۱۰۱ (انګریزی ترجمه د الیګزنډر روجرز)

۱۵- پټه خزانه - دوهم

۱۶- زبدة المقامات - ص - ۲۴۰

۱۷- تفسیر مظهری - للعلامة القاضی محمد ثناء الله الفانی فتیؒ جلد ۶ ص - ۲۷۵ - جلد ۵ - ص ۶۵ - جلد ۵ - ص - ۸۵ وغیره -

۱۸- حضرت مجدد الف ثانیؒ - ص - ۶۷۱

۱۹- اووه ورځنې لاهور - ۶ اپریل ۱۹۸۵ء (د رائی بهادر منشی نولکشور بهار کوا "د عنوان لاندې د دبیر حسین رضوی (علیګ) مقاله -

متفرقات

په تېروپاڼو کښې په تفصیل سره دَ خپل موقف دَ اظهار باوجود زه دا محسوسوم چې دَ پټې خزانې په باره کښې نورهم زیات په تفصیل دَ لیکلو ضرورت دے۔ ځکه چې دَ دې کتاب کرښه کرښه دَ "دامن دل می کشد که جا اینجاست" مصداق ده۔ خو داسې کول به دَ ډېر طوالت موجب شي۔ دَ کتاب ضخامت به دَ لُستونکی او اخستونکی دواړو دَ پاره دَ ډېر زیات زحمت باعث شي۔ نو ځکه زه مجبوریم چې دَ کتاب دَ ضخامت دَ محدودولو او دَ لُستونکی دَ زحمت کمولو دَ پاره دَ نورو تنقیدی بحثونو لمن رالنډه کړم او اهمې نکتې په اختصار دَ خپلو ګرانو لُستونکیو په خدمت کښې پېش کړم۔ په داسې کولو کښې که چرې زه یوه نیمه خبره تکرار کړم نو ګران لُستونکی دې هغه زما تائیدی یا تاکیدی معروضات وګڼی او تندې دې پرې نه چڼی۔ دَ دې تمهیدی وېنا نه پس زه لاندې نمبروار دغه نکتې پېش کوم:۔

۱: دَ پټې خزانې په دیباچه کښې دَ شاه حسین دَ پاره چې کوم القاب استعمال شوی دی هغو کښې یو "ابن قاتل الرفضة" (۱) (دَ رافضیاتو دَ قاتل زوې) هم دے دَ محترم حبیبی مرحوم دَ ژوند ډېره لویه حصه په افغانستان کښې دَ بادشاهت دَ نظام دَ لاندې تېره شوې ده۔ او له مانه زیات هغوی له دَ بادشاهانو په رسمونو رواجونو او اداری روایاتو علم او اګاهی لرل پکار دی۔ خو له بده مرغه هغوی ته دا احساس نه دے شوے چې بادشاهان دَ خپل ځان دَ پاره نومونه پخپله خوښوی۔ او دَ دربار دَ شاعرانو نه بغېر هېچا ته دا اجازت نه ورکوی چې هغوی دې پخپل سمی دغو بادشاهانو ته دَ خپلې خوښې نومونه اخلی۔ درباری شاعران هم محض په قصیدو یا نورو شعری اضافو کښې دا "ګستاخی" کولے شی او دا رسمی تکلف دَ باچانو دَ مرګ نه پس ته هم جاری وی او دَ مرګ نه پس ورته بیل نوم ورکړے شی دَ مثال په طور دَ صمصام الدوله شاهنواز خان دَ مشهور کتاب مآثر لامرا دَ وړومبی جلد له تمهیده دا څو کرښې دَ لُستونکیو په خدمت کښې پېش کوم:۔

"دَ تیموری باچانو په دې خاندان کښې دَ محترمو پلرونو او میندو له خوا دَ هرچا دَ پاره یو لقب مقرر دے لکه..... دَ فردوس مکانی اشاره ظهیرالدین محمد بابر بادشاه ته وی۔ له "جنت اشیانی" نه مراد نصیرالدین محمد همایون وی۔ عرش اشیانی دَ جلال الدین محمد اکبر بادشاه لقب عظیم دے۔ دَ جنت مکانی نه اشاره نورالدین محمد جهانګیر ته وی او فردوس اشیانی او

اعلیٰ حضرت دواړه خطابه دَ شهاب الدین محمد صاحبقران شاهجهان دی او خلد مکان نه دَ محی الدین محمد اورنګ زیب عالمګیر ذات ګرامی مراد وی او خلد منزل نه مراد قطب الدین محمد معظم شاه عالم چې بهادر شاه ئې خطاب وه مراد دے"

خو دَ میرویس بابا په باره کښې هیڅ تاریخی ثبوت نشته چې دَ هغه په رسمی القابو کښې دَ "قاتل الرفضه" لقب هم شامل وه - او نه په پټه خزانه کښې دَ شاه حسین دَ پاره بل کوم ځائې دَ "ابن قاتل الرفضه" لقب استعمال شوے دے.

